بسم الله الرحمن الرحيم

المنهاج اليسير

پشتو شرح د نحو مير

ومعه

الفوائد الهادية في القواعد النحوية والتركيبية

ومعه

رساله ترکیبیه د نحو میر د [illegible] مثالونو ترکیبونه

Scanned with CamScanner

Maktaba Tul Ishaat.com


Maktaba Tul Ishaat .com


تمام فنون کے کتب کے پی-ڈی-ایف ہمارے ویب سائٹ سے اور پلے سٹور سے فری ڈاون لوڈ کریں۔ ہم روزانہ کی بنیاد پر اس میں مزید کتب شامل کر رہے ہیں اس لیے آپ ہفتے میں ایک بار ضرور ہمارے پلے سٹور اور ویب سائٹ کو چیک کیا کریں۔

ابھی مطلوبہ پی-ڈی-ایف مفت ڈاون لوڈ کریں

تفاسیر	خطبات	منطق
احادیث	سیرت	معانی
فقہ	تاریخ	تصوف
سوانح حیات	صرف	تقابل ادیان
درس نظامی	نحو	تجوید
لغت	فلسفہ	نعت
فتاوی	حکمت	تراجم
اصلاحی	بلاغت	تبلیغ ودعوت
تمام فنون		

مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام
Maktaba Tul Ishaat.com

﴿د کتاب په هکله﴾

د کتاب نوم: المنهج اليسير پښتو شرح د نحو مير .

مؤلف: ابو اسامه عبد الهادي ايوبي ابن عبد الباقي عفا الله عنهم.

حقوق: د کتاب د طبع ټول حقوق د مؤلف په هکله محفوظ دي.

ناشر: سيد محمد

مکتبه: حرمين شريفين کاسي روډ کوئټه بلوچستان

د چاپ سنه: ۱۴۳۵ هجري. بمطابق ۲۰۱۳ عيسوي.

وَإِن مِّن شَيْءٍ إِلَّا عِندَنَا خَزَائِنُهُ وَمَا نُنَزِّلُهُ إِلَّا بِقَدَرٍ مَّعْلُومٍ

وَمَا تَفْعَلُوا مِنْ خَيْرٍ فَإِنَّ اللَّهَ بِهِ عَلِيمٌ

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned with CamScanner

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned with CamScanner

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned with CamScanner

Scanned with CamScanner

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned with CamScanner

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

- شَكَوْتُ إِلٰى وَكِيْعٍ سُوْءَ حِفْظِيْ — فَأَوْصَانِيْ إِلٰى تَرْكِ الْمَعَاصِيْ
- مَوْتُ الْقَلْبِ جَهْلٌ فَاجْتَنِبْهُ — وَحَيَاةُ الْقَلْبِ عِلْمٌ فَاتَّخِذْهُ
- تَعْصِي الْإِلٰهَ وَأَنْتَ تُظْهِرُ حُبَّهُ — وَهٰذَا لَعَمْرِيْ فِي الْقِيَاسِ بَدِيْعٌ

فَإِنْ كَانَ حُبُّكَ صَادِقًا لَأَطَعْتَهُ — فَإِنَّ الْمُحِبَّ لِمَنْ يُحِبُّ مُطِيْعٌ

بسم الله الرحمن الرحيم

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ . وَالْعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِيْنَ . وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَيْرِ خَلْقِهٖ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَاءِ وَ الْمُرْسَلِيْنَ وَ اِمَامِ الْمُجَاهِدِيْنَ مُحَمَّدٍ وَّ عَلٰى اٰلِهٖ وَ اَصْحَابِهٖ اَجْمَعِيْنَ وَعَلٰى مَنْ تَبِعَهُمْ بِاِحْسَانٍ اِلٰى يَوْمِ الدِّيْنِ اَمَّا بَعْدُ.

﴿دنحو مير دمصنف نوم او نسب﴾

نوم يې علي دي، او د پلار نوم يي محمد، او دنيکه نوم يي علي دي، اوكنيت يي ابوالحسن دي، او لقب يي زين الدين دي، او مشهور دي په امير سيد شريف سره.

﴿تاريخ د پيدائش او دوفات﴾

مصنف رحمه الله د جرجان په علاقه کښي پيدا سويدي په (۲۲) شعبان او په (۷۴۰) هجري كال كښي. او مصنف رحمه الله دشيراز په علاقه كښي وفات سوي دي، دچهار شنبې په ورځ، او د ربيع الاول په شپږمه نېټه او په (۸۱٦) هجري كال كښي، او ټوله عمر يې (۷٦) كاله وو.

﴿شيخان، او تصنيفونه﴾

د مصنف رحمه الله يوځو استاذان:

(۱) مبارک شاه (۲) نورطاؤسي (۳) اکمل الدين محمد بن محمود بابرتي حنفي (۴) ابوالخير علي بن قطب الدين الرازي وغيره.

او دمصنف تصنيفونه تقريباً(۴۳)دي. په هغو كښي يوځو دادي: (۱) نحومير (۲) صرف مير (۳) حاشيه دبيضاوي(۴)حاشيه دمشكاة(۵) حاشيه دهدايه (٦)حاشيه دمطول (۷): تفسير زهرادين وغيره.

﴿ضروري خبره﴾ اي طالبِ علمه (الله تعالى دي تاته علمِ نافع در نصيب كړي) دهر علم شروع كولو څخه مخكښي د درو شيانو زده كړه ضروري ده :

(۱): تعريف دعلم (۲): موضوع دعلم (۳): غرض وغايه دعلم .

﴿دعلمِ نحو تعريف﴾

اَلنَّحْوُ عِلْمٌ بِاُصُوْلٍ يُعْرَفُ بِهَا اَحْوَالُ اَوَاخِرِ الْكَلِمِ الثَّلَاثِ مِنْ حَيْثُ الْاِعْرَابِ وَالْبِنَاءِ

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

وَكَيْفِيَّةُ تَرْكِيبِ بَعْضِهَا مَعَ بَعْضٍ. ترجمه. نحو پوهنه ده په هغه اصولو او قواعدو باندي چه دهغه په ذريعې پېژندل كيږي حالات د اخرو د درو كلمو (يعني أخر د اسم او د فعل او د حرف) په اعتبار د اعراب او دمبني سره، او پژندل كيږي د يوې كلمې د بلي كلمې سره د تعلق او دتركيب كيفيت.

﴿موضوع د علمِ نحو﴾

اَلْكَلِمَةُ وَالْكَلَام. يعني علمِ نحو دكلمي او د كلام متعلق بحث كوي.

﴿غرض و غايه د علمِ نحو﴾

صِيَانَةُ الذِّهْنِ عَنِ الْخَطَأِ اللَّفْظِيِّ فِيْ كَلَامِ الْعَرَبِ.
يعني علمِ نحو ذهن محفوظ كوي دخطاء لفظي سه په عربي ژبه كښي.

﴿دتركيب تعريف﴾

د علمِ نحو په تعريف كښي لفظ دتركيب راغلي نو ځكه ئي زه تعريف ذكر كوم.
دتركيب معنى: ديوې كلمې د بلي كلمې سره تعلق او ربط پيدا كول په مخصوصه طريقه سره، او دا موقوف دي په څلورو علمو باندي: (۱): علمِ لغت (۲): علمِ اشتقاق (۳): علمِ صرف (۴): علمِ نحو .

﴿دعلمِ لغت تعريف﴾

هغه علم ته وايئ: چه په هغه كښي دا بيانيږي چه دا لفظ د كومي معنى دپاره وضع سوي دي او د استعمال طريقه ئي څه ده، او په كومو ځايو كښي ويل كيږي.

﴿دعلمِ اشتقاق تعريف﴾

د دوو كلمو دمناسبتِ معنوي په وجه يوه كلمه دبلي كلمې طرفته رد كول ، سره داشتراك د دواړو كلمو په حروف كښي.

﴿دعلمِ صرف تعريف﴾

صرف: دا علم دي په داسي اصولو باندي چه دهغو په ذريعې د درو كلمو (يعني داسم او دفعل او دحرف) احوال معلوميږي په اعتبار داصل، او دبناء ،او د اشتقاق

او د اعلال، او د تعليل او د رد و بدل سره. او د علم نحو تعريف مخکي تير سو ، او دا رسالهٔ دعلمِ نحو په قواعدو کښي ده.

﴿فصل﴾ دا فصل دلفظ په تقسيم کښي دي. په عربي ژبه کښي چه کوم لفظ مستعمل دي هغه په دوه قسمه دي: (۱): مفرد (۲): مرکب.

﴿د مفرد تعريف﴾

هغه لفظ دي چه دې يو ازي پر يوه معني باندي دلالت کوي. او مفرد ته کلمه هم وائي. او کلمه په درې قسمه ده: (۱): اسم لکه رَجُلٌ (۲) فعل لکه ضَرَبَ (۳): حرف لکه هَلْ. او ددې تفصيلي بحث په علمِ صرف کښي ذکر دي.

﴿فائده(۱)﴾ مفرد د څلورو شيانو په مقابله کښي ذکر کيږي: (۱): د مرکب په مقابله کښي. څرنګه چه د مفر د په تعريف کښي ذکر شو. (۲): د تثنيه او د جمع په مقابله کښي لکه رَجُلٌ ، مفرد، او رَجُلَانِ او رِجَالٌ غير مفرد دي. (۳): د مضاف په مقا بله کښي لکه غُلَامٌ مفرد دي او غُلَامُ زَيْدٍ غير مفرد دي. (۴): دشبهي مضاف په مقابله کښي لکه غُلَامٌ مفرد او يَاطَالِعًا جَبَلًا شبهي مضاف.

﴿د مرکب تعريف﴾

مرکب: هغه لفظ دي چه د دوو کلموسه او يا د زياتو کلموسه حاصل شي. او مرکب په دوه قسم دي: (۱): مرکب مفيد (۲): مرکب غير مفيد.

﴿د مرکب مفيد تعريف﴾

هغه مرکب دي چه ويونکي په خپله وينا باندي چپ سي نو اورېدونکي ته خبر يا طلب معلوم سي. د خبر مثال لکه ضَرَبَ زَيْدٌ، زيد وهل کړي دي. دطلب مثال لکه اِضْرِبْ، ووهه. او مرکب مفيد ته جمله او کلام هم وائي. او جمله په دوه قسمه ده: (۱): خبريه (۲): انشائيه.

﴿د جمله خبريه تعريف﴾

هغه جمله ته وائي چه د هغه ويونکي ته د رشتيا يا د دروغ نسبت کولي سي.

Scanned with CamScanner

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿تنبيه﴾ په نحو مير كښي مصنف رحمه الله د جمله خبريه دوه قسمه ذكر كړي دي ليكن په اصل كښي جمله خبريه په څلور قسمه ده:(۱) اسميه (۲)فعليه (۳)ظرفيه (۴)شرطيه. اګرچه رجع د څلورو قسمو دوو قسمو ته كيږي:(۱)اسميه(۲)فعليه.

﴿د جمله اسميه خبريه تعريف﴾

هغه ته وائي: چه په دوو مقصدي جزؤو كښي اول جزء اسم وي. او د دوو مقصدي جزؤو سه مراد: (۱) مسند (۲) مسند اليه دي لكه. زَيْدٌ قَائِمٌ، په دې كښي اول جزء زَيْدٌ دي، چه هغه اسم او مبتداء يعني مسند اليه دي، او دوهم جزء قَائِمٌ دي، چه هغه خبر يعني مسند دي.

﴿د جمله فعليه خبريه تعريف﴾

هغه جمله ته وائي: چه په دوو مقصدي جزؤو كښي اول جزء فعل وي لكه ضَرَبَ زَيْدٌ. په دې جمله كښي اول ضَرَبَ فعل دي چه هغه مسند دي، او دويم جزء زَيْدٌ دي چه هغه فاعل او مسند اليه دي.

﴿د جمله ظرفيه خبريه تعريف﴾

هغه جمله ته وائي: چه په دوو مقصدي جزؤو كښي ئي اول جزء ظرف يا جار مجرور وي. د ظرف مثال لكه عِنْدِيْ سَيْفٌ. نو دلته اول جزء ظرف دي. د جار مجرور مثال لكه فِي الدَّارِ رَجُلٌ. جزء اول جار او مجرور دي.

﴿د جمله شرطيه خبريه تعريف﴾

هغه جمله ته وائي: چه د شرط او د جزاء سه جوړه وي، او اول جزء شرط وي، او دويم جزء جزاء وي لكه اِنْ تَضْرِبْ اَضْرِبْ.

﴿فائده(۲)﴾ مسند ته حكم او مسند اليه ته محكوم عليه هم وائي. او اسم مسند او مسند اليه دواړه راتلې سي. او فعل صرف مسند را تلې سي او مسند اليه نسي راتلې. او حرف نه مسند راتلې سي او نه مسند اليه.

Scanned with CamScanner

﴿د جمله انشائیه تعریف﴾

هغه جمله ته وائي: چه د هغه ویونکي ته نه د دروغو نسبت کېدیسي او نه د رشتیا. او جمله انشائیه په لس قسمه ده (۱): امریه (۲): نهیه (۳): استفهامیه (۴): تمنّیه (۵): ترجیه (٦): عقودیه (۷): ندائیه (۸): عرضیه (۹): قسمیه (۱۰): تعجبیه.

﴿د جمله امریه تعریف﴾

هغه جمله انشائیه ته وائي: چه په هغه کښي دیو کار په باره کښي حکم سوي وي لکه (اِضْرِبْ) وواهه.

﴿د جمله نهیه تعریف﴾

هغه جمله انشا ئیه ته وائي: چه په هغه کښي دیو کار سه منع سوي وي لکه (لَاتَضْرِبْ) مه وهه ته.

﴿د جمله استفهامیه تعریف﴾

هغه جمله انشا ئیه ته وائي: چه په هغه کښي نا خبره سړی د یو شي په با ره کښي سوال وکړي د خبردار سړي سه لکه (هَلْ ضَرَبَ زَيْدٌ) ایا وهل کړي دي زید؟

﴿فائده (۳)﴾ کله د یو شي په با ر کښي سوال کیږي، سره ددې چه په هغه شي خبر وي نو دې ته استخبا ر وائي ،لکه الله تعالی چه سوال کوي، سره ددې چه الله تعالی په هرڅه خبر او عالم دي لکه په قرآن کریم کښي الله عزوجل فرمايلي دي ﴿ قُلْ هَلْ يَسْتَوِي الَّذِينَ يَعْلَمُونَ وَالَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ إِنَّمَا يَتَذَكَّرُ أُولُو الْأَلْبَابِ ﴾ سورة الزمر ایت(۹).

ترجمه: ایا برابر دي هغه کسا ن چه عالمان دي او هغه کسان چه عالمان نه دي.

﴿د جمله تمنیه تعریف﴾

هغه جمله انشائیه ته وائي: چه په هغه کښي دیو کار په باره کښي ارزو او تمنّا وي لکه (لَيْتَ زَيْدًا حَاضِرٌ) کاش کښ زید حاضر وائي.

﴿د جمله ترجیه تعریف﴾

هغه جمله انشائیه ته وائي: چه په هغه کښي دیو کار په باره کښي امید ښکاره سوي

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

وي لکه (لَعَلَّ عَمْرًا غَائِبٌ) امید دي چه عمر به غائب وي.

﴿د جمله عقودیه تعریف﴾

هغه جمله انشائیه ته وائي: چه په هغه کښې دخرید او فروخت او دنکاح وغیره په باره کښې ذکر سوي وي لکه (بِعْتُ وَاِشْتَرَيْتُ) ما خرڅ کړي او ما رانیوي.

﴿د جمله ندائیه تعریف﴾

هغه جمله انشائیه ته وائي: چه په هغه کښې خپل طرفته د رامتوجې کولو دپاره بل څوک را وبولي لکه (يَازَيْدُ) اي زیده .

﴿د جمله عرضیه تعریف﴾

هغه جمله انشا ئي ته وائي: چه په هغه کښې یو چا ته دیو کار په باره کښې تیزي ورکولې سوي وي لکه (اَلَا تَنْزِلُ بِنَا فَتُصِيْبَ خَيْرًا) ته زموږ خوا ته نه راځې د دې لپاره چه ته خیر ته ورسیږې.

﴿د جمله قسمیه تعریف﴾

هغه جمله انشائیه ته وائي: چه په هغه کښې دیو کار په باره کښې قسم اخستلي سوي وي لکه (وَاللهِ لَاَضْرِبَنَّ كَافِرًا) د الله تَعَالٰی په ذات دي زما قسم وي چه زه به خامخا وهم کافر لره.

﴿د جمله تعجبیه تعریف﴾

هغه جمله انشائیه ته وائي: چه په هغه کښې د یوشي په باره کښې تعجب سوي وي لکه (اَحْسَنَهٗ. وَاَحْسِنْ بِهٖ) څشي حسین کړیدي هغه لره او څومره حسین دي.

﴿ فائده(۴)﴾ جمله انشائیه درې قسمه را ځي: (۱) اسمیه (۲)فعلیه (۳)ظرفیه. اسمیه لکه (لَيْتَ زَيْدًا حَاضِرٌ). فعلیه لکه (هَلْ ضَرَبَ زَيْدٌ). ظرفیه لکه (اَفِي الدَّارِ رَجُلٌ). او جمله انشا ئیه شرطیه نه راځي. تر دغه ځایه پوري دمرکب مفید بحث ختم سو .. اَلْحَمْدُلِله اوس دمرکب غیر مفید بحث شروع کیږي.

﴿فصـــل﴾ دا فصل د مرکب غير مفيد په بحث کښي دي.

﴿د مرکب غير مفيد تعريف﴾

هغه مرکب ته وائي: چه قائل او ويونکی په خپله وينا باندي چپ سی او سامع (يعني اوريدنکي) ته نه خبر معلوم سي او نه طلب. لکه (غُلَامُ زَيْدٍ) د زيد غلام. او مرکب غير مفيد په څلور قسم دي: (۱) مرکب اضا في (۲) مرکب بنائي (۳) مرکب مزجي (۴) مرکب توصيفي.

﴿د مرکب اضافي تعريف﴾

هغه مرکب غير مفيد ته وائي: چه د مضاف او د مضاف اليه سره جوړ وي. او اضافت د دوو کلمو په درميان کښي د يو نسبت نوم دي. د کومي کلمې چه نسبت سوي وي هغه ته مضاف وائي، او چه د کومي کلمې طرفته نسبت سوي وي هغه ته مضاف اليه وا ئي لکه (غُلَامُ زَيْدٍ) يعني غلام د زيد. نو په دې مثال کښي د غلام نسبت سوي دي زيد ته نو غلام مضاف دي او زيد مضاف اليه دي.

﴿فائده (۵)﴾ دلته يو څو خبري ذکر کيږي، څه د مضاف متعلق، او څه د مضاف اليه. د مضا ف متعلق دري خبري دي (۱) په مضا ف باند تنوين نه راځي ځکه چه د اضا فت دوجي تنوين غورځي (۲) په مضا ف باند الف لام نه دا خليږي (۳) عَلَم او معرفه نه مضاف کيږي. او د مضاف اليه متعلق دوې خبري دي: (۱) مضاف اليه اکثر معرفه وي او کله کله نکره وي (۲) مضاف اليه هميشه مَجرور وي لفظًا يا تقديرًا يا محلا.

﴿د مرکب بنائي تعريف﴾

هغه مرکب غير مفيد ته وائي: چه په هغه کښي دوه اسمونه يو سوي وي او دويم اسم حرف ته متضمن وي لکه د (اَحَدَ عَشَرَ) سه ونيسه بيا تر (تِسْعَةَ عَشَرَ) پوري. دا په اصل کښي (اَحَدٌ وَعَشَرٌ) وُ، او (تِسْعَةٌ وَعَشَرٌ) وُ. نو واو حذف سو او د دواړو کلمو سه يوه کلمه جوړه سوه. او دا دواړه جزء مبني بر فتح دي . اول جزء خو ځکه چه داد کلمې درميان سو، او اعراب په اخر د کلمې کښي واقع کيږي او په درميان کښي نه

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

واقع كيږي. او د ويم جز ، په دې وجه مبني سو چه هغه حرفته متضمن سو او ټوله حروف مبني الاصل دي او قاعده ده چه د مبني متضمن هغه مبني وي. مګر (اِثْنَانِ وَاِثْنَتَانِ) معرب دي ځکه دا مشابه دي د مضاف سره په نون غور ځيدو کښي لکه (رَجُلَانِ) چه کله بل شي ته مضاف سي نو نون ئي غورځي لکه (رَجُلَا مَدِيْنَةٍ)نو ځرنګه چه په اضافت سره نون غور ځي د مضاف سه نو دا رنګه د (اِثْنَانِ وَ اِثْنَتَانِ) سه نون په مرکب جوړيدو سره غور ځي يعني چه کله عَشَرَ ورسره يو ځاي سي لکه (اِثْنَا عَشَرَ وَاِثْنَتَا عَشَرَةَ).

﴿د مرکب مزجي تعريف﴾

هغه مرکب غير مفيد ته وائي: چه په هغه کښي د دوو اسمو سه يو اسم جوړ سوي وي، او دويم اسم حرف ته متضمن نه وي.
او دا مرکب مزجي په دوه قسم دي: (۱)مرکب صوتي (۲)مرکب منع صرف.

﴿دمرکب صوتي تعريف﴾

هغه مرکب مزجي ته وائي: چه په هغه کښي د دوو اسمو سه يو اسم جوړ سوي وي او دويم اسم حرف ته متضن نه وي او دويم اسم دتر کيب سه مخکي مبني وي لکه (سِيْبَوَيْه) اصل کښي. (سِيْب)او (وَيْه) وو.

﴿دمرکب منع صرف تعريف﴾

هغه مرکب مزجي ته وائي: چه په هغه کښي د دوو اسمو سه يو اسم جوړ سوي وي او دويم اسم حرف ته متضمن نه وي او دا دويم اسم دترکيب سه مخکي مبني نه وي.
او دمرکب منع صرف اول اسم مبني برفتح وي د اکثر علماء په نيز ليکن بعض علماء وائي :چه دا مرکب اضافي دي، او مرکب منع صرف نه دي، لهذا اول اسم به معرب وي. او د مرکب منع صرف دويم اسم به معرب وي بالاتفاق ځکه چه نه دتر کيب سه مخکي مبني وو او نه حرف ته متضمن دي ليکن غير منصرف به ويل کيږي لکه (بَعَلَبَكَّ) او (حَضَرَمَوْتُ).

﴿د مرکب توصيفي تعريف﴾

هغه مرکب غير مفيد ته وائي: چه د موصوف او د صفت سه جوړ سوي وي لکه (رَجُلٌ عَالِمٌ). (رَجُلٌ) موصوف دي، او (عَالِمٌ) ئي صفت دي.

﴿فائده (٦)﴾ په موصوف او په صفت کښي دلسو شيانو سه په څلورو شيانو کښ مطابقت او موافقت ضروري دي (١) تعريف او تنکير کښي . يعني که موصوف معرفه وو نو صفت به هم معرفه وي، او که موصوف نکره وو نو صفت به هم نکره وي، دا نه دي جائز چه موصوف معرفه وي او صفت نکره وي او دارنګه دد ې برعکس هم نه دي جائز (٢) په تذ کير او په تانيث کښي. يعني موصوف که مذکر وو نو صفت به هم مذکر وي او که موصوف مؤنث وو نو صفت به هم مؤنث وي، مخالفت جائز نه دي (٣) افراد تثنيه و جمع کښي . که موصوف مفرد وو نو صفت به هم مفرد وي او که موصوف تثنيه نو صفت به هم تثنيه وي او که موصوف جمع نو صفت به هم جمع وي (۴) رفع او نصب او جر کښي. يعني که موصوف مرفوع وو، نو صفت به هم مرفوع وي او که مو صوف منصوب وو نو صفت به هم منصوب وي او که موصوف مجرور نو صفت به هم مجرور وي، مخالفت جائز نه دي. اتفاقي مثال: (قَتَلْتُ رَجُلًا كَافِرًا) نو په دي مثال کښي (رَجُلًا) موصوف دي او (كَافِرًا) ئي صفت دي، نو (رَجُلًا) مفرد (كَافِرًا) هم مفرد دي. (رَجُلًا) مذکر (كَافِرًا) هم مذکر. (رَجُلًا) نکره (كَافِرًا) هم نکره. (رَجُلًا) منصوب او (كَافِرًا) هم منصوب دي. مخالفت نه دي جائز لکه (قَتَلْتُ رَجُلًا كَافِرَةً) دلته مخالفت په دوو وجهو دي (١) موصوف مذکر دي او صفت ئي مؤنث دي (٢) مو صوف منصوب دي او صفت ئي مجرور دي. بل مثال د مخالفت لکه (قَتَلْتُ الرَّجُلَ كَافِرَاتٌ) نو په دې مثال کښي په څلورو وجهو مخالفت دي: (١) موصوف معرفه او صفت نکره دي (٢) موصوف منصوب او صفت مرفوع دي (٣) موصوف مفرد او صفت جمع دي (۴) موصوف مذکر او صفت مؤنث دي. نو دا دواړه اخري مثالونه د مرکب توصيفي نه دي ځکه موافقت ئي نسته او دا غلط دي.

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

﴿بدانکه﴾ دلته مصنف رحمه الله دا ذکر کوي چه د مرکب غیر مفید قوله قسمو نه د کلام جزء واقع کیږي او مکمله جمله او کلام نه واقع کیږي لکه (غُلَامُ زَيْدٍ قَائِمٌ) دلته مرکب اضافي مبتداء واقع سوي دي چه هغه د کلام جزء دي. او په (جَاءَنِيْ رَجُلٌ عَالِمٌ) کښې مرکب توصیفي فاعل دي د فعل دپاره. او په (عِنْدِيْ اَحَدَ عَشَرَ دِرْهَمًا) کښې مرکب بنائي یعني (اَحَدَ عَشَرَ) مبتداء مؤخر واقع سوي دي چه د جملې جزء دي. او په (قَالَ سِيْبَوَيْهِ) کښې مرکب صوتي دفعل فاعل واقع سوي دي. او په (جَاءَ بَعْلَبَكُّ) کښې مرکب منع صرف دفعل دپاره فاعل واقع سوي دي.

﴿فصل﴾ په دې فصل کښې مصنف رحمه الله یوه دا خبره ذکر کوي: چه هیڅ کله جمله د دوو کلمو یعني دمسند او دمسند الیه سه کمه نه راځي یعني جمله دمسند او مسند الیه سه جوړیږي. دا به یا لفظاً وي لکه (ضَرَبَ زَيْدٌ) یا (زَيْدٌ قَائِمٌ). او یا به تقدیرًا وي لکه (اِضْرِبْ) دا خو په ظاهره یوه کلمه ده لیکن په حقیقت کښې دا دوې کلمې دي (اِضْرِبْ) فعل یعني مسند دي او (اَنْتَ) ضمیر په کښې مستتر دي هغه ئي فاعل دي یعني مسند الیه دي. او بله دا خبره ذکر کوي چه جمله د دوو کلمو سه کمه نه راځي، او زیات هر څونه را تلې سي مثلاً (ضَرَبَ زَيْدٌ كَافِرًا ضَرْبًا شَدِيْدًا) په دې مثال کښې جمله د پنځو کلمو سه جوړه ده. او د لسو کلمو مثال لکه (ضَرَبَ زَيْدٌ كَافِرًا ضَرْبًا شَدِيْدًا فِيْ دَارِهٖ اَمَامَ الْاَمِيْرِ تَأْدِيْبًا وَسَوْطًا رَاكِبًا).

﴿د مطالعې کولو طریقه﴾

په دې بحث کښې مصنف رحمه الله دویمه خبره د مطالعې کولو طریقه ذکر کوي. هغه دا: چه کله په یوه جمله کښې ډیرې کلمې وي او یا لږ وي، نو د مطالعې په وخت کښې (۷) کاره وکړئ: (۱) اسم وفعل او حرف سره جلا کړئ (۲) معرفه او نکره پکښې جلا کړئ (۳) مذکر او مؤنث سره جلا کړئ (۴) معرب او مبني سره جلا کړئ (۵) عامل او معمول پکښې معلوم کړئ (٦) د اسم متمکن او د فعلِ مضارع

داعراب اقسام او دهغو موقع معلوم کړئ (۷) د کلمو په درميان کښې تعلق او ربط معلوم کړئ، چه دذې کلمې د هغه بلې کلمې سره کوم تعلق او ربط دې مثلاً د مضاف او مضاف اليه تعلق او ربط دې، او که د موصوف او د صفت تعلق ئې دې، او که دمسند او د مسند اليه تعلق ئې دې، نو چه دا کارونه وسې نو مسند او مسند اليه به معلوم سي او د جمله صحيح معنې به په ذهن کښې راسي.

﴿فصل﴾ په دې فصل کښې د اسم او د فعل او د حرف علامې ذکر کيږي:.

﴿د اسم يولس علامې دي﴾

(۱) په اول کښې الف لام داخليدل لکه (اَلْحَمْدُ). (۲) په اول کښې حرفِ جار داخليدل لکه (بِزَيْدٍ). (۳) په اخر کښې تنوين راتلل لکه (رَجُلٌ). (۴) مسند اليه واقع کيدل لکه (زَيْدٌ قَائِمٌ). (۵) مضاف او مضاف اليه کيدل لکه (غُلَامُ زَيْدٍ). (٦) مصغر يعني تصغير لکه (قُرَيْشٌ). (۷) منسوب يعني په اخرکښې ياءِ نسبتي وي لکه (بَغْدَادِيٌّ). (۸) مثنى يعني تثنيه لکه (رَجُلَانِ). (۹) مجموع يعني جمع لکه (رِجَالٌ). (۱۰) موصوف کيدل لکه (رَجُلٌ عَالِمٌ). (۱۱) تاءِ متحرکه په اخر کښې راتلل. او دې تاء ته تاءِ مدوره يعني ګردي (تاء) هم وائي، او دا په وخت د وقف کښې په هاء باندې بدليږي په ويولو کښې لکه (ضَارِبَةٌ).

﴿فائده (۷)﴾ د اسمِ غير متمکن ټوله قسمونه د اسم علامې دي.

﴿فائده (۸)﴾ فعل تثنيه او جمع نه راځي او په فعل کښې چه کومې صيغې د تثنيې او دجمعې دي په هغو کښې فعل تثنيه او جمع نه دي بلکې په هغو صيغو کښې دفاعل ضمير تثنيه او جمع دي. لکه (ضَرَبُوْا) دا فعل دجمع نه دي بلکې دفاعل ضمير (يعني واو) دجمع دي، او ددې فا عل دمناسبت دوجې دافعل ته صيغه دجمعې وائي وغيره.

﴿د فعل علامات لس دي﴾

(۱) ماضي كيدل لكه (ضَرَبَ). (۲) حروف (اَتَيْنَ) سه يو حرف په شروع كښي را تلل لكه (يَضْرِبُ) وغيره (۳) (قَدْ) په اول كښي راتلل لكه (قَدْ اَفْلَحَ). (۴) په شروع كښي سين راتلل لكه (سَيَعْلَمُوْنَ). (۵) سَوْفَ په اول كښي راتلل لكه (سَوْفَ تَعْلَمُوْنَ). (٦) حرف جازم په اول كښي راتلل لكه (لَمْ يَضْرِبُ). (۷) ضمير مرفوع متصل دفعل سره پيوست كيدل لكه (ضَرَبْتَ ضَرَبْتِ ضَرَبْتُ) وغيره (۸) امر كيدل لكه (اُقْتُلْ). (۹) نهي كيدل لكه (لَاتَضْرِبْ). (۱۰) تاءِ ساكنه دفعل په اخر كښي را تلل لكه (ضَرَبَتْ).

﴿د حرف علامه﴾

په كومه كلمه كښي چه د اسم او د فعل علامه نوي نو هغه حرف دي لكه (مِنْ).

﴿فائده (۹)﴾ سين او سوف دا د فعل مضارع سره خاص دي او په تر كيب كښي دېته حرف تَنْفِيْس وائي. او مابعد جمله ته مُنَفَّسَهْ وائي.

﴿فصل﴾ په دې فصل كښي د معرب او د مبني بحث ذكر كيږي، په عربي ژبه كښي ټولي كلمې په دوه قسمه دي: (۱) معرب (۲) مبني.

﴿د معرب تعريف﴾

معرب هغه كلمې ته وائي: چه د هغه اخر د عامل د بدليدو سه بدليږي لكه (جَاءَنِيْ زَيْدٌ، وَرَاَيْتُ زَيْدًا، وَمَرَرْتُ بِزَيْدٍ) نو دلته (زَيْدٌ) معرب دي، ځكه خو د عامل د بدليدو سره بدليږي را بدليږي. (جَاءَ) عامل رافع راغلي نو (زَيْدٌ) مرفوع سو. او (رَاَيْتُ) عامل ناصب راغلي نو (زَيْدًا) منصوب سو. او (باء) حرفِ جار را غلي نو (زَيْدٍ) مجرور سو. نو زيد معرب دي، او دال محل د اعراب دي، او ضمه او نصب او جر چه دال باند راغلي دي هغه اعراب دي. او (جَاءَ)، او (رَاَيْتُ)، او باء جاره عاملان دي.

﴿د مبني تعريف﴾

مبني هغه كلمه ده چه د هغه اخر د عامل د بدليدو سره نه بدليږي لكه (هٰؤُلَاءِ) چه په (جَاءَنِيْ هٰؤُلَاءِ. وَرَأَيْتُ هٰؤُلَاءِ. وَمَرَرْتُ بِهٰؤُلَاءِ) كښې دي، نو په دې مثالو كښې لفظ د (هٰؤُلَاءِ) په حالت رفعي او نصبي او جري يعني په ټولو حالاتو كښې په يو حالت دي. د عامل د بدليدو په وجه نه دي بدل سوي.

﴿فصل در بيان اقسام مبني و معرب﴾

دا فصل د مبني او د معرب د قسمو په بيان كښې دي.

﴿مبني په شپږ قسمه دي﴾

(۱) ټول حروف لكه (مِنْ وَإِلٰى) وغيره (۲) فعل ماضي لكه (ضَرَبَ) وغيره (۳) امر حاضر معلوم لكه (اِضْرِبْ) وغيره (۴) د اسم غير متمكن ټول قسمونه. لكه (هُوَ) مبني بر فتح. او (اَلَّذِيْ) مبني برسكون. (ذَا، وَذَانِ) وغيره (۵) فعل مضارع كله چه نون ضمير د جمع مؤنث او يا نون تاكيد ورسره وي لكه (يَضْرِبْنَ) او (تَضْرِبَنَّ) مبني بر فتح دي (٦) اسم متمكن كله چه په تركيب كښې واقع نه وي لكه (زَيْد).

﴿معرب په دوه قسمه دي﴾

(۱) اسم متمكن كله چه په تركيب كښې واقع وي لكه (جَاءَنِيْ زَيْدٌ) وغيره.

(۲) فعل مضارع چه كله نون ضمير د جمع مؤنث او نون تاكيد سره خالي وي لكه (لَمْ يَضْرِبْ. وَلَنْ تَضْرِبَ) وغيره.

﴿د اسم اول تقسيم﴾

اسم په څلور اعتبارو سره تقسيمږي: (۱) په اعتبار د متمكن او د غير متمكن (۲) په اعتبار د تعريف و تنكير (۳) په اعتبار د تذكير و تانيث (۴) په اعتبار د افراد و تثنيه او جمع. نو اسم په اول اعتبار سره په دوه قسمه دي (۱) اسم غير متمكن (۲) اسم متمكن.

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

﴿داسم غير متمكن تعريف﴾

هغه اسم ته وائي: چه هغه دمبني الاصل سره مشابهت لري. او مبني الاصل درې شيان دي (۱) ټوله حروف (۲) فعل ماضي (۳) امر حاضر.

﴿د اسم متمكن تعريف﴾

هغه اسم ته وائي: چه هغه د مبني الاصل سره مشابهت نه لري.

﴿مشابهت په پنځه قسمه دي﴾

(۱) مشابهت وضعي (۲) مشابهت معنوي (۳) مشابهت استعمالي (۴) مشابهت افتقاري و احتياجي (۵) مشابهت اهمالي.

﴿اسم غير متمكن په اته قسمه دي﴾

(۱) مضمرات (۲) اشارات (۳) اسماء موصولات (۴) اسماء افعال (۵) اسماء اصوات (٦) اسماء ظروف (۷) اسماء كنايات (۸) مركب بنائي.

﴿مضمرات﴾

مضمرات جمع دضمير ده. او اسم ضمير هغه اسم ته وائي: چه واضع وضع كړي وي دمخاطب يا دمتكلم يا دغائب دپاره. ددې تعريف سه دا معلومه سوه چه ضمير په درې قسمه دي (۱) مخاطب (۲) متكلم (۳) غائب. دمخاطب او دمتكلم ضمير نه راجع كيږي، او نه مرجع غواړي. صرف دغائب ضمير راجع كيږي، چاته چه راجع كيږي هغه ته مرجع وائي، او دمرجع مخكي والي په ضمير باندې ضروري دي لكه (زَيْدٌ ضَرَبَ) په (ضَرَبَ) فعل كښې (هُوَ) ضمير دي چه راجع (زَيْدٌ) ته دي. نو (هُوَ) ضمير راجع او (زَيْدٌ) مرجع دي، او مرجع په لفظو كښې مخكي دي تر ضمير.

﴿فائده(۱۰)﴾ مرجع په درې قسمه دي: (۱) مرجع لفظي. (۲) مرجع معنوي. (۳) مرجع حكمي.

﴿د مرجع لفظي تعريف﴾

هغه مرجع ته وائي: چه د راجع سه مخكي په لفظو كښې ذكر وي لكه (زَيْدٌ ضَرَبَ) دلته

(زَيْدٌ) مرجع مخکي په لفظو کښ ذکر دي چه (هُوَ) ضمير ورته راجع دي.

﴿د مرجع معنوي تعريف﴾

هغه مرجع ته وائي: چه ماقبل په لفظو کښ ذکر نه وي بلکي د ماقبل جملې ومضمون ته ضمير راجع وي لکه (اِعْدِلُوْا هُوَ اَقْرَبُ لِلتَّقْوٰى) سورة المائده، آيت ۸). نو دلته (هُوَ) ضمير عدل ته راجع دي چه د (اِعْدِلُوْا) جملې معنى په هغه باندي دلالت کوي، او دا مرجع يعني عدل مخکي په لفظو کښي ذکر نه دي.

﴿د مرجع حکمي تعريف﴾

هغه مرجع ته وائي: چه مخکي نه لفظًا ذکر وي او نه معنًا بلکي مابعد کلمه يا کلام د ضمير تفسير کوي، او حکمًا دا تفسير ئي مرجع دي، او مابعد تفسير کله مفرد وي او کله جمله. د مفرد مثال لکه (نِعْمَ رَجُلًا زَيْدٌ). (نِعْمَ) کښي (هُوَ) ضمير دي چه د هغه مرجع ما قبل نه لفظًا ذکر دي او نه معنًا بلکي (رَجُلًا) د هغه تفسير کوي او دا حکمًا د هغه مرجع دي. او د جملې مثال لکه (اِنَّهٗ زَيْدٌ قَائِمٌ) نو دلته د (هٗ) ضمير د پاره مابعد جمله يعني (زَيْدٌ قَائِمٌ) تفسير واقع دي او دا جمله حکمًا مرجع دي. او دغه (هٗ) ضمير ته ضمير شان وائي. بل مثال د جملې لکه (اِنَّهَا هِنْدٌ قَائِمَةٌ) دلته هم د (هَا) ضمير د پاره جمله تفسير واقع ده، او هغه حکمًا مرجع ده. او دغه (هَا) ضمير ته ضمير قصّه وائي.

﴿فائده (۱۱)﴾ مشهوره قاعده ده چه (اَلضَّمِيْرُ لَا يُوْصِفُ وَلَا يُوْصَفُ بِهٖ) يعني ضمير نه موصوف واقع کيږي او نه صفت.

﴿تنبيه﴾ ضمائر ټوله په پنځه قسمه دي: (۱) مرفوع متصل (۲) مرفوع منفصل (۳) منصوب متصل (۴) منصوب منفصل (۵) مجرور متصل.

﴿د ضمير مرفوع متصل تعريف﴾

هغه ضمير ته وائي: چه د فعل فاعل واقع وي او د فعل سره پيوسته وي لکه (ضَرَبَا)

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

كښي الف ضمير مرفوع متصل دي، او په (ضَرَبُوْ)كښي واو ضمير دي، او په (ضَرَبْتِ) كښي (تَ تِ تُ) ضمير مرفوع متصل فاعل دي. او ضمير مرفوع متصل په دوه قسمه دي: (١) ضمير بارز (٢) ضمير مستتر. بارز هغه ضمير ته وائي: چه ښکاره وي لکه په (ضَرَبُوْ) کښي واو ضمير دي. او مستتر ضمير هغه ضمير مرفوع متصل ته وائي: چه هغه پټ وي لکه (ضَرَبَ) کښي (هُوَ) ضمير پټ دي.

او ضمير مستتر بيا په دوه قسمه دي: (١) واجب الاستتار (٢) جائز الاستتار.

﴿د ضمير واجب الاستتار تعريف﴾

هغه مرفوع متصل ضمير ته وائي: چه د هغه پټيدل واجب او ضروري وي.

﴿فائده(١٢)﴾ په کومو صيغو کښي چه ضمير مستتر وي په واجب الاستتار سره نو په هغو صيغو کښي فاعل اسم ظاهر او ضمير بارز نه شي واقع کيدلاي بلکي د هغو صيغو فاعل به هميشه هغه ضمير وي چه کوم ضمير پکښي پټ وي لکه په (اِضْرِبْ) کښي (اَنْتَ) ضمير مستتر دي په واجب الاستتار سره، نو هميشه به د دغه صيغې فاعل به (اَنْتَ) ضمير وي.

﴿د جائز الاستتار تعريف﴾

هغه مرفوع متصل ضمير ته وائي: چه د هغه استتار (يعني پټيدل) واجب نه وي بلکي جائز وي، يعني په کومو صيغو کښي چه ضمير مستتر وي په جا ئز الاستتار سره په هغو کښي فاعل اسم ظاهر هم کيديشي لکه (ضَرَبَ زَيْدٌ) کښي زيد فاعل دي او ضمير هم فاعل واقع کيديشي لکه په (زَيْدٌ ضَرَبَ) کښي (هُوَ) ضمير فاعل دي چه (ضَرَبَ) فعل کښي مستتر دي.

﴿فائده(١٣)﴾ په دې فائده کښي دا ذکر کيږي چه د افعالو په کومو صيغو کښي ضمير بارز دي او په کومو کښي جائز الاستتار دي او په کومو کښي واجب الاستتار دي. فعل ماضي معلوم او که مجهول دي په دوو صيغو کښي ضمير مستتر دي په

جائز الاستتار سره (١) واحد مذكر غائب لكه (ضَرَبَ). (٢) په واحده مؤنثه غائبه
كښې لكه (ضَرَبَتْ) په دې كښې(هِيَ) ضمير مستتر دي. او په نورو ټولو صيغو
كښې يعني(١٢) صيغو كښې ضمير بارز دي. او فعل مضارع معلومه ده او كه
مجهوله، او دارنګه هغه افعال چه د فعل مضارع سره جوړيږي په دوو صيغو كښې
ضمير مستتر دي په جائز الاستتار سره:(١)واحدمذكر غائب لكه(يَضْرِبُ) په دې
كښې (هُوَ) ضمير مستتر دي (٢) واحده مؤنثه غائبه لكه(تَضْرِبُ) په دې كښې
(هِيَ) ضمير مستتر دي. او په درو صيغو كښې ضميرمستتر دي په واجب الاستتار
سره بالاتفاق:(١) واحد مذكر مخاطب لكه(تَضْرِبُ) كښې(أَنْتَ) ضمير دي (٢)
واحد متكلم لكه(أَضْرِبُ) كښې(أَنَا) ضمير دي (٣) جمع متكلم لكه(نَضْرِبُ
نُضْرَبُ) كښې(نَحْنُ) ضمير دي. او په يوه صيغه كښې ضمير مستتر دي په واجب
الاستتار سره بالاختلاف لكه وحده مؤنثه مخاطبه(تَضْرِبِيْنَ) بعض علماء وائي: چه
په دې صيغه كښې ياء ساكنه صرف علامه دتانيث ده او(أَنْتِ)ضمير پكښې مستتر
دي په واجب الاستتار سره. او بعض علماء وائي: چه ياء ساكنه علامه د تانيث هم
ده، او ضمير بارز هم دي. اوپه نورو ټولو صيغو يعني (٨) صيغو كښې ضمير بارز
دي مثلاً په(يَضْرِبَانِ)كښې الف ضميردي،او په(يَضْرِبُوْنَ)كښې واو ضميربارز دي.
حاصل ئي دادي: چه په ماضي كښې په دوه صيغو كښې ضمير مستتر دي په جائز
الاستتار سره (١) واحد مذكر غائب (٢) واحده مؤنثه غائبه، او په نورو (١٢) صيغو
كښې ضمير بارز دي. او فعل مضارع كښې په دوو صيغو كښې ضمير جائز الاستتار
دي:(١) واحد مذكر غائب (٢) واحده مؤنثه غائبه، او په څلور كښې واجب الاستتار
دي: (١) واحد مذكر مخاطب (٢) واحده مؤنثه غائبه (٣) واحد متكلم (۴) جمع
متكلم، او په نورو اتو صيغو كښې ضمير بارز دي.
او ټوله ضمائر مصنف رحمه الله په كتاب كښې ذكر دي هلته ئي وګورئ.

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

﴿د ضمير مرفوع منفصل تعريف﴾

هغه ضمير ته وائي: چه په محل د رفع کښي واقع کيږي او د خپل عاملِ رافع سه جدا واقع وي. او دا ضمير مرفوع منفصل په کلامِ عرب کښي درې ځايه واقع کيږي: (۱) مبتداء لکه (هُوَ قَائِمٌ) وغيره (۲) د (اِلَّا) وروسته لکه (لَااِلٰهَ اِلَّا هُوَ). (۳) د فصل دپاره راځي لکه (أُولَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ) نو دلته (أُولٰئِكَ) مبتداء ده، او (مُفْلِحُوْنَ) ئي خبر دي، او (هُمْ) ضمير دفصل دي يعني دلته دمبتداء او دخبر په درميان کښي فصل او جدايي ئې راوستلې ده. او ضمائر دمرفوع منفصل په نحو مير کښي وګوره.

﴿فائده (۱۴)﴾ کله چه د اسم ظاهر عطف په ضمير مرفوع متصل (يعني دفاعل په ضمير باندي) وسي نو هلته دمرفوع متصل ضمير دپاره تاکيد راوړل ضروري دي، او دا تاکيد په ضمير مرفوع منفصل سره راځي، نه په بل ضمير سره لکه (فَذْهَبْ اَنْتَ وَرَبُّكَ فَقَاتِلَا) سورة المائده آيت ۲۴) نو دلته (رَبُّكَ) اسم ظاهر عطف دي د (اِذْهَبْ) په فاعل باندي چه (اَنْتَ) دي او هغه په فعل کښي مستتر دي نو ځکه ئي تاکيد راغلي دي په (اَنْتَ) ضمير مرفوع منفصل سره. اوچه کله د ضمير مرفوع متصل او د اسم ظاهر معطوف په در ميان کښي فصل راغلي وي نو بيا ضمير مرفوع منفصل دتاکيد او دفصل دپاره راوړل ضروري نه دي، بلکي راوړل يي هم جائز دي او نه راوړل هم جائز دي لکه په سورة اللهب کښي راځي (سَيَصْلٰى نَارًا ذَاتَ لَهَبٍ. وَامْرَاَتُهُ) نودلته (امْرَاَتُهُ) عطف دي د (سَيَصْلٰى) په فاعل (هُوَ) ضمير مستتر باندي. چونکي داسم ظاهر او دضمير مرفوع متصل په درميان کښي په نورو کلمو سره فصل راغلي دي نو ځکه ئي مرفوع منفصل ضمير دتاکيد او دفصل دپاره نه دي راوړي.

﴿د ضمير منصوب متصل تعريف﴾

هغه ضميرته وائي: چه مفعول بِهِ واقع کيږي او دفعلِ نا صب سره متصل وي لکه (خَلَقَكَ) کښي (كَ) ضمير دي. او يا دحروفو مشبه بالفعل اسم واقع کيږي لکه

(اِنَّهُمْ ظَالِمُوْنَ) کښې (هُمْ)ضمیر دي. نومعلومه سو چه ضمير منصوب متصل صرف دوه ځایه په ترکیب کښې واقع کیږي: (۱) دحروف مشبه بالفعل اسم واقع کیږي (۲) دفعل دپاره مفعول بِهٖ، او دفعلِ ناصب سره به متصل وي. او ضمائر دمنصوب متصل ټوله په نحومیر کښې مصنف رحمه الله ذکر کړي دي.

﴿فائده (۱۵)﴾کله چه دفعل سره دواحدمتکلم منصوب متصل ضمیر(ی)راسي نو دفعل اودضمیر په درمیان کښې نون وقایه راوړل ضروري دي ځکه چه فعل کسره نه قبلوي اویاء ساکنه ماقبل کسره غواړي نوفعل دکسره سه دساتلو په وجه نون وقایه راوړل کیږي نوپه دغه وجه دغه نون ته نون وقایه واي لکه(ضَرَبَنِی)کښې نون دی.

﴿د ضمیر منصوب منفصل تعریف﴾

هغه ضمیر ته وائي: چه مفعول بِهٖ واقع کیږي او فعلِ ناصب سه جلاوي او دده په شروع کښې (اِيَّا) راځي. او د منصوب منفصل ضمائر اکثر مفعول بِهٖ مقدم واقع کیږي یعني دخپل فعلِ نا صب سه مخکي ذکر وي لکه (اِيَّاكَ نَعْبُدُ وَاِيَّاكَ نَسْتَعِيْنُ) نودلته(اِيَّاكَ) ضمیر مفعول بِهٖ مقدم دي د(نَعْبُدُ)او د(نَسْتَعِيْنُ) فعل دپاره.

﴿د ضمیر مجرور متصل تعریف﴾

هغه ضمیر ته وائي: چه دمضاف دپاره مضاف الیه واقع کیږي لکه(غُلَامُكَ)، او یا دحرف جاره دپاره مجرور واقع کیږي لکه(لَكَ. لَكُمَا) وغیره.

او ټوله ضمائر یعني مرفوع متصل اومرفوع منفصل او منصوب متصل او منفصل او مجرور متصل هريو څوارلس دي یعني مر فوع متصل (۱۴)ضمائر دي او دا رنګه هغه نور هم. او بیاپه (۱۴) ضمائرو کښې دوه دمتکلم. او شپږ دغا ئب دي، دريې په کښې دمذکر، او دريې دمؤنث. او شپږ دمخاطب دي، دريې دمذکر، او دريې دمؤنث، نوچه دا ټوله ضمائر راجمع کړې نوټوله (۷۰)ضمائر جوړيږي.

﴿فائده (۱٦)﴾ دټولو ضمائرو مشابهت دمبني الاصل سره مشابهتِ وَضعي دي.

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

﴿بحث د اسماء اشارات﴾

دا دويم قسم دي داسمِ غير متمكن. اسماء اشارات جمع ده د اسمِ اشاره، او اسمِ اشاره هغه اسم ته وائي؛ چه واضع وضع كړي وي دمشار اليه دتعيين دپاره. او اسماء اشارات دادي.(ذَا. ذَانِ. ذَيْنِ. تَا. تِهْ. ذِه. ذِهِيْ. تِهِيْ. تِيْ. تَانِ. تَيْنِ. اُلَآءِ)دمد سره،(أُوْلٰى)دقصرسره.

(ذَا) دواحد مذكر دپاره دي. او(ذَانِ وذَيْنِ) دتثنيه مذكر دپاره دي، خو(ذَانِ) دحالت رفعي،او(ذَيْنِ) دحالت نصبي اوجري دپاره دي.او (تَا.تِيْ.تِهْ.ذِهْ.ذِهِيْ.تِهِيْ)دا شپږ دواحده مؤنثه دپاره وضع سوي دي.او(تَانِ و تَيْنِ)دتثنيه مؤنثي دپاره دي خو (تَانِ) دحالت رفعي، او (تَيْنِ)دحالت نصبي اوجري.او (اُلَآءِ)بمد،او(أُوْلٰى)بقصر دا دواړه دجمعِ مشترک دپاره دي يعني دمذكري او دمؤنثي دواړو دجمعي دپاره دي.

﴿فائده(١٧)﴾ (هِنَا او هُنَا) دواړه لغته پكښي جائز دي. او دا دواړه دمكان داشارې دپاره استعماليږي.

﴿فائده(١٨)﴾ كه چيري مشارٌ اليه قريب وي نود اسم اشارېٔ په اول كښي (هاء) دتنبيه راوړل كيږي لكه(هٰذَا زَيْدٌ. هٰؤُلَآءِ رِجَالٌ. هَاهُنَا) وغيره. او كه مشارٌ اليه متوسط وي نو بيا كافِ حرفي په اخركښي راوړل كيږي لكه(ذَاكَ زَيْدٌ). اوكه مشارٌاليه ليري وي نوبيا داسمِ اشارې او دكاف حرفي په درميان كښي لام زائده راوړل كيږي لكه(ذٰلِكَ كِتَابٌ) وغيره. اوكوم كاف چه داسمِ اشارې په اخر كښي راځي دا كاف حرفي دي او دمخاطب په حالت باندي دلالت كوي يعني دمتكلم داشارې مخاطب څوک دي يعني ډير سړي دي اوكه ښځي، او كه يوكس دي او كه دوه كسان دي مثلاً كه دمتكلم مخاطب يوسړې دي نو داسي به وائي(ذٰلِكَ كِتَابٌ). اوكه مخاطبه ښځه وه نو (ذٰلِكِ كِتَا بٌ) به وائي. اوكه مخاطب دوه كسان وي نو

(ذٰلِكُمَا كِتَابٌ) به وائي. او که مخاطب جمعه وه د سړو نو (ذٰلِكُمْ كِتَابٌ) به وائي، او که جمعه د ښځو وه نو (ذٰلِكُنَّ كِتَابٌ) به وائي.

﴿اشكال﴾ چه اسماء اشارات د مبني الاصل سره د مشابهت په وجه مبني دي نو په حالت رفعي او نصبي او جري کښې ولې جلا جلا دي لکه د حالت رفعي دپاره (ذَانِ) او د حالت نصبي او د جري دپاره (ذَيْنِ) راځي نو داځرنګه مبني دي حالانکې مبني خو د عامل د بدليدو په وجه نه بدليږي او دلته خو بدل سوي دي.

﴿جواب﴾ د دې دوه جوابونه دي (۱) بعضِ نحات وائي: چه دا معرب دي (۲) اکثر نحات وائي چه دا مبني دي خو د حالت رفعي دپاره (ذَانِ) وضع سوي دي، او د حالت نصبي او د جري دپاره (ذَيْنِ) وضع سوي دي.

او دا اشکال او جواب په اسماء موصولات کښې هم دي.

﴿اسماء موصولات﴾

دا دِ اسم غير متمکن دريم قسم دي. او اسماء موصولات جمع د اسم موصول ده، او اسم موصول هغه اسم ته وائي: چه مابعد جمله يعني صله او يا قائمِ مقام د جملې ته محتاج وي او دارنګه عائد يعني ضمير يا قائمِ مقام د ضمير ته محتاج وي. يعني اسم موصول دوو شيانو ته محتاجه دي (۱) صله. او صله: جمله وي او که قائمِ مقام د جملې وي (۲) عائد يعني ضمير يا قائمِ مقام د ضمير. او اسم موصول د خپلې صلې سره د جملې جزء واقع کيږي، او مکمله جمله نه واقع کيږي، او اسم موصول بغير د صلې هيڅ هم نه واقع کيږي. او په صله کښې داسې عائد يعني ضمير ضروري دي چه د اسم موصول طرف ته راجع وي او په دغه ضمير سره د اسم موصول او د صلې په درميان کښې تعلق او ربط پيدا کيږي. او قائم مقام د ضمير اسم ظاهر وي وغيره، او د قائم مقام د ضمير متعلق بحث په الفوائد کښې دي په فائده نمبر (۲۳۹) کښې. او دا ضروري نه ده چه عائد ضمير دي د فاعل ضمير وي بلکې د مفعول او د مضاف اليه وغيره ضمير هم کيديشي. او قائمِ مقام د جملې څلور شيان دي: (۱) ظرف لکه (مَنْ

خَلفَهُمْ). (۲) جار مجرور لکه(اَلَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ).(۳) اسم فاعل چه کله الف لام پر داخل وي (۴) اسم مفعول چه کله الف لام پر داخل وي.

﴿اسماء موصوله دادي﴾ (اَلَّذِیْ) دواحدمذکر دپاره دي(اَلَّذَانِ) دتثنیه مذکر دحالت رفعي دپاره او (اَلَّذَيْنِ) هم دتثنیه مذکر دپاره دي خو دحالت نصبي اودجري دپاره وضع سوي دي، او (اَلَّذِيْنَ)دجمع مذکر دپاره دي، او (اَلَّتِیْ)دواحده مؤنثه دپاره دي، او (اَللَّتَانِ) دتثنيې مؤنثې دحالت رفعي دپاره. او (اَللَّتَيْنِ) دتثنیه مؤنثه دحالت نصبي وجري دپاره، او (اَللَّاتِیْ وَاللَّوَاتِیْ وَاللَّائِیْ)دا درې سره دجمع مؤنثه دپاره دي. او (اَیٌّ) اسم موصول دواحد مذکر دپاره او (اَیَّةٌ) دواحده مؤنثه دپاره دي.

او (مَا و مَنْ) دا دواړه دلفظ په اعتبار سره دواحد دپاره استعمالیږي، او دمعنی په اعتبار سره دامشترک دي په افراد او په تثنیه او په جمع کښي او دارنګه په تذکیر او په تانیث کښي، لهذا دیته دواحد مذکر او دواحده مؤنثه اودتثنیه مؤنثه او دجمع مذکر اودجمع مؤنثه ضمیر راجع کول جائز دي لکه په قرآن کریم کښي راځي (وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَّقُوْلُ اٰمَنَّا بِاللّٰهِ وَبِالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَمَاهُمْ بِمُؤْمِنِيْنَ) سورة البقره ايت نمبر ۸) نوپه دې آیت کریمه کښي (مَنْ) اسم موصول ته دوا حد مذکر غائب یعني (هُوَ)هم راجع دي چه په (يَقُوْلُ) فعل کښي مستتر دي، او دارنګه(هُمْ) ضمیر دجمع مذکر(مَنْ) اسم موصول ته هم راجع دي. حاصل دا: چه دلته(مَنْ) اسم موصول ته(هُوَ) ضمیر او (هُمْ)ضمیر دواړه راجع دي حالانکي یو ضمیر دواحد دي، او بل دجمع دي.

او (اَلْ) په معني د(اَلَّذِیْ) دي کله چه په اسم فاعل او په اسم مفعول داخل سي لکه (اَلضَّارِبُ ای اَلَّذِیْ ضَرَبَ. اَلْمَضْرُوْبُ ای اَلَّذِیْ ضُرِبَ). او (ذُوْ) اسم موصول دي په معنی د(اَلَّذِیْ)په لغت دبني طي کښي لکه(جَاءَنِیْ ذُوْضَرَبَكَ ای جَاءَنِیْ اَلَّذِیْ ضَرَبَكَ)

Scanned with CamScanner

او قائم مقام د ضمير اسم ظاهر وي دهغه مثال لکه(اَلۡحَآقَّةُ مَا الۡحَآقَّةُ) په اصل کښې داسې پکار دي(اَلۡحَآقَّةُ مَاهِيَ) نو دلته دضمير په ځائې باندې اسم ظاهر واقع سوي دي . نور تفصيل ئې په فائده (۲۳۹) کښې دي.

﴿فائده(۱۹)﴾ د(اَيٌّ وا َيَّةٌ) څلور حالته دي. په درو حالت کښې معرب دي او په يو حالت کښې مبني دي، او ددغه يو حالت په وجې په مبنياتو کښې ذکر دي. او حالتونه ئې دادي (۱) نه مضاف وي اونه صدر دصله ذکر وي لکه(اَيٌّ قَائِمٌ). (۲)هم مضاف وي او هم صدر دصله ذکر وي لکه(اَيُّهُمۡ هُوَ قَائِمٌ).(۳)مضاف نه وي او صدر دصله ئې ذکر وي(اَيٌّ هُوَ قَائِمٌ). (۴) مضاف وي او صدر دصله ئې ذکر نه وي لکه(اَيُّهُمۡ قَائِمٌ). نو په اول درو حالتونو کښې معرب دي او په اخري څلورم حالت کښې مبني دي.

﴿فائده(۲۰)﴾ (اَيٌّ وا َيَّةٌ) چه کله مبني وي نو (اَيٌّ) د(اَلَّذِيۡ) په معنې دي، او(اَيَّةٌ) د(اَلَّتِيۡ) په معنې دي. د(اَيٌّ) مثال لکه(اَيُّهُمۡ اَشَدُّ عَلَى الرَّحۡمٰنِ عِتِيًّا)سورة مريم ايت (۶۹) اَيۡ اَلَّذِيۡ هُمۡ اَشَدُّ عَلَى الرَّحۡمٰنِ عِتِيًّا). او (اَيَّةُ اِمۡرَاَةٍ زَوَّجۡتُكَ. اَيۡ اَلَّتِيۡ زَوَّجۡتُكَ).

﴿فائده(۲۱)﴾ (مَا) اسم موصول اکثر دغير ذوى العقول دپاره استعماليږي ليکن کله کله دذوى العقول دپاره استعماليږي لکه(وَنَفۡسٍ وَّمَا سَوّٰهَا)سورة الشمس. او(مَنۡ) اسم موصول اکثر دذوى العقول دپاره استعماليږي لکه(فَمِنۡهُمۡ مَّنۡ يَّمۡشِيۡ عَلٰى بَطۡنِهٖ)سورة نور ايت ۴۵) نو دلته(مَنۡ) دمارانو وغيره دپاره مستعمل سوي دي.

﴿فائده(۲۲)﴾(مَا)په نهه قسمه دي(۱)موصوله (۲)موصوفه (۳)مصدريه (۴) استفهاميه(۵)مامشبه بليس(٦)شرطيه (۷)ماکافه عن العمل (۸)نافيه(۹)زائده.

﴿فائده(۲۳)﴾ په (مَا) موصوله او په (مَا) استفهاميه باندي چه کله حرف جار داخل سي نو په (مَا) موصوله او استفهاميه کښې فرق هم کتابتًا سته او هم قراتًا، لهذا که چيري په (مَا) استفهاميه باندي حرف جار داخل سي نو د(مَا) الف به نه ليکل کيږي

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

اونه به ويل کيږي لکه(عَمَّ يَتَسَآءَلُوْنَ). او که په (مَا) موصوله باندي داخل سي نو الف به هم ليکل کيږي او هم به ويل کېږي لکه(عَمَّا كَانُوْ يَكْسِبُوْنَ).

﴿فائده(۲۴)﴾ د(مَا)موصوله وروسته چه کله(مِنْ) حرف جار راسي نودا (مِنْ) حرف جار دخپل مجرور سره د(مَا) موصوله دپاره بيان وي لکه(فَاقْرَؤُوْا مَا تَيَسَّرَ مِنَ الْقُرْآنِ)سورة المزمل آيت ۲۰) نو دلته(مِنَ الْقُرْآنِ) دا بيان دي د(مَا) موصوله دپاره.

﴿فائده(۲۵)﴾ د اسماء موصوله مشابهت دمبني الاصل سره مشابهت افتقاري يعني احتياجي دي يعني صله ته محتاج دي.

﴿اسماء افعال﴾

دا څلورم قسم دي داسمِ غيرمتمکن. او اسماء افعال جمع داسمِ فعل ده. او اسمِ فعل هغه اسم ته وائي: چه دفعل په معنی باندي دلالت کوي، خو دفعل د خواصو سه يو خاصيت هم نه قبلوي. اواسماء افعال په دوه قسم دي (۱)بمعنی فعل ماضي (۲) بمعنی امرحاضر

﴿اسماء افعال بمعنی فعل ماضي﴾

اسماء افعال چه په معنی دفعل ماضي دي هغه صرف درې دي، نور نه راځي (۱) هَيْهَاتَ بمعنٰى بَعُدَ لکه (هَيْهَاتَ هَيْهَاتَ لِمَا تُوْعَدُوْنَ (سورة المؤمنون آيت ۳٦) په معنی د (بَعُدَ بَعُدَ لِمَا تُوْعَدُوْنَ) دي (۲)سَرْعَانَ بمعنیٰ سَرُعَ لکه (سَرْعَانَ زَيْدٌ اى سَرُعَ زَيْدٌ). (۳) شَتَّانَ بمعنیٰ اِفْتَرَقَ لکه (شَتَّانَ زَيْدٌ وَعَمْرٌو بمعنیٰ اِفْتَرَقَ زَيْدٌ وَعَمْرٌو).

﴿فائده(۲٦)﴾ په(سَرْعَانَ) کښي درې لغته دي (۱) سَرْعَانَ (۲) سِرْعَانَ (۳) سُرْعَانَ. او په(شَتَّانَ) کښي دوه لغته دي(۱) شَتَّانَ(۲) شَتَّانِ. او(هَيْهَاتَ)په اصل کښي(هَيْهَيَتَ) ؤ، او اخري ياء په الف بدله سوې ده، او په(هَيْهَاتَ) کښي نهه لغاته دي (۱)هَيْهَاتَ (۲) هَيْهَاتُ (۳)هَيْهَاتِ (۴)هَيْهَا (۵)هَيْهَانَ(٦)ئَيْهَاتَ (۷)ئَيْهَاكَ

Scanned with CamScanner

(۸)ئَيهَان (۹)هَيهَاتْ.

﴿اسماء افعال بمعنى امر حاضر﴾

دا ډير دي خو زه يوڅو ذکر کوم (۱) رُوَيْدَ بمعنیٰ اَمْهِلْ (۲)بَلْهَ بمعنیٰ دَعْ (۳)هَلُمَّ بمعنیٰ اِيْتِ (۴)حَيَّهَلْ بمعنیٰ اِيْتِ (۵)دُوْنَكَ بمعنیٰ خُذْ(٦) هَا بمعنیٰ خُذْ (۷)عَلَيْكَ بمعنیٰ اِلْزَمْ يا اَلْزِمْ (۸)اٰمِيْنَ بمعنیٰ اِسْتَجِبْ (۹) مَهْ بمعنیٰ اُكْفُفْ.

او (عَلَيْكَ) اسمِ فعل کښي (عَلٰی) حرف جار دي، او (كَ)حرف خطاب دي ليکن ددې سره ترکيبي معنی مراد نه ده بلکي اسمِ فعل دي بمعنیٰ (اِلْزَمْ يا اَلْزِمْ).

﴿فائده(۲۷)﴾ او د (حَيَّهَلْ) په آخر کښي کله کاف هم راځي لکه حَيَّهَلَكَ او په (حَيَّهَلْ) کښي اته لغات دي (۱)حَيَّهَلْ (۲)حَيَهَلْ (۳)حَيَّهَلٌ (۴)حَيَّهَلْ (۵)حَيَّهَلَا (٦)حَيَّهَلْ (۷)حَيَّهَلَكَ (۸)حَيَّ په حذف د هَلْ. او (حَيَّ) کله متعدي وي بنفسه او کله متعدي وي په (عَلٰی)حرف جار سره لکه په اذان کښي دا مستعمل دي (حَيَّ عَلَى الصَّلٰوةِ)

او (هَا) اسمِ فعل کښي درې لغات دي (۱)همزه ساکنه لکه(هَاْ).(۲) همزه مکسوره لکه(هَاِ). (۳)همزه زايده لکه(هَاء).

﴿فائده(۲۸)﴾ داسماء افعال مشابهت دمبني الا صل سره مشابهت استعمالي دي يعني دفعل په شان عمل کوي مثلاً فاعل ته رفع ورکوي او مفعول ته نصب ورکوي ليکن دعامل اثر نه قبلوي، څرنګه چه فعل دعامل اثر قبلوي.

﴿اسماء اصوات﴾

دا پنځم قسم دي داسمِ غير متمکن. او اسماء اصوت جمع داسمِ صوت ده. او اسمِ صوت هغه اسم ته وائي: چه دهغه په ذريعه دبل چا دآواز نقل کيږي، او يا دهغه په ذريعه حيواناتو ته آواز کيږي. او اسماء اصوات پنځه دي (۱) اُحْ اُحْ دټوخي د آواز نقل دي (۲) اُفْ اُفْ دا دتکليف دوخت دآواز نقل دي (۳) بَخْ بَخْ دا دخوشحالي او

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

دخندا دآواز نقل دي (۴) نَخّ نَخّ دا داوښ دکښېنولو په وخت دآواز نقل دي (۵) غَاقَ غَاقَ دا د كارګه د آواز نقل دي.

﴿فائده(۲۹)﴾ داسماء اصوات مشابهت دمبني الاصل سره مشابهت اهمالي دي، ځکه چه دا نه عامل جوړيږي، اونه مسند او نه مسند اليه، لنډدا چه دا مهمل دي.

﴿اسماء ظروف﴾

داشپږم قسم دي داسمِ غير متمكن. او اسماء ظروف جمع داسمِ ظرف ده.

او اسم ظرف هغه اسم ته وائي: چه ديو كار دواقع كېدلو په ځاي يا په وخت باندي دلالت كوي. او دا په دوه قسمه دي: (۱) ظرف زمان (۲) ظرف مكان.

﴿دظرف زمان تعريف﴾

هغه اسم ظرف ته وائي: چه ديو كار دواقع كيدولو په وخت باندي دلالت كوي.

او ظروف زمان دادي (۱) إِذْ و إِذَا په معنى دكوم وخت (۲) مَتٰى په معنى دكله (۳) كَيْفَ په معنى دڅنګه (۴) اَيَّانَ په معنى دكله، يا كوم وخت (۵) اَمْسِ بمعنى پرون (٦) مُذْ و مُنْذُ دواړه په معنى د سه (۷) قَطُّ بمعنى هيڅكله، خو دا دماضي سره خاص دي (۸) عَوْضُ دا هم په معنى دهيڅكله دي، خو دا دمضارع سره خاص دي. او دامذكوره ټوله په هر حالت كښي مبني دي (۹) قَبْلُ بمعنى مخكي (۱۰) بَعْدُ بمعنى روسته. او د(قَبْلُ وبَعْدُ) درې حالته دي، په يو حالت كښي مبني دي او په دوو حالتو كښي معرب دي. درې حالتونه ئې دادي (۱) مضاف وي اومضاف اليه ئي ذكروي لكه(مِنْ قَبْلِهِمْ وَمِنْ بَعْدِهِمْ). (۲)مضاف وي اومضاف اليه ئي نسيًا منسيًا وي (۳) مضاف وي او مضاف اليه ئي محذوف او منوي وي يعني مضاف اليه ئي حذف سوي وي خو په نيت كښي وي لكه(مِنْ قَبْلُ وَمِنْ بَعْدُ اى مِنْ قَبْلِهِمْ وَمِنْ بَعْدِهِمْ). په قرآن كريم كښي او په حديثو مباركو كښي ددې مثالونه ډير دي.

﴿د ظرف مكان تعريف﴾

هغه اسم ظرف ته وائي؛ چه ديو كار دواقع كيدولو په ځاي باندي دلالت كوي. او ظروف مكان دادي (۱) حَيْثُ بمعنى كوم ځاي (۲) قُدَّامُ بمعنى مخكي (۳) تَحْتُ بمعنى لاندي (۴) فَوْقُ بمعنى لوړ. او په دې ځلورو كښي حَيْثُ په هرحالت كښي مبني دي. او قُدَّامُ او تَحْتُ او فَوْقُ ددې هم دري حالته دي لكه د قَبْلُ و بَعْدُ.

نو دا هم په يو حالت كښي مبني او په دوو حالتو كښي معرب دي لكه قَبْلُ و بَعْدُ.

﴿د ظرف متعلق نهه فوائد﴾

﴿اوله فائده(۳۰)﴾ اسماء ظروف نور هم سته چه مصنف رحمه الله نه دي ذكر كړي زه يوځو نور ذكر كوم (۱) اَلْاٰنَ (۲) عِنْدَ (۳) خَلْفَ (۴) بَيْنَ (۵) لَمَّا، دا كله كله ظرفيه وي لكه إِذَا، نو د إِذَا په شان عمل كوي، او د إِذَا والا قانون ئي دي (٦) ثَمَّ (۷) مَعَ بغير تنوين. اوكه مَعًا دتنوين سره وي نو بيا په معنى د جَمِيْعًا سره حال واقع كيږي، او ظرف نه دي وغيره.

﴿دويمه فائده(۳۱)﴾ مُذْ و مُنْذُ. دا دواړه حروف جاره هم دي نو په دې وجه ددې مدخول مجرور وي. او (مُذْ) دابتداء دزماني دپاره راځي لكه مَا رَاَيْتُ زَيْدًا مُذْ يَوْمِ الْجُمُعَةِ (مانه دي ليدلي زيد دجمعې د ورځي سه). او (مُنْذُ) دجميع زمانې يعني دټولي زمانې دپاره راځي لكه مَا رَاَيْتُ زَيْدًا مُنْذُ شَهْرٍ (ماندي ليدلي زيد دمياشت سه يعني په مكمله مياشته كښي مانه دي ليدلي.

﴿دريمه فائده(۳۲)﴾ د (كَيْفَ) په باره كښي شيخ رضي وائي: چه د اخفش په نيز (كَيْفَ) ظرف دي ځكه چه دا د(عَلٰى) حرف جاره په معنى دي، اوجار مجرور او ظروف مُتَقَارِبُ الْمَعْنٰى دي نو په دې وجه جار مجرور ته ظرف مجازي وائي مثال لكه

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

(كَيْفَ زَيْدٌ) معنى ئې دہ (أَزَيْدٌ عَلَى حَالِ الصِّحَّةِ أَمْ عَلَى حَالِ السَّقَمِ).

او امام سيبويه وائي: چه (كَيْفَ) اسم ظرف نه دي. او دنحومير مصنف رحمه الله دا خفش مذهب ته ترجيح او غوره والي ورکړي دي.

﴿څلورمه فائده (۳۳)﴾ (حَيْثُ) لازم الاضافت دي يعني هميشه مضاف وي، او مضاف اليه ئي هميشه جمله واقع کيږي او مفرد نه واقع کيږي.

﴿پنځمه فائده (۳۴)﴾ (إِذْ و إِذَا) په باره کښي په عربي کښي يوه قاعده مشهوره ده (خَافِضٌ لِمَدْ خُوْلِهِ وَمَنْصُوْبٌ بِجَوَابِهِ) يعني خپل مدخول ته جر ورکوي او دوي منصوب وي دخپل جواب دوجي يعني عاملِ ناصب يي خپل جواب دي. او خپل مدخول ته ولي جر ورکوي؟ جواب: دا ځکه چه دا دواړه لازم الاضافت دي جمله ته يعني دوي هميشه مضاف وي، او مضاف اليه يي جمله وي. نو په دې وجه خو (إِذْ و إِذَا) خپل مضاف اليه جمله په تاويل د مصدر يي ګرځوي. او جمله په تأويل د مصدر ګرځولو طريقه په صفحه نمبر (۵۸) کښې راروانه ده.

او (إِذْ) کله جمله اسميه ته مضاف وي لکه (وَاذْكُرُوْا إِذْ أَنْتُمْ قَلِيْلٌ مُسْتَضْعَفُوْنَ فِي الْأَرْضِ (سورة الانفال آيت ۲۶). او کله جمله فعليه ته مضاف وي، بيا جمله فعليه کله به ماضي وي لفظاًهم او معناًهم لکه (وَإِذْ غَدَوْتَ مِنْ أَهْلِكَ (سورة آل عمران آيت ۱۲۱). او کله به ماضي وي معنًا او مضارع به وي لفظًا لکه (وَإِذْ يَرْفَعُ إِبْرَاهِيْمُ الْقَوَاعِدَ (سورة بقره ايت ۱۲۷).

﴿شپږمه فائده (۳۵)﴾ (إِذَا) په دوه قسمه دي: (۱) مفاجاتيه (۲) ظرفيه.

﴿إِذَا مفاجاتيه﴾ په معنى د حال راځي، نه په معنى د استقبال، او د (إِذَا) مفاجاتيه درې علامې دي (۱) مدخول به جمله اسميه وي (۲) د جواب محتاج نه وي يعني جواب نه غواړي (۳) په ابتداء کښي نه واقع کيږي لکه (فَإِذَا هِيَ حَيَّةٌ تَسْعٰى) (سورة طه آيت ۲۰). بل مثال لکه (خَرَجْتُ فَإِذَا الْأَسَدُ بِالْبَابِ).

﴿إِذَا ظرفيه﴾ دا په معنى د استقبال راځي، او ددې هم درې علامې دي (۱) په جمله فعليه باندې داخليږي (۲) جواب غواړي (۳) په ابتداء كښې واقع كيږي لكه (إِذَا جَآءَ نَصْرُ اللهِ وَالْفَتْحُ)، او د (إِذَا) مفاجاتيه او ظرفيه د دواړو مثال په يو آيت كې يمه كښې (ثُمَّ إِذَا دَعَاكُمْ دَعْوَةً مِّنَ الْأَرْضِ إِذَا أَنْتُمْ تَخْرُجُوْنَ (سورة روم ايت ۲۵). دلته اول (اذا) ظرفيه دي، او دويم (اذا) مفاجاتيه دي.

﴿تنبيه﴾ كله د ماضي حال د حكايت د پاره فعل مضارع ذكر كيږي لكه (وَإِذْ يَرْفَعُ إِبْرَاهِيْمُ الْقَوَاعِدَ) الاية (سورة بقره ايت ۱۲۷).

﴿اوومه فائده (۳۶)﴾ إِذَا ظرفيه هيڅكله په اسم باندې نه داخليږي، كه چيرې داخل سوي وي نو بيا هلته د اسم سره مخكې فعل مقدر وي لكه (إِذَا السَّمَآءُ انْشَقَّتْ) (سورت الانشقاق) دلته عبارت مقدر دي، هغه دا (إِذَا انْشَقَّتِ السَّمَآءُ انْشَقَّتْ).

﴿اتمه فائده (۳۷)﴾ (إِذْ) كله د تعليل د پاره راځي يعني د ماقبل كلام د پاره علت وي. او (إِذْ) په دغه صور كښې زائد وي لكه په قرآن كريم كښې راځي (وَلَنْ يَّنْفَعَكُمُ الْيَوْمَ إِذْ ظَّلَمْتُمْ أَنَّكُمْ فِي الْعَذَابِ مُشْتَرِكُوْنَ (سورة زخرف آيت ۳۹) اى وَلَنْ يَّنْفَعُكُمُ الْيَوْمَ إِشْتِرَاكُكُمْ فِي الْعَذَابِ لِأَجْلِ ظُلْمِكُمْ فِي الدُّنْيَا).

﴿نهمه فائده (۳۸)﴾ (لَمَّا) ظرفيه هم د (إِذَا) په شان دي. يعني دې هم لازم الاضافت دي و جملې ته، او دا رنګه د (إِذَا) پشان عمل كوي وغيره.

﴿د ظرف مستقر او د ظرف لغو قانون﴾

ظرف په دوه قسمه دي (۱) حقيقي لكه اسماء ظروف (۲) ظرف مجازي لكه جار مجرور. څرنګه چه ظرف حقيقي متعلق ته محتاج دي نو ظرف مجازي هم محتاج دي. بيا ظرف حقيقي او ظرف مجازي هر يو په دوه قسم دي (۱) ظرف لغو (۲) ظرف مستقر.

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

﴿د ظرف لغو تعریف﴾

هغه ظرف حقيقي او مجازي ته وائي: چه د هغه متعلق يعني عاملِ ناصب ئي په لفظو کښي ذکر وي او متعلق ئي د افعالِ عامه سه نه رایستل کیږي لکه مَرَرْتُ بِزَيْدٍ نو دلته جار مجرور يعني ظرف مجازي متعلِق دي د (مَرَرْتُ) فعل سره چه هغه ئي عامل دي، نو دلته متعلق په لفظو کښي ذکر دي. او تعلق نیونکي ته متعلِق وائي او پر چاباندي چه تعلق نيولي سویوي هغه ته متعلَق وائي نو (مَرَرْتُ) متعلق دي او بِزَيْدٍ متعلِق دي

﴿د ظرف مستقر تعریف﴾

هغه ظرف حقيقي او مجازي ته وائي: چه د هغه متعلق يعني عامل ئي په لفظو کښي ذکر نه وي بلکي د افعالِ عامه سه رایستل کیږي لکه (عِنْدِیْ کِتَابٌ وَفِي الدَّارِ رَجُلٌ)، او کله متعلق د افعالِ خاصه سه هم رایستل کیږي لکه په (بِسْمِ اللهِ) کښي (اَشْرَعُ) فعلِ خاص رایستل کیږي نو په دې مثالو کښي متعلق نه دي ذکر بلکي متعلق به ورته رایستل کیږي نو دا ظرف مستقر دي.

﴿افعالِ عامه﴾ اته دي ليکن په هغو کښ څلور غيرِمشهور دي، او څلور مشهور دي لکه (۱) کَوْن (۲) ثُبُوْت (۳) حُصُوْل (۴) وُجُوْد . يعني دا څلور ئي مصدرونه دي او د دې سه به متعلق رایستل کیږي، که فعل وي او که اسم فاعل او اسم مفعول وغيره.

﴿فائده (۳۹)﴾ ظرف مستقر د خپل متعلق (يعني د عامل) سره څلور شیانو کښي یو شې واقع کیږي (۱) خبر (۲) صفت (۳) حال (۴) صله د اسم موصول.

که چیري ظرف مستقر خبر واقع وي نو په متعلق رایستلو کښي اختلاف دي. کوفیان وائي: چه متعلق به شبهي فعل يعني اسم به وي. او بصریان وائي: چه متعلق به فعل وي. او که چیري ظرف مستقر صفت واقع وي، یا حال نو بالاتفاق متعلق شبهي فعل يعني اسم رایستل کیږي. او که چېري ظرف مستقر صله واقع وي نو بالاتفاق متعلق فعل رایستل کېږي.

﴿فائده (۴۰)﴾ په مخکني فائده کښې چه په کومو ځايو کښې شبهي فعل او د اسم ذکر سوي دي دهغه سه مراد اسماء صفات دي، او اسماء صفات پنځه دي (۱) اسم فاعل (۲) اسم مفعول (۳) صفت مشبه (۴) مبالغه (۵) اسم تفضيل. او اسماء صفات ته شبهي فعل په دې وجه وائي: چه اسماء صفات د خپل فعل په شان عمل کوي لکه څرنګه چه د فعل فاعل او مفعول بِهٖ وي نو د اسماء صفات هم فاعل او مفعول بِهٖ وي ليکن اسماء صفات په عمل کولو کښې کمزوري دي، نو د دوي دعمل کولو دپاره شرط دادي چه دوي به په شپږو شيانو کښې په يوي شي باندي اعتماد کړي وي، ماسوا د اسمِ تفضيل سه ځکه چه دهغه استعمال په درو طريقو سره دي چه په دريم باب کښې راځي. او هغه شپږ شيان دادي: (۱) مبتداء (۲) ذوالحال (۳) موصوف (۴) اسم موصول (۵) همزه استفهاميه (۶) لاءِ نافيه. او که چيري په اسم فاعل او اسم مفعول باندي الف لام بمعني د اَلَّذِيْ اسم موصول داخل وي نو دغه الف لام د اعتماد لپاره کافي دي، او بل شي ته ضرورت نسته.

﴿فائده (۴۱)﴾ قاعده اکثريه ده: که چيري ظرف مستقر دمعرفه وروسته راسي نو دا ظرف مستقر حال وي دمعرفه لپاره، دظرف حقيقي مثال لکه (رَاَيْتُ الْهِلَالَ بَيْنَ السَّحَابِ)، نو (الْهِلَالَ) ذوالحال او مابعد حال دي. او دظرف مجازي مثال لکه (رَاَيْتُ الْهِلَالَ فِي الْاُفُقِ). او که چيري ظرف مستقر دنکره محضه وروسته واقع وي نو اکثر دا صفت وي ددغه نکره دپاره لکه (جَاءَنِيْ رَجُلٌ مِنْ تَمِيْمٍ رَاكِبًا) نو دلته (مِنْ تَمِيْمٍ) ظرف مستقر د (رَجُلٌ) نکره محضه دپاره صفت دي. بل مثال لکه (رَاَيْتُ طَائِرًا فَوْقَ غُصْنٍ اَوْ عَلٰى غُصْنٍ) نو دلته (طَائِرًا) موصوف او مابعديې صفت دي.

﴿فائده (۴۲)﴾ اسماء صفات ماسوا د اسم تفضيل سه که چيري خبر واقع وي د مبتداء دپاره نوبيا دمبتداء او دخبر په درميان کښې موافقت ضروري دي په دوو شيانو کښې: (۱) په تذکير او په تانيث کښې (۲) په افراد او په تثنيه او په جمع کښې لکه (زَيْدٌ مُجَاهِدٌ. هِنْدٌ مُجَاهِدَةٌ. اَلرَّجُلَانِ مُجَاهِدَانِ. اَلرِّجَالُ مُجَاهِدُوْنَ وغيره. او د

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

مبتداء او دخبر نور بحث په فوائد کښي راځي ان شاء الله تعالى.

﴿فائده (۴۳)﴾ داسماء ظروف مشابهت دمبني الاصل سره مشابهت وضعي او افتقاري يعني احتياجي دي.

﴿اسماء کنايات﴾

دا ووم قسم دي داسم غير متمكن. او اسماء کنايات جمع ده داسم کنايه، او اسم کنايه هغه اسم غير متمکن ته وائي: چه په مبهم عدد اويا په مبهمه خبره باندي دلالت کوي، او دا په دوه قسم دي (۱) اسم کنايه چه په مبهم عدد دلالت کوي (۲) اسم کنايه چه مبهمه خبره دلالت کوي. اول چه په مبهم عدد دلالت کوي دا دوه دي (۱) کَمْ په معنی دڅونه (۲) کَذا په معنی دونه. دويم چه په مبهمه خبره دلالت کوي هغه هم دوه دي (۱) کَيْتَ په معني څنګه (۲) ذَيْتَ په معنی داسي.

﴿فائده (۴۴)﴾ د اسماء کنايات مشابهت دمبني الاصل سره مشابهت وضعي او مشابهت اهمالي دي.

﴿مرکب بنائي﴾

دا اتم قسم دي د اسم غير متمكن. او دمرکب بنائي بحث او تعريف وغيره دمرکب غيرمفيد په بحث کښي تېر سوي دي په صفحه نمبر(۷) باندي. او دمرکب بنا ئي مشابهت دمبني الاصل سره مشابهت افتقا ري دي. بحمدالله تعالی وبعونه، د اسم اول تقسيم ختم سو، چه دا تقسيم په اعتبار د اسمِ متمکن او د اسمِ غير متمکن وو.

﴿د اسم دويم تقسيم﴾

د اسم دويم تقسيم په اعتبار دتنکير او دتعريف سره دي، او دا په دوه قسم دي: (۱) معرفه (۲) نکره.

﴿دمعرفه تعريف﴾

معرفه هغه اسم ته وائي: چه دمتعين شي دپاره وضع سوي وي. او معرفه په ووه قسم

Scanned with CamScanner

ده (١) مضمرات يعني ضميرونه لكه اَنَا. اَنْتَ وغيره (٢) اعلام. دا جمع دعَلَم ده لكه زَيْدٌ. عَمْرٌو (٣) اسماء اشارات لكه هٰذَا وهٰؤُلآءِ وغيره (۴) اسماء موصوله لكه اَلَّذِیْ وغيره. او اسماء اشارات اواسماء موصوله ته مبهمات وائي ځكه چه دوي محتاج دي مشاراليه ته او صله ته (۵) معرفه به نداء لكه يَا الله يَا رَجُلُ. (٦) معرفه بالام اَلرَّجُلُ (٧) معرفه بالاضافت يعني ماسوا دمعرفه بنداء بل چه هره معرفه ته مضاف وي لكه غُلَامُهُ. غُلَامُ زَيْدٍ. غُلَامُ هٰذَا. غُلَامُ اَلَّذِیْ عِنْدِیْ. غُلَامُ الرَّجُلِ.

﴿فائده(۴۵)﴾ غَيْرٌ. مَثَلٌ. وَاحِدٌ. دا درې الفاظ متوغل في الابهام دي نو په اضافت سره هم دوي نه معرفه كيږي، البته كه د (غَيْرٌ) اضافت داسي شي ته وسي چه دهغه په دنيا كښي يوضد او مقابل وي بل نه وي نوبيا معرفه ګرځي لكه(غَيْرِ الْمَغْضُوْبِ عَلَيْهِمْ) دلته(غَيْر)معرفه ده ځكه چه(الْمَغْضُوْبِ عَلَيْهِمْ)په دنيا كښي يو ضد او مقابل ئي دي چه هغه(مَنْعُوْمٌ عَلَيْهِمْ) دي.

﴿فائده(۴٦)﴾ داسم جلاله يو څو خاصيات: داسم جلاله څلور خاصيات دي: (١)په هيڅ يو اسم كښي درې علامې دتعريف نه پيدا كيږي ماسوا داسم جلاله لكه ياالله، اوله علامه دتعريف ياء حرف ندا ده.دوېمه الف لام دي، درېمه عَلَم دي (٢)د ياء حرف ندا دداخليدو په وجه همزه وصلي نه غورځي لكه ياالله (٣) دقسم دپاره تاء صرف داسم جلاله سره راځي لكه تاالله.(۴) عوض او مُعَوض منه دواړه جمع كيږي په اسم جلاله كښي لكه اَللّٰهُمَّ، او په بل اسم كښ نه جمع كيږي.

﴿د نكره تعريف﴾

نكره هغه اسم ته وائي: چه وضع سوي وي دغير معين شي لپاره لكه رَجُلٌ وفَرَسٌ وسَيْفٌ او نكره په دوه قسم ده (١) نكره محضه (٢) نكره مخصصه. نكره محضه هغه نكره ته وائي: چه په هغه كښي تخصيص پيدا سوي نه وي لكه رَجُلٌ. اونكره مخصصه هغه

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

نکره ته وائي: چه په هغه کښي تخصيص پيدا سوي وي. او په نکره کښي تخصيص په شپږو ځايو کښي راځي: (۱) تَقْدِيْمُ مَاحَقُّهُ تَاْخِيْرٌ يُفِيْدُ الحَصْرَ وَالتَّخْصِيْصَ. يعني هغه شي مخکي ذکر کول چه دهغه حق وروسته ذکر کول وي. لکه مبتداء مقدم وي په خبر باندي او خبر مؤخر وي نوچه خبر مقدم سي په مبتداء باندي، نو په دې سره تخصيص پيدا کيږي لکه عِنْدِيْ سَيْفٌ. نو دلته سَيْفٌ مبتداء ده او دخبر وروسته ذکر ده (۲) دنکره صفت راوړل سي لکه رَجُلٌ عَالِمٌ (۳) نکره مضاف سي نکره ته لکه غُلَامُ رَجُلٍ (۴) په نکره کښي د عموم معني وي لکه كُلٌّ قَدْ عَلِمَ صَلَاتَهُ وَتَسْبِيْحَهُ (سورة نور اية ۴۱) بل مثال كُلٌّ فِيْ فَلَكٍ يَّسْبَحُوْنَ (سورة انبياء آيت ۳۳). (۵) نکره چه کله تَحتَ النَفی، يا تَحتَ الاستفهام واقع سي نوپه نکره کښي عموم پيدا کيږي نوپه دې سره هم تخصيص دنکره راځي. د استفهام مثال لکه مَااَحَدٌ غَائِبٌ، اودنفي مثال لکه لَاحَوْلَ وَلَاقُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ (٦) کله چه نکره په موضع ددعاء کښي واقع وي، بياکه دعاء دخير وي لکه سَلَامٌ عَلَيْكُمْ، اوکه دعاء دشر وي يعني ښرالکه وَيْلٌ لِلْمُطَفِّفِيْنَ. دلته که ويل سه مراد دجهنم شله وي نوبياخو معرفه ده اوکه ښرا مراد وي چه هغه تباهي او بربادي ده نوبيانکره مخصصه ده.

﴿فائده (۴۷)﴾ کله چه صيغه دصفت يعني اسماء صفات مضاف سي خپل معمول طرفته نوپه دې اضافت سره نه تعريف راځي اونه تخصيص بلکي صرف تخفيف په لفظ کښ راولي، او تخفيف په لفظ کښ دتنوين په غورځېدوسره راځي لکه (فِيْهِنَّ قَاصِرَاتُ الطَّرْفِ (سورة الرحمن ايت ۵٦) دلته (قَاصِرَات) داسمِ فاعل صيغه ده او مضاف ده (اَلطَّرْفِ) ته، چه هغه مفعول بِهٖ دي د (قَاصِرَات) نوپه دې اضافت سره صرف تخفيف راځي اوتخصيص اوتعريف نه راځي. البته که چيري په صيغه صفت يعني اسماء صفات کښ ددوام معنی وي او مضاف سي خپل معمول ته نوپه دې صورت کښي په اضافت سره تعريف او تخصيص پيدا کيږي لکه (اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ) نو دلته

Scanned with CamScanner

(رَبِّ) صيغه دصفت ده اود دوام معنى په کښې سته او خپل معمول(اَلْعٰلَمِيْنَ)ته مضاف ده نوتعريف په کښې پيدا سو، اوديته اضافت معنوي وائي، او کله چه اسم مضاف سي علاوه دصيغه صفت ته نوهغه ته اضافت لفظي وائي، او په هغه سره تعريف او تخصيص پيدا کېږي لکه غُلَامُ زَيْدٍ.اود اضافت بحث په بابِ سوم درعمل اسماء کښې راځي ان شاء الله تعالى. د اسم دويم تقسيم بتوفيق الله تعالى ختم سو، او دا دويم تقسيم په اعتبار دتعريف اودتنکير سره وو.

﴿داسم دريم تقسيم﴾

دا تقسيم په اعتبار دتذکير وتانيث سره دي،او په دې اعتبار سره اسم په دوه قسم دي:(۱) مذکر (۲) مؤنث.

﴿دمذکر تعريف﴾هغه اسم ته وائي چه په هغه کښې علامه دتانيث نه وي لکه رَجُلٌ

﴿دمؤنث تعريف﴾هغه اسم ته وائي چه په هغه کښې علامه دتانيث وي لکه اِمْرَأَةٌ.

﴿علامات دتانيث﴾علامه دتانيث په فعل کښې ځلور، او په اسم کښې پنځه دي.

دفعل علامې دتانيث: (۱) تاء ساکنه لکه ضَرَبَتْ (۲) تاء مکسوره لکه ضَرَبْتِ (۳) نونِ مفتوحه لکه يَضْرِبْنَ وضَرَبْنَ.(۴)ياء ساکنه تَضْرِبِيْنَ .

او داسم علامې دتانيث:(۱) الف مقصوره لکه حُبْلٰى وضُرْبٰى والدُّنْيَا (۲) الف ممدوده لکه حَمْرَآء (۳) تاء مُطوّله متحرکه لکه مُسْلِمَاتٌ وضَارِبَاتٍ (۴) تاء مُدَوره متحرکه لکه ضَارِبَةٌ (۵) تاء مقدره لکه اَرْضٌ. داپه اصل کښې اَرْضَةٌ وو، په دليل داُرَيْضَةٌ سره، ځکه په تصغير سره اسم خپل اصل لره ځي يعني په تصغير جوړولو سره داسم اصل معلومېږي.

﴿مؤنث په دوه قسمه دي﴾ : (۱)مؤنث سماعي (۲) قياسي.

﴿اول قسم مؤنث سماعي﴾

هغه مؤنث ته وائي: چه په هغه کښې يوه علامه دتانيث هم نه وي بلکي دعربو سه

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

﴿د اسم څلورم تقسیم﴾

دا تقسیم په اعتبار د افراد او د تثنیه او د جمع سره دي. نو معلومه سوه چه په د غه اعتبار سره اسم په درې قسم دي: (۱) مفرد یعني واحد (۲) تثنیه (۳) جمع.

﴿د واحد تعریف﴾ هغه اسم ته وائي چه په یوې باندې دلالت کوي لکه رَجُلٌ و اِمْرَاَةٌ.

﴿د تثنیه تعریف﴾ هغه اسم ته وائي: چه په دوو باندې دلالت کوي او د هغه په اخر کښې الف ماقبل مفتوح او نونِ مکسوره وي، او یا د هغه په اخر کښې یا ماقبل مفتوح او نونِ مکسوره وي لکه (رَجُلَانِ و رَجُلَيْنِ).

﴿ د جمع تعریف ﴾ هغه اسم ته وائي: چه د دوو سه په زیات باندې دلالت کوي او د هغه په وجه په واحد کښې تبدیلي راسي، او دا تبدیلي کله لفظًا وي لکه (رِجَالٌ) جمع د (رَجُلٌ) ده. او کله تقدیرًا وي لکه (فُلْكٌ). د دې واحد هم (فُلْكٌ) دي چه د (قُفْلٌ) پشان دي، او (قُفْلٌ) واحد دي. او جمع هم (فُلْكٌ) ده چه د (اُسْدٌ) پشان ده. او (اُسْدٌ) د (اَسَدٌ) جمع ده.

او جمع په دوو اعتبارو سره تقسیمېږي: (۱) په اعتبار د لفظ سره. (۲) په اعتبار د افراد و د تعداد سره.

﴿د جمع تقسیم په اعتبار د لفظ سره﴾

جمع په اعتبار د لفظ سره په دوه قسم ده: (۱) جمع تکسیر (۲) جمع تصحیح.

﴿ د جمع تکسیر تعریف﴾ هغه جمع ته وائي: چه په هغه کښې د واحد بناء سالمه پاته نه وي لکه (رِجَالٌ، او مَسَاجِدُ) واحد ئې (رَجُلٌ، او مَسْجِدٌ) دي. او جمع تکسیر ته جمع مُکسر هم وائي. او په ثلاثي کښې د جمع تکسیر اَوزان سماعي دي او د قیاس سره هیڅ تعلق نه لري. او د رباعي او د خماسي جمع تکسیر پر وزن د (فَعَالِلُ) راځي. د رباعي مثال لکه (جَعْفَرٌ) جمع تکسیر (جَعَافِرُ) راځي. او د خماسي مثال لکه (جَحْمَرِشٌ) جمع تکسیر (جَحَامِرُ) راځي په حذف د شین سره، ځکه چه د خماسي

جمع چه جوړيږي نو اخري حرف به حذف کيږي دبعض نحاتو په نيز .
﴿د جمع تصحيح تعريف﴾ هغه جمع ته وائي: چه په هغه کښې دواحد بناء سالمه پاته سوي وي. اودېته جمع سالم هم واي.
او جمع سالم په دوه قسم ده: (١) جمع مذکر سالم (٢) جمع مؤنث سالم .
﴿د جمع مذکر سالم تعريف﴾ هغه جمع سالم ته وائي: چه دهغه په اخرکښې واو ماقبل مضموم اونون مفتوحه وي، يا ياء ماقبل مکسور اونون مفتوحه وي لکه (مُسْلِمُوْنَ، وَمُسْلِمِيْنَ) واحد ئي (مُسْلِمٌ) دي.
﴿د جمع مؤنث سالم تعريف﴾ هغه جمع ته وائي: چه دهغه په اخر کښې الف او تاء مُطوله وي يعني اوږده تاء لکه (مُسْلِمَاتٌ) جمع د (مُسْلِمَةٌ) ده.
﴿فائده (٥١)﴾ جمع مؤنث سالم هميشه په الف او په تاء مطوله سره راځي ليکن کله کله دمذکر غير ذوى العقول جمع هم په الف او په تاء مطوله سره راځي لکه د (مَنْصُوْبٌ) جمع (مَنْصُوْبَاتٌ) راځي. او د (مَرْفُوْعٌ) جمع (مَرْفُوْعَاتٌ) راځي. او د (مَجْرُوْرٌ) جمع (مَجْرُوْرَاتٌ) راځي. وغيره.

﴿د جمع تقسيم په اعتبار دتعداد د اَفرادو﴾

جمع په اعتبار دتعداد د اَفرادو سره په دوه قسم ده: (١) جمع قلت (٢) جمع کثرت.
﴿د جمع قلت تعريف﴾ هغه جمع ته وائي: چه دلسو سه په کم اَفراد باندي دلالت کوي. او د جمع قلت څلور اَوزان دي (١) اَفْعُلٌ لکه (اَكْلُبٌ) جمع د (كَلْبٌ) ده (٢) اَفْعَالٌ لکه (اَقْوَالٌ) جمع د (قَوْلٌ) ده (٣) اَفْعِلَةٌ لکه (اَعْوِنَةٌ) جمع د (عَوَانٌ) ده (٤) فِعْلَةٌ لکه (غِلْمَةٌ) جمع د (غُلَامٌ) ده.
جمع مذکر سالم او جمع مؤنث سالم هم جمع قلت ده په شرط ددې چه الف لام پر داخل نه وي لکه (مُسْلِمُوْنَ و مُسْلِمَاتٌ). او که چيري الف لام پر داخل وي نو بيا جمع کثرت ده لکه (اَلْمُسْلِمُوْنَ والْمُسْلِمَاتُ).

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

﴿د جمع کثرت تعریف﴾هغه جمع ته وائي: چه په لسو اَفرادو باندي دلالت کوي او یا دلسو سه په زیات باندي دلالت کوي. او د جمع قلت د اَوزانو سه علاوه نور تو نه اَوزان د جمع کثرت دي، د اسم څلور تقسیمونه ختم سول. اَلْحَمْدُ للهِ تَعَالیٰ وَبِعَوْنِهِ.

﴿فصل في العامل والمعمول والاعراب﴾

په دې فصل کښ دعامل او دمعمول او داعراب متعلق بحث کیږي.

﴿د عامل تعریف﴾هغه کلمه ته وائي: چه په معرب باندي داخل سي نو په معرب باندي دفاعلیت معنی، یا دمفعولیت معنی، یا دمجروریت معني جاري کړي لکه (جَاءَ زَيْدٌ) دلته (جَاءَ) عامل دي، او په (زَيْدٌ) باندي دفاعلیت معنی جاري کړې ده.

﴿د معمول تعریف﴾هغه کلمه ته وایي: چه دعامل د داخلېدو په وجه په ده باندي دفاعلیت، یا دمفعولیت، یا دمجروریت معنی جاري سوې وي لکه (جَاءَ زَيْدٌ) کښي (زَيْدٌ) معمول دي ځکه چه دفاعلیت معنی په جاري سوې ده.

﴿د اعراب تعریف﴾هغه حروفو او حرکاتو ته وائي: چه دهغه په سبب دمعرب اخر مختلف کیږي ددې خبري دښکاره کولو لپاره چه په معرب باندي دفاعلیت، یا دمفعولیت، یا دمجروریت معنی جاري سوې ده لکه (جَاءَ زَيْدٌ) کښ (جَاءَ) عامل دي، او (زَيْدٌ) معمول دي، او د (زَيْدٌ) په دال باندي چه ضمه ده هغه اعراب دي.

او په اسم کښ درې قسم اعراب جاري کیږي: رفع، نصب، جر. او دفعل اعراب هم درې قسم دي: رفع، نصب، جزم، چه بحث ئي راروان دي.

بیا هریو یعني عامل، او معمول، او اعراب په درې قسم دي:.

﴿اول قسم: رافع، مرفوع، رفع﴾رافع هغه عامل ته وائي: چه په کلمه باندي داخل سي نو دفاعلیت معنی په هغه باندي جاري کړي. نو داسي عامل ته رافع وایی، او معمول ته مرفوع، او عمل ته رفع وائي، او دده دمعمول حالت ته حالت رفعي وائي لکه (جَاءَ زَيْدٌ) کښ (جَاءَ)عامل رافع دي، او (زَيْدٌ) معمول مرفوع دي، او د (زَيْدٌ)

په دال باندي چه ضمه ده هغه اعراب دي، او ضمه ته رفع وايي، او د(زَيْدٌ)حالت حالت رفعي دي.

﴿دويم قسم:ناصب،منصوب،نصب﴾هغه عامل وائي:چه په کلمه باندي داخل سي، نو په کلمه باندي دمفعوليت معنی جاري کړي.نو داسي عامل ته ناصب وائي، او معمول ته منصوب، او اعراب ته نصب وائي لکه(ضَرَبْتُ كَافِرًا) نو دلته(ضَرَبْتُ) عامل ناصب دي، او (كَافِرًا) معمول منصوب دي، او په(كَافرًا) باندي اعراب دنصب دي، او د(كَافرًا)حالت حالت نصبي دي.

﴿دريم قسم: جار، مجرور، جر﴾هغه عامل ته وائي: چه په کلمه باندي داخل سي نو په کلمه باندي دمجروريت معنی جاري کړي. نو دغه عامل ته عامل جار وائي، او معمول ته مجرور، او عمل ته جر وائي لکه(بِزَيْدٍ) باءحرف جار يعني عامل جاردي، او (زَيْدٍ) معمول مجروردي، او اعراب جر دي، او د (زيدٍ) حالت حالت جري دي.

﴿فائده(۵۲)﴾ (ضم، فتح، کسر) دا دري الفاظ په مبنيات کښي استعماليږي لکه (هٰؤُلَاءِ) مبني بر کسر دي، او (مِنْ قَبْلُ) مبني بر ضم دي وغيره.

او (رفع،نصب،جر) دا دري الفاظ په معرب کښي استعماليږي مثلاً(جَاءَ زَيْدٌ) کښي د (زَيْدٌ) څه اعراب دي؟ نو ويل کيږي رفع.

او (ضمه،فتحه،کسره) مطلقاً استعماليږي يعني په مخکي دواړو صورتونو کښ.

﴿فصل﴾دا فصل د اسم په اعراب کښي دي، او دلته بحث دااسم متمکن کيږي، اود اسم غير متمکن بحث نه کيږي ځکه چه اسم غير متمکن مشابه دي دمبني سره، لهذا په هغه باندي اعراب نه جاري کيږي. او د اسم متمکن اعراب په دري قسم دي:(۱) رفع (۲) نصب (۳) جر. بيا هريو په دوه قسم دي(۱) لفظي(۲) تقديري. بيا هريو په دوه قسم دي (۱) اعراب بالحرکات (۲)اعراب بالحروف. لنډه دا: چه اسم متمکن د اعراب په اعتبار سره په (۱۶) قسم دي او ديته په فارسي کښي شا نزده اقسام وائي.

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

﴿تنبیه﴾ شانزده اقسام په نحو میر کښي ډیر بهترین بحث دي، او دا ډیر ضروري دي ځکه چه کوم طالب دا ښه ایزده کړي او ځان په پوهه کړي او ښه اجراء پکښي وکړي، نو ان شاء الله تعالی اعراب به ئي صحيح سي، او ددې بغير دچا اعراب صحيح کیدل ډیر مشکل دي.

﴿شانزده اقسام﴾

﴿اول﴾ مفرد منصرف صحيح لکه (زَيْدٌ). ﴿دوم﴾ مفرد منصرف جاري مجرى صحيح لکه (دَلْوٌ).

﴿فائده (۵۳)﴾ دنحاتو په نیز صحيح هغه دي چه په اخر کښي یي حرف علت نه وي لکه (زَيْدٌ) او حرف علت درې دي (۱) الف (۲) واو (۳) یاء. او جاري مجرى صحيح هغه ته وائي: چه په اخر کښي یي حرف علت وي او ماقبل یي ساکن وي لکه (دَلْوٌ).

﴿سوم﴾ جمع مکسر منصرف لکه (رِجَالٌ). نو ددې درو قسمو اعراب یو دي یعني حالت رفعي یي په ضمه لفظي سره دي، او حالت نصبي یي په فتحه لفظي سره، او حالت جري یي په کسره لفظي سره دي لکه (جَاءَنِيْ زَيْدٌ. وَدَلْوٌ. وَرِجَالٌ) وَ(رَاَيْتُ زَيْدًا. وَدَلْوًا وَرِجَالًا) وَ(مَرَرْتُ بِزَيْدٍ. وَدَلْوٍ. وَرِجَالٍ).

﴿چهارم﴾ جمع مؤنث سالم. حالت رفعي یي په ضمه لفظي سره دي. او حالت نصبي او جري یي په کسره لفظي سره دي. دلته حالت نصبي د حالت جري تابع دي لکه (هُنَّ مُسْلِمَاتٌ) (وَرَاَيْتُ مُسْلِمَاتٍ) (وَمَرَرْتُ بِمُسْلِمَاتٍ).

﴿فائده (۵۴)﴾ هر هغه جمع چه دهغې په جمعیت باندي الف او تاء مطوله یعني اوږده تاء دلالت کوي نو دهغې جمع هم دغه اعراب دی لکه (مَرْفُوْعَاتٌ وَمَنْصُوْبَاتٌ وَمَجْرُوْرَاتٌ و ظُلُمَاتٌ وعَرَفَاتٌ) وغيره. ليکن د (دُعَاةٌ) او د (نُحَاةٌ) دغه اعراب نه دي ځکه چه دلته الف دجمع نه دي بلکي الف داصل کلمې سه دي، ځکه چه په اصل

کښي (دُعْوَةٌ و نُحْوَةٌ) وو.

﴿پنځم﴾ غیر منصرف. هغه اسم ته وائي: چه په هغه کښي د منع صرف دا سبابو سه دوه سببونه وي، او یا داسي یو سبب وي چه هغه قائم مقام د دوو سببو وي.

اعراب د غیر منصرف: حالت رفعي په ضمه لفظي سره، او حالت نصبي او جري یي په فتحه لفظي سره دي. دلته حالت جري د حالت نصبي تابع دي مثال (جَاءَ عُمَرُ) (وَرَأَيْتُ عُمَرَ) (وَمَرَرْتُ بِعُمَرَ). او غیر منصرف د فعل سره مشابهت لري نو چه په فعل باندي تنوین او کسره نه راځي، نو په غیر منصرف باندي هم نه راځي.

﴿اسباب د منع صرف نهه دي﴾

﴿اول سبب: عدل﴾ په یوه کلمه کښي ماده اصلي په خپل ځای پاته وي او دا کلمه دیوي شکل سه بل شکل ته بدله سي بغیر د صرفي قانون سه لکه د (زَافِرٌ) سه (زُفَرُ) جوړ سوي دي. او د (عَامِرٌ) سه (عُمَرُ) جوړ سوي دي.

﴿دوم سبب: وصف﴾ یعني صیغه د صفت وي لکه (اَحْمَرُ).

﴿دریم سبب: تانیث﴾ تانیث لفظي وي او که معنوي وي لکه (زَيْنَبُ. طَلْحَةُ).

﴿څلورم سبب: معرفه﴾ یعني عَلَم وي لکه (زَيْدٌ).

﴿فائده (۵۵)﴾ وصف او معرفه نه سره جمع کیږي. که چیري صیغه صفت د چا عَلَم یعني نوم وي نو د هغه سه معنی وصفي ختم کیږي مثلا (اَحْمَرُ) دیو چا نوم وي.

﴿پنځم سبب: مجموع﴾ مراد جمع اقصی ده لکه (مَسَاجِدُ).

﴿شپږم سبب: ترکیب﴾ د دې سه مراد مرکب منع صرف دي لکه (مَعْدِيْ كَرَبُ).

﴿اووم سبب: عجمه﴾ یعني د عجمي ژبي لفظ وي لکه (اِبْرَاهِيْمُ).

﴿اتم سبب: وزنِ فعل﴾ یعني هغه اَوزَان چه د فعل سره خاص دي په هغو کښي

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

ديوي پر وزن باندي راسي، او يا په اول کښي حروف اَتَيْن وي لکه(اَحْمَدُ).

﴿نهم سبب: الف و نون مزيد تان﴾ يعني د اسم په اخر کښي الف او نون دواړه زائد راسي لکه(عِمْرَان) وغيره.

﴿فائده(٥٦)﴾ هغه اسباب چه په هغو کښي يو سبب د دوو سببو قائم مقام وي هغه درې سببونه دي: (١) جمع يعني جمع اقصی لکه(مَسَاجِدُ). (٢) الف مقصوره زائده. د زائده قيد يي ځکه لګولي دي، که چيري الف مقصوره اصلي وي نو بيا الف مقصوره د منع صرف سبب نه جوړيږي لکه په(اَلْهُدٰى) کښي، چه په اصل کښي (اَلْهُدَىُ) وو، دلته الف مقصوره اصلي دي نو ځکه سبب نه دي د منع صرف. او د الف مقصوره زائده مثال لکه(ضُرْبٰى) بر وزن(فُعْلٰى). دلته الف مقصوره زائده دي. (٣) الف ممدوده زائده. لکه (حَمْرَاءُ) بروزن(فَعْلَاءُ). دلته هم الف ممدوده زائده مراد دي. که چيري الف ممدوده اصلي وي نو بيا هغه منصرف دي لکه(كِسَاءٌ) په اصل کښي (كِسَاوٌ) وو، چه بر وزن (فِعَالٌ) دي. او (حَمْرَاءُ) غير منصرف دي.

﴿هغه اسباب چه د غير منصرف سه منصرف جوړوي﴾

هغه اسباب چه غير منصرف سه منصرف جوړ وي هغه اووه دي: (١) په غير منصرف باندي الف لام داخل سي لکه (اَلْمَجَالِسُ بِالْاَمَانَةِ) کښي (اَلْمَجَالِسُ). (٢) چه غير منصرف مضاف سي لکه(زَيْدٌ اَفْضَلُ الْقَوْمِ) کښي(اَفْضَلُ) منصرف دي. (٣) په جمع اقصٰی باندي تاء راسي لکه(مَلَائِكَةٌ. حَنَابِلَةٌ. بَغَادِدَةٌ). (۴) د مناسبت په وجه لکه(سَلَاسِلًا وَاَغْلَالًا) دلته د (اَغْلَالًا) د مناسبت په وجه(سَلَاسِلًا) منصرف ويل سوي دي. (٥) کله چه د عَلَم غير منصرف سه د علميت معنی ختم سي او وصفي معنی مراد وي لکه(لِكُلِّ فِرْعَوْنٍ مُوْسٰى) دلته(فِرْعَوْنٍ) منصرف دي ځکه چه د علميت معنی مراد نه ده، بلکي وصفي معنی مراد ده، چه هغه ده(لِكُلِّ مُبْطِلٍ مُحِقٌّ). ترجمه: د هر

باطل پرست لپاره حق پرست سته.(٦) د وزن شعري دوجي. لکه دفاطمه رضي الله عنها په مرثيه کښي ويلي سوي دي:

صُبَّتْ عَلَيَّ مَصَائِبُ لَوْ اَنَّهَا ...... صُبَّتْ عَلَى الْاَيَّامِ صِرْنَ لَيَالِيَا (الخ) نو دلته(مَصَائِبُ) منصرف ويل سوي دي دوزن شعري دوجي.(٧) چه دغير منصرف وزن ختم سي لکه (خَيْرٌ. شَرٌّ) چه په اصل کښي(اَخْيَرُ. اَشْرَرُ) وو. دا غير منصرف دي، چه کله دغير منصرف وزن ختم سو نو منصرف سو.

﴿دغير منصرف متعلق پنځه فوائد﴾

﴿اوله فائده(٥٧)﴾ دنبيانو په نومونو کښي صرف اته نومو نه منصرف دي او نور ټوله غيرمنصرف دي. او چه کوم غيرمنصرف دي هغه دعَلَم او دعجمه دوجي دي. منصرف نومونه:(١) مُحَمَّدٌ (٢) نُوْحٌ (٣) لُوْطٌ (۴) هُوْدٌ (۵) صَالِحٌ (٦)شُعَيْبٌ (٧) شِيْثٌ (٨) عُزَيْرٌ عَلَيْهِمُ السَّلَامُ .

﴿دويمه فائده(٥٨)﴾دفرشتو په نومونو کښي صرف درې نومونه منصرف دي لکه (١) مُنْكَرٌ (٢) نَكِيْرٌ (٣) مَالِكٌ. او نور ټوله نومونه غيرمنصرف دي دعَلَم او دعجمه د وجي. اولفظ د(رِضْوَانٌ) عربي لفظ دي ليکن که چيري دعلميت معنى مراد وي نوبيا غيرمنصرف دي دعَلَم او دالف نون مزيدتان دوجي. او که چيري دعلميت معنى مراد نه وي بلکي مصدري معنى مراد وي نو بيامنصرف دي لکه په قران کريم کښي راځي(وَرِضْوَانٌ مِّنَ اللهِ اَكْبَرُ) (سوره التوبه ايت ٧٢).

﴿دريمه فائده(٥٩)﴾دمياشتو په نومونو کښي صرف شپږ نومونه غيرمنصرف دي لکه(١)جمادي الاولى(٢)جمادى الاخرى. دا دواړه دالف مقصوره زائده دوجي غيرمنصرف دي (٣) رمضان(۴) شعبان. دا دواړه دمعرفه اودالف نون مزيدتان دوجي دي(۵)صفر(٦)رجب. دادواړه دمعرفه اودعدل دوجي غير منصرف دي.

﴿څلورمه فائده(٦٠)﴾دعجمه دمعلومولو طريقه په ثلاثي کښي داده: چه متحرک

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

الاوسط به وي يعني عين كلمه به متحركه وي لكه(آدَمُ).

﴿پنځمه فائده(٦١)﴾ (اَشْيَاء) دا لفظ هم غيرمنصرف استعماليږي، او هم منصرف. نوچه كله منصرف وي نو دا د(شَيْءٌ)جمع ده لكه(اَشْيَاءٌ) بر وزن(اَفْعَالٌ)نوپه دې صورت كښي الف ممدوده اصلي دي نو ځكه منصرف دي. او چه كله غيرمنصرف وي نو هغه په دي وجه وي چه په هغه كښي الف ممدوده زائده وي، او دا الف ممدوده زائده قائم مقام ددوو سببو دي لكه(اَشْيَاءُ) نو ددې دا موجوده وزن(لَفْعَاءُ) دي. او دا (اَشْيَاءُ) په اصل كښي (شَيْئَاءُ) وو، بيا قلب مكاني په كښي وسو نو همزه اوله چه هغه دلام كلمې په مقابله كښي ده هغه يي په اول كښي راوړل سوه، او شين ساكن سو نو (اَشْيَاءُ) بر وزن (لَفْعَاءُ) جوړ سو. دغيرمنصرف مثال په قرآن كريم كښي راځي (لَاتَسْئَلُوْا عَنْ اَشْيَآءَ) الاية(سورة المائده ايت نمبر١٠١).

او لفظ د(غَوَاشٍ)جمع اقصیٰ ده.ليكن دا په اعراب كښي ملحق ده دا سم منقوص سره، لهذا د اسم منقوص والا اعراب به وي يعني په حالت رفعي او جري كښي (غَوَاشٍ) ويل كيږي، او په حالت نصبي كښي(غَوَاشِيَ) ويل كيږي بغير تنوين.

﴿ششم﴾اسماء سته مكبره مضاف غير ياء متكلم ته. اسماء سته مكبره دادي: (١)اَبٌ: پلار(٢)اَخٌ : ورور(٣)حَمٌ: ليور(۴)هَنٌ : شرمګا (۵)فَمٌ: خوله (٦) ذُوْ: صاحب. اسماء سته مكبره كله چه مضاف وي غير دياء متكلم ته نواعراب يي په حالت رفعي كښ په واو لفظي سره او په حالت نصبي كښ په الف لفظي سره. او په حالت جري كښ په ياء لفظي سره لكه(جَاءَ اَبُوْكَ) (وَرَاَيْتُ اَبَاكَ) (وَمَرَرْتُ بِاَبِيْكَ) .

﴿فائده(٦٢)﴾ (اَبٌ. اَخٌ. حَمٌ. هَنٌ) په اصل كښي(اَبَوٌ. اَخَوٌ. حَمَوٌ. هَنَوٌ)وو. او واو حذف سوي دي خلاف القياس. او په اعراب كښي دغه واو بدليږي رابدليږي. او(فَمٌ) په اصل كښي (فَوْهٌ) يا (فُوْهٌ) وو، او هاء حذف سوه نو (فَوْ) يا (فُوْ) پاته سو،

او په کلامِ عرب کښي داسي اسم متمکن مستعمل نه دي چه په دوو حروفو باندي متشمل وي او اٰخري حرف يي واو وي نو په دې وجه واو يي په ميم بدل سو ځکه واو اوميم قريب المخرج دي نو (فَمٌ) سو. او په وخت داضافت کښي ميم په واو سره بدليږي په شرط ددې چه اضافت غير دياء متکلم ته وي. او (ذُو) په اصل کښي (ذَوَوٌ) وو. او دويم واو حذف سو او ذال ته ضمه ورکړې سوه نو (ذُوْ)سو. او(ذُوْ)لازم الاضافت دي ځکه بغير د اضافت د (ذُوْ)هيڅ فائده نسته او هيڅ معنى نه حاصليږي.

﴿فائده(۶۳)﴾ د (ذُوْ) تثنيه (ذَوَانِ) او جمع سالم (ذُوُوْنَ) راځي. په هر حالت کښي دا لازم الاضافت دي. لهٰذا که مضاف اليه مفرد وي نو (ذُوْ) به هم مفرد وي. او که مضاف اليه جمع وي نو (ذُوْ)به هم جمع راوړل کيږي. او د (ذَوَانَ) اعراب دمثنى والا دي. اود (ذُوُوْنَ) اعراب دجمع سالم والادي لکه(ذَوُوْ الْاَرْحَامِ) دا مثال دجمع دي او دحالت رفعي دي. او دحالت جري مثال لکه (هُمْ فِيْ ذَوِی الْعُقُوْلِ). اودمؤنث (ذَاتَ) راځي، او ددې تثنيه او جمع (ذَوَاتَانِ و ذَوَاتٌ) راځي. دمفرد مؤنث مثال لکه (نَارًا ذَاتَ لَهَبٍ) (سورة اللهب). لنډه دا: چه (ذُوْ) دمضاف اليه تابع دي په افراد او په تثنيه او په جمع کښي، او دارنګه په تذکير او په تانيث کښي.

﴿فائده(۶۴)﴾ د اسماء سته مکبره شپږ صورتونه دي په اعراب کښي:.

اول صورت: هغه دي چه مخکي ذکر سو.

دوم صورت: اسماء سته مکبره وي بغير اضافت. نو په دې صورت کښي دمفرد منصرف صحيح والا اعراب يي دي لکه (جَاءَنِيْ اَبٌ. وَرَاَيْتُ اَبًا، وَمَرَرْتُ بِاَبٍ).

دريم صورت: اسماء سته مکبره وي او مضاف وي ياء دمتکلم ته نو په دې صورت کښي اعراب يي د (غُلَامِيْ) والا دي لکه(جَاءَنِيْ اَبِيْ وَاَخِيْ، وَرَاَيْتُ اَبِيْ وَاَخِيْ) وغيره.

څلورم صورت: اسماء سته مصغر وي، او بغير اضافت وي نو په دې صورت کښي اعراب يي دمفرد منصرف جاري مجرىٰ صحيح دي لکه (جَاءَنِيْ اُخَيُوٌ).

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

پنځم صورت: اسماء سته مصغر وي او مضاف وي غير د ياء متكلم ته نو په دې صورت كښې هم اعراب يې د مفرد منصرف جاري مجرٰى صحيح دي لكه (جَاءَنِيْ أُخَيُّوْكَ، وَمَرَرْتُ بِأُخَيِّكَ) وغيره.

شپږم صورت: اسماء سته مصغر وي او مضاف وي ياء متكلم ته نو په دې صورت كښې اعراب يې د (غُلَامِيْ) والا دي. لكه (جَاءَنِيْ أُخَيَّ).

﴿هفتم﴾ مثنى: يعني تثنيه لكه (رَجُلَانِ). ﴿هشتم﴾ (كِلَا وكِلْتَا) كله چه مضاف وي ضمير ته لكه (كِلَاهُمَا). ﴿نهم﴾ (اِثْنَانِ و اِثْنَتَانِ). نو ددې درو يعني هفتم، هشتم، نهم، اعراب يو دي، په حالت رفعي كښې په الف لفظي سره، او په حالت نصبي او جري كښې په ياء لفظي سره، او ياء به ماقبل مفتوح وي، دلته حالت نصبي د جري تابع دي.

د حالت رفعي مثالونه (جَاءَنِيْ رَجُلَانِ، وَكِلَاهُمَا وَكِلْتَاهُمَا. وَاثْنَانِ وَاثْنَتَانِ). او د حالت نصبي او د جري مثالونه (رَاَيْتُ رَجُلَيْنِ وَكِلَيْهِمَا وَكِلْتَيْهِمَا وَاثْنَيْنِ وَ اثْنَتَيْنِ. وَمَرَرْتُ بِرَجُلَيْنِ وَكِلَيْهِمَا وَكِلْتَيْهِمَا وَاثْنَيْنِ وَاثْنَتَيْنِ). په دې درو قسمو كښې اصل مثنى ده. او باقي دوه يې ملحقات دي، نو ددې وجې هغه باقي دوو ته ملحق بمثنى ويل كيږي.

﴿فائده (٦٥)﴾ (كِلْتَا) دا د (كِلَا) مؤنث دي. او په اصل كښې (كِلَوٌ) وو، بيا واو په الف سره بدل سوي دي نو (كِلَا) سو.

﴿دهم﴾ جمع مذكر سالم لكه (مُسْلِمُوْنَ). ﴿يازدهم﴾ (أُوْلُوْ) دا هم لازم الاضافت دي، او دا د (ذُوْ) جمع ده من غير لفظه. او د الف او د لام په درميان كښې واو ددې دپاره ليكل سوي دي چه د فعل ماضي مجهول د صيغه جمع مذكر غائبين سره التباس را نه سي، او دا واو نه ويل كيږي. ﴿دوازدهم﴾ (عِشْرُوْنَ تا تِسْعُوْنَ). ددې درې قسمو يعني (دهم، يازدهم، دوازدهم) اعراب يو دي. په حالت رفعي كښې په واو لفظي ماقبل مضموم سره. او حالت نصبي او جري په ياء لفظي ماقبل مكسور

سره دي. دلته حالت نصبي دجري تابع دي. دحالت رفعي مثال(جَاءَنِيْ مُسْلِمُوْنَ وَ اُوْلُوْمَالٍ وَعِشْرُوْنَ رَجُلًا). دحالت نصبي مثال(رَاَيْتُ مُسْلِمِيْنَ وَاُوْلِيْ مَالٍ. وَعِشْرِيْنَ رَجُلًا). دحالت جري مثال(مَرَرْتُ بِمُسْلِمِيْنَ وَاُوْلِيْ مَالٍ. وَعِشْرِيْنَ رَجُلًا). په دې دروقسمو کښې اصل جمع مذکر سالم ده، اوباقي يې ملحقات دي.

﴿فائده(٦٦)﴾ (سِنُوْنَ و اَرْضُوْنَ وبَنُوْنَ). ددې هم دجمع مذکر سالم اعراب دي. او دا هم ملحق دي په جمع مذکرسالم پسې.

﴿سيزدهم﴾ اسم مقصور. اسم مقصور هغه اسم ته وائي: چه دهغه په اخر کښې الف مقصوره وي لکه (مُوْسٰى و عِيْسٰى). ﴿چهاردهم﴾ ماسيوا دجمع مذکر سالم بل اسم ياء دمتکلم ته مضاف سي لکه (غُلَامِيْ). د دواړو قسمو يعني د(چهاردهم، سيزدهم) اعراب يو دي. په حالت رفعي کښې په ضمه تقديري سره. او په حالت نصبي کښې په فتحه تقديري سره. او په حالت جري کښې په کسره تقديري سره دي. دحالت رفعي مثال (جَاءَنِيْ مُوْسٰى وَغُلَامِيْ). دحالت نصبي مثال (رَاَيْتُ مُوْسٰى وَغُلَامِيْ) دحالت جري مثال (مَرَرْتُ بِمُوْسٰى وَغُلَامِيْ).

﴿فائده(٦٧)﴾ اسم مقصور په دوه قسم دي: (۱) چه الف مقصوره پکښې اصلي وي لکه (اَلْهُدٰى). (۲) چه الف مقصوره پکښې زائد وي لکه (يَحْيٰ وَعِيْسٰى)وغيره. نو اول قسم چه کله مضاف نه وي او الف لام پر داخل نه وي نو تنوين په راتلې سي، او اعراب يې په درو سره حالتو کښې په حرکت تقديري سره دي لکه (لَارَيْبَ فِيْهِ هُدًى لِّلْمُتَّقِيْنَ)(سورة البقرة اول ايت). او په دويم صورت باندي هيڅکله تنوين نه سي راتلې، په دې وجه چه هغه غير منصرف دي، اودهغه اعراب هم په درو سره حالتونو کښې په حرکت تقديري سره دي لکه (جَاءَنِيْ يَحْيٰ وَرَاَيْتُ يَحْيٰ وَمَرَرْتُ بِيَحْيٰ).

﴿پانزدهم﴾ اسم منقوص. اسم منقوص هغه اسم ته وائي: چه په اخر کښې يې ياء

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

ماقبل مکسور وي لکه (اَلْقَاضِيْ). اعراب یي په حالت رفعي کښي په ضمه تقدیري سره دي. او په حالت نصبي کښې په فتحه لفظي سره، او په حالت جري کښ په کسره تقدیري سره دي لکه (جَاءَ الْقَاضِيْ وَرَاَيْتُ الْقَاضِيَ وَمَرَرْتُ بِالْقَاضِيْ).

﴿فائده(٦٨)﴾ هر هغه اسم چه په اخر کښي یي یاء ماقبل مکسور وي، که هغه اسم جمع وي او که مفرد نو دهغه هم دغه اعراب دي یعني داسم منقوص والا لکه (اَيْدِيْ) چه مفرد یي (يَدٌ) دي. او (لَيَالِيْ)، (اَرَاضِيْ) چه مفرد یي (لَيْلٌ)، (اَرْضٌ) دي.

﴿شانزدهم﴾ جمع مذکر سالم چه مضاف وي یاء دمتکلم ته لکه (مُسْلِمِيَّ) ددې اعراب په حالت رفعي کښي په واو تقدیري سره دي لکه (هٰؤُلَاءِ مُسْلِمِيَّ) چه په اصل کښي (مُسْلِمُوْنَ یَ) وو، بیا نون په اضافت سره وغورځېدي نو (مُسْلِمُوْیَ) سو، بیا واو په یاء سره بدل سو، او یاء په یاء کښي مدغمه سوه او ماقبل ضمه یي په کسره سره بدله سوه نو (مُسْلِمِيَّ) سو. اوحالت نصبي اوجري یي په یاء لفظي ماقبل مکسور سره دي لکه (رَاَيْتُ مُسْلِمِيَّ وَمَرَرْتُ بِمُسْلِمِيَّ) او دا په اصل کښي (مُسْلِمِيْنَ یَ) وو، بیانون په اضافت سره وغورځېدي او یاء په یاء کښي مدغمه سوه نو (مُسْلِمِيَّ)سو.

﴿اشکال﴾ سوال دادي چه په اخري ښپاړلسم قسم اعراب کښي مونږ دا وویل چه حالت رفعي یي په واو تقدیري سره دي اوحالت نصبي اوجري یي په یاء لفظي سره دي، دا فرق ولي راغلي چه په یو حالت کښي تقدیري دي او په نورو کښي لفظي دي حلانکي په ویولو کښي په درو سره حالتونو کښي یو شان دي؟

﴿جواب﴾ چه په حالت رفعي کښي واو دخپل حالت سه په یاء بدل سوي دي نو مونږ ځکه وایو چه اعراب یي په واو تقدیري سره دي، او په حالت نصبي او جري کښي خو یاء په خپل حالت باندي پاته ده صرف یاء په یاء کښي مدغمه سوې ده نو مونږ ځکه وایو چه اعراب یي په یاء لفظي سره دي.

﴿دشانزده اقسامو داعراب خلاصه﴾

د اول پنځو قسمو اعراب بالحركت لفظاً دي، او بيا ور پسې د اوو قسمو اعراب بالحرف لفظًا دي. بيا ددې پسې ددرو قسمو اعراب بالحركت تقديرًا دي يعني د (۱۳) (۱۴) (۱۵)، ليكن په دا دروكښي د(۱۵) قسم اعراب په يو حالت كښي بالحركت لفظًا دي چه هغه حالت نصبي دي. او د اخري قسم اعراب په دوو حالتو كښي (يعني نصبي وجري) كښي بالحرف لفظًا دي، او په يو حالت يعني حالت رفعي كښي بالحرف تقديري دي.

﴿فصل في اعراب الفعل المضارع﴾

دفعل مضارع اعراب هم په درې قسم دي: (۱) رفع(۲) نصب (۳) جزم. اوفعل مضارع د اعراب د اقسامو په اعتبار سره په څلور قسم دي:.

﴿اول قسم﴾ صحيح مجرد از ضمير بارز مرفوع: يعني صحيح به وي او دضمير مرفوع بارز سره به خالي وي. او دا پنځه صيغې دي: (۱) واحد مذكر غائب لكه (يَضْرِبُ) (۲) واحده مؤنثه غائبه لكه (تَضْرِبُ) (۳) واحد مذكر مخاطب لكه (تَضْرِبُ) (۴) واحد متكلم لكه (اَضْرِبُ) (۵) جمع متكلم لكه (نَضْرِبُ). ددې پنځو صيغو اعراب په حالت رفعي كښي په ضمه لفظي سره دي، او په حالت نصبي كښې په فتحه لفظي سره او په حالت جزمي كښې په سقوط يعني په غورځېدو د حركت سره دي لكه (هُوَيَضْرِبُ . لَنْ يَّضْرِبَ . لَمْ يَضْرِبْ).

﴿دوم قسم﴾ معتل واوي او معتل يايي يعني فعل مضارع كه ناقص واوي وي لكه (يَغْزُوْ) اوكه ناقص يايي وي لكه (يَرْمِيْ) او مخكښې پنځه صيغې وي نوددې اعراب په حالت رفعي كښي په ضمه تقديري سره، او په حالت نصبي كښې په فتحه لفظي سره،او په حالت جزمي كښې په حذف دلام كلمې سره لكه (هُوَيَغْزُوْ . وَيَرْمِيْ. وَلَنْ يَغْزُوَ. وَيَرْمِيَ. وَلَمْ يَغْزُ. وَيَرْمِ).

﴿سوم قسم﴾معتل الفي لكه(يَرْضٰى) او مخكښې پنځه صيغې وې. ددې اعراب په حالت رفعي كښي په ضمه تقديري سره، او په حالت نصبي كښې په فتحه تقديري سره

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

او په حالت جزمي کښې په حذف دلام کلمې سره لکه (هُوَ يَرْضٰى. لَنْ يَّرْضٰى. لَمْ يَرْضَ).
﴿چهارم قسم﴾ صحیح یا معتل با ضمائر ونونهای مذکوره: يعني که فعل مضارع صحيح وي اوکه معتل، خو هغه صيغې دي وي چه په هغو کښې ضمير مرفوع بارز وي ماسيوا دجمع مؤنث غائبات اومخاطبات، ځکه چه دا مبني دي.اوماسيوا دمذكوره پنځو صيغو سه. نو دا څلورم قسم اعراب د اوو صيغو دي چې هغه دادي (۱) تثنيه مذکرغائبين (۲) جمع مذكر غائبين (۳)تثنيه مؤنثه غائبتين (۴) تثنيه مذکر مخاطبين (۵) جمع مذكر مخاطبين (٦)واحده مؤنثه مخاطبه (۷) تثنيه مؤنثه مخاطبتين، لنډه دا: هغه صيغې چه په اخر کښې يې نون اعرابي وي.ددې صيغو اعراب حالت رفعي يې په اثبات دنون، او حالت نصبي او جزمي يې په حذف دنون سره دي. دحالت رفعي مثال دجمع دصيغو (هُمْ يَضْرِبُوْنَ وَيَغْزُوْنَ وَيَرْمُوْنَ وَيَرْضَوْنَ). د تثنيه مثال دحالت رفعي (هُمَا يَضْرِبَانِ وَيَغْزُوَانِ وَيَرْمِيَانِ وَيَرْضَيَانِ). دواحده مؤنثه مخاطبه مثال دحالت رفعي (اَنْتِ تَضْرِبِيْنَ وَتَغْزِيْنَ وَتَرْمِيْنَ وَتَرْضَيْنَ). دحالت نصبي وجزمي مثال په تثنيه کښې (لَنْ يَّضْرِبَا وَيَغْزُوَا وَيَرْمِيَا وَيَرْضَيَا). او په جمع مذکرکښې (لَنْ يَّضْرِبُوْا وَيَغْزُوْا وَيَرْمُوْا وَيَرْضَوْا لَمْ يَضْرِبُوْا وَيَغْزُوْا وَيَرْمُوْا وَيَرْضَوْا) او د واحده مؤنثه مخاطبه مثالونه (لَنْ تَضْرِبِيْ. وَتَغْزِيْ. وَتَرْمِيْ. وَتَرْضَيْ). وغيره.

﴿فصل في بيان العوامل﴾

داعراب عامل په دوه قسم دي (۱) عامل لفظي (۲) عامل معنوي. دعامل معنوي بحث ددريم باب سه وروسته راځي ان شاءالله تعالى. اوعامل لفظي دېته وائي: چه په لفظو کښې ذکر وي. اوعامل لفظي په درې قسم دي(۱)حروف(۲)أفعال(۳)اسماء. دنحومير مصنف رحمه الله دهرقسم دپاره جلاجلا باب ذکر کوي، اول باب دحروف عامله. دويم باب دأفعالو. دريم باب د اسماء عامله دي.

﴿باب اول درحروف عامله، ودرو دوفصل است﴾

دا باب دحروف عامله په باره کښې دي او په دې باب کښې دوه فصلونه دي. او

حروف عامله په دوه قسم دي (۱)هغه حروف چه په اسم باندي عمل کوي (۲)هغه حروف چه په فعل باندي عمل کوي. اوهريو په جلا جلا فصل کښي ذکر کيږي.

﴿الفصل الاول﴾

په اول فصل کښي هغه حروف ذکر کيږي چه په اسماء باندي داخليږي او په اسم باندي عمل کوي. او دا حروف په پنځه قسم دي (۱) حروف جاره (۲) حروف مشبه بالفعل (۳) ماولا المشبهتين بليس (۴) لا نفي جنس (۵) حروف ندا.

﴿اول قسم حروف جاره﴾

حروف جاره وولس دي. اوپه اسم باندي داخليږي او اسم ته جر ورکوي اودد حروف مدخول ته مجرور ويل کيږي. اوحرف جار دخپل مجرور سره دفعل سره يا دشبه فعل سره متعلق کيږي. او حرف جار او مجرور ته ظرف مجازي هم ويل کيږي. اوحرف جار دخپل مجرور سره چه کله ظرف لغو وي نو مفعول به غير صحيح وي.

اوحروف جاره دا دي:(بَا. تَا. كاف، لامر. واو، مُنْذُ، مُذْ، خَلَا، رُبَّ. حَاشَا. مِنْ. عَدَا. فِيْ. عَنْ. اِلٰى. حَتّٰى. عَلٰى.

دحروف جاره معنى ګانى: (باء) بمعنى سره.(تاء) دقسم دپاره راځي.(كاف) دتشبه دپاره راځي. (لام) په معنى دپاره. (واو) دقسم دپاره راځي. (مُذْ). (مُنْذُ) دواړه په معنى سه. (خَلَا). (حَاشَا).(عَدَا)دا دري سره د استثناء دپاره راځي. (رُبَّ)دقليل او دكثير دپاره استعماليږي. (مِنْ) په معنى دسه. (فِيْ) په معني كښي. (اِلٰى) په معنى طرفته. (حَتّٰى)په معنى ترديږ پوري. (عَلٰى)په معنى لوړ. (عَنْ)بمعني سه.

﴿دويم قسم حروف مشبه بالفعل﴾

حروف مشبه بالفعل شپږ دي: (۱) اِنَّ (۲) اَنَّ (۳) كَاَنَّ (۴) لَيْتَ (۵) لَعَلَّ (۶) لٰكِنَّ.
دا حروف په جمله اسميه يعني په مبتداء او په خبر باندي داخليږي. ددې حروف عمل: ناصب الاسم ورافع الخبر دي، يعني اسم ته نصب او خبرته رفع ورکوي.

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

چونکي دا حروف په جمله اسميه باندي داخليږي او په جمله اسميه کښي مبتداء او خبر وي نو مبتداء د حروفو دپاره اسم جوړيږي او خبريې ددې حروفو دپاره خبر جوړيږي، نو مبتداء ته نصب ورکوي او خبر ته رفع ورکوي. مثلاً (زَيْدٌ قَائِمٌ) جمله اسميه ده، نو چه (اِنَّ) پر داخل سو نو دا رنګه ويل کيږي (اِنَّ زَيْدًا قَائِمٌ). نو (زَيْدًا) اسم د (اِنَّ) دي. او (قَائِمٌ) ته خبر د (اِنَّ) ويل کيږي. او باقي هم دارنګه قياس کړه. او اِنَّ .وَاَنَّ حروف تحقيق دي، او كَاَنَّ حرف تشبيه دي، او لٰكِنَّ حرف استدراک دي، او لَيْتَ حرف تمنى دي. او لَعَلَّ حرف ترجي دي.

﴿فائده(۶۹)﴾ دې مذکوره حروفو ته حروف مشبه بالفعل په دې وجه وائي: چه دا حروف د فعل سره مشابه دي لفظاً هم او معناً هم. او لفظا مشابهت داسي دي چه فعل ثلاثي او رباعي راځي نو دا حروف هم ددرو حروف سه او د څلورو حروف سه جوړ دي لکه (اِنَّ) کښي درې حروف دي. او په (لٰكِنَّ) کښي څلور حروف دي. او معنًا مشابهت داسي دي چه (اِنَّ وَاَنَّ) دا دواړه دتحقيق دپاره را ځي او د (حَقَّقْتُ) د فعل و معني ته متضمن دي لکه (اِنَّ زَيْدًا قَائِمٌ اي حَقَّقْتُ قِيَامَ زَيْدٍ). او (كَاَنَّ) حرف تشبيه دي، او د (شَبَّهْتُ) و معني ته متضمن دي. او (لٰكِنَّ) حرف استدراک دي، د (اِسْتَدْرَكْتُ) د فعل و معني ته متضمن دي. او استدراک ديته وائي: چه په مخکښي کلام کښي کوم وهم پيدا سوي وي نو په (لٰكِنَّ) سره هغه وهم ليري کيږي. نو په دې وجه (لٰكِنَّ) ته حرف استدراک وايي. مثلا زيد او خالد دواړه داسي هنډوالان دي چه هر وخت بازار ته يو ځايي ځي، او برته يو ځايي سره را ځي، نو يو څوک داسي ووائي: (ذَهَبَ زَيْدٌ اِلَى السُّوْقِ) نو سامع په ذهن کښي دا وهم پيدا کيږي چه زيد خو بازار ته ولاړي، ايا خالد به ورسره وي او کنه. نو چه کله متکلم داسي ووائي (ذَهَبَ زَيْدٌ اِلَى السُّوْقِ وَلٰكِنَّ خَالِدًا لَمْ يَذْهَبْ) نو د سامع وهم به ختم سي او په ذهن کښي به وهم پاته نه سي. او (لَيْتَ) حرف تمني دي او د (اَتَمَنّٰى) و معني ته متضمن دي لکه (لَيْتَ زَيْدًا حَاضِرًا اى

اَتَمَنّٰی حُضُوْرَزَیْدٍ). او (لَعَلَّ)حرف ترجي دي، د امید په معنی دلالت کوي. او (لَعَلَّ) د (اَتَرَجّٰی)ومعنی ته متضمن دي لکه(لَعَلَّ زَیْدًا حَاضِرٌ ای اَتَرَجّٰی حُضُوْرَ زَیْدٍ).

﴿فائده(۷۰)﴾ (تمني او دترجي په درمیان کښي فرق):تمني د هرشي په باره کښي استعمالیږي ممکن وي او که غیر ممکن،اوترجي صرف په ممکن شي کښي استعمالیږي او په غیرممکن شي کښي نه استعمالیږي مثال (لَیْتَ الشَّبَابَ یَعُوْدُ) یعني کاشکي ځواني واپس راغلې وایي. دا خو جائز دي، لیکن داسي ویل ناجائز دي (لَعَلَّ الشَّبَابَ یَعُوْدُ) یعني امید دي چه ځواني به واپس راوګرځي.

﴿دإنَّ او دأنَّ په درمیان کښي فرق﴾

﴿فائده(۷۱)﴾ دإنَّ او دأنَّ په درمیان کښي فرق دادي: چه إنَّ مابعد جمله په تاویل دمصدر او دمفرد یي نه ګرځوي. اوأنَّ مابعد جمله په تاویل دمصدر اودمفرد یي ګرځوي یعني دجمله سره مفرد جوړوي، اوإنَّ دجمله سره مفرد نه جوړوي بلکي جمله په خپل حالت باندي پرېږدي. او جمله په تاویل دمصدر ګرځوولو طریقه په صفحه نمبر۶۲ راځي.

﴿هغه ځایونه چه إنَّ وأنَّ په کښي راځي﴾

﴿فائده(۷۲)﴾ إنَّ په لس ځایو کښي راځي. او أنَّ په نهه ځایو کښي راځي.

اول د إنَّ ځایونه:(۱)ابتداء دکلام کښي لکه (اِنَّا اَعْطَیْنٰکَ)، او دارنګه د(حَتّٰی) او د(کَلَّا) زجریه وروسته هم راځي(کَلَّآ اِنَّ الْاِنْسَانَ لَیَطْغٰی)(سورة العلق ایت۶). (۲)دصله په ابتداء کښي (وَاٰتَیْنٰهُ مِنَ الْکُنُوْزِ مَآ اِنَّ مَفَاتِحَهٗ لَتَنُوْٓاُ بِالْعُصْبَةِ اُولِی الْقُوَّةِ. اِذْ قَالَ لَهٗ قَوْمُهٗ لَاتَفْرَحْ اِنَّ اللّٰهَ لَایُحِبُّ الْفَرِحِیْنَ)(سورة القصص ایت۷۶). (۳)جمله صفتیه په ابتداء کښي لکه (مَرَرْتُ بِرَجُلٍ اِنَّهٗ عَالِمٌ). (۴)دجمله حالیه په ابتداء کښي لکه(کَمَآ

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

اَخْرَجَكَ رَبُّكَ مِنْ بَيْتِكَ بِالْحَقِّ. وَاِنَّ فَرِيقًا مِّنَ الْمُؤْمِنِيْنَ لَكٰرِهُوْنَ (سورة الانفال ايت ٥).

(٥) دلام معلقه سه مخکي لکه (وَاللّٰهُ يَعْلَمُ اِنَّكَ لَرَسُوْلُهٗ) الاية (سورة المنافقون ايت ١).

(٦) دهغه جمله په ابتداء کښې راځي چه هغه مضاف اليه وي دداسي لفظ چه دهغه مضاف اليه هميشه جمله راځي لکه (حَيْثُ. اذ، اذا) وغيره، ددې مضاف اليه هميشه جمله وي مثال لکه (جَلَسْتُ حَيْثُ اِنَّ زَيْدًا قَائِمٌ). (٧) دجمله مقوله دقول په ابتداء کښې راځي لکه (قَالَ اِنِّيْ عَبْدُاللّٰهِ) (سورة مريم ايت ٣٠). (٨) جواب قسم په ابتداء کښې راځي لکه (حٰمٓ (١) وَالْكِتٰبِ الْمُبِيْنِ (٢) اِنَّآ اَنْزَلْنٰهُ فِيْ لَيْلَةٍ مُّبٰرَكَةٍ اِنَّا كُنَّا مُنْذِرِيْنَ) (سورة الدخان). (٩) کله چه داسم متعين دپاره جمله خبر واقع سي نوددې جمله خبريه په ابتداء کښې را ځي لکه (زَيْدٌ اِنَّهٗ عَالِمٌ). (١٠) دجمله مقصود بالنداء په شروع کښې راځي لکه (يٰبَنِيَّ اِنَّ اللّٰهَ اصْطَفٰى لَكُمُ الدِّيْنَ) الاية (سورة البقرة ايت ١٣٢).

او (اَنَّ) په نهه ځايو کښې راځي (١) فاعل واقع کيږي لکه (اَوَلَمْ يَكْفِهِمْ اَنَّآ اَنْزَلْنَا عَلَيْكَ الْكِتٰبَ يُتْلٰى عَلَيْهِمْ) الاية (سورة عنكبوت ايت ٥١). (٢) دلفظ لو سه وروسته راځي لکه (وَقَالَ الَّذِيْنَ اتَّبَعُوْا لَوْ اَنَّ لَنَا كَرَّةً) الاية (سورة البقره ايت ١٦٧). (٣) نائب فاعل لکه (وَاُوْحِيَ اِلٰى نُوْحٍ اَنَّهٗ لَنْ يُّؤْمِنَ مِنْ قَوْمِكَ) الاية (سورة هود ايت ٣٦). (۴) مفعول به واقع کيږي په شرط ددې چه دکوم فعل دپاره مفعول واقع وي هغه فعل دقول ماده سه نه وي لکه (لَاتَخَافُوْنَ اَنَّكُمْ اَشْرَكْتُمْ) الاية (سورة انعام ايت ٨١). (٥) مبتداء واقع کيږي لکه (وَمِنْ اٰيٰتِهٖٓ اَنَّكَ تَرَى الْاَرْضَ خَاشِعَةً) الاية (سورة حم سجده ٣٨). (٦) دحرف جر سه وروسته واقع کيږي لکه (ذٰلِكَ بِاَنَّ اللّٰهَ هُوَ الْحَقُّ وَاَنَّهٗ يُحْيِ الْمَوْتٰى وَاَنَّهٗ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ) (سورة الحج ايت ٦). (٧) داسم غيرالذات دخبر په ابتداء کښې راځي. او د اسم غير الذات مطلب دادي چه دذات سه علاوه دبل شي اسم اونوم وي لکه (اِعْتِقَادِيْ

اَنَّكَ فَاضِلٌ). او كه چيري دا اسم غيرالذات دماده دقول سه وي نو بيا(اِنَّ) راځي.

(٨)مضاف اليه واقع كيږي لكه (فَوَرَبِّ السَّمَآءِ وَالْاَرْضِ اِنَّهٗ لَحَقٌّ مِّثْلَ مَآ اَنَّكُمْ تَنْطِقُوْنَ) (سورت الذاريات ايت٢٣). (٩)محكي صورتوكښي ديوي دپاره تابع واقع كيږي لكه (يٰبَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ اذْكُرُوْا نِعْمَتِيَ الَّتِيْٓ اَنْعَمْتُ عَلَيْكُمْ وَاَنِّيْ فَضَّلْتُكُمْ عَلَى الْعٰلَمِيْنَ) (سورة بقره ايت ٤٧). نو دلته (وَاَنِّيْ) عطف دي په مفعول به باندي چه هغه (نِعْمَتِيَ)دي.

﴿فائده(٧٣)﴾ (اِنَّ. اَنَّ. لٰكِنَّ) دا درې حروف كله مخففه من المثقله وي يعني شد پري نه وي لكه (اِنْ. اَنْ. لٰكِنْ) اوس دمخففه من المثقله متعلق څه بحث.

﴿اِنْ﴾ مخففه من المثقله هم راځي، او (اِنْ) نافيه هم راځي نو په دې دواړو كښي فرق دادي چي كله د (اِنْ)وروسته لفظ د (اِلَّا) راسي نو دا (اِنْ) نافيه دي لكه (اِنْ هُوَ اِلَّا ذِكْرٌ لِّلْعٰلَمِيْنَ(سورة التكوير ايت٢٧). او كه چيري د (اِنْ) وروسته په كلام كښي لام ابتدائيه تاكيديه راسي نو بيا دا(اِنْ) مخففه من المثقله دي لكه (وَاِنْ كَادُوْا لَيَفْتِنُوْنَكَ)الاية(سورة الاسراء ايت٧٣). او (اِنْ) مخففه من المثقله اكثر ملغي از عمل وي يعني عمل نه كوي نو اسم اوخبر نه غواړي.او كله كله(اِنْ)مخففه من المثقله عامله وي نو په دې صورت كښي اسم يي محذوف وي چه هغه به ضمير شان وي.

﴿اَنْ﴾مخففه من المثقله هميشه عامله وي، او اسم يي ضمير شان وي چه دهغه حذف كول واجب دي لكه (وَاَنَّا ظَنَنَّآ اَنْ لَّنْ نُّعْجِزَ اللّٰهَ) الاية(سورة الجن ايت١٢)اى اَنَّا ظَنَنَّا اَنَّهٗ لَنْ نُعْجِزَاللّٰهَ) .

﴿لٰكِنْ﴾مخففه من المثقله هميشه غير عامله وي يعني اسم اوخبر نه غواړي لكه (وَلٰكِنْ كَانُوْٓا اَنْفُسَهُمْ) الاية(سورة البقرة ايت٥٧).

﴿فائده(٧٤)﴾ د حروف مشبه بالفعل وروسته كله ماءزائده راځي، او دې ماءته مَا

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

كَافَّةٌ عَنِ الْعَمَلْ وائي يعني حروف مشبه بالفعل دخپل عمل سه بندوي نو بيا ددې حروفو دپاره اسم او خبر نه وي لکه (فَقُلْ اِنَّمَا الْغَيْبُ لِلّٰهِ) الاية(سورة يونس ايت ۱۰).
(كَاَنَّمَآ اُغْشِيَتْ وُجُوْهُهُمْ قِطَعًا) الاية(سورة يونس ايت۲۷). او دارنګه باقي حروف.

﴿جمله په تاويل دمصدر ګرځولو طريقه﴾

دلته دابحث کيږي چه جمله په تاويل دمصدر څرنګه ګرځي، او جمله چونکي په دوه قسمه ده: (۱) فعليه (۲) اسميه. نودهري يوې دپاره به جلاجلا طريقه ذکر کيږي.

﴿د جمله فعليه طريقه﴾

جمله فعليه په تاويل دمصدر ګرځولو طريقه داده: چه د (اَنْ) وروسته چه کوم فعل ذکردي دهغه به مصدر راويستلي سي، او دا مصدر به بيا دفعل فاعل ته، اويا مفعول بِهِ ته مضاف سي او (اَنْ) مونږ دثبوت په معنىٰ اخلو نودا ثبوت به مضاف وي دفعل مصدر ته مثلا (عَلِمْتُ اَنْ يَّذْهَبَ زَيْدٌ) په تاويل دمصدر چه سي نو عبارت به داسي سي (اَىْ عَلِمْتُ ثُبُوْتَ ذِهَابِ زَيْدٍ).

﴿د جمله اسميه طريقه﴾

جمله اسميه په دوه قسم ده: (۱) د(اَنَّ) خبر اسم مشتق وي لکه (قَـآئِمٌ). يا ظرف مستقر وي لکه(فِي الدَّارِ). (۲) د(اَنَّ) خبر جامد وي لکه (حَجَرٌ).

﴿اول قسم﴾ چه د (اَنَّ) خبر اسم مشتق وي، نو ددې طريقه داده چه د اسم مشتق مصدر به راوباسې او مضاف به کړې د (اَنَّ) اسم ته لکه (عَلِمْتُ اَنَّ زَيْدًا قَائِمٌ) اَىْ عَلِمْتُ ثُبُوْتَ قِيَامِ زَيْدٍ).

او که چيري د(اَنَّ) خبر ظرف مستقروي نو بيا طريقه داده چه (اَنَّ) خو د (ثُبُوْتَ) په معني مونږ کړي وو نو دا (ثُبُوْت) به مضاف سي دظرف مستقر دمتعلق مصدر ته يعني

د فعل يا د شبهي فعل و مصدر ته، او د متعلق مصدر به بيا د (اَنَّ) اسم ته مضاف سي لكه (اِعْلَمُوْا اَنَّ الْجَنَّةَ تَحْتَ ظِلَالِ السُّيُوْفِ) په تاويل د مصدر (اَیْ اِعْلَمُوْا ثُبُوْتَ حُصُوْلِ الْجَنَّةِ تَحْتَ ظِلَالِ السُّيُوْفِ) نو په دې صورت كښې ظرف مستقر ظرف لغو گرځي ځكه د ظرف متعلق په لفظو كښې ذكر سو لكه دلته (تَحْتَ) ظرف متعلق دي د (حُصُوْلِ) مصدر سره.

﴿دويم قسم﴾ يعني اسم جامد د (اَنَّ) خبر وي نو د دې طريقه داده چه (كَوْنٌ) مصدر به راوباسې، او دا (كَوْن) به مضاف كړې اسم د (اَنَّ) ته، او (اَنَّ) چونكي مونږ د (ثُبُوْت) په معني كړي دي، نو دا (ثُبُوْت) به مضاف كړې (كَوْنٌ) مصدر ته لكه (اِعْلَمُوْا اَنَّ هٰذَا حَجَرٌ) اَیْ اِعْلَمُوْا ثُبُوْتَ كَوْنِ هٰذَا حَجَرًا) نو په دې صورت كښې (هٰذَا) مضاف اليه دي لفظًا د (كَوْن) د پاره، او معنًا اسم د (كَوْن) دي. او (حَجَرًا) خبر د (كَوْن) دي.

﴿دريم قسم: مَا وَلَا مُشَبَّهَتَانِ بِلَيْسَ﴾

دريم قسم د حروفو عاملو سره (مَا وَلَا) مشبهتان بليس دي. او دا دواړه حروف هم په اسم باندي عمل كوي او په جمله اسميه باندي داخليږي. او دا حروف رافع الاسم وناصب الخبر دي يعني اسم ته رفع او خبر ته نصب وركوي. او دا دواړه حروف د ليس سره په درو وجهو مشابهت لري: (۱) څرنګه چه ليس د نفي په معني باندي دلالت كوي نو دا حروف يې هم كوي (۲) څرنګه چه ليس خپل اسم ته رفع او خبر ته نصب وركوي نو دا حروف هم خپل اسم ته رفع او خبر ته نصب وركوي (۳) څرنګه چه ليس په جمله اسميه باندي داخليږي نو دا حروف هم په جمله اسميه باندي داخليږي مګر د دې حروفو په عمل كولو كښې اختلاف دي: د بنو تميم په نيز غير عامله دي او د اهل حجاز په نيز عامله دي خو په څلورو شرائطو سره يعني د (مَا) د پاره جلا څلور شرطونه دي، او د (لَا) د پاره جلا څلور شرطونه دي.

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

﴿د (مَا) دپاره څلور شرطونه دي﴾

(۱) د (مَا) اسم به مقدم او خبر به مؤخر وي احترازي مثال (مَا قَائِمٌ زَيْدٌ). (۲) د (مَا) اسم به د (إِنْ) نافيه سره متصل او مقارن نه وي احترازي مثال (مَا إِنْ زَيْدٌ قَائِمٌ). (۳) د (مَا) خبر به د (إِلَّا) سره مقارن نه وي احترازي مثال (وَمَا مُحَمَّدٌ إِلَّا رَسُوْلٌ). (۴) د (مَا) د خبر معمول به د (مَا) سره متصل نه وي احترازي مثال (مَا طَعَامَكَ زَيْدٌ اٰكِلٌ). اتفاقي مثال (مَا زَيْدٌ قَائِمًا).

﴿فائده (۷۵)﴾ په اول شرط کښې مونږ دا وويل چه د (مَا) اسم به مقدم وي په خبر باندې. نو که چيرې د (مَا) خبر مقدم وي په اسم د (مَا) باندې نو بيا (مَا) غير عامله دې البته که چيرې د (مَا) خبر ظرف حقيقي وي او يا ظرف مجازي وي نو په دې صورت کښې که خبر په اسم باندې مقدم سي نو هم (مَا) عامله دي، او په دا صورت کښې اکثر (مِنْ) جاره زائده د (مَا) په اسم باندې داخليږي لکه (مَا لَكُمْ مِّنْ دُوْنِهٖ مِنْ وَّلِيٍّ وَّلَا شَفِيْعٍ) الاية (سورة السجدة ايت۴).

او دا رنګه په څلورم شرط کښې مونږ دا وويل چه د (مَا) د خبر معمول به د (مَا) سره متصل نه ويښ، که چيرې متصل وي نو بيا (مَا) غير عامله دي، البته که چيرې د (مَا) د خبر معمول ظرف حقيقي يا مجازي وي نو بيا د (مَا) د خبر معمول د (مَا) سره متصل کيدې سي لکه (مَاعِنْدَكَ زَيْدٌ قَائِمًا) دلته (عِنْدَكَ) معمول دي د (قَائِمًا)، او (عِنْدَكَ) ظرف حقيقي دي. او (مَا) دلته عامله دي.

﴿د لَا د عمل دپاره هم څلور شرطونه دي﴾

د (لَا) دپاره هم څلور شرطونه دي. کوم شرطونه چه د (مَا) دپاره وه هغه ټول د (لَا)

دپاره هم دي، ماسیوا ددويم شرط. دهغه پر ځاي دلته بل شرط دي هغه دا چه د (لَا)
اسم او خبر به دواړه نکره وي لکه (لَا رَجُلٌ ظَرِيفًا). او که په دواړو کښې يو معرفه وو
نو بيا (لَا) غير عامله دي.

﴿فائده (٧٦)﴾ د (مَا) مشبه بليس په خبر باندي اکثر باء زائده داخليږي لکه (وَمَا هُمْ بِخَارِجِيْنَ مِنَ النَّارِ) الاية(سورة البقرة ايت ١٦٧).

﴿فائده (٧٧)﴾ لفظ د (لَاتَ) هم مشابه بليس دي يعني رافع الاسم وناصب الخبر دي. او (لَاتَ) په اصل کښې (لَا) وو، او (تَ) دتاکيد دنفي دپاره ده، يادمبالغه دپاره ده، يادتانيث حرفي دپاره ده. او (لَاتَ) هم د (لَيْسَ) په شان عمل کوي ليکن د (لَاتَ) عمل ديو څو لفظو سره خاص دي، او هغه لفظونه دادي: (سَاعَةٌ. حِيْنٌ. اَوَ نٌ). او د (لَاتَ) اسم او خبر دواړه په لفظو کښې نه ذکر کيږي بلکي د (لَاتَ) اسم اکثر حذف وي لکه (لَاتَ حِيْنَ مَنَاصٍ) الاية(سورة ص ايت ٣) په اصل کښې (لَاتَ الْحِيْنُ حِيْنَ مَنَاصٍ) وو

﴿څلورم قسم لَا نفي جنس دي﴾

داڅلورم قسم دهغه حروفو سه چه په اسم باندي داخليږي او په هغه باندي عمل کوي او دي (لَا) نفي جنس دپاره هم اسم او خبر وي. ليکن د (لَا) نفي جنس څلور صورتونه دي، بعضي کښې عمل کوي او په بعضي کښې عمل نه کوي.

﴿اول صورت﴾ که د (لَا) نفي جنس اسم مضاف وو نو په دې صورت کښې عمل کوي اسم به منصوب وي او خبر به مرفوع وي لکه (لَا غُلَامَ رَجُلٍ ظَرِيْفٌ فِي الدَّارِ).

﴿دويم صورت﴾ که د (لَا) نفي جنس اسم نکره او غير مضاف وو نو په دې صورت کښې عمل کوي، اسم به مبني برفتح وي او خبر به مرفوع وي لکه (لَا رَجُلَ فِي الدَّارِ).

﴿دريم صورت﴾ که چيري د (لَا) وروسته معرفه وي نو د (لَا) تکرار دبلي معرفه

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

سره ضروري دي، په دې صورت کښې (لَا) عمل نه کوي. او د (لَا) وروسته معرفه به مرفوع وي دابتداء يعني دمبتداء په وجه، او خبر به هم مرفوع وي يعني دا ترکيب دمبتداء اودخبردي لکه (لَا زَيْدٌ عِنْدِيْ وَلَا عَمْرٌو)، نو دلته (زَيْدٌ) مبتداء ده، او (عِنْدِيْ) يي خبر دي. (وَلَا عَمْرٌو) عطف دي په (زَيْدٌ) باندي.

﴿څلورم صورت﴾ که چيري د (لَا) وروسته نکره وه، او (لَا) مکرر سوي وو دبلي نکره سره نو په دې صورت کښې پنځه قسم اعراب ويل جائز دي: (۱) لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ (۲) لَا حَوْلٌ وَلَا قُوَّةٌ إِلَّا بِاللهِ (۳) لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةٌ إِلَّا بِاللهِ (۴) لَا حَوْلٌ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ (۵) لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةً إِلَّا بِاللهِ.

﴿پنځم قسم حروف نداء﴾

حروف ندا پنځم قسم دي دهغه حروفو سه چه په اسم باندي عمل کوي. او حروف ندا هغه حروف ته وائي: چه دهغه په ذريعې بل څوک خپل طرفته رامتوجه کيږي او يا رابلل کيږي. حروف ندا پنځه دي (۱) آيَا (۲) هَيَا (۳) آي (۴) همزه مفتوحه (۵) يَا.

- اول دوه يعني (آيَا . هَيَا) دبعيد دپاره استعماليږي، او دريم او څلورم يعني (آي . او همزه مفتوحه) دقريب دپاره استعماليږي، او اخري يعني (يَا) عام ده يعني دقريب او دبعيد دواړو دپاره استعماليږي.

دلته درې شيان دي (۱) مُنَادِي يعني او از کونکي (۲) مُنَادٰی يعني هغه څوک چه هغه ته اواز کيږي (۳) مقصود بالنداء يا جوابِ نداء دا هغه جمله او خبري ته وائي: چه مُنَادٰی سرې ته کيږي.

دحروفو نداء عمل په دوه قسم دي: (۱) مُنَادٰی ته نصب ورکوي په شرط ددې چه مُنَادٰی به مضاف وي او يا به شبهي مضاف وي او يا به نکره غير معينه وي. دمضاف مثال (يَا عَبْدَ اللهِ)، او دشبهي مضاف مثال (يَا طَالِعًا جَبَلًا). دنکره غير

معينه مثال لکه روند سړي بل چا ته اواز وکړي (يَا رَجُلًا خُذْ بِيَدِيْ). (رَجُلًا) ته نکره غير معينه ځکه وائي: چه روند سړي خو څوک نه ويني او نه څوک متعين کولي سي بس صرف اواز کوي (يَا رَجُلًا). (۲) که چيري مُنَادٰى مفرد وي (يعني مضاف نه وي) او معرفه وي نو مُنَادٰى به مبني وي په علامه د رفعي سره يعني مبني به وي په حالت رفعي باندي لکه (يَا زَيْدُ. يَا زَيْدَانِ. يَا مُسْلِمُوْنَ. يَا مُوْسىٰ. يَا قَاضِيْ) وغيره.

﴿فائده (۷۸)﴾ مشابه مضاف هغه اسم ته وائي: چه مابعد ته محتاج وي د معني دصحيح کيدو دپاره لکه څرنګه چه مضاف محتاج وي مضاف اليه ته، مثلاً يو سړي دا ووائي چه (يَا طَالِعًا) اي ختونکي يي، نو دا مبهمه خبره ده ځکه ختل خو به په يو شي باندي وي نو هغه څه شي دي؟ نو (طَالِعًا) د معني دصحيح کيدو دپاره بل لفظ ته محتاج دي. البته چه داسي ووائي چه (يَا طَالِعًا جَبَلًا) اي ختونکي يي په غره باندي. اوس معني صحيح سوه، نو په دي وجه ديته مشابه مضاف يا شبه مضاف واي.

﴿فصل دويم﴾

په دې فصل کښي د هغه حروفو بيان کيږي چه په فعل مضارع باندي داخليږي او په هغه باندي عمل کوي. دا حروف په دوه قسم دي: اول: حروف نواصب يعني هغه حروف چه فعل ته نصب ورکوي. و د. څلور دي: (۱) اَنْ (۲) لَنْ (۳) کَيْ (۴) اِذَنْ. دويم قسم: حروف جوازم دي. يعني هغه حروف چه فعل مضارع ته جزم ورکوي، او دا حروف پنځه دي: (۱) لَمْ (۲) لَمَّا (۳) لام امر (۴) لام نهي (۵) اِنْ شرطيه.

﴿د حروف نواصب تفصيل﴾

﴿اَنْ﴾ فعل مضارع ته نصب ورکوي، او مابعد جمله يعني خپل مدخول په تاويل د مصدر ګرځوي، په دې وجه خو (اَنْ) ته مصدريه واي. او جمله چه په تاويل د مضدر وګرځي نو مفرد ځني جوړيږي، نو دا جمله په حکم د مفرد کښ ده، چه مفرد

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

په کومو ځايو کښې راتلې سي نو (اَنْ) سره دخپل مدخول هلته راتلې سي. او جمله په تاويل دمصدر کړځولو طريقه مخکښې په صفحه نمبر ۵۸ تيره سوه. مثال لکه (اُرِيْدُ اَنْ تَقُوْمَ) اَیْ اُرِيْدُ قِيَامَكَ).

﴿لَنْ﴾ دا دمستقبل دنفي دپاره راځي دتاکيد سره. او دا هم فعل مضارع ته نصب ورکوي لکه (لَنْ يَّخْرُجَ زَيْدٌ).

﴿فائده(۷۹)﴾ دخليل نحوي په نيز (لَنْ) په اصل کښې (لَااَنْ) وو بيا د (اَنْ) همزه حذف سوه خلاف قياس نو (لَانْ) سو، بيا د التقاء الساکنين په وجه الف ختم سو نو (لَنْ) سو.

﴿كَیْ﴾ که چيري ناصبه وو نو د (كَیْ) سره مخکښې به لام جاره وي، او دا لام به کله لفظا ذکر وي لکه (لِكَيْلَا تَأْسَوْا عَلٰى مَا فَاتَكُمْ وَلَا تَفْرَحُوا بِمَآ اٰتٰكُمْ) الاية (سورة الحديد ايت ۲۳).

او کله به لام جاره تقديرًا وي لکه (اَسْلَمْتُ كَیْ اَدْخُلَ الْجَنَّةَ اَیْ لِكَیْ اَدْخُلَ الْجَنَّةَ).

﴿اِذَنْ﴾ دا هم فعل مضارع ته نصب ورکوي. او (اِذَنْ) دهغه سړي په جواب کښې ويل کيږي چه هغه وتاته دا ووائي (اَنَا اٰتِيْكَ غَدًا) زه تاته سبا درځم. نو دده په جواب کښې به دا ويل کيږي (اِذَنْ اُكْرِمَكَ) چه کله ته راسې نو زه به ستا اِکرَام او عزت وکړم.

﴿اَنْ په شپږو ځايو کښې مقدر وي﴾

(اَنْ) په شپږو ځايو کښې مقدر وي، او فعل مضارع ته نصب ورکوي: (۱) د (حَتّٰى) وروسته (۲) دلام جحد وروسته (۳) دهغه (اَوْ) وروسته چه د (اِلٰى اَنْ) يا د (اِلَّا اَنْ) په معني وي (۴) واو صرف وروسته (۵) دلام (كَیْ) وروسته (٦) دهغه فاء وروسته چه دشپږو شيانو په جواب کښې راغلي وي لکه: (۱) امر (۲) نهي (۳) استفهام. (۴) نفي (۵) تمني (٦) عرض.

د (حَتّٰى) مثال (مَرَرْتُ حَتّٰى اَدْخُلَ الْبَلَدَ) اَیْ حَتّٰى اَنْ اَدْخُلَ الْبَلَدَ). دلام جحد مثال

چه (اَن) د هغه وروسته مقدر وي لکه (وَمَا كَانَ اللهُ لِيُعَذِّبَهُمْ) اى لِاَنْ يُعَذِّبَهُمْ).
د هغه (اَوْ) مثال چه د (اِلٰى اَنْ) يا د (اِلَّا اَنْ) په معنى دي لکه (لَاَلْزِمَنَّكَ اَوْ تُعْطِيَنِيْ حَقِّيْ) اَىْ لَاَلْزِمَنَّكَ اِلٰى اَنْ تُعْطِيَنِيْ حَقِّيْ). د واو صرف مثال لکه (لَا تَنْهَ عَنْ خُلُقٍ وَتَاْتِيَ مِثْلَهُ) (اَىْ وَاَنْ تَاْتِيَ). نو په (وَتَاْتِيَ) کښې واو صرف دي، او دا عطف دي په (لَا تَنْهَ) باندې، او د صرف معنې ده ګرځول، او واو صرف هغه واو ته وائي: چه د د معطوف عليه په شروع کښې کوم عامل وي د هغه عمل د خپل مدخول سره ګرځوي او بند وي لکه په مذکوره مثال کښې لام نهي جازم دي او په (تَنْهَ) فعل کښې جزم کړي دي، نو پکار خو دا وه چه په (تَاْتِيَنِيْ) فعل کښې هم جزم کړي واي، حالانکې دلته يې جزم نه دي کړي د واو صرف د وجې، نو دغه واو صرف د هغه عمل د خپل مدخول سره وګرځوي او بند يې کړي. دلام (کَيْ) مثال لکه (اَسْلَمْتُ لِاَدْخُلَ الْجَنَّةَ). اى (اَسْلَمْتُ لِاَنْ اَدْخُلَ الْجَنَّةَ). د هغه فاء مثالونه چه د بنېړو شيانو په جواب کښې واقع کېږي، او د هغه وروسته (اَنْ) مقدر وي. د امر مثال لکه (زُرْنِيْ فَاُكْرِمَكَ). اى (فَاَنْ اُكْرِمَكَ). د نهي مثال لکه (لَا تَشْتِمْنِيْ فَاُوْذِيَكَ) اى (فَاَنْ اُوْذِيَكَ). د نفي مثال لکه (مَا تَاْتِيْنَا فَتُحَدِّثَنَا) اى (فَاَنْ تُحَدِّثَنَا). د استفهام مثال لکه (اَيْنَ بَيْتُكَ فَاَزُوْرَكَ) اى (فَاَنْ اَزُوْرَكَ). د تمني مثال لکه (لَيْتَ لِيْ مَالًا فَاُنْفِقَ مِنْهُ) اى (فَاَنْ اُنْفِقَ مِنْهُ). د عرض مثال لکه (اَلَا تَنْزِلُ بِنَا فَتُصِيْبَ خَيْرًا) اى (فَاَنْ تُصِيْبَ خَيْرًا).

﴿فائده (۸۰)﴾ (حَتّٰى) په درې قسم دي (۱) عاطفه لکه (اَكَلْتُ السَّمَكَةَ حَتّٰى رَاْسَهَا). (۲) (حَتّٰى) جاره لکه (اَكَلْتُ السَّمَكَةَ حَتّٰى رَاْسِهَا). (۳) (حَتّٰى) ابتدائيه لکه (اَكَلْتُ السَّمَكَةَ حَتّٰى رَاْسُهَا).

﴿فائده (۸۱)﴾ په لام (كَيْ) او (لام جحد) کښې فرق په څلورو وجوه سره دي (۱) لام جحد

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

دنفي دتاكيد دپاره راځي. او لام (كَيْ) دعلت او دسببيت دمعني دپاره راځي (٢)لام جحد چه دكلام وباسي نو په معني مقصودي كښي خلل راځي، او چه لام(كَيْ) دكلام وباسي نو په معني مقصودي كښي خلل نه راځي (٣)لام جحد مستغني دي دمتعلق سه، او لام (كَيْ) متعلق غواړي (٤)دلام جحد سه مخكي د(كَوْن) ماده سه منفي فعل ضروري دي. او دلام(كَيْ) سه مخكي ضروري نه دي.

﴿فائده(٨٢)﴾ دفعل نهي او دفعل نفي په درميان كښي فرق: فرق دادي چه فعل نهي هغه فعل ته وائي: چه دهغه په ذريعې په ائنده زمانه كښي ديو كار سه منع سوي وي لكه (لَاتَضْرِبْ) وهل مه كوه. او فعل نفي هغه فعل ته وائي: چه دهغه په ذريعې په يوه زمانه كښي ديو كار دثبوت سه انكار راغلي وي. ماضي منفي مثال لكه (مَاضَرَبَ زَيْدٌ). زيد وهل نه دي كړي. او دمستقبل منفي مثال كښي لكه (لَايَضْرِبُ زَيْدٌ)زيد وهل نه كوي.

﴿دحروف جوازم تفصيل﴾

اول قسم هغه حروف عامله وه چه فعل مضارع ته نصب وركوي. او دا دويم قسم هغه حروف عامله دي چه فعل مضارع ته جزم وركوي. او حروف جازمه پنځه دي (١) لَمْ (٢) لَمَّا (٣)لام امر (٤)لاء نهي (٥) إِنْ شرطيه. دټولو مثالونه لكه (لَمْ يَضْرِبْ. لَمَّا تَضْرِبْ. لِيَضْرِبْ. لَاتَضْرِبْ. إِنْ تَضْرِبْ اَضْرِبْ).

(لَمْ) او (لَمَّا) دواړه فعل مضارع دفعل ماضي منفي په معني ګرځوي. او (إِنْ) شرطيه په دوو جملو باندي داخليږي، او دواړو جملو ته جزم وركوي، اولي جمله ته جمله شرطيه واي. او دويمي جملې ته جمله جزائيه واي. او (إن) شرطيه دزمانه استقبال سره خاص دي اګرچه په فعل ماضي باندي داخل سوي وي لكه (إِنْ ضَرَبْتَ ضَرَبْتُ). په دې صورت كښې به جزم محلاً وي ځكه چه ماضي مبني ده او په ماضي

باندي اعراب نه ښکاره کيږي.

﴿فائده (۸۳)﴾ د (لَمْ) او د (لَمَّا) په درميان کښي فرق دادي چه د (لَمَّا) د نفي په معنی کښي استغراق وي د زمانه ماضي د زمانه ماضي سه بيا تر زمانه حال پوري لکه (لَمَّا يَضْرِبْ زَيْدٌ) يعني زيد تر اوسه پوري وهل نه دي کړي. او (لَمْ) مطلقًا د نفي د معنی لپاره راځي، يعني په ماضي کښ ديو شي نفي کوي، او په نفي کښ استغراق نه وي لکه (لَمْ يَضْرِبْ زَيْدٌ) يعني زيد وهل نه دي کړي.

﴿فائده (۸۴)﴾ (لَمَّا) شرطيه ظرفيه هم راځي. او د (لَمَّا) ظرفيه شرطيه معلومولو طريقه داده چه (لَمَّا) په ماضي باندي داخليږي لکه (فَلَمَّآ أَنْ جَآءَ الْبَشِيرُ أَلْقٰهُ عَلٰى وَجْهِهٖ) الاية (سورة يوسف پ۹۶).

﴿په جزاء باندي دفاء د راتللو قاعده﴾

دنحو مير مصنف رحمه الله مختصر دومره خبره ذکر کړي ده. چه کله جزاء جمله اسميه وي. او يا جمله امريه وي. يا جمله نهيه وي. يا جمله دعائيه وي نو په جزاء باندي فاء راوړل واجب او ضروري دي. بيا مصنف رحمه الله د څلورو جملو مثالونه ذکر کړي دي لکه (إِنْ تَأْتِنِيْ فَأَنْتَ مُكْرَمٌ. إِنْ رَأَيْتَ زَيْدًا فَأَكْرِمْهُ. وَإِنْ أَتَاكَ عَمْرٌو فَلَا تُهِنْهُ. وَإِنْ أَكْرَمْتَنِيْ فَجَزَاكَ اللهُ خَيْرًا). دا خو د مصنف رحمه الله بحث وو.

اوس زه قاعده ذکر کوم او د قاعده سه مخکي دوه شيان پيژندل او معلومول ضروري دي (۱) تاثير قوي (۲) تاثير ضعيف.

﴿تاثير قوي﴾ ديته وائي: چه حرف شرط فعل ماضي لره د مستقبل په معني وګرځوي. ماضي که حکمي وي. او که حقيقي. د ماضي حقيقي مثال (إِنْ ضَرَبْتَ ضَرَبْتُ). د ماضي حکمي مثال لکه (إِنْ لَمْ تَضْرِبْ لَمْ أَضْرِبْ).

﴿تاثير ضعيف﴾ هغه تاثير ته وائي: چه حرف شرط فعل مضارع د مستقبل په معني باندي وګرځوي لکه (إِنْ تَضْرِبْ أَضْرِبْ).

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

اوس په جزاء باندي دفاء راتللو قاعده، په جزاء باندي دفاء د راتللو درې صورتونه دي: (۱) داخليدل دفاء په جزاء باندي واجب دي (۲)دخول دفاء په جزاء باندي ممنوع دي (۳)دخول دفاء په جزاء باندي جائز دي، او نه راوړل يي هم جائز دي.

﴿اول صورت﴾ دخول دفاء په جزاء باندي ممنوع دي. دا په هغه صورت کښي دي چه په جزاء باندي حرف شرط مؤثر وي په تاثير قوي سره، او ماضي د(قَدْ) او د (اَمْسِ) سه خالي وي لکه (مَنْ دَخَلَهٗ كَانَ اٰمِنًا) الاية(سورة ال عمران ايت۹۷).

﴿دويم صورت﴾ دخول دفاء په جزاء باندي واجب وي. دا په هغه صورت کښي وي چه حرف شرط په جزاء باندي مؤثر نه وي. او داسي ځايونه اته دي: (۱)جزاء فعل ماضي وي او د فعل ماضي سه مخکي لفظ د(قَد) وي لفظًا يا تقديرًا. د لفظًا مثال (اِنْ يَّسْرِقْ فَقَدْ سَرَقَ اَخٌ لَّهٗ) الاية(سورة يوسف ايت۷۷). دتقديرًا مثال (اِنْ كَانَ قَمِيْصُهٗ قُدَّ مِنْ قُبُلٍ فَصَدَقَتْ) الاية(سورة يوسف ايت۲۶) اَیْ فَقَدْ صَدَقَتْ). (۲)جزاء فعل ماضي مقدره وي او متعلق يي مقدم وي او په لفظو کښي ذکر وي، او د ماضي په شروع کښي (قَدْ) نه وي، نه لفظا او نه تقديرًا لکه (مَنْ اَبْصَرَ فَلِنَفْسِهٖ) الاية (سورة الانعام ايت۱۰۴) اَیْ مَنْ اَبْصَرَ وَاٰمَنَ فَلِنَفْسِهٖ اَبْصَرَ وَاِيَّاهَا نَفَعَ). (۳) جزاء فعل مضارع مثبت وي او په شروع کښي يي سين يا سَوْفَ وي لکه (وَاِنْ تَعَاسَرْتُمْ فَسَتُرْضِعُ لَهٗ اُخْرٰى) الاية (سورة الطلاق ايت۶). (۴) جزاء فعل مضارع منفي وي په (لَنْ) يا په (مَا) سره لکه (وَمَنْ يَّبْتَغِ غَيْرَ الْاِسْلَامِ دِيْنًا فَلَنْ يُّقْبَلَ مِنْهُ) الاية (سورة ال عمران ايت۸۵). (۵) جزاء جمله اسميه وي لکه(مَنْ جَآءَ بِالْحَسَنَةِ فَلَهٗ عَشْرُ اَمْثَالِهَا) الاية (سورة الانعام ايت ۱۶۰). (۶)جزاء جمله انشائيه وي لکه (قُلْ اِنْ كُنْتُمْ تُحِبُّوْنَ اللّٰهَ فَاتَّبِعُوْنِيْ) الاية (سورة ال عمران ايت۳۱).

(۷)جزاء افعال مقاربو، يا افعال مدح وذم وي کښي يو فعل وي. د افعال مقاربه مثال (اِنْ سَئَلَ السَّائِلُ زَيْدًا فَكَادَ اَنْ يُّعْطِيَهُ الدَّنَانِيْرَ). د افعال مدح وذم مثال(اِنْ

كَانَ زَيْدٌ حَسَنًا فَبِئْسَ الْمَرْأَةُ هِنْدٌ). (وَإِنْ كَانَ الرَّجُلُ قَبِيحًا فَنِعْمَ الْمَرْأَةُ هِنْدٌ).

(٨) جزاء (لَيْسَ) وي لكه (إِنْ كَانَ الْقَوْمُ حَاضِرًا فَلَيْسَ زَيْدٌ بِغَائِبٍ).

﴿دريم صورت﴾ فاء په جزاء باندي راوړل، او نه راوړل دواړه جائزدي. دا په هغه صورت کښي چه حرف شرط په جزاء باندي مؤثر قوي نه وي بلکي مؤثر ضعيف وي. نو ديته چه وګوري چه مؤثر قوي نسته نو پکار ده چه فاء راسي، او ديته چه وګوري چه مؤثر ضعيف خو سته نو پکار ده چه فاء نه راسي لهذا دواړه جائز دي. دا په هغه صورت کښ چه فعل مضارع مثبت وي او دسين او دسوف سه خالي وي. او يا فعل مضارع منفي وي په (لَا) سره مثال (وَإِنْ يَكُنْ مِنْكُمْ أَلْفٌ يَغْلِبُوا أَلْفَيْنِ) الاية (سورة الانفال ايت٦٦). دلته فاء نسته. او دفاء مثال لکه (إِنْ ضَرَبْتَهُ فَيَضْرِبُكَ). او دفعل مضارع منفي په (لَا) سره دهغه مثالونه (وَإِنْ شَتَمْتَ زَيْدًا لَا يَشْتِمُكَ). (وَإِنْ ضَرَبْتَهُ فَلَا يَضْرِبُكَ).

﴿فائده (٨٥)﴾ (إِنْ) وصليه هم راځي. د(إِنْ) وصليه علامه داده چه د(إِنْ) وصليه سه مخکي واو وي. او دا واو دترکيب په لحاظ سره په څلور قسم دي: (١) واو عاطفه (٢) واو حاليه (٣) واو اعتراضيه (۴) واو تاکيديه.

د(إِنْ) وصليه ترجمه په اګرچه يا (که څه هم) سره کيږي لکه (فَإِنْ لِلْإِسْتِقْبَالِ وَإِنْ دَخَلَتْ عَلَى الْمَاضِيْ) دلته (وَإِنْ دَخَلَتْ) کښي (وَإِنْ) وصليه دي. مثال مذکور ترجمه: او إِن د زمانه استقبال دپاره راځي اګرچه په ماضي باندي داخل سي.

﴿باب دويم در عمل افعال﴾

په اول باب کښي دحروفو عاملو بيان وسو. اوس په دويم باب کښي دافعال عاملو ذکر کيږي. داخبره ياد ساتئ چه هرقسم فعل عامل دي، او په فعل کښي غير عامل نسته که فعل متصرف وي او که غير متصرف، او که فعل تام وي او که فعل ناقص وي. او فعل په اعتبار د عمل سره په دوه قسم دي (١) فعل معلوم (٢) فعل مجهول.

﴿فعل معلوم﴾ هغه فعل ته وائي: چه فاعل يي معلوم وي. فعل بيا په دوه قسم دي

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

(۱) فعل لازم (۲) فعل متعدي. فعل لازم فاعل ته رفع ورکوي او شپږو سماؤ ته نصب ورکوي: (۱) مفعول مطلق (۲) مفعول فيه (۳) مفعول معه (۴) مفعول له (۵) حال (٦) تمييز. او فعل متعدي فاعل ته رفع ورکوي او مخکني شپږو اسماؤ ته نصب ورکوي او مفعول به ته هم نصب ورکوي او فعل لازم مفعول به ته محتاج نه دي. حصل دا چه فعل لازم صرف فاعل ته محتاج دي او فعل متعدي فاعل او مفعول به دواړو ته محتاج دي لهذا فعل لازم فاعل ته رفع ورکوي او شپږو اسماؤ ته نصب ورکوي، او فعل متعدي فاعل ته رفع ورکوي او اوو اسماؤ ته نصب ورکوي. فعل لازم لکه (قَامَ زَيْدٌ). او متعدي لکه (ضَرَبَ زَيْدٌ كَافِرًا).

اوس زه دا تو اسماؤ تعريفونه او دهغو متعلق بحث ذکر کوم په ترتيب سره، او هغه اته اسماء دا دي: (۱) فاعل (۲) مفعول مطلق (۳) مفعول فيه (۴) مفعول معه (۵) مفعول له (٦) حال (۷) تمييز (۸) مفعول به.

﴿دفاعل تعريف﴾

فاعل هغه اسم ته وائي: چه دده سه مخکي فعل يا شبهي فعل ذکر وي، او دا فعل يا شبهي فعل مسند وي ودې اسم ته په داسي طريقه سره چه دا فعل يا شبهي ددغه اسم سره قائم وي لکه (ضَرَبَ زَيْدٌ كَافِرًا). کښې (زَيْدٌ) فاعل دي.

﴿دمفعول مطلق تعريف﴾

هغه مصدر ته وائي: چه دفعل وروسته ذکر وي، او ددې مصدر معني دمخکني فعل دمعنى پشان وي، اګرچه ماده يي جلا جلا وي. يعني دفعل او دمفعول مطلق ماده يوه ضروري نه ده. بلکي يوه معني ضروري ده مثلا (ضَرَبْتُ ضَرْبًا) دلته معني او ماده دواړه يو دي. او په (جَلَسْتُ قُعُوْدًا) کښې معني يوه ده ليکن ماده جلا جلا ده.

﴿دمفعول مطلق متعلق پنځه فوائد﴾

﴿الفائدة الاولى(۸٦)﴾ مفعول مطلق واقع کيدل دا خاص نه دي دمصدر سره بلکي

ديارلس شيان نور هم مفعول مطلق واقع كيدلې سي (۱) لفظ د (كُل) لكه (فَلَاتَمِيلُوْا كُلَّ الْمَيْلِ) الاية (سورة النساء ايت۱۲۹). (۲) لفظ د (غَايَة) لكه (فَهَذَّبَ غَايَةَ التَّهْذِيبِ).
(۳) ضمير لكه (فَإِنِّيٓ أُعَذِّبُهٗ عَذَابًا لَّآ أُعَذِّبُهٗٓ أَحَدًا مِّنَ الْعٰلَمِينَ) الاية (سورة المائدة ايت۱۱۵).
دلته (لَآأُعَذِّبُهٗ) كښي (هٗ) ضمير مفعول مطلق دي د (لَآأُعَذِّبُ) فعل دپاره. (۴) عدد لكه (فَاجْلِدُوْهُمْ ثَمٰنِيْنَ جَلْدَةً) الاية (سورة النور ايت۴) دلته (ثَمٰنِيْنَ) مفعول مطلق دي.
(۵) آله لكه (ضَرَبْتُهٗ سَوْطًا). (٦) اسم مصدر لكه (اِغْتَسَلْتُ غُسْلًا). (۷) دبل فعل مصدر لكه (وَتَبَتَّلْ إِلَيْهِ تَبْتِيْلًا) الاية (سورة المزمل ايت۸) دلته (تَبْتِيْلًا) مصدر دي دباب تفعيل او فعل دباب تفعل سره دي (۸) متعين اسم د فعل دماده سره لكه (وَاللّٰهُ أَنْبَتَكُمْ مِّنَ الْأَرْضِ نَبَاتًا) سورة نوح ايت۱۷). (۹) مَرَّةً لكه (وَلَقَدْ مَنَنَّا عَلَيْكَ مَرَّةً أُخْرٰى) سورة طه ايت۳۷). (۱۰) تَارَةً لكه (وَمِنْهَا نُخْرِجُكُمْ تَارَةً أُخْرٰى) الاية (سورة طه ايت۵۵). (۱۱) لفظ دبعض (۱۲) شَيْئًا (۱۳) هغه اسم چه مصدر ته مضاف سوي وي او په اضافت سره په دغه اسم كښي مصدري معني پيدا سوې وي لكه (اِتَّقُوا اللّٰهَ حَقَّ تُقٰتِهٖ) الاية (سورة ال عمران ايت۱۰۲). نو دلته (حَقَّ) مفعول مطلق دي.

﴿الفائدة الثانية (۸۷)﴾ مصدر چه كله مضاف وي خپل معمول ته يعني فاعل يا مفعول ته په واسطه د حرف جار سره، يا بغير واسطه نو په دې صورت كښي ددغه مصدرفعل حذف كيږي، او دا مذكور مصدر مفعول مطلق وي د هغه فعل محذوف دپاره لكه (فَطَفِقَ مَسْحًا بِالسُّوْقِ وَالْأَعْنَاقِ) الاية (سورة ص ايت۳۳) نو دلته (مَسْحًا بِالسُّوْقِ) مفعول مطلق دي دفعل محذوف دپاره چه تقدير دايت داسي دي (فَطَفِقَ يَمْسَحُ مَسْحًا بِالسُّوْقِ وَالْأَعْنَاقِ). او دارنګه بل ايت دقرآن كريم (سُبْحٰنَ الَّذِيٓ أَسْرٰى بِعَبْدِهٖ) الاية (سورة الاسراء ايت۱) أَيْ أُسَبِّحُ سُبْحٰنَ الَّذِيٓ أَسْرٰى بِعَبْدِهٖ. ددې بل

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

مثال (حَمْدًا لِرَبِّنَا) اَيْ حَمِدَ حَمْدًا لِرَبِّنَا).

﴿الفائدة الثالثة (۸۸)﴾ مفعول مطلق په کلام کښي ددرو وجوهاتو دپاره راځي:

(۱) دتاکيد دپاره لکه (ضَرَبْتُ ضَرْبًا). (۲) دبيانِ نوع يعني دهيئت دبيان دپاره راځي. په دې صورت کښي دا اکثر د(فِعْلَةٌ) پر وزن راځي لکه (جَلَسْتُ جِلْسَةَ الْقَارِئِ). (۳) دبيانِ عدد دپاره يعني دد‌ې خبري دبيان دپاره راځي چه دا کار څو مرتبه سوې دي. په دې صورت کښي دا مصدر اکثر د(فَعْلَةٌ) پر وزن راځي لکه (جَلَسْتُ جَلْسَةً).

﴿الفائدة الرابعة(۸۹)﴾ که چيري مفعول مطلق دتاکيددپاره وي نو تثنيه او جمع يي نه راځي. او که چيري دغير تاکيد دپاره وي نو بيا تثنيه او جمع يي راتلې سي.

﴿الفائدة الخامسة(۹۰)﴾ که چيري مصدر مضاف وي، يا موصوف وي نو په دې صورت کښي دا مصدر مفعول مطلق راځي دبيانِ نوع او دبيانِ هيئت دپاره.

﴿د مفعول فيه تعريف﴾

هغه اسم ته وائي: چه په هغه کښي فعل واقع سوي وي. او دغه اسم ظرف وي. او ظرف په دوه قسم دي (۱) ظرف زمان: هغه ظرف ته وائي: چه هغه دفعل دواقع کيدولو په وخت باندي دلالت کوي لکه (صُمْتُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ) دلته (يَوْمَ) ظرف زمان او مفعول فيه دي (۲) ظرف مکان: هغه ظرف ته وائي: چه هغه دفعل دواقع کيدولو په ځاي باندي دلالت کوي لکه (جَلَسْتُ عِنْدَكَ) دلته (عِنْدَكَ) ظرف مکان، او مفعول فيه واقع دي.

﴿فائده (۹۱)﴾ دا اسم دمفعول فيه دجوړيدو او دواقع کيدو دپاره دوه شرطونه دي: (۱) هغه اسم به ظرف وي (۲) په هغه اسم کښي به د(فِيْ) معني وي. که چيري په دغه دوو شرطونو کښي يو شرط نه وو نو بيا هغه مفعول فيه نه سي واقع کيدلای لکه (يَخَافُوْنَ يَوْمًا تَتَقَلَّبُ) الاية (سورة النور ايت۳۷) دلته (يومًا) مفعول فيه نه دي بلکي

مفعول به دي ځکه چه دلته د(فِيْ)معنی نسته اګرچه ظرف دي. د(يَخَافُوْنَ يَوْمًا)
ترجمه: دوي بيريږي دورځي سه. او دا ترجمه يي نه ده چه دوي بيريږي په ورځ
کښي. او د (فِيْ) معنی خو ده د (کښي).

﴿د مفعول معه تعريف﴾

مفعول معه هغه اسم ته وائي: چه د واو بمعني مع سه وروسته واقع وي، او دا
مفعول معه د فعل مذکور د فاعل یا د مفعول مصاحب يعني ملګري وي لکه (جَاءَ
الْبَرْدُ وَالْجُبَّاتُ) اَیْ جَاءَ الْبَرْدُ مَعَ الْجُبَّاتِ). بل مثال لکه (قُمْتُ اِكْرَامًا لِزَيْدٍ).

﴿د مفعول له تعريف﴾

مفعول له هغه اسم ته وائي: چه دلالت کوي په داسي شي باندي چه هغه د فعل
مذکور سبب وي. او مفعول له په دوه قسم دي: (۱) چه د مفعول له د حصول د پاره
فعل يعني کار سوي وي لکه (ضَرَبْتُ صَغِيْرًا تَأْدِيْبًا) يعني ما وواهي کوشنئ د پاره
د ادب ورښوولو (۲) چه د مفعول له دوجي فعل سوي وي لکه (قَعَدْتُ عَنِ الْحَرْبِ
جُبْنًا) يعني زه د جنګه سه کښيناستلم د بزدلي دوجي.

﴿د حال تعريف او د هغه بحث﴾

هغه اسم نکره ته وائي: چه د فاعل یا د مفعول یا د دواړو په هيئت باندي دلالت کوي
لکه (جَاءَنِيْ زَيْدٌ رَاكِبًا) دلته (رَاكِبًا) حال دي د(زَيْدٌ)فاعل سه. (ضَرَبْتُ زَيْدًا
مَشْدُوْدًا) دلته (مَشْدُوْدًا) حال دي د مفعول به(زَيْدًا) سه. (لَقِيْتُ زَيْدًا رَاكِبَيْنِ) دلته
(رَاكِبَيْنِ) حال دي د فاعل او د مفعول به د دواړو سه.

حال چه د چا په هيئت باندي دلالت کوي هغه ته ذو الحال واي لکه (ضُرِبَ زَيْدٌ رَاكِبًا)
دلته (زيد) نائب فاعل او ذو الحال دي، او (رَاكِبًا) حال دي.

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

﴿د حال متعلق پنځه فوائد﴾

﴿اوله فائده (۹۲)﴾ ذوالحال دفاعل او دمفعول او دنائب فاعل سره خاص نه دي بلكي نور شيان هم واقع كيږي، تقريبا چه هغه پنځه شيان دي (۱) مجرور دحرف جار لكه (مَرَرْتُ بِزَيْدٍ جَالِسًا). (۲) داسي مضاف اليه چه مصدر ورته مضاف وي او دمصدر دپاره معمول يعني فاعل يامفعول وي لكه (اِلَى اللهِ مَرْجِعُكُمْ جَمِيْعًا) الاية (سورة المائدة ايت۴۸) دلته (كُمْ) ضمير ذوالحال دي، او (كُمْ) ضمير دمصدر دپاره مضاف اليه او فاعل دي، او (جَمِيْعًا) حال دي د (كُمْ) ضمير سره (۳) داسي مضاف اليه چه دهغه مضاف مفعول واقع وي، او مضاف دمضاف اليه جزء وي لكه (اَنْ يَّاْكُلَ لَحْمَ اَخِيْهِ مَيْتًا) الاية (سورة الحجرات ايت۱۲) دلته (اَخِيْ) ذوالحال دي، او (مَيْتًا) حال دي، او (اَخِيْ) مضاف اليه دي د (لَحْمَ) مفعول به دپاره، او (لَحْمَ) جزء دي د (اَخِيْ). ددې علامه داده چه مضاف دكلام سه حذف كړې او صرف مضاف اليه پرېږدې نو په معني كښي هيڅ نقصان اوخلل نه راځي (۴) داسي مضاف اليه چه مضاف دمضاف اليه جزء نه وي ليكن دجزء په شان وي لكه (فَاتَّبِعُوْا مِلَّةَ اِبْرٰهِيْمَ حَنِيْفًا) الاية (سورة ال عمران ايت ۹۵) دلته (حَنِيْفًا) حال دي د (اِبْرٰهِيْمَ) سه، او (اِبْرَاهِيْمَ) مضاف اليه دي د (مِلَّةَ) دپاره (۵) مبتداء. په دې كښي اختلاف دي علامه ابن حاجب رحمه الله فرمائي: چه په مبتداء كښي به تاويل كوو اوفاعل به ئې جوړوو. او علامه ابن مالك رحمه الله فرمائي: چه مبتداء بغير تاويله ذوالحال واقع كيدېسي لكه (زَيْدٌ فِي الدَّارِ قَائِمًا) كښې زيد مبتداء او ذوالحال دي، او قائما دهغه سه حال دي.

﴿دويمه فائده(۹۳)﴾ ذوالحال هميشه معرفه وي، اوحال هميشه نكره وي. كه چيري ذوالحال نكره محضه وي نو بيا حال مقدم كول په ذوالحال باندي ضروري دي لكه (جَاءَنِيْ رَاكِبًا رَجُلٌ). اوكه ذوالحال نكره مخصصه وي نو بيا حال مقدم كول

ضروري نه دي لکه (جَاءَنِيْ رَجُلٌ مِنْ تَمِيْمٍ رَاكِبًا). دلته (رَجُلٌ) موصوف او ذوالحال دي، او (مِنْ تَمِيْمٍ) يې صفت دي، او (رَاكِبًا) حال دي د (رَجُلٌ) نکره مخصصه سره.

﴿دريمه فائده (۹۴)﴾ جمله هم حال واقع کيدېسي. ځکه چه جمله په حکم د نکره کښې ده، او د جمله حاليه محل د اعراب نصب دي، د جملې د حال واقع کيدلو د پاره درې شرطونه: (۱) جمله خبريه به وي. او انشائيه به نه وي (۲) د جمله حاليه سره مخکې حرف د استقبال به نه وي لکه سين او سوف وغيره، ځکه حال د استقبال منافي دي (۳) رابط ضروري دي په جمله کښې. او په جمله اسميه کښې دوه شيان رابط جوړېدېسي. يو: عائد يعني ضمير چه ذوالحال ته راجع وي. دويم: واو د جمله سره مخکې لکه (لَا تَقْرَبُوا الصَّلٰوةَ وَاَنْتُمْ سُكٰرٰى) الاية (سورة النساء ايت ۴۳) دلته رابط واو دي. د ضمير مثال لکه (وَيَوْمَ الْقِيٰمَةِ تَرَى الَّذِيْنَ كَذَبُوْا عَلَى اللّٰهِ وُجُوْهُهُمْ مُسْوَدَّةٌ) الاية (سورة الزمر ايت ۶۰) دلته (هُمْ) ضمير رابط دي. او کله دواړه ذکر وي لکه (رَاَيْتُ الْاَمِيْرَ وَهُوَ رَاكِبٌ).

په جمله فعليه کښې هم دوه شيان رابط راتلې سي. يو: ضمير. دويم: (قَدْ) يا (وَقَدْ) د فعل سره راتلل. د فعل مضارع مثال لکه (جَاءَنِيْ زَيْدٌ يَسْرَعُ) دلته (هُوَ) ضمير د فاعل مستتر رابط دي. د دويم شرط مثال لکه (لِمَ تُؤْذُوْنَنِيْ وَقَدْ تَعْلَمُوْنَ اَنِّيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ اِلَيْكُمْ) الاية (سورة الصف ايت ۵) دلته (وَقَدْ) رابط دي. په فعل ماضي کښې که (قَدْ) ذکر وو نو بيا به د (قَدْ) سره مخکې واو ضروري دي لکه (اَفَتَطْمَعُوْنَ اَنْ يُّؤْمِنُوْا لَكُمْ وَقَدْ كَانَ فَرِيْقٌ مِّنْهُمْ) الاية (سورة البقرة ايت ۷۵) دلته رابط (وَقَدْ) او (مِنْهُمْ) کښې (هُمْ) ضمير دي. او که چيري په ماضي کښې (قَدْ) ذکر نه وي نو جمهور نحات وائي: چه (قَدْ) به مقدر وي لکه (اِذَا مَا اَتَوْكَ لِتَحْمِلَهُمْ قُلْتَ لَا اَجِدُ) الاية (سورة التوبة ايت ۹۲) اَىْ قَدْ قُلْتَ لَا اَجِدُ).

﴿څلورمه فائده (۹۵)﴾ حال اکثر اسم مشتق وي. ليکن که چيري اسم جامد واقع وي نو په بعضي ځايو کښې تاويل په مشتق سره کيږي لکه (فَانْفِرُوْا ثُبَاتٍ) الاية (سورة

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

النساء ايت۷۱) اَیْ مُتَفَرِّقِيْنَ). او (بِعْهُ يَدًا بِيَدٍ)اَیْ مُتَقَابِضًا). وغيره. او په بعضي خايو کښې تاويل ته ضرورت نسته لکه (هٰذَا مَالُكَ ذَهَبًا).

﴿پنځمه فائد(۹۶)﴾ که چيري ذوالحال داسي معرفه وي چه په هغه باندي حرف جار داخل سوي وي نو په دې صورت کښې حال مقدم کول په ذوالحال باندي ناجائز دي لکه (مَرَرْتُ بِزَيْدٍ جَالِسًا).

﴿د حال تقسيمونه﴾

حال په درو تقسمو سره تقسيمږي: (۱) په اعتبار دتاکيد او دتبين سره (۲) په اعتبار دزمانه سره (۳) په اعتبار دتعداد سره.

﴿د حال تقسم په اعتبار دتاکيد او دتبين﴾

حال په اعتبار دتاکيد او دتبيين سره په دوه قسم دي(۱) مؤکده (۲) مبينه.

﴿د حال مؤکده تعريف﴾ حال مؤکده هغه حال ته وائي: چه دهغه په نه ذکر کولو سره هم دهغه معنی حاصليږي. او داحال مؤکده به کله تاکيد وي دحال دعامل دپاره لکه (وَلّٰى مُدْبِرًا) الاية (سورة القصص ايت۳۱). بل مثال (وَلَاتَعْثَوْا فِيْ الْاَرْضِ مُفْسِدِيْنَ) الاية (سورة البقرة ايت۶۰) دلته (مُفْسِدِيْنَ) حال مؤکده دي، اوتاکيد دي دخپل عامل (لَاتَعْثَوْا) فعل دپاره. او کله به حال مؤکده تاکيد وي دذوالحال دپاره لکه (وَلَوْ شَآءَ رَبُّكَ لَاٰمَنَ مَنْ فِي الْاَرْضِ كُلُّهُمْ جَمِيْعًا) الاية(سورة يونس ايت۹۹). دلته (جَمِيْعًا) حال دي د(مَنْ) سره. او کله به حال مؤکده تاکيد وي دمضمونِ جمله دپاره لکه (زَيْدٌ اَبُوْكَ عَطُوْفًا).

﴿د حال مبينه تعريف﴾ هغه حال ته وائي: چه دذوالحال صرف حالت بيانوي. اودا حال ډير مستعمل دي لکه (جَاءَنِيْ زَيْدٌ رَاكِبًا).

﴿د حال تقسيم په اعتبار دزمانې سره﴾

دحال دويم تقسيم دي په اعتبار دزمانې سره. اوحال په اعتبار دزمانې سر په دوه قسم دي (۱) حال مقارنه (۲) حال مقدره.

﴿د حال مقارنه تعریف﴾ د مقارنه معنی ده د دوو شیانو ملاویدل او یوځای کیدل. او حال مقارنه هغه حال ته وائي: چه فعل او حال په یو وخت کښې وي یعني د فعل او د حال یوه زمانه وي، او دا حال ډیر مستعمل دي لکه (جَاءَنِيْ زَيْدٌ رَاكِبًا) دلته د زيد راتلل او سپوریدل په یو وخت کښې دي.

﴿د حال مقدره تعریف﴾ هغه حال ته وایي: چه د حال زمانه د فعل د زمانه سه وروسته وي. په دې حال کښې زمانه استقبال مراد وي لکه (فَادْخُلُوْهَا خٰلِدِيْنَ) الاية (سورة الزمر ايت۷۳) دلته اول داخلیدل دي بیا ورپسې خلود یعني همیشه والي دي.

﴿د حال تقسیم په اعتبار د تعداد سره﴾

د حال دریم تقسیم دي په اعتبار د تعداد سره. او حال په اعتبار تعداد سره په دوه قسم دي: (۱) حال متداخله (۲) حال مترادفه.

﴿حال متداخله﴾ دیته وائي: چه ذوالحال یو وي، او حالونه دوه وي، او په دې دواړو حالو کښې عامل یو وي لکه (جَاءَ زَيْدٌ رَاكِبًا ضَاحِكًا) دلته (زَيْدٌ) ذوالحال، او (رَاكِبًا ضَاحِكًا) دواړه حالونه دي د (زَيْدٌ) سه، او (جَاءَ) په دواړو کښې عامل دي.

﴿حال مترادفه﴾ دیته وائي: چه دوه حالونه ذکر وي او دویم حال د اول حال د ضمیر سه حال وي، او اول حال د دویم حال دپاره عامل وي لکه (جَاءَ زَيْدٌ رَاكِبًا ضَاحِكًا) دلته (ضَاحِكًا) حال جوړ کړه د (راكبًا) د ضمیر سه، او هغه یي عامل دي، او (رَاكِبًا) حال دي د (زَيْدٌ) سه، او (جَاءَ) عامل دي. لنډه دا: چه دوه حال وي او د هریوي دپاره جلا جلا ذوالحال او عامل وي.

﴿د حال عوامل درې دي﴾

د حال عامل درې شیان دي: (۱) فعل لکه (جَاءَ زَيْدٌ رَاكِبًا). (۲) شبهي فعل لکه (زَيْدٌ ضَارِبٌ غُلَامَهٗ رَاكِبًا) دلته د (رَاكِبًا) عامل (ضَارِبٌ) دي (۳) معنی د فعل لکه

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

(زَيْدٌ فِي الدَّارِ قَائِمًا) دلته (قَائِمًا) ته نصب (فِي الدَّارِ) ورکړي دي ځکه چه جار مجرور دفعل معني ته متضمن دي، هغه داسي چه متعلق يي فعل يا شبهي فعل دي. بل مثال لکه (هٰذَا زَيْدٌ قَائِمًا) دلته (قَائِمًا) ته نصب (هٰذَا) ورکړي دي ځکه چه (هٰذَا) د (أُشِيْرُ) فعل يا د (أُنَبِّهُ) فعل معني ته متضمن دي.

﴿د تمييز تعريف او دهغه بحث﴾

تمييز په دوه قسم دي: (۱) تمييز عن النسبة (۲) تمييز عن الذات.

﴿تمييز عن النسبة تعريف او اقسام﴾

هغه اسم نکره ته وائي: چه دفعل دفاعل يا دمفعول طرف ته په نسبت کښې ابهام وي هغه ليري کړي، يا دشبهي فعل دفاعل يا دمفعول طرف ته په نسبت کښې ابهام وي هغه ليري کړي، يا دفعل مجهول دنائب فاعل طرفته په نسبت کښې ابهام وي هغه ليري کړي. بيا تمييز عن النسبة په څلور قسم دي: (۱) مُحَوَّل عَنِ الْفَاعِلِ (۲) مُحَوَّل عَنِ الْمَفْعُوْلِ (۳) مُحَوَّل عَنْ غَيْرِهِمَا (۴) غير مُحَوَّل.

﴿محول عن الفاعل تعريف﴾ هغه تمييز ته وائي: چه هغه په اصل کښې فاعل وي ليکن دخپل ځايه سه ګرځيدلي (يعني بدل سوي) وي، او دتمييز په ځاي کښې واقع سوي وي لکه (اِشْتَعَلَ الرَّأْسُ شَيْبًا) الاية (سورة مريم ايت۴) چه په اصل کښې (اِشْتَعَلَ شَيْبٌ مِّنَ الرَّأْسِ) وو.

﴿محول عن المفعول﴾ هغه تمييز ته وائي: چه هغه په اصل کښې مفعول وي ليکن دخپل ځاي سه ګرځيدلي وي دتمييز په ځاي کښې واقع سوي وي لکه (وَفَجَّرْنَا الْاَرْضَ عُيُوْنًا) الاية (سورة القمر ايت۱۲) په اصل کښې (وَفَجَّرْنَا عُيُوْنًا فِي الْاَرْضِ) وو.

﴿محول عن غير هما تعريف﴾ هغه تمييز ته وائي: چه دفاعل او دمفعول دځاي سه ګرځيدلي نه وي بلکي دبل شي دځايه سه ګرځيدلي وي لکه (اَنَا اَكْثَرُ مِنْكَ مَالًا) الاية

(سورة الكهف ایت ۳۴) دلته (مَالًا) تمییز دي خو دفاعل او دمفعول سه محول نه دي بلکې د مبتداء سه محول دي چه په اصل کښې (مَالِي أَكْثَرُ مِن مَّالِكَ) وو.

﴿دغير محول تعريف﴾ هغه تمييز ته وائي: چه هغه دخپل ځاي سه محول يعني گرځېدلي نه وي بلکې په خپل ځاي باندي واقع وي لکه (لِلّٰهِ دَرُّهُ فَارِسًا).

﴿تمييز عن الذات تعريف او اقسام﴾

دويم قسم تمييز عن الذات دي. تمييز عن الذات هغه اسم نكره ته وائي: چه هغه ابهام ليري كړي داسم ذات سه. او دتمييز عن الذات تقريبًا څلور صورتونه دي.

(۱) دعدد سه ابهام ليري كړي لكه (عِنْدِىْ اَحَدَ عَشَرَ سَيْفًا). (۲) دوزن يعني دتول سه ابهام ليري كړي لكه (عِنْدِىْ رِطْلٌ زَيْتًا). (۳) دكيل يعني دپيمانې سه ابهام ليري كړي لكه (عِنْدِىْ قَفِيْزَانِ بُرًّا). لفظ د(بر) چه په ضم دباء سره وي نو مراد غنم دي. او چه په فتح دباء سره وي نو مراد وچه ځمكه ده. او چه په كسره دباء سره وي نو مرادنيكي كول دي (۴) دمساحت يعني دمقدار او دمسافت سه ابهام ليري كوي لكه (مَافِي السَّمَاءِ قَدْرُ رَاحَةٍ سَحَابًا).

﴿فائده (۹۷)﴾ په تمييز عن النسبة كښې عاملِ ناصب دوه شيان دي (۱) فعل (۲) شبهي فعل. او په تمييز عن الذات كښې عاملِ ناصب صرف اسم تام دي.

او داسم تام بحث ان شاء الله تعالى په باب سوُم كښې راځي.

﴿فائده (۹۸)﴾ تمييز هميشه اسمِ جامد وي. ليكن كله كله اسمِ مشتق وي لكه (لِلّٰهِ دَرُّهُ فَارِسًا) دلته (فَارِسًا) تمييز اسمِ مشتق دي.

﴿دحال او دتمييز په درميان كښې فرق﴾

حال او تمييز په پنځو شيانو كښې متفق دي: (۱) دواړه اسم وي (۲) دواړه نكره وي (۳) دواړه منصوب وي (۴) دواړه فضله يعني زائد وي (۵) دواړه رافع ابهام دي. او په اوو شيانو كښې متفرق دي (۱) حال جمله او ظرف او جار مجرور واقع كيدې

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

سي، او تمييز صرف اسم مفرد راځي (۲) په حال باندي کله معني د کلام موقوف وي لکه (لَاتَقْرَبُوا الصَّلٰوةَ وَاَنْتُمْ سُكٰرٰى) الاية (سورة النساء ايت۴۳)، او تمييز داسي نه وي. (۳) حال مبين هيئت وي، او تمييز مبين ذات وي (۴) حال متعدد کيدېسي او تمييز ديوي سه زيات نه راځي (۵) حال کله په خپل عامل باندي مقدم کيدېسي لکه (خُشَّعًا اَبْصَارُهُمْ يَخْرُجُوْنَ) الاية (سورة القمر ايت۷) کښ (خُشَّعًا) حال مقدم دي د (يَخْرُجُوْنَ) دفاعل ضمير سه. او تمييز په عامل باندي نه مقدم کيږي (٦) په حال کښي اصل اشتقاق دي يعني اکثر اسم مشتق راځي، او په تمييز کښي اصل جمود دي (يعني اکثر اسم جامد راځي).او کله دواړه بر عکس وي. (۷) حال کله دخپل عامل تاکيد وي لکه (وَلَا تَعْثَوْا فِي الْاَرْضِ مُفْسِدِيْنَ) الاية (سورة البقرة ايت٦۰)، او تمييز دخپل عامل تاکيد نه راځي.

﴿دتمييز قانون﴾

دلته دوه قانونه دي: ﴿اول قانون﴾ په دې شعر کښ ذکر دي:

تمييز از عدد بر سه جهت دان ___ زسه تا ده بود مجموع مجرور
زده تا صد بود مفرد منصوب ___ زصد بالا هم آفراد مفرد مجرور

يعني دعدد تمييز په درې قسم دي: ﴿۱﴾ ددرو سه بيا ترلسو پوري دعدد تمييز: جمع او مجرور به وي لکه (عِنْدِىْ ثَلَاثَةُ رِجَالٍ. وَعِنْدِىْ عَشَرَةُ رِجَالٍ). په دې صورت کښ تمييز ځکه مجرور وي چه عدد ورته مضاف وي.

﴿۲﴾ دلسو سه بيا ترسلو پوري دعدد تمييز: مفرد او منصوب به وي لکه (عِنْدِىْ اَحَدَ عَشَرَ رَجُلًا .. وَعِنْدِىْ تِسْعَةٌ وَتِسْعُوْنَ رَجُلًا).

﴿۳﴾ دسل او دسل سه لوړ دټولو عدد تمييز: مفرد او مجرور به وي. دلته هم عدد مضاف وي تمييز ته لکه (عِنْدِىْ مِائَةُ رَجُلٍ . وَعِنْدِىْ اَلْفُ رَجُلٍ). داخو دتمييز قانون وو په اعتبار دافراد او دتثنيه او دجمع سره، او په اعتبار داعراب سره.

﴿دويم قانون﴾ دا دويم قانون دعدد او دتمييز دي په اعتبار دتذكير او دتانيث سره چه عدد او تمييز په تذكير او په تانيث كښي موافق به وي او كه مخالف.
چونكي دواحد او دتثنيه تمييز نه راځي لهذا دهغه ضرورت نسته. په اعتبار دتذكير او دتانيث سره دعدد او دتمييز اته صورتونه دي:
﴿اول صورت﴾ ددرو سه بيا تر لسو پوري هميشه عدد دتمييز سه مخالف وي په تذكير او په تانيث كښي يعني كه تمييز مذكر وو نو عدد به مؤنث وي، او نه تمييز مؤنث وو نو عدد به مذكر وي لكه (عِنْدِيْ ثَلَاثَةُ رِجَالٍ. وَعِنْدِيْ عَشْرُ نِسْوَةٍ). وغيره
﴿دويم صورت﴾ په يولس او په دولس كښي دعدد دواړه جزء به دتمييز سره موافق وي لكه (عِنْدِيْ اَحَدَ عَشَرَ رَجُلًا. عِنْدِيْ اِحْدٰى عَشَرَةَ اِمْرَاَةً. عِنْدِيْ اِثْنَا عَشَرَ رَجُلًا).
﴿دريم صورت﴾ دديارلس سه بيا تر نولس پوري دعدد اول جزء به مخالف وي او دوم جزء به موافق وي دتمييز سره لكه (عِنْدِيْ ثَلَاثَةَ عَشَرَ رَجُلًا. عِنْدِيْ ثَلَاثَ عَشَرَةَ اِمْرَاَةً. عِنْدِيْ تِسْعَةَ عَشَرَ رَجُلًا. عِنْدِيْ تِسْعَ عَشَرَةَ اِمْرَاَةً). وغيره.
﴿څلورم صورت﴾ د (عِشْرُوْنَ) يعني شلو سه بيا تر (تِسْعُوْنَ) يعني دنيوي پوري تولو لسيان (يعني دهائيان) به هر خالت كښي په خپل حالت باندي به وي لكه (عِنْدِيْ عِشْرُوْنَ رَجُلًا. عِنْدِيْ عِشْرُوْنَ امْرَاَةً. عِنْدِيْ تِسْعُوْنَ رَجُلًا. عِنْدِيْ تِسْعُوْنَ اِمْرَاَةً) وغيره.
﴿پنځم صورت﴾ يو او دوه: چه كله دلسيانو سره راسي. يعني (۲۱)(۲۲)(۲۳)(۳۱)(۳۲)(۴۱)(۴۲) بيا تر (۹۱)(۹۲) پوري. نو په دې صورت كښي به اول جزء موافق وي او دويم جزء به په خپل حالت باندي وي لكه (عِنْدِيْ اَحَدٌ وَّعِشْرُوْنَ رَجُلًا. عِنْدِيْ اِحْدٰى وَعِشْرُوْنَ اِمْرَاَةً. عِنْدِيْ اَحَدٌ وَّ تِسْعُوْنَ رَجُلًا. عِنْدِيْ اِحْدٰى وَتِسْعُوْنَ اِمْرَاَةً. عِنْدِيْ اِثْنَانِ وَعِشْرُوْنَ رَجُلًا. عِنْدِيْ اِثْنَتَانِ وَعِشْرُوْنَ اِمْرَاَةً). وغيره.
﴿شپږم صورت﴾ ددرو سه بيا تر نهو پوري چه كله دلسيانو سره راسي نو دعدد

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

اول جزء به مخالف وي او دويم جزء به په خپل حالت باندي وي يعني (۲۳)(۲۴) بيا تر (۲۹) پوري، او دارنگه (۹۳) (۹۵) بياتر (۹۹) پوري، او دارنگه هغه نور هم لکه (عِنْدِیْ ثَلَاثَةٌ وَعِشْرُوْنَ رَجُلًا . عِنْدِیْ ثَلَاثٌ وَعِشْرُوْنَ اِمْرَاَةً. عِنْدِیْ خَمْسَةٌ وَعِشْرُوْنَ رَجُلًا . عِنْدِیْ خَمْسٌ وَخَمْسُوْنَ اِمْرَاَةً. عِنْدِیْ تِسْعَةٌ وَ تِسْعُوْنَ رَجُلًا . عِنْدِیْ تِسْعٌ وَ تِسْعُوْنَ اِمْرَاَةً). وغيره.

﴿اووم صورت﴾ سل او زر چه کله دنورو عددو سره نه وي بلکي يوازي ذکر وي نو بيابه دوي په هر حالت کښي په خپل حالت باندي به وي لکه (عِنْدِیْ مِائَةُ رَجُلٍ. عِنْدِیْ مِائَةُ اِمْرَاَةٍ. عِنْدِیْ اَلْفُ رَجُلٍ. عِنْدِیْ اَلْفُ اِمْرَاَةٍ).

﴿اتم صورت﴾ که چيري دسل او د زر سره نور عدد ذکر وي نو تمييز به دلسيانو (يعني دهائيانو) موافق وي، ځکه قانون دادي چه اول به زر ، بيا به سل، بيا به اکائيان، بيا به لسيان ذکر کيږي. مثلاً يو سړي وائي: چه زماسره زر، او سل، او يو، اوشل، خلک دي نو عربي کښ به داسي وائي: (عِنْدِیْ اَلْفٌ وَمِائَةٌ وَّاَحَدٌ وَعِشْرُوْنَ رَجُلًا). اوکه په دغه مقدار ښځي وي بيا به داسي وائي: (عِنْدِیْ اَلْفٌ وَمِائَةٌ وَّاِحْدٰی وَعِشْرُوْنَ اِمْرَاَةً).

لنډه دا: چه په دې صورت کښ به داخري عدد په قانون باندي تمييز راځي.

﴿فائده(۹۹)﴾ ددرو سه بيا تر لسو پوري په عدد باندي چه کوم تاء راځي دا تاء دتانيث نه ده بلکي دا تاء دتذکير علامه ده ځکه چه دا تاء دلالت کوي په مذکر تمييز باندي. مثلاً په عبارت کښي صرف لفظ د (ثَلَاثَةٌ) ذکر دي، او تمييز يي نسته نو د (ثَلَاثَةٌ) تاء دلالت کوي په دې باندي چه دلته تمييز مذکر يعني (رِجَالٍ) دي.

﴿دمفعول به تعريف او دهغه بحث﴾

مفعول به هغه اسم ته وائي: چه په هغه باندي دفاعل فعل واقع سوي وي لکه (ضَرَبَ

زَيْدٌ كَافِرًا) دلته (كَافِرًا) مفعول به دي ځکه دزيد وهل په هغه باندي واقع سوي دي.
او په كلام عرب كښي د مفعول به حذف كيدل ډير زيات دي.
﴿تنبيه﴾ دا مذكوره ټوله مفاعيل يعني منصوبات لكه مفعول مطلق، مفعول فيه، مفعول له، مفعول معه، حال، تمييز، مفعول به. ټوله زائد دي، او جمله په پوره كېدو كښي دوي ته محتاج نه ده، ځكه چه جمله په فعل او په فاعل باندي پوره كيږي يعني په مسند او په مسند اليه باندي. نو په دې وجه د مفاعيل په باره كښي په عربي كښي مشهوره ده (اَلْمَنْصُوْبُ فُضْلَةٌ) يعني منصوبات زائد دي.

﴿فصل﴾

په دې فصل كښې د فاعل بحث كيږي. او فاعل په دوه قسم دي (١) مظهر يعني فاعل اسم ظاهر وي لكه (ضَرَبَ زَيْدٌ). (٢) مضمر يعني فاعل اسم ضمير وي. مضمر بيا په دوه قسم دي (١) بارز يعني ضمير ښكاره وي لكه (ضَرَبْتُ) وغيره (٢) ضمير مستتر يعني ضمير پټ وي لكه (زَيْدٌ ضَرَبَ) كښي (هُوَ) ضمير د فاعل مستتر دي. او (هِنْدٌ ضَرَبَتْ) كښي (هِيَ) ضمير د فاعل مستتر دي.

﴿قانون او ضابطه د فعل په تذكير او په تانيث كښې﴾

يعني فعل به كله مذكر راوړل كيږي او كله به مؤنث، نو په دې كښې دري صورتونه دي:
﴿اول صورت﴾ كه چيري د فعل فاعل مؤنث حقيقي وي، يا داسي ضمير وي چه مؤنث حقيقي ته راجع وي نو په دې دواړو حالتو كښې به په فعل كښي علامه د تانيث راوړل ضروري وي. د مؤنث حقيقي مثال لكه (قَامَتْ هِنْدٌ). او د هغه بل مثال لكه (هِنْدٌ قَامَتْ) كښې (هِيَ) ضمير د فاعل مستتر دي چه راجع (هِنْدٌ) ته دي.
﴿دويم صورت﴾ كه چيري د فعل فاعل مؤنث غير حقيقي وي، او يا جمع مكسره وي، جمع مكسره كه د مذكر وي او كه د مؤنث غير حقيقي وي نو په دې صورت كښي په فعل كښي علامه د تانيث راوړل او نه راوړل دواړه جائز دي. د مؤنث غير حقيقي مثال (طَلَعَ

الشَّمْسُ وَطَلَعَتِ الشَّمْسُ). د جمع مکسره مذکر مثال (قَالَ الرِّجَالُ. وَقَالَتِ الرِّجَالُ).
د جمع مکسره مؤنث حقيقي مثال (قَالَ نِسْوَةٌ. وَقَالَتْ نِسْوَةٌ).
(نِسْوَةٌ) جمع ده د (اِمْرَاَةٌ) خو مِنْ غَيْرِ لَفْظِهٖ.

﴿دريم صورت﴾ که چيري د فعل فاعل مذکر او مفرد وي، او ياداسي ضمير وي چه مذکر مفرد ته راجع وي نو فعل مذکر راوړل ضروري دي لکه (زَيْدٌ ضَرَبَ) کښې (هُوَ) ضمير فاعل دي چه (زَيْدٌ) ته راجع دي. او په (ضَرَبَ زَيْدٌ) کښې (زَيْدٌ) فاعل دي.

او س د دې متعلق درې فوائد:

﴿الفائدة الاولى(۱۰۰)﴾ مونږ داوويل: که چيري فاعل مؤنث حقيقي وي او يا د مؤنث ضمير وي نو په فعل کښې علامه د تانيث واجب ده. خو داپه هغه صورت کښې چه د فعل او د فاعل په درميان کښې فاصله نه وي. او که چيري فاصله وي نو بيا علامه د تانيث راوړل او نه راوړل دواړه جائز دي لکه (سَبَقَ عَلَى الرَّجُلِ اِمْرَاَةٌ). او (سَبَقَتْ عَلَى الرَّجُلِ اِمْرَاَةٌ). او دارنګه (مَاشَرِبَ مِنْهُ الهِرَّةُ). (مَاشَرِبَتْ مِنْهُ الهِرَّةُ). دلته (اَلهِرَّةُ) مؤنث حقيقي دي.

﴿الفائدة الثانية (۱۰۱)﴾ که چيري فاعل اسم ظاهر وي نو په هر حالت کښې فعل مفرد راوړل ضروري دي. که فاعل مفرد وي او که تثنيه او که جمع وي لکه (قَالَ الرَّجُلُ. قَالَ الرَّجُلَانِ. قَالَ الرِّجَالُ. قَالَتِ الاِمْرَاَةُ. قَالَتِ الامْرَاَتَانِ. قَالَتْ نِسْوَةٌ).

﴿الفائدة الثالثة (۱۰۲)﴾ که فاعل اسم ظاهر جمع مذکر سالم د ذوي العقول وي نو په فعل کښې علامه د تانيث راوړل ناجائز دي لکه (قَالَ الْمُسْلِمُوْنَ) ويل جائز دي. او (قَالَتِ الْمُسْلِمُوْنَ) ويل ناجائز دي. او د جمع مذکر سالم د ذوي العقول علامه داده: چه دا جمع به په واو او په نون سره راځي.

البته که چيري د غير ذوي العقول جمع په واو او په نون سره راسي نو بيا په فعل کښې

علامه دتانيث راوړل جائز دي لكه (عُيُوْنٌ) جمع د(عَيْنٌ) ده. او(شُيُوْنٌ) جمع د(شَانٌ) ده. او (سِنُوْنَ. اَرَضُوْنَ) جمع د (سَنَةٌ. اَرْضٌ) ده.

﴿اعتراض﴾ اعتراض دادي چه دذوي العقول جمع به وي او په واو او په نون سره به وي او په فعل كښې به علامه دتانيث راوړل سوې وي حالانكي تا ويلي وه: چه دا ناجائز دي لكه (اٰمَنَتْ بِهٖ بَنُوْٓا اِسْرَآءِيْلَ) الاية (سورة يونس ايت ۹۰) او (بَنُوْ) په اصل كښې (بَنُوْنَ) وو، په اضافت سره نون ساقط سوې دي.

﴿جواب﴾ جواب دادي: چه (بَنُوْنَ) محمول دي په (اَبْنَاءٌ) باندي. او (اَبْنَاءٌ) جمع مذكر مكسره ده د(اِبْن). او دجمع مذكر مكسر په صورت كښې علامه دتانيث په فعل كښې راوړل جائز دي، نو دلته هم علامه تانيث راوړل سوې ده.

﴿فعل مجهول﴾

فعل په دوه قسمه دي (۱) فعل معلوم. ددې بحث تير سو (۲) فعل مجهول. اوس دفعل مجهول متعلق بحث ذكر كيږي. او فعل مجهول هغه فعل ته وائي: چه فاعل يې نامعلوم وي. يعني فاعل يې معلوم نه وي. او فعل مجهول دفاعل په ځاي نائب فاعل ته رفع وركوي، او باقي مفعولات ته نصب وركوي لكه (ضُرِبَ زَيْدٌ يَوْمَ الْجُمُعَةِ اَمَامَ الْاَمِيْرِ ضَرْبًا شَدِيْدًا فِيْ دَارِهٖ تَادِيْبًا وَالْخَشَبَةَ). او فعل مجهول ته فعل مالم يسم فاعله هم واي. او نائب فاعل ته مفعول مالم يسم فاعله هم واي.

﴿فائده(۱۰۳)﴾ مفعول به چه موجود وي نو بل شي نائب فاعل جوړول صحيح نه دي. او نائب فاعل څلور شيان راتلې سي (۱) مفعول به (۲) مصدر لكه (فَاِذَا نُفِخَ فِي الصُّوْرِ نَفْخَةٌ وَّاحِدَةٌ) الاية (سورة الحاقة ايت ۱۳). (۳) ظرف لكه (صِيْمَ رَمَضَانُ). (۴) جار مجرور لكه (اَلْمَغْضُوْبِ عَلَيْهِمْ). په شرط ددې چه په حروفو جارو كښې حرف استثناء او حرف قسم نه وي.

﴿فائده(۱۰۴)﴾ ظرف او جار مجرور چه كله نائب فاعل واقع وي نو په دې صورت

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

کښې نائب فاعل په فعل باندې مخکې کول جائز دي بلکې په بعضې وختونو کښې مقدم کول اَولی وي. ظرف یا جار مجرور چه نائب فاعل واقع وي نو په فعل باندې مخکې کول ځکه جائز دي چه ظرف او جار مجرور په فعل باندې مقدم کولو په وجه جمله فعليه نه بدلیږي په جمله اسميه باندې بخلاف دباقي اسماؤ وغیره چه نائب فاعل واقع وي او په فعل باندې مقدم سي نو جمله فعليه په جمله اسميه باندې بدلیږي.

﴿فصل﴾ دا فصل دفعل متعدي په باره کښې دي. اوفعل متعدي هغه فعل ته وائي: چه مفعول ته محتاج وي او صرف په فاعل باندې خبره نه پوره کیږي.

او فعل متعدي په څلور قسمه دي.

﴿اول قسم﴾ متعدي بيک مفعول. دا هغه فعل متعدي دي چه ديوه مفعول تقاضا کوي. او دا بیاپه دوه قسم دي (۱) متعدي وي یوه مفعول ته بغیر دواسطه لکه (ضَرَبَ زَيْدٌ كَافِرًا). (۲) متعدي وي یو مفعول ته په واسطه سره لکه (شَكَرْتُ لَهُ).

﴿دويم قسم﴾ دويم قسم هغه فعل متعدي دي چه دوه مفعوله غواړي او په یو مفعول باندې اکتفاء کول جائز وي لکه (اَعْطٰی) او نور هغه افعال چه د (اَعْطٰی) په معني دي مثلاً (اٰتٰی) وغیره لکه (اَعْطَيْتُ زَيْدًا دِرْهَمًا) او (اَعْطَيْتُ دِرْهَمًا) ويل هم جائز دي. او ددې دويم قسم دفعل متعدي علامه داده: چه دواړه مفعول په اصل کښې مبتداء او خبر نه وي.

﴿دريم قسم﴾ هغه فعل متعدي دي چه دوه مفعوله غواړي. او په یوه مفعول باندې اکتفاء کول جائز نه وي. او دا دواړه مفعول په اصل کښې مبتداء او خبر وي نو ځکه یو حذف کول ناجائز وي. او دیته افعال قلوب واي. او افعال قلوب اووه دي(۱) عَلِمْتُ (۲) ظَنَنْتُ (۳) حَسِبْتُ (۴) خِلْتُ (۵) زَعَمْتُ (۶) رَاَيْتُ (۷) وَجَدْتُ. لکه (عَلِمْتُ زَيْدًا فَاضِلًا) چه په اصل کښې دا دواړه مفعلونه مبتداء او خبر وه لکه (زَيْدٌ فَاضِلٌ).

Scanned with CamScanner

افعال قلوب په دوه قسم دي: (۱) چه دیقین دمعني دپاره وي لکه (عَلِمْتُ . وَجَدْتُ . رَأَيْتُ). (۲) چه دشک دمعني دپاره وي لکه (ظَنَنْتُ . حَسِبْتُ . خِلْتُ).

او لفظ د (زَعَمْتُ) دیقین او دشک ددواړو دپاره راځي لکه (زَعَمْتُ اللهَ غَفُوْرًا) زما یقین دي په الله تعالي باندي چه بخښونکي دي. (زَعَمْتُ الشَّيْطَانَ شَكُوْرًا) زما گمان دي چه شیطان په لړ گناه باندي شکر ادا کړي یعني خوشحاله سي.

﴿تنبیه﴾ لفظ دشکور که چیري دد ې نسبت الله تعالي ته وسي نو په معني دقبلونکي دي او په معني دقدردان دي یعني دشکر والا قدر کوي. او که دمؤمن صفت وي نو بیا په معني دډیر زیات شکر کولو والا دي. او که نسبت یي شیطان ته وسي نو په معني دلږ گناه باندي نه خوشحاله کیدل.

﴿ څلورم قسم ﴾ هغه فعل متعدي دي چه ددرو مفعولو تقاضا کوي. او دا اووه افعال دي (۱) اَعْلَمَ (۲) اَرٰى (۳) اَنْبَأَ (۴) اَخْبَرَ (۵) خَبَّرَ (۶) نَبَّأَ (۷) حَدَّثَ لکه (اَعْلَمَ اللهُ زَيْدًا عَمْرًا فَاضِلًا).

﴿فائده (۱۰۵)﴾ په مذکوره اوو افعال کښي دا څلور (اَخْبَرَ . خَبَّرَ . نَبَّأَ . حَدَّثَ) دا په اصل کښي دوه مفعول غواړي، اول مفعول بغیر واسطه اودویم مفعول په واسطه دباء حرف جار اویاپه واسطه دعَن حرف جار سره لکه (اَنْبَاَهُمْ بِاَسْمَآئِهِمْ) الاية (سورة البقرة ایت۳۳). او کله دا حرف محذف وي لکه (مَنْ اَنْبَاَكَ هٰذَا) الاية (سورة التحريم ایت۳). البته که چیري دا څلور افعال د (اَعْلَمَ) او د (اَرٰى) معني ته متضمن وي نو بیا د (اَعْلَمَ . وَ اَرٰى) په شان عمل کوي.

﴿ دافعال قلوب متعلق پنځه فوائد ﴾

﴿اوله فائده (۱۰۶) ﴾ که چیري (عَلِمْتُ) د (عَرَفْتُ) په معني وي، او (وَجَدْتُ) د (اَصَبْتُ) په معني وي، او (رَاَيْتُ) د (اَبْصَرْتُ) په معني وي نو بیا داتوله دیو مفعول

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

تقاضا کوي. او دوه مفعوله نه غواړي.

﴿دویمه فائده(۱۰۷)﴾ که چیري دافعال قلوب په مفعول باندي (اَنَّ) یا(اَنْ) داخل سوي وي نو دنحاتو په دې کښي درې اقوال دي (۱) دسیبویه په نیز اَن مابعد جمله په تاویل دمصدر مفرد ګرځوي، او دا بیا قائم مقام ددوو مفعولو ګرځي.

(۲) داخفش په نیز اَن مابعد جمله په تاویل دمصدر مفرد ګرځوي، او دا بیا قائم مقام داول مفعول ګرځي، او دویم مفعول محذوف وي چه (حَاصِلًا) به رایستل کیږي

(۳)بعضي نحات فرمائي: چه اَن مابعد جمله په تاویل دمصدر مفرد ګرځوي، او بیا داقائم مقام داول مفعول ګرځي، او دویم مفعول دلته نه وي یعني ددویم مفعول دلته ضرورت نسته.

﴿دریمه فائده(۱۰۸)﴾افعال قلوب که چیري د دواړو مفعول سه مخکي وي نو په دې صورت کښ عمل کوي وجوبا لکه (عَلِمْتُ زَيْدًا فَاضِلًا). او که چیري افعال ددواړو مفعول سه وروسته واقع وي، او یاپه درمیان کښي واقع وي نو په دې صورت کښي افعال قلوب غیر عامله دي لکه (زَيْدٌ قَائِمٌ ظَنَنْتُ. وزَيْدٌ ظَنَنْتُ قَائِمٌ).

﴿څلورمه فائده(۱۰۹)﴾ (اِتِّخَاذ) مصدر، او (تَرَكَ)، او (اِتَّخَذَ)، او (وَهَبَ). داڅلور هم ددوومفعولو تقاضا کوي. او د(اِتِّخَاذ) مصدر دویم مفعول اکثر محذوف وي. لکه (اِنَّكُمْ ظَلَمْتُمْ اَنْفُسَكُمْ بِاتِّخَاذِكُمُ الْعِجْلَ) الاية (سورة البقرة ايت۵۴).اى بِاتِّخَاذِكُمُ الْعِجْلَ مَعْبُوْدًا). د(اِتَّخَذَ) مثال (وَاتَّخَذَ اللهُ اِبْرٰهِيْمَ خَلِيْلًا) الاية (سورة النساء ايت۱۲۵).

﴿پنځمه فائده(۱۱۰)﴾ (جَعَلَ) که چیري د(صَيَّرَ) په معني وي نو دا هم دوه مفعول غواړي لکه (فَجَعَلْنٰهُ هَبَآءً مَّنْثُوْرًا) الاية(سورة الفرقان ايت۲۳). او که (جَعَلَ) د(خَلَقَ) په معني وي نو بیا یو مفعول غواړي لکه (وَجَعَلَ الظُّلُمٰتِ وَالنُّوْرَ) الاية (سورة الانعام ايت۱).

او کله (جَعَلَ) د(مَكَّنَ) په معني هم راځي لکه (وَكَذٰلِكَ جَعَلْنَا فِيْ كُلِّ قَرْيَةٍ اَكٰبِرَ مُجْرِمِيْهَا) الاية (سورة الانعام ايت۱۲۳) اَىْ وَمَكَّنَّا). او د(مَكَّنَ)معني ده: قدرت ورکول.

Scanned with CamScanner

﴿بدانكه﴾ دا تولہ مفعولات مفعول بہ دي. او د (عَلِمْتُ) په باب كښې دويم مفعول او د (اَعْلَمْتُ) په باب كښې دريم مفعول او مفعول له او مفعول معه دا ټلور نائب فاعل نه سي واقع كيدلاي. او باقي نائب فاعل واقع كيدې سي. او د (اَعْطَيْتُ) په باب كښې اول مفعول نائب فاعل جوړول ډيرزيات مناسب دي په نسبت د دويم مفعول.

﴿افعال ناقصه اوولس دي﴾

(كَانَ . صَارَ . ظَلَّ . بَاتَ . اَصْبَحَ . اَضْحٰى . اَمْسٰى . عَادَ . اٰضَ . غَدَا . رَاحَ . مَازَالَ . مَاانْفَكَّ . مَابَرِحَ . مَافَتِئَ . مَادَامَ . لَيْسَ). د افعال ناقصه عمل: رافع الاسم وناصب الخبر دي يعني اسم ته رفع وركوي او خبر ته نصب وركوي لكه (كَانَ زَيْدٌ قَائِمًا). افعال ناقصه په دې وجه ناقصه وائي: چه په خپل مرفوع يعني په اسم باندي نه تاميږي بلكي خبر ته محتاج وي. او افعال ناقصه په جمله اسميه باندي داخليږي نو مسندالیه يعني مبتداء ته رفع وركوي بنابر اسميت او خبر ته نصب وركوي بنابر خبريت يعني مبتداء د دې افعالو دپاره اسم جوړيږي او خبر د دې افعالو دپاره خبر جوړيږي.

﴿تنبيه﴾ بعض افعال ناقصه په بعضو حالتو كښې په فاعل باندي تاميږي يعني پوره كيږي لكه (كَانَ مَطَرٌ) اَيْ حَصَلَ مَطَرٌ). او (كَانَ) كله زائده وي لكه (مَاكَانَ اَصَحَّ عِلْمُ مَنْ تَقَدَّمَ). د (كَانَ) زائده علامه دا ده چه د كلام سره حذف سي نو په معني كښې هيڅ خلل او نقصان نه راځي.

﴿د افعال ناقصه متعلق اته فوائد﴾

﴿اوله فائده(١١١)﴾ (كَانَ) د خپل اسم دپاره د خبر په ثبوت باندي دلالت كوي. او دا ثبوت به كله ممكن الانقطاع وي يعني ختميدل یې ممكن وي، او كله به ممتنع الانقطاع وي. نو چه ممكن الانقطاع وي نو د (كَانَ) معني په (وو) يا په (دي) سره كيږي لكه (كَانَ زَيْدٌ قَائِمًا) يعني زيد ولاړ وو. يا زيد ولاړ دي. او كه چيري دا ثبوت ممتنع الانقطاع وي

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

نو بيا به د (كَانَ) معني په (دي) سره كيږي. او په (وو) سره معني كول ناجائز دي لكه (كَانَ اللهُ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا) يعني الله تعالي ډير زيات بخښنه كونكي او رحم كونكي دي. او دا معني كول ناجائز او غير صحيح ده: چه الله تعالي ډير زيات بخښنه كونكي او رحم كونكي وو.

﴿دويمه فائده (۱۱۲)﴾ (كَانَ) زائده راځي كله د موصوف او د صفت په درميان كښي، او كله د مَا او د فعل تعجب په درميان كښي راځي، او كله د عاطف او د معطوف په درميان كښي، او كله د (نِعْمَ) فعل او د هغه د فاعل په درميان كښي، او كله د فعل او د فاعل په درميان كښي راځي.

﴿دريمه فائده (۱۱۳)﴾ (عَادَ. غَدَا. اٰضَ. رَاحَ). دا څلور چه كله ناقصه وي نو د (صَارَ) په معني باندي وي. او د (صَارَ) معني ده: ديو حالت سه بل حالت ته بدليدل نو معني يي په (سو) سره كيږي لكه (صَارَ زَيْدٌ عَالِمًا) يعني زيد عالم سو. او كه دا څلور ناقصه نه وي نو بيا (عَادَ. اٰضَ) د (رَجَعَ) په معني دي لكه (عَادَ زَيْدٌ مِنْ سَفَرِهِ) اَىْ رَجَعَ زَيْدٌ مِنْ سَفَرِهِ). او (غَدَا. رَاحَ) په معني د (ذَهَبَ) دي. دوخت دقيد سره يعني په (غَدَا) كښي طلوع الفجر او طلوع الشمس په درميان كښي دوخت قيدوي. او په (رَاحَ) كښي د زوال الشمس او دغروب الشمس په درميان كښي دوخت قيد وي لكه (غَدَا زَيْدٌ) يعني زيد ولاړي دطلوع الفجر سه وروسته او دطلوع الشمس سه مخكي. يعني سحار وختي ولاړي. او. (رَاحَ زَيْدٌ) يعني زيد ولاړی دزوال الشمس سه وروسته او دغروب الشمس سه مخكي يعني ماځكر ولاړي.

﴿څلورمه فائده (۱۱۴)﴾ (مَاانْفَكَّ. مَازَالَ. مَابَرِحَ. مَافَتِئَ) ددې څلورو افعالو په شروع كښي مَا نافيه ده، او په خپل دغه افعال هم دنفي په معني باندي دلالت كوي نو مَا هم نافيه او ددوي معني هم دنفي، نو نفي په نفي باندي داخل سوه، او قاعده

داده: چه نفي په نفي باندي داخل سي نو د اثبات معني پيدا کوي لکه (مَازَالَ زَيْدٌ نَائِمًا) زيد هميشه بيده وي.

او په (مَادَامَ) کښي مَا مصدريه حينيه ده ځکه چه د وخت په معني باندي دلالت کوي لکه (اِجْلِسْ مَادَامَ زَيْدٌ جَالِسًا). اَیْ اِجْلِسْ وَقْتَ جُلُوْسِ زَيْدٍ).

﴿پنځمه فائده (۱۱۵)﴾ په افعال ناقصه کښي هغه افعال چه په شروع کښي ما دي او (لَيْسَ) دا هميشه ناقصه راځي، او تامه نه راځي. او دا شپږ افعال دي: (۱) مَاانْفَكَّ (۲) مَازَالَ (۳) مَابَرِحَ (۴) مَافَتِئَ (۵) مَادَامَ (٦) لَيْسَ.

﴿شپږمه فائده (۱۱٦)﴾ مخکني شپږ افعال ناقصه يعني (مَاانْفَكَّ. مَازَالَ. مَابَرِحَ مَافَتِئَ. مَادَامَ. لَيْسَ) غير متصرف دي، او باقي متصرف دي.

﴿اوومه فائده (۱۱۷)﴾ (مَافَتِئَ) کښي په تاء باندي درې حرکات جائز دي: فتحه، کسره، ضمه لکه (مَافَتَئَ. مَافَتِئَ. مَافَتُؤَ). او ددې ماده سه باب افعال هم راځي لکه (اَفْتَیٰ. يُفْتِيْ. اِفْتَاءً).

﴿اتمه فائده (۱۱۸)﴾ دټولو افعال ناقصه په اسم باندي خبر مخکي کول جائز دي لکه (كَانَ قَائِمًا زَيْدٌ)، ليکن دا خبره چه خبر په افعال باندي مخکي کيدې سي او کنه. نو په دې اعتبار سره افعال ناقصه په درې قسم دي: اول قسم: په يولس افعال ناقصه باندي خبر مقدم کول جائز دي. او هغه افعال دا دي: (۱) كَانَ (۲) صَارَ (۳) ظَلَّ (۴) بَاتَ (۵) اَصْبَحَ (٦) اَضْحٰی (۷) اَمْسٰی (۸) عَادَ (۹) آضَ (۱۰) رَاحَ (۱۱) غَدَا.

دويم قسم: په پنځو افعال ناقصه باندي خبر مقدم کول ناجائز دي، دا هغه افعال دي چه په شروع کښي مَا سته لکه (مَاانْفَكَّ. مَازَالَ. مَادَامَ. مَابَرِحَ. مَافَتِئَ).

دريم قسم: (لَيْسَ) کښي دوه قوله دي (۱) خبر په (لَيْسَ) باندي مقدم کول ناجائز دي. (۲) خبر په (لَيْسَ) باندي مقدم کول جائز دي.

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

﴿افعال مقاربه﴾

افعال مقاربه د افعال ناقصه په شان رافع الاسم وناصب الخبر دي، او دا هم په جمله اسميه باندي داخليږي. افعال مقاربه په درې قسم دي (۱) په معني د (قَرُبَ). (۲) په معني د (رَجَاءَ). (۳) په معني د (شَرَعَ).

﴿اول قسم: په معني دقَرُبَ﴾ دا هغه افعال مقاربه دي چه په دې خبره باندي دلالت كوي چه داسم دپاره دخبر ثبوت عنقريب يعني نژدې كيدونكي دي. او دا افعال درې دي: (۱) كَادَ (۲) كَرَبَ (۳) اَوْشَكَ. دادرې سره په معني د (قَرُبَ) دي لكه (يَكَادُ الْبَرْقُ يَخْطَفُ اَبْصَارَهُمْ) الاية (سورة البقرة ايت ۲۰). بل مثال (يُوْشَكُ الْاُمَمُ اَنْ تُدْعٰى)

﴿دويم قسم: په معني درَجَاءَ﴾ هغه افعال مقاربه دي چه د اميد په معني باندي دلالت كوي. دا هم درې افعال دي: (۱) عَسٰى (۲) حَرَى (۳) اِخْلَوْلَقَ. لكه (عَسٰى رَبُّكُمْ اَنْ يَرْحَمَكُمْ) الاية (سورة الاسراء ايت ۸).

﴿دريم قسم: په معني دشَرَعَ﴾ دا هغه افعال مقاربه دي په د (شَرَعَ) په معني دلالت كوي يعني په دې خبره دلالت كوي چه د اسم دپاره دخبر ثبوت شروع سوي دي. او دا افعال مقاربه ډير دي، خو مشهور په كښې دا څلور دي (۱) جَعَلَ (۲) طَفِقَ (۳) عَلِقَ (۴) اَخَذَ. لكه (فَطَفِقَ مَسْحًا بِالسُّوْقِ وَالْاَعْنَاقِ) الاية (سورة ص ايت ۳۳).

﴿دافعال مقاربه متعلق څلور فوائد﴾

﴿اوله فائده(۱۱۹)﴾ افعال مقاربه دافعال ناقصه سره په دوو شيانو كښي موافق يعني يوشان دي. او په يوشي كښي يي فرق دي. اوموافق دوه شيان دادي (۱) دواړه رافع الاسم وناصب الخبر دي (۲) دواړه په جمله اسميه باندي داخليږي. او فرق يي دادي: چه دافعال مقاربه خبر صرف فعل مضارع وي. كله د (اَنْ) سره، اوكله بغير د (اَنْ). او دافعال ناقصه دپاره دا ضروري نه ده چه خبر به صرف مضارع وي. لكه (عَسٰى زَيْدٌ اَنْ يَخْرُجَ). بغير (اَنْ) لكه (وَمَا كَادُوْا يَفْعَلُوْنَ) الاية (سورة البقرة ايت ۷۱).

لیکن شاذ او نادر دافعال مقاربه خبر اسم وي. او کله فعل مضارع د (اَنْ) سره دافعال مقاربه دپاره فاعل وي لکه (عَسٰی اَنْ یَخْرُجَ زَیْدٌ) اَیْ خُرُوْجُ زَیْدٍ) نو په دې صورت کښې (عَسٰی) تامه دي.

﴿دویمه فائده (۱۲۰)﴾ دا افعال هم د (شَرَعَ) په معنی دي (اَنْشَأَ . هَبَّ . بَدَءَ) لیکن غیر مشهور دي.

﴿دریمه فائده (۱۲۱)﴾ (جَعَلَ) په ډیرو معنی سره راځي، لیکن درې معنی یې مشهورې دي (۱) په معنی د (خَلَقَ). (۲) په معنی د (صَيَّرَ). (۳) په معنی د (شَرَعَ). په اخري معنی سره جَعَلَ دافعال مقاربه سه دي.

﴿ځلورمه فائده (۱۲۲)﴾ دافعال مقاربه اسم که چیرې اسم ظاهر وي نو بیا داسم او دخبر په درمیان کښې په دوو شیانو کښې مطابقت او موافقت ضروري دي (۱) په افراد. تثنیه. جمع کښې (۲) په تذکیر او په تانیث کښې لکه (عَسٰی الزَّیْدَانِ اَنْ یَقُوْمَا... وَعَسَتْ هِنْدٌ اَنْ تَقُوْمَ) وغیره.

﴿افعال مدح و ذم﴾

افعال مدح و ذم هغه افعال دي چه دمدح او دذم دپاره وضع سوي وي لهذا (مَدَحْتُهُ وَذَمَمْتُهُ) افعال مدح وذم سه نه دي ځکه چه ددوي وضع د مدح او دذم دپاره نه ده سوې: او افعال مدح و ذم څلور دي (۱) نِعْمَ (۲) حَبَّذَا. دا دواړه افعال مدح دي. (۳) بِئْسَ (۴) سَاءَ. دادواړه افعال ذم دي. او کوم اسم چه دافعال مدح دفاعل وروسته واقع وي هغه ته مخصوص بالمدح واي. او کوم اسم چه د افعال ذم دفاعل وروسته واقع وي هغه ته مخصوص بالذم واي. او (نِعْمَ . بِئْسَ . سَاءَ) ددې درو افعالو فاعل به په درو شیانو کښې یو خامخا وي: (۱) معرف بالام لکه (نِعْمَ الرَّجُلُ زَیْدٌ) دلته (نِعْمَ) فعل مدح دي، او (اَلرَّجُلُ) فاعل دي، او (زَیْدٌ) مخصوص

بالمدح دي. (۲) مضاف به وي معرف بالام ته لكه (نِعْمَ صَاحِبُ الْقَوْمِ زَيْدٌ). (۳) ضمير مستتر مبهم مميز بنكره منصوبه. يعني فاعل به ضمير مستتر مبهم وي چه تمييز يي په نكره منصوبه سره راغلي وي لكه (نِعْمَ رَجُلًا زَيْدٌ) دلته فاعل (هُوَ) ضمير دي چه مستتر دي په (نِعْمَ) كښي. او (رَجُلًا) دفاعل ضمير سه تمييز دي. او (بِئْسَ سَاءَ) په (نِعْمَ) باندې قياس كړه لكه (بِئْسَ الرَّجُلُ فِرْعَوْنُ. وَسَاءَ الرَّجُلُ هَامَانُ).

او (حَبَّذَا) كښي (حَبَّ) فعل مدح دي، او (ذَا) يي فاعل دي. او دا (ذَا) په (حَبَّذَا) كښي هميشه فاعل وي يعني بل شي فاعل نه سي راتلې لكه (حَبَّذَا زَيْدٌ) كښي (حَبَّ) فعل مدح، او (ذَا) يي فاعل دي، او (زيد) مخصوص بالمدح دي.

﴿فائده (۱۲۳)﴾ (بِئْسَ. سَاءَ. نِعْمَ) ددې درو افعالو دفاعل او دمخصوص بالمدح والذم كښي مطابقت په دوو شيانو كښي ضروري دي (۱) افراد، تثنيه، جمع (۲) په تذكير او په تانيث كښي لكه (نِعْمَ الرَّجُلَانِ الزَّيْدَانِ) وغيره.

﴿فائده (۱۲۴)﴾ د (حَبَّذَا) دمخصوص بالمدح سه مخكي يا وروسته حال او تميز راوړل جائز دي لكه (حَبَّذَا رَجُلًا زَيْدٌ. وحَبَّذَا رَاكِبًا زَيْدٌ). دا دمخكي مثالونه دي. او (حَبَّذَا زَيْدٌ رَجُلًا. وحَبَّذَا زَيْدٌ رَاكِبًا) دلته وروسته ذكر دي.

﴿فعل تعجب﴾

فعل تعجب هغه فعل ته وائي: چه دهغه په ذريعه سره په يو شي باندې تعجب كيږي. او فعل تجب دهر ثلاثي دمجرد دمصدر سه صرف دوې صيغې راځي (۱) مَا اَفْعَلَهُ لكه (مَا اَحْسَنَ زَيْدًا). (۲) اَفْعِلْ بِهٖ لكه (اَحْسِنْ بِهٖ).

د اولي صيغه په تركيب كښي دوه قوله دي: (اول قول) مَا په معني د (اَيُّ شَيْءٍ) دي او مبتداء ده. او مابعد يي خبر دي. دا د سيبويه او دفراء قول دي. (مَا اَحْسَنَ زَيْدًا).

تقديري عبارت داسي دي: (اَیُّ شَیٍٔ اَحْسَنَ زَیْدًا).

(دويم قول) مَا په معني د (اَلَّذِیْ) دي او مابعد يي صله ده، او موصول د خپلې صله سره مبتداء ده، او خبر يي محذوف دي. يا (مَا) په معني د (شَیْءٌ) موصوف دي او مابعد يي صفت دي، او موصوف د خپل صفت سره مبتداء ده، او خبر يي محذوف دي. دا د اخفش قول دي.

او په دويمه صيغه کښې يو ترکيب دي. چه دا صيغه دامر ده خو په معني د خبر ده چه فعل ماضي ده. نو (اَحْسِنْ بِهٖ) په معني د (اَحْسَنَ زَیْدٌ) دي. اَیْ صَارَ ذَاحُسْنٍ). او د لته باء زائده ده. تر دې ځايه پورې دويم باب ختم سو الحمدالله و بتوفيقه تعالى.

﴿باب سوم در عمل اسماء﴾

په دې باب کښې هغه اسماء ذکر کيږي چه هغه عمل کوي په فعل مضارع او په اسم متمکن باندي يعني د اسماء عامله بحث کيږي. او دا اسماء عامله په يولس قسم دي. اجمالاً دا دي (۱) اسماء شرطيه (۲) اسماء افعال بمعني فعل ماضي (۳) اسماء افعال بمعني امر حاضر (۴) آسم فاعل (۵) اسم مفعول (٦) صفت مشبه (۷) اسم تفضيل (۸) مصدر (۹) اسم مضاف (۱۰) اسم تام (۱۱) اسماء کنايات.

﴿اول قسم: اسماء شرطيه﴾

اسماء شرطيه نهه دي (۱) مَنْ (۲) مَا (۳) اَيْنَ (۴) مَتٰى (۵) اَیٌّ (٦) اَنّٰى (۷) اِذْمَا (۸) حَيْثُمَا (۹) مَهْمَا. دا اسماء د (اِنْ) شرطيه په معني دي نو په دې وجه د (اِنْ) شرطيه پشان عمل کوي. او د (اِنْ) شرطيه پشان په دوو جملو باندي داخليږي (۱) جمله شرط (۲) جمله جزاء . البته. دا اسماء دي او د اسماؤ ځه نا ځه اعراب ضرور وي، او (اِنْ) حرف دي نو ځکه د اعراب ضرورت يي نسته. او په اسماء شرطيه کښې چه کوم اسماء د ظرفيت په معني دلالت کوي نو هغه د خپل شرط د پاره مفعول فيه مقدم وي. او کوم اسماء شرطيه چه د ظرفيت په معني باندي دلالت نه کوي نو هغه مفعول به

Scanned with CamScanner

Maktaba Tul Ishaat.com

مقدم دي او يا به مبتداء واقع وي نو د خبر په باره کښې درې اقوال دي (١) جزء اول يعني شرط يي خبر دي (٢) جزء دوم يعني جزاء يي خبر دي (٣) شرط او جزاء دواړه خبر دي. اوس د اسماء شرطيه مثالونه وغيره. ﴿مَنْ﴾ اكثر د ذوي العقول د پاره راځي لكه (مَنْ يَكْرِمْنِيْ اَكْرِمْهُ). ﴿مَا﴾ اكثر د غير ذوي العقول د پاره راځي لكه (مَاتَشْتَرِيْ اَشْتَرِيْ). ﴿اَيٌّ﴾ صرف د ذوي العقول د پاره راځي، او د دې اضافت ضروري دي لكه (اَيُّهُمْ يَضْرِبْنِيْ اَضْرِبْهُ). ﴿مَتٰى﴾ د ظرف زمان د پاره راځي لكه (مَتٰى تَذْهَبْ اَذْهَبْ). ﴿اَيْنَمَا﴾ ظرف مكان د پاره راځي لكه (اَيْنَمَا تَمْشِيْ اَمْشِيْ). ﴿اَنّٰى﴾ ظرف مكان د پاره راځي لكه (اَنّٰى تَكُنْ اَكُنْ). ﴿مَهْمَا﴾ ظرف زمان د پاره راځي لكه (مَهْمَا تَذْهَبْ اَذْهَبْ). ﴿حَيْثُمَا﴾ ظرف مكان د پاره راځي لكه (حَيْثُمَا تَقْعُدْ اَقْعُدْ). ﴿اِذْمَا﴾ د غير ذوي العقول د پاره راځي لكه (اِذْمَا تَفْعَلْ اَفْعَلْ).

﴿د اسماء شرطيه متعلق څلور فوائد﴾

﴿اوله فائده (١٢٥)﴾ كه چيرې د اسماء شرطيه شرط فعل ماضي وي او جزاء فعل مضارع وي نو په فعل مضارع باندې دوه اعراب ويل جائز دي (١) مرفوع (٢) مجزوم لكه (مَافَعَلْتَ اَفْعَلُ. مَافَعَلْتَ اَفْعَلْ). او كه چيرې شرط او جزاء دواړه فعل مضارع وي، يا صرف شرط فعل مضارع وي نو په دې صورت كښې فعل مضارع مجزوم ويل ضروري دي لكه (مَاتَفْعَلْ اَفْعَلْ. مَاتَفْعَلْ فَعَلْتُ).

﴿دويمه فائده (١٢٦)﴾ (اَنّٰى) په درې معنې ګانو باندې راځي: (١) په معنې د (اَيْنَ) نو ظرف مكان دي لكه (اَنّٰى تَكُنْ اَكُنْ) اَيْ اَيْنَ تَكُنْ اَكُنْ). (٢) په معنې د (كَيْفَ) سره لكه (فَاْتُوْا حَرْثَكُمْ اَنّٰى شِئْتُمْ) الاية (سورة البقرة ايت ٢٢٣) اَيْ كَيْفَ شِئْتُمْ). (٣) په معنې د (مَتٰى) سره لكه (اَنَّى الْقِتَالُ) اَيْ مَتَى الْقِتَالُ).

﴿دریمه فائده(۱۲۷)﴾ د (اَیْنَ) او د (مَتٰی) وروسته کله (مَا) زائده راځي لکه (مَتٰمَا تَخْرُجْ خَرَجْ. و اَیْنَمَا تَکُنْ اَکُنْ).

﴿څلورمه فائده (۱۲۸)﴾ (مَهْمَا) په اصل کښې (مَامَا) وو. او دویم (مَا) زائده دي، نو داول (مَا) الف په (ه) سره بدل سو نو (مَهْمَا) سو.

﴿دویم قسم: اسماء افعال بمعني فعل ماضي﴾

اسماء افعال په معني دفعل ماضي درې دي (۱) هَیْهَاتَ په معني د بَعُدَ (۲) سَرْعَانَ په معني د سَرُعَ (۳) شَتَّانَ په معني د اِفْتَرَقَ. دغه اسماء افعال اسم ته رفع ورکوي بنا بر فاعلیت یعني هغه یي فاعل دي لکه (هَیْهَاتَ یَوْمُ الْعِیْدِ اَیْ بَعُدَ یَوْمُ الْعِیْدِ). (سَرْعَانَ زَیْدٌ. اَیْ سَرُعَ زَیْدٌ). (شَتَّانَ زَیْدٌ وَخَالِدٌ اَیْ اِفْتَرَقَ زَیْدٌ وَخَالِدٌ).

﴿دریم قسم: اسماء افعال بمعني فعل امر حاضر﴾

اسماء افعال په معني د امر حاضر ډا ډیر دي. په طور دنمونې یوڅو دادي (رُوَیْدَ. بَلْهَ. عَلَیْكَ. حَیَّهَلْ. هَلُمَّ. دُوْنَكَ. هَا. صَهٍ. اٰمِیْن) وغیره. داسماء افعال تفصیل داسم غیر متمکن په اقسامو کښې تیر سوي دي. دغه اسماء افعال مابعد اسم ته نصب ورکوي بنا برمفعولیت، او ددې اسماء افعال فاعل همیشه ضمیر مستتر وي په واجب الاستتار سره لکه (رُوَیْدَ زَیْدًا. اَیْ اَمْهِلْ زَیْدًا).

﴿فائده(۱۲۹)﴾ کله چه دغه اسماء افعال دفعل لازم دامر حاضر په معني وي نو بیا صرف فاعل غواړي او مفعول ته ضرورت نسته یعني صرف هغه ضمیر مستتر ته محتاج دي او اسم ظاهر ته محتاج نه دي لکه (صَهٍ. اَیْ اُسْكُتْ).

﴿څلورم قسم: اسم فاعل﴾

اسم فاعل هغه اسم ته وائي: چه په داسي ذات باندي دلالت کوي چه د هغه دوجي فعل قائم او وجود ته راغلي وي. او اسم فاعل دخپل فعل پشان عمل کوي، که اسم

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

فاعل د فعل لازم سره مشتق وي نو بيا صرف فاعل غواړي لکه (زَيْدٌ قَائِمٌ اَبُوْهُ). او که د فعل متعدي سره مشتق وي نو بيا مفعول هم غواړي لکه (زَيْدٌ ضَارِبٌ غُلَامُهُ عَمْرًا) د اسم فاعل د عمل کول دپاره دوه شرطونه دي (۱) د حال يا د استقبال په معنى به وي (۲) په شپږو شيانو کښي به په يوې باندې اعتماد کړي وي. او هغه شپږ شيان دا دي (۱) مبتداء لکه (زَيْدٌ قَائِمٌ اَبُوْهُ). (۲) موصوف لکه (مَرَرْتُ بِرَجُلٍ ضَارِبٍ اَبُوْهُ بَكْرًا). (۳) موصول لکه (جَاءَنِيْ الضَّارِبُ اَبُوْهُ بَكْرًا). (۴) ذو الحال لکه جَاءَنِيْ زَيْدٌ رَاكِبًا غُلَامُهُ فَرَسًا). (۵) همزه استفهام لکه (اَضَارِبٌ زَيْدٌ بَكْرًا). (٦) حرف نفي لکه (مَاقَائِمٌ زَيْدٌ). او دا اخري دوه صورتونه يعني پنځم او شپږم قسم د دويم قسم مبتداء دي. که چيري اسم فاعل په دوو شرطونو کښي يو شرط نه وي نو بيا عمل نه کوي بلکي اسم فاعل به مضاف وي مابعد ته، او په دې صورت کښيَ به اضافت معنوي وي لکه (مَرَرْتُ بِزَيْدٍ ضَارِبِ كَافِرٍ اَمْسَ) دلته (ضَارِبِ) غير عامل دي.

﴿فائده (۱۳۰)﴾ مبتداء په دوه قسم ده: اول قسم: هغه مبتداء ده چه د جمله اسميه اول جزء وي يعني مسند اليه لکه (زَيْدٌ قَائِمٌ) کښي (زَيْدٌ) دي.

دويم قسم: هغه مبتداء ده چه د هغه خبر نه وي بلکي د هغه معمول قائم مقام د خبر وي. او د دې دويم قسم مبتداء دپاره درې شرطونه دي (۱) مبتداء به صيغه د صفت وي (۲) د دې مبتداء معمول به اسم ظاهر وي (۳) د مبتداء سره مخکي به استفهام يا نفي وي لکه (اَضَارِبٌ اَبُوْهُ بَكْرًا). (مَاضَارِبٌ اَبُوْهُ بَكْرًا). په دې مثالو کښي (ضَارِبٌ) مبتداء ده، او (اَبُوْهُ) يي فاعل دي چه قائم مقام د خبر دي.

﴿سوال﴾ د دويم قسم د مبتداء د دويم شرط سره دا معلوميږي چه صيغه صفت په اسم ضمير باندي عمل نه کوي يعني ضمير يي معمول نه واقع کيږي حلانکي په قرآن کريم کښي ضمير معمول وقع سوي دي لکه (قَالَ اَرَاغِبٌ اَنْتَ عَنْ اٰلِهَتِيْ يٰاِبْرٰهِيْمُ) الاية (سورة مريم ايت ۴٦) دلته (اَنْتَ) ضمير معمول دي د (رَاغِبٌ) صيغه صفت دپاره.

﴿جواب﴾ په اسم ظاهر ذكر كولو سره احتراز دي دضمير مستتر سره، نه دضمير منفصل سره. او په (أَرَاغِبٌ أَنْتَ) كښې خو ضمير بارز او منفصل دي.

﴿پنځم قسم: اسم مفعول﴾

اسم مفعول هغه اسم ته وائي: چه په داسې ذات باندې دلالت كوي چه په هغه باندې فعل واقع سوي وي. اسم مفعول دخپل فعلِ مجهول په شان عمل كوي لهذا نائب فاعل ته رفع وركوي. او د اسم مفعول دپاره هم هغه دوه شرطونه دي كوم چه په اسم فاعل كښې وه مثلاً (زَيْدٌ مَضْرُوْبٌ اَبُوْهُ).

﴿فائده(۱۳۱)﴾ په اسم فاعل او په اسم مفعول باندې چه كله الف لام داخل سوي وي نو دغه الف لام داعتماد دپاره كافي دي، او دبل شي اعتماد يې ضرورت نسته لكه (جَاءَنِيْ الضَّارِبُ غُلَامُهُ). (جَاءَنِيْ الْمَضْرُوْبُ غُلَامُهُ).

﴿شپږم قسم: صفت مشبه﴾

صفت مشبه هغه اسم ته وائي: چه دخپل فاعل دپاره دمصدري معنې پر ثبوت باندې دلالت كوي په طريقه ددوام او داستمرار سره. او صفت مشبه دخپل فعل پشان عمل كوي. صفت مشبه چونكي دفعل لازم سره مشتق وي نو په دې وجه صرف فاعل ته رفع وركوي. دصفت مشبه دعمل كولو دپاره په مذكوره شيانو باندې اعتماد شرط دي ماسيوا دموصول سره ځكه چه كوم الف لام په صفت مشبه باندې داخليږي هغه موصوله نه وي دصحيح قول مطابق، او دصفت مشبه دعمل كولو دپاره زمانه شرط نه ده ځكه چه صفت مشبه داستمرار او ددوام په معنې باندې دلالت كوي. مثال لكه (زَيْدٌ حَسَنٌ غُلَامُهُ).

﴿فائده(۱۳۲)﴾ كله دصفت مشبه معمول منصوب وي. نو كه دا منصوب معرفه وو نو دمفعول سره دمشابهت په بنا به منصوب وي. او كه دا منصوب نكره وو نو بيا به منصوب وي بنا بر تمييز. او كله دصفت مشبه معمول مجرور وي بنا بر اضافت. او ددې تفصيل په الفوائد الهاديه رساله كښې راروان دي انشاء الله تعالي.

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

﴿فائده (۱۳۳)﴾ داسم فاعل او دصفت مشبه په درميان کښې فرق په دوو وجهو سره دي (۱) د اسم فاعل صيغې قياسي دي، او دصفت مشبه صيغې سماعي دي لکه (حَسَنٌ. صَعْبٌ. شَدِيْدٌ) وغيره. (۲) په اسم فاعل کښې حدوث وي او په صفت مشبه کښې ثبوت يعني دوام او استمرار وي.

﴿اووم قسم: اسم تفضيل﴾

اسم تفضيل هغه اسم ته وائي: چه په خپل فاعل کښې دمصدري معنې په زيادتي باندې دلالت کوي په نسبت دبل چا سره. او اسم تفضيل دخپل فعل معلوم په شان عمل کوي، او فاعل يې هميشه ضمير وي. او داسم تفضيل صيغه دمؤنث هميشه د (فُعْلٰى) په وزن باندې راځي. او صيغه دمذکر هميشه د (اَفْعَلُ) په وزن باندې راځي، ليکن کلمه د (اَفْعَلُ) وزن تقديرا وي لکه (شَرٌّ. خَيْرٌ) چه په اصل کښې (اَشْرَرُ. اَخْيَرُ) وو.

او داسم تفضيل استعمال په درو طريقو سره دي (۱) په (مِنْ) سره (۲) په الف لام سره. (۳) په اضافت سره.

﴿د اسم تفضيل متعلق بنيړ. فوائد﴾

﴿اوله فائد (۱۳۴)﴾ که چيرې داسم تفضيل استعمال په (مِنْ) سره وي نو اسم تفضيل صيغه دواحد مذکر راوړل ضروري دي. که موصوف او مبتداء هرشي وي. يعني که ماقبل موصوف او مبتداء مذکر وي، اوکه مؤ نث، اوکه واحد وي اوکه تثنيه اوکه جمع، يعني داسم تفضيل مطابقت په دې صورت کښې دماقبل سره ضروري نه دي لکه (زَيْدٌ اَفْضَلُ مِنْ فِرْعَوْنَ). (هِنْدٌ اَفْضَلُ مِنْ زَيْنَبَ). (اَلرِّجَالُ اَفْضَلُ مِنْ نِسَاءٍ). او کله په دې صورت کښې (مِنْ) او مُفَضَل عَلَيه دواړه حذف سوي وي قياسًا لکه (اَللّٰهُ اَكْبَرُ) اَيْ اَللّٰهُ اَكْبَرُ مِنْ كُلِّ شَيْءٍ). او په قرآن کښې راځي (وَاَعَزُّ نَفَرًا) الاية (سورة الکهف ايت ۳۴) اَيْ اَعَزُّ مِنْكَ نَفَرًا). اوکه چيرې داسم تفضيل استعمال په الف لام سره وي نو دماقبل مبتداء او موصوف سره مطابقت په څلورو شيانو کښې ضروري دي (۱) په تعريف او په تنکير کښې

(۲) په تذکير او په تانيث کښي (۳) په افراد او تثنيه او جمع کښي (۴) په اعراب کښي لکه (جَاءَنِيْ زَيْدٌ ِالْاَفْضَلُ. جَاءَنِيْ هِنْدُ ِالْفُضْلٰى. جَاءَنِيْ الزَّيْدُوْنَ الْاَفْضَلُوْنَ) وغيره.
او که چيري د اسم تفضيل استعمال په اضافت سره وي نو مطابقت او عدم مطابقت دواړه جائز دي لکه (جَاءَنِيْ زَيْدٌ اَفْضَلُ الْقَوْمِ).

﴿دويمه فائده (۱۳۵)﴾ اسم تفضيل د اضافت استعمال په دوه قسم دي (۱) مضاف وي معرفه ته (۲) مضاف وي نکره ته. نو که چيري اسم تفضيل مضاف وو معرفه ته نو دواړه صورتونه جائز دي يعني د مطابقت او د عدم مطابقت. مګر په دې صورت کښي هم د مفرد مذکر صيغه راوړل غوره دي لکه (زَيْدٌ اَفْضَلُ الْقَوْمِ. اَلْهِنْدَاتُ اَفْضَلُ النِّسَاءِ) وغيره. او که چيري اسم تفضيل مضاف وي نکره ته نو د مفرد مذکر صيغه راوړل واجب دي البته د اسم تفضيل د مضاف اليه مطابقت د ماقبل د اسم تفضيل سره په دوو شيانو کښې ضروري دي (۱) په تذکير او په تانيث کښي، (۲) په افراد او په تثنيه او په جمع کښي لکه (زَيْدٌ اَفْضَلُ رَجُلٍ. اَلزَّيْدَانِ اَفْضَلُ رَجُلَيْنِ. هِنْدٌ اَفْضَلُ اِمْرَاَةٍ. اَلْهِنْدَاتُ اَفْضَلُ نِسَاءٍ) وغيره.

﴿سوال﴾ په قران کريم کښي اسم تفضيل و نکره ته مضاف سوي دي او د مضاف اليه مطابقت د ماقبل سره نسته لکه (وَلَا تَكُوْنُوْٓا اَوَّلَ كَافِرٍ بِهٖ) الاية (سورة البقرة ايت ۴۱) دلته (كَافِرٍ) مفرد دي او د اسم تفضيل ماقبل جمع دي يعني په (لَا تَكُوْنُوا) کښي واو ضمير.
﴿جواب﴾ دا دي چه دلته هم مطابقت سته هغه دا رنګه چه دلته لفظ د (فريق) محذوف دي. تقديري عبارت دا سي دي (وَلَا تَكُوْنُوْٓا اَوَّلَ فَرِيْقٍ كَافِرٍ بِهٖ).
او بله دا خبره که چيري اسم تفضيل عطف سي په دا سي اسم تفضيل باندي چه هغه مضاف وي نکره ته نو د معطوف مضاف اليه مفرد مذکر راوړل واجب دي لکه (زَيْدٌ اَفْضَلُ رَجُلٍ وَّاَكْرَمُهٗ. اَلزَّيْدَانِ اَفْضَلُ رَجُلَيْنِ وَّاَكْرَمُهٗ. هِنْدٌ اَفْضَلُ اِمْرَاَةٍ وَّاَكْرَمُهٗ. اَلْهِنْدَاتُ اَفْضَلُ نِسَاءٍ وَّاَكْرَمُهٗ). دلته په ټولو مثالو کښي د (اَكْرَمُهٗ) مضاف اليه (هٗ)

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

ضمير دمفرد مذكر دي.

﴿دريمه فائده(۱۳٦)﴾ كله چه په أفعَلُ كښې دتفضيل معني نه وي نو دمشهور قول مطابق دمفرد مذكر صيغه به راوړل كيږي لكه (رَبُّكُمْ اَعْلَمُ بِكُمْ)الاية(سورة الاسراء ايت ۵۴)

﴿څلورمه فائده(۱۳۷)﴾ كله چه په أفعَلُ تفضيلي كښې دافضليت معني صرف په مضاف اليه باندي نه وي بلكي په باقي نورو باندي هم وي نو په دې صورت كښې داسم تفضيل دمضاف اليه دماقبل سره مطابقت ضروري دي په افراد او په تثنيه او په جمع كښې لكه (مُحَمَّدٌ اَفْضَلُ قُرَيْشٍ). دنبي عليه السلام افضليت صرف په قريشو باندي نه دي بلكې په ټولو مخلوقاتو باندي افضل دي.

﴿پنځمه فائده(۱۳۸)﴾ داسم تفضيل دپاره دوه شرطونه دي (۱) دمذكر دپاره دأفعَلُ وزن ضروري دي، كه حقيقتًا وي او كه تقديرًا وي. دتقديرًا مثال لكه (خَيْرٌ. شَرٌّ) چه په اصل كښې (اَخْيَرُ. اَشْرَرُ) وو. او دمؤنث دپاره د فُعْلٰى وزن ضروري دي.

(۲) شرط دادي چه په أفْعَلُ وزن كښې به معني دلون يعني درنګ او دعيب نه وي. كه چيري وي نو بيا اسم تفضيل نه دي لكه (اَحْمَرُ. اَعْوَرُ) وغيره.

او دثلاثي مجرد سه علاوه دنورو بابو اسم تفضيل نه راځي. ليكن كه چيري لفظ د (اَشَدُّ) يا د (اَكْثَرُ) دنورو بابو دمصدرو په شروع كښې راوړل سي نو داسم تفضيل معني وركوي لكه (اَشَدُّ اِسْتِخْرَاجًا) وغيره.

﴿شپږمه فائده(۱۳۹)﴾ (اَفْعَلُ) وزن كله داسم مفعول دپاره هم راځي لكه (اَلْوَمُ. اَعْذَرُ. اَشْهَرُ. اَعْرَفُ) اي (مَالُوْمٌ. مَعْذُوْرٌ. مَشْهُوْرٌ. مَعْرُوْفٌ).

﴿اتم قسم: مصدر﴾

مصدر هغه اسم ته وائي: چه دهغه سه فعل مشتق كيږي لكه (ضَرْبًا) وغيره. او مصدر دخپل فعل پشان عمل كوي. كه مصدر دلازم فعل وو نو صرف فاعل غواړي لكه

(اَعْجَبَنِیْ قِیَامُ زَیْدٍ)، او که مصدر د فعل متعدي وو نو بیا مفعول هم غواړي لکه (اَعْجَبَنِیْ ضَرْبُ زَیْدٍ کَافِرًا). په دواړو مثالو کښي (زید) مضاف الیه مجرور لفظاً دي، او فاعل مرفوع محلاً دي. او د مصدر استعمال په پنځو طریقو سره دي. اوله طریقه: مصدر مضاف وي فاعل ته، او مفعول به ذکر وي لکه (اَعْجَبَنِیْ ضَرْبُ زَیْدٍ کَافِرًا).

دویمه طریقه: مصدر مضاف وي فاعل ته، او مفعول به ذکر نه وي لکه (عَجِبْتُ مِنْ ضَرْبِ زَیْدٍ. اَیْ عَجِبْتُ مِنْ ضَرْبِ زَیْدٍ کَافِرًا).

دریمه طریقه: مصدر مضاف وي نائب فاعل ته لکه (عَجِبْتُ مِنْ ضَرْبِ زَیْدٍ. اَیْ عَجِبْتُ مِنْ اَنْ یُضْرَبَ زَیْدٌ).

څلورمه طریقه: مصدر مضاف وي مفعول ته. او فاعل ذکر وي لکه (عَجِبْتُ مِنْ ضَرْبِ اللِّصِّ الْجَلَّادُ) دلته (اَلْجَلَّادُ) فاعل دي. او (اَللِّصِّ) مفعول به دي منصوب محلاً.

پنځمه طریقه: مصدر مضاف وي مفعول ته او فاعل ذکر نه وي لکه دغه ایت کریمه کښي دي (لَایَسْئَمُ الْاِنْسَانُ مِنْ دُعَآءِ الْخَیْرِ) الایة (سورة حم سجدة ایت ۴۹) اَیْ مِنْ دُعَائِهِ الْخَیْرَ.

او د مصدر لازم استعمال سره صرف یوه طریقه ده، چه فاعل ته به مضاف وي لکه (اَعْجَبَنِیْ قِیَامُ زَیْدٍ).

﴿فائده (۱۴۰)﴾ د مصدر فاعل هیڅ کله ضمیر مستتر نه سي کیدې. او نه د مصدر معمول په مصدر باندي مقدم کیدې سي.

﴿فائده (۱۴۲)﴾ مصدر که چیري مبتداء واقع وي نو مصدر د خپل خبر وروسته بیا عمل نه کوي لکه په دې ایت کریمه کښي (اِنَّ عِدَّةَ الشُّهُوْرِ عِنْدَ اللهِ اثْنَا عَشَرَ شَهْرًا فِیْ کِتٰبِ اللهِ) الایة (سورة التوبة ایت ۳۶) دلته (عِدَّةَ) مصدر اسم د (اِنَّ) دي، چه په اصل کښي مبتداء دي. او (اِثْنَا عَشَرَ شَهْرًا) یې خبر دي. او (فِیْ کِتٰبِ اللهِ) دا د خبر سره وروسته واقع دي لهذا دا (عِدَّةَ) سره متعلق کول صحیح نه دي بلکي دا ظرف مستقر دي، او

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

صفت واقع دي د (شَهْرًا) دپاره.

﴿نهم قسم: اسم مضاف﴾

نهم قسم اسم مضاف دي چه مضاف اليه ته جر ورکوي لکه (غُلَامُ زَيْدٍ). ليکن بعضي نحات وائي: چه مضاف مضاف اليه ته جر نه ورکوي بلکې د مضاف او د مضاف اليه په درميان کښې حرف جار مقدر دي هغه مضاف اليه ته جر ورکوي لکه (غُلَامُ زَيْدٍ) اى (غُلَامٌ لِزَيْدٍ).

﴿د اضافت اقسام﴾

اضافت په دوو اعتبارو سره تقسيميږي: (۱) په اعتبار د معني سره (۲) په اعتبار د تعريف او د تنکير سره.

﴿د اضافت اقسام په اعتبار د معني﴾

اضافت په اعتبار د معني سره په درې قسم دي: (۱) په معني د (مِنْ). (۲) په معني د (فِيْ). (۳) په معني د لام سره. او دا تقسيم د اضافت معنويه دي، نه د اضافت لفظيه.

﴿اول قسم﴾ په معني د (مِنْ) سره، دا په هغه صورت کښې وي چه مضاف اليه د مضاف د جنس سه وي لکه (خَاتَمُ فِضَّةٍ. اَىْ خَاتَمٌ مِنْ فِضَّةٍ).

﴿دويم قسم﴾ په معني د (فِيْ) سره دي. دا په هغه صو[...] کښې وي چه مضاف اليه د مضاف دپاره ظرف وي لکه (دَخُوْلُ الْمَسْجِدِ. اَىْ فِيْ [...]مسْجِدِ).

﴿دريم قسم﴾ په معني د لام سره دي. دا په هغه صورت کښي وي چه مضاف اليه د مضاف دپاره نه ظرف وي او نه د مضاف د جنس سه وي [...] [...]لَامُ زَيْدٍ اَىْ [...]لَامٌ لِزَيْدٍ.

﴿د اضافت اقسام په اعتبار د تعريف و تنکير﴾

اضافت په اعتبار د تعريف او د تنکير سره په دوه قسم[...]ي (۱) لفظيه [...]۲) معنويه.

﴿اضافت لفظيه﴾ هغه اضافت ته وائي: چه صيغه صفت مض[...] سوي وي خپل

معمول ته. حکم د اضافت لفظیه دادي: چه په دې سره نه تعریف راځي او نه تخصیص. یعني په دې اضافت سره د نکره سه معرفه نه جوړیږي. بلکې صرف تخفیف في اللفظ راولي، چه هغه تنوین غورځیدل دي. البته که په صیغه صفت کښې معنې د دوام او داستمرار وي نو بیا په اضافت لفظیه سره تعریف راځي لکه (اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ) دلته لفظ د (رَبِّ) معرفه دي د اضافت لفظیه په وجه.

﴿اضافت معنویه﴾ هغه اضافت ته وائي: چه صیغه صفت خپل معمول ته مضاف نه وي بلکې غیر د صیغه صفت بل اسم مضاف وي.

او اضافت معنویه بیا په درې قسم دي، چه په مخکښې صفحه کښې تیر سو. د اضافت معنویه حکم دادي چه په دې سره تخصیص او تعریف دواړه راځي. لهذا که چیرې مضاف الیه نکره وي نو په دې اضافت سره صرف تخصیص کښې راځي لکه (غُلَامُ رَجُلٍ). او که مضاف الیه معرفه وي نو بیا تعریف او تخصیص دواړه راځي لکه (غُلَامُ زَیْدٍ). لیکن لفظ د (غَیْرٌ. مِثْلٌ) دا مستغرق في التنکیر دي نو چه دا مضاف سي معرفه ته نو هم تعریف په کښې نه راځي، البته که چیرې دا الفاظ د دوو ضدینو په درمیان کښې واقع سي او مضاف سي نو بیا تعریف راځي لکه (اَنْعَمْتَ عَلَیْهِمْ غَیْرِ الْمَغْضُوْبِ عَلَیْهِمْ وَلَا الضَّآلِّیْنَ) دلته (غیر) معرفه دي په اضافت سره ځکه د دوو ضدینو په درمیان کښې واقع دي چه مَنْعُوْمٌ عَلَیْهِ وَمَغْضُوْبٌ عَلَیْهِ دي.

﴿درې فوائد د مضاف او د مضاف الیه متعلق﴾

﴿اوله فائده (۱۴۳)﴾ د مضاف او د مضاف الیه په درمیان کښې فصل نه راځي. البته په حرف زائد او په حرف تاکید سره فصل راتلې سي، او دا رنګه چه مصدر مضاف وي خپل فاعل ته نو په مفعول به او په ظرف سره فصل راتلې سي، او دا رنګه چه مضاف الیه مفعول اول وي نو مفعول ثاني او ظرف فصل راتلې سي.

﴿دویمه فائده (۱۴۴)﴾ د بعض اسماء اضافت ناجائز دي، او د بعض اسماء اضافت لازمي دي. هغه اسماء چه اضافت یې ناجائز دي هغه دادي (۱) مضمرات (۲)

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

اشارات (۳) موصلات (۴) اسماء شرطيه (۵) اسماء استفهاميه. ماسيوا د (اَيٌّ).
او هغه اسماء چه هغه لازم الاضافت دي هغه په دوو اعتبارو سره تقسيميږي (اول) چه د مضاف اليه حذف كول جائز دي او كنه. (دويم) چه مضاف اليه چشي راځي.
نو په اول اعتبار سره دغه اسماء په دوه قسمه دي (۱) چه د مضاف اليه حذف كول جائز دي لكه (كُلٌّ و بَعْضٌ). (۲) چه د مضاف اليه حذف كول ناجائز دي لكه (اَيٌّ) صفتيه يا حاليه. دد مضاف اليه ذكر كول ضروري دي په خلاف د (اَيٌّ) استفهاميه او شرطيه او موصوله چه مضاف اليه يي ذكر كول ضروري نه دي.
او په دويم اعتبار سره دغه اسماء په درې قسم دي (۱) چه مضاف اليه اسم ظاهر او ضمير دواړه راتلې سي لكه (كِلَا . كِلْتَا . لَدٰى ، سِوٰى). (۲) چه مضاف اليه يې صرف ضمير راځي لكه (لَبَّىْ ، سَعْدَىْ ، حَنَانَىْ). (۳) چه مضاف اليه يې صرف اسم ظاهر راځي لكه (اُولُوْ ، اُولَات ، ذُوْ ، ذَوَات).

﴿دريمه فائده (۱۴۵)﴾ كله مضاف ته د مضاف اليه حكم وركول كيږي په تذكير او په تانيث كښي لكه ﴿يَوْمَ تَجِدُ كُلُّ نَفْسٍ﴾ الاية (سورة ال عمران ايت ۳۰) دلته فعل مؤنث دي، او په (كُلُّ نَفْسٍ) كښي مضاف اليه مؤنث دي، او (كُلُّ) مذكر دي، ليكن مضاف ته د مضاف اليه حكم وركول سوي دي نو په دې وجه فعل مؤنث راوړل سوي دي.

﴿لسم قسم: اسم تام﴾

اسم تام هغه اسم ته وائي: چه د تمام كيدلو وروسته په دغه حالت كښي بل اسم ته نه مضاف كيږي يعني كه چيري اسم په تنوين سره مثلا تاميږي نو د تنوين سره بل اسم ته نه مضاف كيږي چه تنوين دي په خپل حالت پاته وي. او اسم په شپږو شيانو باندي تاميږي (۱) په تنوين مذكوره سره لكه (مَافِى السَّمَاءِ قَدْرُ رَاحَةٍ سَحَابًا) دلته تنوين ذكر دي په (رَاحَةٍ) كښي نو (رَاحَةٍ) اسم تام دي (۲) په تنوين مقدره سره لكه د (اَحَدَ عَشَرَ) سه بيا تر (تِسْعَ عَشَرَ) پوري، دا په اصل كښي (اَحَدٌ وَّعَشَرٌ او تِسْعَةٌ

عَشَرٌ)وو. مثال لکه (عِنْدِیْ اَحَدَ عَشَرَ رَجُلًا)، (زَیْدٌ اَکْثَرُ مِنْكَ مَالًا) دلته (اَحَدَ عَشَرَ) او (اَکْثَرُ)اسم تام دي. (۳) په نون جمع سره لکه (قُلْ هَلْ نُنَبِّئُكُمْ بِالْاَخْسَرِيْنَ اَعْمَالًا) سورة الکهف ايت۱۰۳) دلته (اَلْاَخْسَرِيْنَ)اسم تام دي (۴) مشابه دنون جمع سره لکه (عِشْرُوْنَ تا تِسْعُوْنَ). مثال (عِنْدِیْ عِشْرُوْنَ رَجُلًا)دلته (عِشْرُوْنَ) اسم تام دي. (۵) په نون تثنيه سره لکه (عِنْدِیْ قَفِيْزَانِ بُرًّا) دلته (قَفِيْزَانِ) اسم تام دي.

(٦)په اضافت سره لکه (عِنْدِیْ مِلْؤُهٗ عَسَلًا) دلته (مِلْؤُهٗ) اسم تام دي.

او اسم تام تمييز ته نصب ورکوي لکه په مخکني مثالو کښي.

﴿يولسم قسم: اسماء کنايات﴾

يولسم قسم اسماء کنايات دي از عدد. او دا دوه الفاظ دي (۱) كَمْ (۲) كَذَا.

﴿كَمْ﴾ په دوه قسم دي (۱) (كَمْ استفهاميه) دا خپل تمييز ته نصب ورکوي لکه (كَمْ رَجُلًا عِنْدَكَ). (۲) (كَمْ خبريه). د كَمْ خبريه او د تمييز په درميان کښي که چيري فاصله وه نو بيا كَمْ خبريه خپل تمييز ته نصب ورکوي لکه (كَمْ عِنْدِیْ رَجُلًا). او که چيري د كَمْ خبريه او د تمييز په درميان کښي فاصله نه وه نو بيا تمييز ته جر ورکوي لکه (كَمْ مَالٍ اَنْفَقْتُ. وَكَمْ دَارٍ بَنَيْتُ). او کله د كَمْ خبريه په تمييز باندي (مِنْ) حرف جار زائده داخليږي لکه (وَكَمْ مِنْ مَلَكٍ فِي السَّمٰوٰتِ) الاية (سورة النجم ايت۲٦).

﴿كَذَا﴾صرف خبريه راځي او خپل تمييز ته نصب ورکوي لکه (عِنْدِیْ كَذَا دِرْهَمًا).

﴿فائده(۱۴٦)﴾ (كَاَيِّنْ) د جمهور نحات په نيز خبريه راځي ليکن بعض نحات وائي چه استفهاميه هم راځي. او د (كَاَيِّنْ) په تمييز باندي اکثر (مِنْ) جاره زائده داخليږي نو تمييز يي مجرور وي لکه (وَكَاَيِّنْ مِنْ اٰيَةٍ فِي السَّمٰوٰتِ) الاية (سورة يوسف ايت۱۰۵). که چيري (مِنْ) جاره زائده په تمييز باندي داخل نه وي نو بيا تمييز ته نصب ورکوي

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

لکه (کَأَیِّنْ رَجُلًا لَقِیْتُ ، کَأَیِّنْ رَجُلًا عِنْدَكَ).

﴿فائده (۱۴۷)﴾ کم استفهامیه خوخپل تمییز ته نصب ورکوي، البته که چیري په کم استفهامیه باندي حرف جار داخل سي نو بیا په تمییز باندي نصب او جر دواړه ویل جائز دي لکه (بِکَمْ دِرْهَمٍ اَوْ دِرْهَمًا اِشْتَرَیْتَ).

تردې ځایه پوري داول قسم عامل یعني عامل لفظي بحث ختم سو. اوس ددویم قسم عامل یعني عامل معنوي بحث شروع کیږي ان شاء الله تعالي.

﴿دویم قسم عامل معنوي﴾

عامل معنوي په دوه قسم دي (اول قسم) ابتداء یعني د اسم خالي کیدل د عامل لفظي سه دیته عامل معنوي وای، چه هغه ابتداء ده لکه (زَیْدٌ قَائِمٌ) او په دې قسم کښي دنحاتو درې قوله دي. (۱) مبتداء او خبر دواړو ته رفع ابتداء ورکوي. دا قول دزمخشري دي. (۲) مبتداء خبر ته رفع ورکوي او خبر مبتداء ته رفع ورکوي. دا قول منسوب دي کوفیانو ته. (۳) ابتداء مبتداء ته رفع ورکوي او مبتداء خبر ته رفع ورکوي. دا قول دسیبویه دي.

(دویم قسم) فعل مضارع دي. یعني دفعل مضارع خالي کیدل دحرف ناصب او جازم سه. نو په دې صورت کښي فعل مضارع ته عامل معنوي رفع ورکوي لکه (یَضْرِبُ زَیْدٌ). دلته فعل مضارع ته رفع عامل معنوي ورکړې ده.

تردې ځایه پوري دعوامل بحث ختم سو. بحمد الله وبعونه.

﴿خاتمه در فوائد متفرقه﴾

په دې خاتمه کښي درې فصل دي: (۱) فصل در توابع (۲) فصل در بیان منصرف وغیر منصرف (۳) فصل در حروف غیر عامله.

﴿فصل اول در توابع﴾

تابع هغه لفظ ته وائي: چه دلفظ سابق (مخکني لفظ) دپاره دویم لفظ وي. او لفظ سابق ته متبوع وای. دتابع او دمتبوع اعراب همشه یو وي په یو جهت سره یعني که

چيري متبوع مرفوع وو بنابر فاعليت نو تابع به هم مرفوع وي بنابر فاعليت وغيره.
او اعراب به يو وي ليکن که کيفيت د اعراب يي جلاجلا وي نو هم جائز دي مثلا
د متبوع اعراب لفظي وي او د تابع اعراب تقديري وي وغيره لکه (جَاءَنِيْ رَجُلٌ
قَاضٍ).
او تابع په پنځه قسمه دي: (۱) صفت (۲) تاکيد (۳) بدل (۴) عطف بحرف
(۵) عطف بيان.

﴿اول قسم: صفت﴾

هغه تابع ته وائي: چه په داسي معني باندي دلالت کوي چه په متبوع کښي وي، او
د صفت متبوع ته موصوف واي لکه (جَاءَنِيْ رَجُلٌ عَالِمٌ). کښ (عَالِمٌ) صفت دي
د (رَجُلٌ) دپاره. او دې صفت ته صفت بحاله واي. او يا صفت هغه تابع دي چه په
داسي معني باندي دلالت کوي چه د متبوع يعني موصوف په متعلق کښي وي لکه
(جَاءَنِيْ رَجُلٌ ضَارِبٌ اَبُوْهُ) کښ (رَجُلٌ) متبوع او موصوف دي، او (ضَارِبٌ اَبُوْهُ) يي
تابع او صفت دي، او دې صفت ته صفت بحال متعلقه واي. او په (ضَارِبٌ اَبُوْهُ) کښي
(اَبُوْهُ) د (ضَارِبٌ) دپاره فاعل دي. دصفت د تعريف سره دا معلومه سوه چه صفت په
دوه قسمه دي (۱) صفت بحاله (۲) صفت بحال متعلقه. نو په اول قسم موصوف او
صفت کښي دلسو شيانو سره د ځلورو شيانو مطابقت او موافقت ضروري دي په يو
وخت کښي (۱) تذکير او تانيث (۲) تعريف او تنکير (۳) افراد او تثنيه او جمع
(۴) رفع او نصب او جر لکه (عِنْدِيْ رَجُلٌ عَالِمٌ. وَرَجُلَانِ عَالِمَانِ. وَرِجَالٌ عَالِمُوْنَ.
وَامْرَاَةٌ عَالِمَةٌ. وَامْرَاَتَانِ عَالِمَتَانِ. وَنِسْوَةٌ عَالِمَاتٌ).
او په دويم قسم موصوف او صفت کښي د پنځو شيانو سره په دوو شيانو کښي په يو
وخت موافقت ضروري دي (۱) تعريف او تنکير (۲) رفع او نصب او جر لکه (جَاءَنِيْ
رَجُلٌ عَالِمٌ اَبُوْهُ).

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

﴿تنبيه﴾ جمله هم صفت واقع كيدې سي خو په درو شرطو سره (۱) جمله خبريه به وي (۲) موصوف به نكره وي ځكه چه جمله په حكم دنكره كښ ده (۳) په جمله كښې داسي ضمير ضروري دي چه موصوف ته راجع وي لكه (جَاءَنِيْ رَجُلٌ اَبُوْهُ عَالِمٌ).

﴿فائده (۱۴۸)﴾ اسماء: دموصوف اودصفت دجوړيدو په اعتبار سره په څلور قسم دي (۱) موصوف او صفت دواړه راتلې سي لكه اسماء اشارات. دصفت مثال لكه (مَرَرْتُ بِزَيْدٍ هٰذَا). دموصوف مثال لكه (وَمَرَرْتُ بِهٰذَا الْعَالِمِ) دلته (هذا) موصوف دي او (اَلْعَالِمِ) بي صفت دي. داسمِ اشاره صفت به دمشتق صيغه وي او الف لام پر داخل وي. او كه جامد وي او الف لام پر داخل وي نو بعض نحات وائي: چه صفت دي، او جمهور وائي: چه عطف بيان دي لكه (بِهٰذَا الرَّجُلِ). (۲) نه موصوف راتلې سي او نه صفت لكه ضمائر (۳) موصوف راتلې سي خو صفت راتلې نه سي لكه اعلام (۴) صفت راتلې سي او موصوف راتلې نه سي لكه (مَرَرْتُ بِفَارِسٍ اَيِّ فَارِسٍ).

﴿فائده (۱۴۹)﴾ صفت په كلام كښې د راوړلو شپږ وجوه دي (۱) په نكره كښې دتخصيص دپيدا كولو دپاره لكه (جَاءَنِيْ رَجُلٌ عَالِمٌ). (۲) دمعرفه دوضاحت دپاره راځي لكه (مَرَرْتُ بِزَيْدِ ِالْخَيَّاطِ). (۳) دمدح دپاره لكه (بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ). (۴) دذم دپاره لكه (اَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ). (۵) درحم دطلب كولو دپاره لكه (اَللّٰهُمَّ اِرْحَمْ عَبْدَكَ الْمِسْكِيْنَ). (٦) دتاكيد دپاره لكه (تِلْكَ عَشَرَةٌ كَامِلَةٌ) الاية (سورة البقرة ايت۱۹٦).

﴿دويم قسم: تاكيد﴾

تاكيد هغه تابع ته وائي: چه دمتبوع حال مضبوط كړي په نسبت كښې يا په شمول كښې ددې دپاره چه سامع ته شك پاته نه سي، او دتاكيد متبوع ته مؤكد واي. دمتبوع حال مضبوط كړي ددې مطلب دادي: چه دمسند او دمسند اليه په درميان كښې چه كوم نسبت دي هغه مضبوط كړي. نو كله دمسند تاكيد وي لكه (ضَرَبَ

ضَرَبَ زَيۡدٌ). او کله د مسند اليه تاکيد وي لکه (زَيۡدٌ زَيۡدٌ قَائِمٌ). او د متبوع حال مضبوط کړي په شمول کښې ددې مطلب دادې: چه تاکيد ددې خبرې د پاره دې چه متبوع خپل ټولو افرادو ته شامل دې او که بعضو افرادو ته شامل دې لکه (جَاءَنِيۡ الۡقَوۡمُ كُلُّهُمۡ. جَاءَنِيۡ الۡقَوۡمُ بَعۡضُهُمۡ). او تاکيد په دوه قسم دې (۱) تاکيد لفظي (۲) تاکيد معنوي. تاکيد لفظي په لفظ مکرر راوړلو سره راځي، او لفظ عام دې که اسم وي لکه (زَيۡدٌ زَيۡدٌ قَائِمٌ). او که فعل وي لکه (ضَرَبَ ضَرَبَ زَيۡدٌ). او که حرف وي لکه (اِنَّ اِنَّ زَيۡدًا قَائِمٌ). او تاکيد لفظي صرف په نسبت کښې راځي.

او تاکيد معنوي صرف په شمول کښې راځي. او تاکيد معنوي په دغه نهو الفاظو سره راځي (۱) نَفۡسٌ (۲) عَيۡنٌ (۳) كِلَا (۴) كِلۡتَا (۵) كُلٌّ (۶) اَجۡمَعُ (۷) اَكۡتَعُ (۸) اَبۡتَعُ (۹) اَبۡصَعُ. او س ددې الفاظو د استعمال طريقه او په استعمال کښې يې فرق.

﴿نَفۡسٌ . عَيۡنٌ﴾ دا دواړه عام دي د واحد او د تثنيه او د جمع يعني د ټولو د تاکيد د پاره راځي. او دا دواړه مضاف کيږي د مؤکد ضمير ته، او دا ضمير به د خپل مرجع يعني د مؤکد سره په افراد او تثنيه او جمع کښې، او په تذکير او تانيث کښې موافق وي، او دا (نَفۡسٌ . عَيۡنٌ) به د مؤکد سره موافق وي په صيغه کښې ليکن که چيرې مؤکد مثنى وي نو تاکيد د مؤکد موافق راوړل جائز دي، او په دې صورت کښې تاکيد مفرد راوړل فصيح دي او جمع راوړل افصح دي. او کله (نَفۡسٌ . عَيۡنٌ) باندې باء زائده هم راځي. مثالونه (جَاءَنِيۡ زَيۡدٌ نَفۡسُهٗ . جَاءَنِيۡ الزَّيۡدَانِ اَنۡفُسُهُمَا . جَاءَنِيۡ الزَّيۡدُوۡنَ اَنۡفُسُهُمۡ وَاَعۡيُنُهُمۡ . جَاءَنِيۡ زَيۡدٌ بِنَفۡسِهٖ وَبِعَيۡنِهٖ) وغيره.

﴿كِلَا . كِلۡتَا﴾ دا دواړه الفاظ صرف د تثنيه د تاکيد د پاره راځي ليکن (كِلَا) د مذکر د پاره راځي. او (كِلۡتَا) د مؤنث د پاره راځي. او دا دواړه لازم الاضافت دي ضمير ته، او ضمير به مؤکد ته راجع وي لکه (جَاءَنِيۡ الزَّيۡدَانِ كِلَاهُمَا . وَالۡهِنۡدَانِ كِلۡتَاهُمَا).

﴿كُلٌّ﴾ دا د داسي لفظ دپاره تاكيد راځي چه هغه ذو اجزاء وي حقيقتا لكه (جَاءَنِيْ الْقَوْمُ كُلُّهُمْ). او يا حكما ذو اجزاء وي لكه (اِشْتَرَيْتُ الْعَبْدَ كُلَّهُ) ليكن (جَاءَنِيْ زَيْدٌ كُلُّهُ) ويل جائز نه دي ځكه دا ذو اجزاء نه دي نه حقيقتا او نه حكما. او دا (كُلٌّ) هم مضاف وي د خپل مؤكد ضمير ته.

﴿اَجْمَعُ. اَكْتَعُ. اَبْتَعُ. اَبْصَعُ﴾ دا څلور الفاظ د واحد او د جمع د تاكيد دپاره راځي. او د تثنيه د تاكيد دپاره نه راځي. او په دې څلورو كښې (اَكْتَعُ. اَبْتَعُ. اَبْصَعُ) دا درې د (اَجْمَعُ) تابع دي او بغير د (اَجْمَعُ) نه راځي او نه د (اَجْمَعُ) سره مخكې كيږي. او (اَجْمَعُ) كله د (كُلٌّ) وروسته راځي د تاكيد دپاره، او كله بغير (كُلٌّ) راځي. مثال د (كُلٌّ) او د (اَجْمَعُ) لكه (فَسَجَدَ الْمَلٰٓئِكَةُ كُلُّهُمْ اَجْمَعُوْنَ) سورة الحجر ايت ۳۰). او كه چيرې متبوع يعنې مؤكد مفرد مذكر ذوي العقل وي نو دا څلور الفاظ د (اَفْعَلُ) پر وزن راځي. او كه چيرې مؤكد مفرد مؤنث وي نو دا څلور الفاظ د (فَعْلَاءُ) پر وزن راځي مثلاً (جَمْعَاءُ. كَتْعَاءُ. بَتْعَاءُ. بَصْعَاءُ). او كه مؤكد جمع مذكر د ذوي العقول وي نو دا څلور د جمع سالم د نون سره راځي يعنې د (اَفْعَلُوْنَ) پر وزن راځي مثلاً (اَجْمَعُوْنَ. اَكْتَعُوْنَ) وغيره. او كه مؤكد مذكر غير ذوي العقل وي يا جمع مؤنث وي نو د (فُعَلٌ) پر وزن راځي مثلاً (جُمَعٌ. بُصَعٌ) وغيره. مثال د جمع مذكر (جَاءَنِيْ الْقَوْمُ كُلُّهُمْ اَجْمَعُوْنَ وَاَكْتَعُوْنَ وَاَبْتَعُوْنَ وَاَبْصَعُوْنَ).

﴿فائده (۱۵۰)﴾ لفظ د (كُلٌّ) په هر حالت كښې په خپل حال باندې وي، او د مؤكد سره د (كُلٌّ) مضاف اليه ضمير به موافق وي په افراد او تثنيه او جمع كښې، او په تانيث او په تذكير كښې لكه (قَرَأْتُ الْكِتَابَ كُلَّهُ وَالصَّحِيْفَةَ كُلَّهَا. طَلَّقْتُمُ النِّسَاءَ كُلَّهُنَّ. اِشْتَرَيْتُ الْعَبِيْدَ كُلَّهُمْ).

Scanned with CamScanner

﴿فائده(۱۵۱)﴾ که چيري (نَفْسٌ. عَيْنٌ) سره تاکيد راغلي وي دضمير متصل دپاره نو اول به تاکيد راوړل کيږي په ضمير منفصل سره، بيا به تاکيد راوړل کيږي په (نَفْسٌ. عَيْنٌ) سره لکه (قُمْ اَنْتَ نَفْسُكَ).

﴿دريم قسم: بدل﴾

بدل هغه تابع ته وائي: چه په نسبت يعني په کلام کښي مقصود وي او متبوع مقصود نه وي. اودبدل متبوع ته مبدل منه واي. اوبدل په څلور قسم دي (۱) بدل الکل (۲) بدل البعض (۳) بدل الاشتمال (۴) بدل الغلط.

﴿دبدل الکل تعريف﴾ هغه بدل ته وائي: چه دده او دمبدل منه مدلول يو وي يعني بدل الکل او مبدل منه په يو شي باندي دلالت کوي لکه (جَاءَنِيْ زَيْدٌ اَخُوْكَ) دلته زيد مبدل منه دي او (اَخُوْكَ) بدل الکل دي. اود (زَيْدٌ) اود (اَخُوْكَ) ددواړو مدلول يو دي.

﴿دبدل البعض تعريف﴾ هغه بدل ته وائي: چه دده مدلول دمبدل منه جزء وي لکه (ضُرِبَ زَيْدٌ رَاْسُهُ) دلته (زَيْدٌ) مبدل منه دي او (رَاْسُهُ) بدل البعض دي.

﴿دبدل الاشتمال تعريف﴾ هغه بدل ته وائي: چه دده مدلول دمبدل منه سره متعلق وي يعني دمبدل منه جزء نه وي بلکي دهغه سره متعلق وي لکه (سُلِبَ زَيْدٌ ثَوْبُهُ).

﴿دبدل الغلط تعريف﴾ هغه بدل ته وائي: چه دغلط لفظ ذکر کولو وروسته ذکر سي يعني غلط لفظ دخولې سه ووزي نودهغه دازاله دپاره بدل يعني صحيح لفظ راوړي بغير دحرف عاطف سه لکه (مَرَرْتُ بِرَجُلٍ حِمَارٍ).

﴿شپږ فوائد دبدل متعلق﴾

﴿اوله فائده(۱۵۲)﴾ په دويم قسم او په دريم قسم کښي دمبدل منه او دبدل په درميان کښي رابط ضروري دي لکه (ضُرِبَ زَيْدٌ رَاْسُهُ . سُلِبَ زَيْدٌ ثَوْبُهُ) دلته رابط ضمير دي چه مبدل منه ته راجع دي.

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

﴿دویمه فائده(۱۵۳)﴾ مبدل منه که چیري معرفه وي، او بدل نکره وي نو دبدل صفت راوړل ضروري دي لکه (بِالنَّاصِيَةِ . نَاصِيَةٍ كَاذِبَةٍ) الاية.سورة العلق). او مبدل منه او بدل دواړه معرفه راتلې سي لکه (ضَرَبْتُ زَيْدًا اَخَاكَ). او مبدل منه نکره او بدل معرفه راتلې سي لکه (جَاءَنِيْ رَجُلٌ غُلَامُ زَيْدٍ).

﴿دریمه فائده(۱۵۴)﴾ په بدل کښې داعراب نه علاوه په بل شي کښې مطابقت ضروري نه دي لیکن دبدل الکل په صورت کښې په افراد او تثنیه او جمع کښې او په تذکیر او په تانیث کښې هم مطابقت ضروري دي لیکن که مصدر مبدل منه وي نو بیا مطابقت ضروري نه دي لکه (اِنَّ لِلْمُتَّقِيْنَ مَفَازًا۝ حَدَآئِقَ وَاَعْنَابًا) سورة النبا) (حَدَآئِقَ) د (حَدِيْقَةٌ) جمع ده چه بدل دي د (مَفَازًا) سره. او دارنګه که چیري په بدل سره اراده دتفصیل وي نو بیا هم مطابقت ضروري نه دي لکه (جَاءَنِيْ ذُوْ رِجْلَيْنِ رِجْلٍ صَحِيْحَةٍ وَرِجْلٍ شَلَّةٍ). دلته مبدل منه تثنیه ده او بدل مفرد دي.

﴿څلورمه فائده(۱۵۵)﴾ که چیري مبدل منه متضمن وي داستفهام یا دشرط معنی لره نو په بدل کښې تفصیل ضروري دي په همزه استفهام سره یا په حرف شرط سره. داستفهام مثال لکه (مَاصَنَعْتَ اَخَيْرًا اَمْ شَرًّا). دشرط مثال (مَنْ يَّقُمْ اِنْ زَيْدٌ وَاِنْ عَمْرٌو اَقُمْ مَعَهُ).

﴿پنځمه فائده(۱۵٦)﴾ دبدل البعض سره علاوه په نورو کښې فعل د فعل سره بدل راتلې سي، او دارنګه جمله د جمله سره بدل راتلې سي. او د ابن جني او دزمخشري په نیز جمله دمفرد سره بدل راتلې سي لکه (عَرَفْتُ زَيْدًا اَبُوْ مَنْ هُوَ).

﴿شپږمه فائده(۱۵۷)﴾ بدل او مبدل منه دواړه ضمائر راتلې سي، او دواړه اسم ظاهر راتلې سي، او مختلف هم راتلې سي یعني یو اسم ظاهر وي او بل اسم ضمیر وي منګر اسم ظاهر دمخاطب او دمتکلم ضمیر سره بدل نه سي راتلای البته که چیري داحاطه او دشمولیت معنی ورکوي نو بیا اسم ظاهر دمتکلم او دمخاطب ضمیر سره

بدل راتلې سي لکه (تَكُوْنُ لَنَا عِيْدًا لِّاَوَّلِنَا وَاٰخِرِنَا) الاية (سورة المائدة ايت ۱۱۴) دلته (لِّاَوَّلِنَا وَاٰخِرِنَا) اسم ظاهر بدل دي د (لَنَا) دضمير سه.

﴿ څلورم قسم: عطف بحرف ﴾

هغه تابع ته وائي: چه د متبوع په نسبت کښي مقصود وي يعني متبوع او تابع دواړه په نسبت کښي مقصود وي، او تابع د حرف عطف وروسته راځي. دلته تابع ته معطوف وائي او متبوع ته معطوف عليه وائي. او حروف عطف لس دي چه بيان يي ان شاء الله تعالى په دريم فصل کښي راځي. مثال (جَاءَنِيْ زَيْدٌ وَخَالِدٌ) دلته (زَيْدٌ) متبوع او معطوف عليه دي. او واو حرف عطف دي، او (خَالِدٌ) تابع او معطوف دي. او عطف بحرف ته عطف نَسق هم وائي. او د نسق معني ده د ترتيب.

﴿فائده (۱۵۸)﴾ عطف د جمله په مفرد باندي، يا د مفرد په جمله باندي دا دواړه ناجائز دي. او عطف د جمله خبريه په انشائيه باندي، يا برعکس د دې په دې کښي اختلاف دي. د جمهور په نيز ناجائز دي او د بعضو په نيز جائز دي.

﴿ پنځم قسم: عطف بيان ﴾

عطف بيان هغه تابع غير صفت ته وائي: چه د متبوع وضاحت کوي يعني عطف بيان د متبوع وضاحت کوي بالذات. او صفت هم وضاحت کوي خو په داسي طريقه سره چه د متبوع په معني باندي دلالت کوي. مثلا يو سړې په نوم باندي مشهور وي او ذکر سي په کنيت سره نو د وضاحت د پاره نوم ذکر کړي لکه (اَقْسَمَ بِاللّٰهِ اَبُوْ حَفْصٍ عُمَرُ . يا جَاءَنِيْ زَيْدٌ اَبُوْ بَكْرٍ) دلته (اَبُوْ حَفْصٍ) متبوع او (عمر) يي تابع دي. او دلته تابع ته بيان او متبوع ته مُبَيَّنْ وائي.

﴿ پنځه فوائد د عطف بيان متعلق ﴾

﴿اوله فائده (۱۵۹)﴾ د مبين او د بيان د پاره لازمًا د معرفه شرط لګول صحيح نه دي بلکي نکره مخصصه هم راتلې سي لکه (اَوْ كَفَّارَةٌ طَعَامُ مَسٰكِيْنَ) الاية (سورة المائدة

ایت۹۵) دلته (طعام مسكين) غير معرفه بيان دي د (كفارة) سه.

﴿دويمه فائده(۱٦٠)﴾ عطف بيان اكثر معرفه وي ځكه چه نكره خو مجهول وي او په مجهول سره د مجهول وضاحت نه راځي. البته نكره مخصصه بيان راتلې سي لكه (اَوْ كَفَّارَةٌ طَعَامُ مَسٰكِيْنَ) الاية(سورة المائدة ايت۹۵) كښې مبين او بيان غير معرفه دي.

﴿دريمه فائده(۱٦۱)﴾ ضمير څرنګه چه موصوف او صفت نه سي راتلې، نو دارنګه مبين او بيان هم نه سي راتلې.

﴿څلورمه فائده(۱٦۲)﴾ په دې فائده كښې د صفت او د عطف بيان په درميان كښې فرق ذكر كيږي. فرق په دوو وجهو سره دي (۱) عطف بيان هميشه اسم جامد وي او صفت هميشه اسم مشتق يا مؤول وي (۲) عطف بيان د خپل مبين ذات ښكاره كوي او صفت هغه معني ښكاره كوي چه دده په موصوف كښې ده.

﴿پنځمه فائده(۱٦۳)﴾ دلته د بدل او د عطف بيان په درميان كښې فرق ذكر كيږي. فرق په يو څو وجوه دي (۱) عطف بيان ضمير او د ضمير تابع نه سي راتلې، په خلاف د بدل يعني ضمير بدل او مبدل منه راتلې سي (۲) عطف بيان موافق وي د خپل متبوع سره په تعريف او تنكير كښې په خلاف د بدل. (۳) عطف بيان جمله نه راځي په خلاف د بدل (۴) عطف بيان فعل او د فعل تابع نه سي راتلې په خلاف د بدل. وغيره.

﴿دويم فصل په بيان د منصرف او د غير منصرف﴾

د منصرف او غير منصرف بحث په شانزده اقسامو كښې تفصيلاً ذكر سو، دلته هغه خبري ذكر كيږي چه مخكي نه دي ذكر سوي.

عدل په دوه قسم دي (۱) عدل تحقيقي (۲) عدل تقديري.

﴿عدل تحقيقي﴾ هغه عدل ته وائي: چه د هغه معدول منه معلوم وي لكه (ثُلٰثُ. مَثْلَثُ) دا معدول دي د (ثَلَاثَةٌ ثَلَاثَةٌ) سه. او (مَثْنٰى) معدول دي د (اِثْنَيْنَ اِثْنَيْنَ) سه.

﴿عدل تقديري﴾ هغه عدل ته وائي: چه د هغه معدول منه محض فرضي وي يعني په كلام عرب كښې نحويانو ته يو كلمه غير منصرف حاصله سوې وه، او په هغه كښې په

ظاهر يو سبب وي د غير منصرف نو نحويانو دويم سبب په هغه کښي عدل تقديري فرض کړي، او معدول منه فرضي ورته مقرر کړي لکه (عُمَرُ. زُفَرُ). په دې کښي يو سبب دي چه هغه عَلَم دي، او بل سبب عدل تقديري فرض کړې سوي دي، او ددې معدول منه (عَامِرٌ. زَافِرٌ) فرض کړې سوي دي.

﴿فصل سوم در حروف غير عامله﴾

حروف غير عامله په شپاړس قسم دي (۱) حروف تنبيه (۲) حروف ايجاب (۳) حروف تفسير (۴) مصدريه (۵) حروف تحضيض (٦) حرف توقع (۷) حروف استفهام (۸) حرف ردع (۹) تنوين (۱۰) نون ثقيله وخفيفه (۱۱) حروف زيادت (۱۲) حروف شرط (۱۳) لولا (۱۴) لام تاكيد (۱۵) مابمعني مَادَام (۱٦) حروف عطف.

﴿اول قسم: حروف تنبيه﴾

هغه حروف ته وائي: چه د هغه په ذريعې د مخاطب غفلت ليري کيږي. او دا حروف په جمله اسميه باندي داخليږي. او حروف تنبيه درې دي (۱) اَلَا (۲) اَمَا (۳) هَا. مثال (اَلَابِذِكْرِاللهِ تَطْمَئِنُّ الْقُلُوْبُ) الاية (سورة الرعد ايت۲۸).

﴿دويم قسم: حروف ايجاب﴾

هغه حروف ته وائي: چه د مخکني کلام په ثبوت باندي دلالت کوي. او دا حروف د استفهام په جواب کښي ذکر کيږي. او حروف ايجاب شپږ دي (۱) نَعَمْ (۲) بَلٰى (۳) اَجَلْ (۴) اِيْ (۵) جَيْرِ (٦) اَنْ. ددې حروفو په استعمال کښي فرق سته.

﴿نَعَمْ﴾ د کلام سابق تصديق کوي. که کلام سابق مثبت وي او که منفي وي لکه (اَقَامَ زَيْدٌ؟ نَعَمْ. اى نَعَمْ قَامَ زَيْدٌ). (مَا قَامَ زَيْدٌ. نَعَمْ. اَىْ نَعَمْ مَا قَامَ زَيْدٌ).

﴿بَلٰى﴾ د سابق کلام منفي اثبات کوي لکه (اَلَسْتُ بِرَبِّكُمْ. قَالُوْا بَلٰى) الاية (سورة الاعراف ايت۱۷۲) اَىْ بَلٰى اَنْتَ رَبُّنَا).

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

﴿اَیْ﴾ د (نَعَمْ) پشان دي. صرف فرق دادي چه د (اَیْ) وروسته قسم ذکر کیږي لکه (اَقَامَ زَیْدٌ. اِیْ وَاللهِ). په قرآن کریم کښې راځي (وَيَسْتَنْۢبِـُٔوْنَكَ اَحَقٌّ هُوَ. قُلْ اِیْ وَرَبِّیْۤ اِنَّهٗ لَحَقٌّ) الاية (سورة يونس ايت ۵۳).

﴿اَجَلْ. جَيْرِ﴾ ددې دواړو حروفو استعمال بعينه د (نَعَمْ) په شان دي.

﴿اِنَّ﴾ ددې استعمال هم د (نَعَمْ) پشان دي. او دا لفظ قليل الاستعمال دي.

﴿دريم قسم: حروف تفسير﴾

هغه حروف ته وائي: چه د ماقبل جمله يا د ماقبل مفرد تفسير کوي. او دا دوه حروف دي (۱) اَیْ (۲) اَنْ. او (اَیْ) ډير استعماليږي په نسبت د (اَنْ). مثال (جَآءَنِیْ رَجُلٌ اَیْ زَيْدٌ). او د (اَنْ) تفسيريه دپاره دوه شرط دي (۱) ددوو جملو په درميان کښې به واقع وي (۲) دده سه مخکې داسې فعل به وي چه د قول معنې ته متضمن وي لکه (وَنَادَيْنٰهُ اَنْ يّٰۤاِبْرٰهِيْمُ) الاية (سورة الصافات ايت ۱۰۴) دلته (اَنْ) د (هٗ) ضمير تفسير کوي او (نَادَيْنَا) فعل د قول معنې ته متضمن دي. او د جمله مثال (مَا قُلْتُ لَهُمْ اِلَّا مَآ اَمَرْتَنِیْ بِهٖۤ اَنِ اعْبُدُوا اللهَ) الاية (سورة المائدة ايت ۱۱۷) دلته (اَنْ) د (اَمَرْتَنِیْ) تفسير کوي.

﴿څلورم قسم: حروف مصدريه﴾

هغه حروف ته وائي: چه خپل مابعد په تاويل د مصدر او د مفرد ګرځوي. او دا حروف درې دي (۱) مَا (۲) اَنْ (۳) اَنَّ. بيا (مَا) او (اَنْ) دواړه په فعل باندې داخليږي لکه (وَضَاقَتْ عَلَيْكُمُ الْاَرْضُ بِمَا رَحُبَتْ) الاية (سورة التوبة ايت ۲۵) اَیْ بِرَحْبِهَا).

د (اَنْ) مثال (اُرِيْدُ اَنْ تَقُوْمَ. اى قِيَامَكَ). او (اَنَّ) په جمله اسميه باندې داخليږي لکه (اِعْلَمُوْا اَنَّ الْجَنَّةَ تَحْتَ ظِلَالِ السُّيُوْفِ).

﴿اعتراض﴾ (اَنْ) عامله دي مضارع ته نصب ورکوي. او دارنګه (اَنَّ) هم عامله دي ناصب الاسم ورافع الخبر دي نو په څه وجه په حروف غير عامله کښې ذکر سوي دي.

﴿جواب﴾ اَن په دې ايت كريمه كښي (لِمَنۡ اَرَادَ اَنۡ يُّتِمُّ الرَّضَاعَةَ) الاية (سورة البقرة ايت ۲۳۳) په قرائت دابن محيص كښي فعل مرفوع ويل سوي دي نو (اَن) غير عامله دي. نو په دې وجه په حروف غير عامله كښي ذكر سوي دي. او (اَنّ) مشدده او مخففه من المثقله دواړه راځي، او دكوفيانو په نيز مخففه هيڅ كله عمل نه كوي نو په دې وجه په حروف غير عامله كښي ذكر سوي دي.

﴿پنځم قسم: حروف تحضيض﴾

تحضيض معني ده بر انگيخته كول او ترغيب وركول. او دا حروف څلور دي (۱) اَلَّا (۲) هَلَّا (۳) لَوۡلَا (۴) لَوۡمَا. دغه حروف كه چيري په فعل مضارع داخل سي نو دتحضيض دپاره دي او كه چيري په فعل ماضي داخل سي نو دتنديم او دتوبيخ يعني دپښيمانه كولو او د رټنه وركولو دپاره دي لكه (فَلَوۡلَا نَصَرَهُمُ الَّذِيۡنَ اتَّخَذُوۡا مِنۡ دُوۡنِ اللهِ قُرۡبَانًا) الاية (سورة الاحقاف ايت ۲۸) دلته دتوبيخ دپاره دي.

او دتحضيض مثال لكه (هَلَّا تَقُوۡمُ لِلۡجِهَادِ).

﴿شپږم قسم: حرف توقع﴾

دا صرف (قَدۡ) دي. او دغه لفظ كه چيري په ماضي باندي داخل سي نو دتحقيق مع التقريب دپاره راځي يعني زمانه ماضي حال ته نژدې كوي لكه (قَدۡ قَامَتِ الصَّلٰوةُ). او كه په فعل مضارع باندي داخل سي نو د تحقيق مع التقليل دپاره وي لكه (قَدۡ يَصۡدُقُ الۡكَذُوۡبُ) تحقيق كله كله دروغجن سړی رشتيا واي.

﴿فائده (۱۶۴)﴾ دفعل مضارع فاعل كه چيري اسم جلاله وي يا داسي ضمير وي چه اسم جلاله ته راجع وي او په دغه فعل مضارع باندي (قَدۡ) داخل وي نو دلته (قَدۡ) صرف دتحقيق دپاره دي، نه دتقليل دپاره لكه (قَدۡ يَعۡلَمُ اللهُ).

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

﴿اووم قسم: حروف استفهام﴾

هغه حروف ته وائي: چه د هغه په ذریعې دیو چا سه دیوشي په باره کښې پوښتنه کیږي. دغه حروف په جمله اسمیه او فعلیه دواړو باندي داخلیږي. او دا دري حروف دي (۱) همزه مفتوحه (۲) مَا (۳) هَلْ. او په دې درو کښې اصل همزه مفتوحه ده. مثالونه (أَزَيْدٌ قَائِمٌ . هَلْ زَيْدٌ جَالِسٌ . مَااسْمُكَ). حروف استفهام په صدر یعني په ابتداء د کلام کښې راځي.

﴿اتم قسم: حرف ردع﴾

حرف ردع (كَلَّا) دي. دا حرف د کلام سابق سه دبرائت داظهار دپاره راځي مثلاً یو سړې تا ته ووائي: (فُلَانٌ يَشْتِمُكَ) نو ته په جواب کښې ورته ووائي: چه(كَلَّا) یعني هیڅکله نه. او (كَلَّا) کله د (حَقًّا) په معني راځي لکه (كَلَّاسَوْفَ تَعْلَمُوْنَ) سورة التكاثر).

﴿نهم قسم: نون تنوین﴾

نون تنون هغه نون ساکن ته وائي: چه د کلمه په اخر کښې راځي او ددوو زورو، یا ددوو زیرو، یا د دوو پیښو په صورت لیکل کیږي. او تنوین په پنځه قسم دي (۱) تنوین تمکن (۲) تنوین تنکیر (۳) تنوین عوض (۴) تنوین مقابله (۵) تنوین ترنم.

﴿اول قسم: تنوین تمکن﴾ هغه تنوین ته وائي: چه د معرب کلمه په اخر کښې راځي ددې خبرې دښکاره کولو دپاره چه دا کلمه منصرف ده لکه (زَيْدٌ).

﴿دویم قسم: تنوین تنکیر﴾ هغه تنوین دي چه د اسم په نکارت یعني نکره باندي دلالت کوي. دا تنوین په اسم مبني باندي داخلیږي، او دا تنوین په اسماء افعال باندي سماعًا، او په هغه اسم چه په اخر کښې یي (ويه) وي قیاسًا داخلیږي لکه (صَهٍ) اى اَسْكُتْ سُكُوْتًا مَّافِىْ وَقْتٍ مَّا). او د(صَهِ) بغیر تنوین معني ده (اُسْكُتِ السُّكُوْتَ الْآنَ). (جَاءَنِىْ سِيْبَوَيْهِ وَسِيْبَوَيْهٍ اٰخَر).

﴿دریم قسم: تنوین عوض﴾ هغه تنوین ته وائي: چه دیوشي په عوض کښې

راغلي وي. تنون عوض په درې قسم دي(۱) دجمله عوض وي لكه (يَوْمَئِذٍ)اَیْ يَوْمَئِذْكَانَ كَذَا). (۲) داسم عوض وي لكه (كُلًّا اٰتَيْنَا) الاية(سورة الانبياء، ايت۷۹) اَیْ كُلَّ وَاحِدٍ اٰتَيْنَا). (۳) دحرف عوض وي لكه (جَوَارٍ) چه په اصل كښې (جَوَارِیٌ) وو.

﴿څلورم قسم: تنوين مقابله﴾ هغه تنوين ته وائي: چه دجمع مؤنث په اخر كښې راځي دجمع مذكر سالم دنون په مقابله كښې لكه (مُسْلِمَاتٌ) كښې تنوين د(مُسْلِمُوْنَ) دنون په مقابله كښې دي.

﴿پنځم قسم: تنوين ترنم﴾ هغه تنوين ته وائي: چه دشعر په اخر كښې راځي داواز دښائسته كولو دپاره لكه (اَقِلِّي اللَّوْمَ عَاذِلَ وَالْعِتَابَنْ + وَقُوْلِيْ اِنْ اَصَبْتُ لَقَدْ اَصَابَنْ).

﴿فائده(۱۶۵)﴾ تنوين ترنم داسم او دفعل او دحرف په اخر كښې راځي. او باقي څلور قسم داسم سره خاص دي يعني صرف په اسم باندي راځي.

﴿لسم قسم: نون تاكيد﴾

هغه نون ته وائي: چه دفعل مضارع او دامر او دنهي په اخر كښې راځي دتاكيد دپاره. او نون تاكيد په دوه قسم دي (۱) نون تاكيد ثقيله (۲) نون تاكيد خفيفه. نون تاكيد ثقيله مشدد وي لكه (اِضْرِبَنَّ). او نون تاكيد خفيفه مشدد نه وي لكه (اِضْرِبَنْ). او نون تاكيد ثقيله كښې تاكيد زيات وي دنون خفيفه سه.

﴿فائده(۱۶۶)﴾ نون خفيفه كله دتنون په صورت كښې ليكل كيږي لكه (لَنَسْفَعًا بِالنَّاصِيَةِ) الاية (سورة العلق) اى لَنَسْفَعَنْ).

﴿يولسم قسم: حروف زيادة﴾

هغه حروف ته وائي: كه چيري دكلام سه خارج سي نو په معني مقصودي كښې هيڅ خلل اونقصان نه راځي. ددې دا مطلب نه دي چه ددې حروفو هيڅ فائده نسته بلكي كله به دتزين دكلام دپاره وي، اوكله به درعايت سجع دپاره وي، او كله به دمبالغه

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

او دتاكيد دپاره وي وغيره. او حروف زائده اته دي (۱) اِنْ (۲) اَن (۳) مَا (۴) لا (۵) مِن (٦) كاف (۷) باء (۸) لام . اخري څلور حروف جاره دي. او ددې حروفو زائده دپاره يو څو مقامات دي دهريوي دپاره جلا جلا چه تفصيل يي دادي.

﴿اِنْ﴾ په درو ځايو كښې زائد راځي (۱) مَانافيه ورروسته لكه (مَااِنْ رَاَيْتُ زَيْدًا). (۲) دمَامصدريه ورروسته لكه (قُمْتُ مَااِنْ جَلَسَ الْاَمِيْرُ). (۳) د (لَمَّا) ورروسته لكه (لَمَّااِنْ قَامَ زَيْدٌ قُمْتُ).

﴿اَنْ﴾ داهم په درو ځايو كښې زائد راځي (۱) (لَمَّا) ورروسته لكه (فَلَمَّآاَنْ جَآءَ الْبَشِيْرُ) الاية (سورة يوسف ايت٩٦). (۲) دقسم او د (لَو) په درميان كښې لكه (وَاللّٰهِ اَنْ لَوْقَامَ زَيْدٌ قُمْتُ). (۳) د كاف تشبيه ورروسته لكه (كَاَنْ ظَبْيَةً اَىْ كَظَبْيَةٍ).

﴿مَا﴾ په نهه ځايو كښې زائد راځي (۱) د (اِذْ) ورروسته لكه (اِذْ مَاتَخْرُجْ اَخْرُجْ). (۲) د (مَتٰى) ورروسته لكه (مَتٰمَا تَذْهَبْ اَذْهَبْ). (۳) د (اَىٌّ) ورروسته لكه (اَيًّامَّا تَدْعُوْا فَلَهُ الْاَسْمَآءُ) الاية (سورة الاسراء ايت١١٠). (۴) د (اَيْنَ) ورروسته لكه (اَيْنَمَا تَجْلِسْ اَجْلِسْ). (۵) د (اِنْ) ورروسته لكه (فَاِمَّا تَرَيِنَّ مِنَ الْبَشَرِ) الاية (سورة مريم ايت٢٦) اَىْ اِنْ مَّا تَرَيِنَّ. (٦) باء جاره ورروسته لكه (فَبِمَارَحْمَةٍ مِّنَ اللّٰهِ) الاية (سورة ال عمران ايت١٥٩). (۷) د (مِنْ) جاره ورروسته لكه (مِمَّاخَطِيْٓئٰتِهِمْ اُغْرِقُوْا) الاية (سورة نوح ايت٢٥). (۸) د (عَنْ) جاره ورروسته لكه (عَمَّا قَلِيْلٍ لَّيُصْبِحُنَّ نٰدِمِيْنَ) الاية (سورة المؤمنون ايت ۴٠). (۹) دمضاف ورروسته لكه (اَيَّمَا الْاَجَلَيْنِ قَضَيْتُ) الاية (سورة القصص ايت٢٨).

﴿لَا﴾ په درو ځايو كښې زائده راځي (۱) د واو عاطفه ورروسته په شرط ددې چه د (لَا) نه به مخكي نفي وي اګرچه معنًانفي وي لكه (مَاجَاءَنِىْ زَيْدٌ وَلَاعَمْرٌو). (غَيْرِ الْمَغْضُوْبِ عَلَيْهِمْ وَلَاالضَّآلِّيْنَ) دلته مخكي لفظ دغير واقع دي. (۲) اَنْ مصدريه سره

وروسته لکه (مَا مَنَعَكَ اَلَّاتَسْجُدَ) الاية (سورة الاعراف ایت۱۲) ای اَن لَاتَسْجُدَ. (۳) د قسم سه مخکي لکه (لَآاُقْسِمُ بِهٰذَا الْبَلَدِ) سورة البلد).

﴿مِنْ﴾ صرف د مامشبه بلیس په اسم باندي راځي په شرط ددې چه مامشبه بلیس خبر به ظرف مقدم وي لکه (مَالَكُمْ مِنْ دُوْنِهٖ مِنْ وَّلِيٍّ وَّلَاشَفِيْعٍ) الاية (سورة السجدة ایت۴). دبصریینو په نیز دمِن زائده دپاره درې شرطونه دي (۱) په کلام غیر موجب کښې به وي یعني دنفي یا دنهي یا داستفهام ماتحت او وروسته به وي (۲) دمِن مدخول نکره به وي (۳) دمِن مدخول فاعل یا مفعول یامبتداء وي. او دکو فیین او داخفش په نیز د(مِنْ) زائده دپاره هیڅ شرط نسته، او دوي استدلال کوي ددې ایت کریمه سه (لِیَغْفِرَلَكُمْ مِنْ ذُنُوْبِكُمْ) الاية (سورة ابراهیم ایت ۱۰) دلته (مِنْ) زائده دي، او په کلام غیر موجب کښې نه دي اونه دمِن مدخول نکره ده. اوسیبویه وائي: چه (مِنْ ذُنُوْبِكُمْ) کښې مِن تبعیضیه دي.

﴿کاف﴾ ددې دپاره مقرر ځاي نسته مثال لکه (لَيْسَ كَمِثْلِهٖ) الاية (سورة الشوری ایت۱۱).

﴿باء﴾ جاره په درو ځایو کښې زائده راځي (۱) د مامشبه بلیس په خبر باندي لکه (وَمَاهُمْ بِخَارِجِيْنَ مِنَ النَّارِ) الاية (سورة البقرة ایت۱۶۷). (۲) دلیس په خبر باندي لکه (لَسْتَ عَلَيْهِمْ بِمُصَيْطِرٍ) سورة الغاشية). (۳) دعَلِمَ ماده سه وروسته راځي لکه (وَاللهُ عَلِيْمٌ بِذَاتِ الصُّدُوْرِ) الاية (سورة التغابن ایت۴).

﴿لام﴾ ددې دپاره خاص ځاي نسته مثال (رَدِفَ لَكُمْ) الاية (سورة النمل ایت۷۲) اَیْ رَدِفَكُمْ)

﴿دولسم قسم: حروف شرط (۱) اَمَّا (۲) لَوْ﴾

﴿پنځه فوائد د اَمَّا متعلق﴾

﴿اوله فائده (۱۶۷)﴾ (اَمَّا) د (مَهْمَا) اسم شرط او د (مَهْمَا) د فعل شرط ددواړو په

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

ځاي باندي راځي لکه (اَمَّا زَيْدٌ فَذَاهِبٌ) چه په اصل کښي (مَهْمَا يَكُنْ مِنْ شَيْءٍ فَزَيْدٌ ذَاهِبٌ) وو. دلته (مَهْمَا) اسم شرط دي، او (يَكُنْ من شَيْءٍ) فعل شرط دي. او (فَزَيْدٌ ذَاهِبٌ) جواب شرط دي، نو (مَهْمَا) دخپل فعل شرط سره حذف سو، او (اَمَّا) دهغه په ځاي باندي راوړل سو نو (اَمَّا فَزَيْدٌ ذَاهِبٌ) سو. چونکي (اَمَّا) حرف شرط او فاء جزائيه متصل سول، او دا په کلام عرب کښي مستکره دي نو فاء په خبر باندي داخل سوه نو (اَمَّا زَيْدٌ فَذَاهِبٌ) سو. او (اَمَّا) حرف شرط دي نو په جزاء باندي فاء راوړل لازمي دي. او د فاء جزائيه او د (اَمَّا) په درميان کښي فاصله راوړل ضروري دي.

﴿دويمه فائده(۱۶۸)﴾ د (اَمَّا) فاء جزائيه کله کله حذف کېږي. دا په هغه صورت کښي چه د قول د ماده سه په يو مشتق باندي داخله وي او دا مشتق حذف سوي وي نو فاء هم ورسره حذف کيږي لکه (فَاَمَّا الَّذِيْنَ اسْوَدَّتْ وُجُوْهُهُمْ اَكَفَرْتُمْ) الاية (سورة ال عمران ايت ۱۰۴) اَيْ فَاَمَّا الَّذِيْنَ اسْوَدَّتْ وُجُوْهُهُمْ فَيُقَالُ لَهُمْ اَكَفَرْتُمْ). او د ضرورت شعري دوجي هم فاء جزائيه حذف کيږي. او په نثر کښ حذف کول يي نادر دي.

﴿دريمه فائده(۱۶۹)﴾ د (اَمَّا) او د فاء جزائيه په درميان کښي فاصله ضروري ده. او دا فاصله په پنځو شيانو راځي (۱) مبتداء لکه (اَمَّا زَيْدٌ فَمُنْطَلِقٌ). (۲) خبر لکه (اَمَّا فِيْ الدَّارِ فَزَيْدٌ). (۳) جمله شرطيه لکه (فَاَمَّا اِنْ كَانَ مِنَ الْمُقَرَّبِيْنَ○ فَرَوْحٌ وَّرَيْحَانٌ) الاية (سورة الواقعة ايت ۶۹) دلته د فاء مدخول د (اَمَّا) جواب دي. او د (اِنْ) حرف شرط جواب محذوف دي (۴) منصوب على شريطة التفسير لکه (اَمَّا زَيْدًا فَاَضْرِبْهُ). (۵) منصوب وي د مابعد دوجي لکه (فَاَمَّا الْيَتِيْمَ فَلَا تَقْهَرْ) سورة الضحى) دلته (اَلْيَتِيْمَ) منصوب دي د مابعد فعل (فَلَا تَقْهَرْ) دوجي.

﴿څلورمه فائده(۱۷۰)﴾ (اَمَّا) په کلام کښي د درو مقاصدو لپاره راځي (۱) د ماقبل

Scanned with CamScanner

كلام د اجمال د تفصيل او د تاكيد د پاره راځي لكه (فَمِنْهُمْ شَقِيٌّ وَّسَعِيْدٌ) الاية (فَاَمَّا الَّذِيْنَ شَقُوْا فَفِي النَّارِ) الاية (وَاَمَّا الَّذِيْنَ سُعِدُوْا فَفِي الْجَنَّةِ) الاية (سورة هود ايت ۱۰۵،۱۰۶،۱۰۸). (۲) فصل خطاب او د تاكيد د پاره يعني خطيب د حمد و ثناء او د مضمون په درميان كښ د فصل د پاره (اَمَّا) راوړي لكه (اَمَّابَعْدُ). (۳) صرف د تاكيد د پاره لكه (اَمَّا زَيْدٌ فَذَاهِبٌ).

﴿پنځمه فائده (۱۷۱)﴾ د (اَمَّا) شرطيه او د (اَمَّا) ترديديه په كلام كښي د پيژندلو علامه داده: كه چيري د (اَمَّا) وروسته په كلام كښي فاء راغلې وه نو دا بيا (اَمَّا) شرطيه دي. او كه چيري په كلام كښي د (اَمَّا) وروسته بل (اَمَّا) يا (اَوْ) راغلي نو پوسه چه دا (اِمَّا) ترديديه دي.

﴿دويم حرف شرط: لو﴾ (لَوْ) د انتفاء ثاني د پاره راځي په سبب د انتفاء اول يعني د (لَوْ) وروسته دوې جملې راځي، اوله جمله شرطيه، دويمه جمله جزائيه ده، نو (لَوْ) راځي د پاره د انتفاء د جزاء په سبب د انتفاء د شرط يعني شرط منتفي دي نو په دې وجه جزاء منتفي ده لكه (لَوْكَانَ فِيْهِمَآ اٰلِهَةٌ اِلَّا اللّٰهُ لَفَسَدَتَا) الاية (سورة الانبياء ايت ۲۲).

﴿فائده (۱۷۲)﴾ د (لَوْ) او د حرف شرط وروسته فعلِ شرط اكثر حذف كيږي، خصوصًا افعال ناقصه.

﴿فائده (۱۷۳)﴾ (لَوْ) وصليه هم راځي، او د (اِنْ) وصليه پشان دي په عمل كولو كښ، او په معنى كښي وغيره. او د (لَوْ) وصليه جزاء هميشه حذف وي. مثال (يَطْهُرُ الْخُفُّ وَنَحْوُهُ بِالدَّلْكِ مِنَ نَّجَاسَةٍ. لَهَا جِرْمٌ وَلَوْ كَانَتْ رَطْبَةً).

﴿فائده (۱۷۴)﴾ (لَوْ) مصدريه هم راځي، او دا اكثر د (وَدَّ) ماده سره وروسته راځي لكه (وَدَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَوْ تَغْفُلُوْنَ عَنْ اَسْلِحَتِكُمْ وَاَمْتِعَتِكُمْ) الاية (سورة النساء ايت ۱۰۲).

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

﴿ديارلسم قسم: حرف لَوْلَا﴾

(لولا) راځي دپاره دانتفاء ثاني په سبب دوجود داول. او (لولا) هم په دوو جملو باندي داخليږي. اول شرط او دويم جزاء. دلته جزاء منتفي وي په دې وجه چه شرط موجود وي لکه (لَوْلَا الْمُسْلِمُ لَهَلَكَ الْكَافِرُ).

﴿فائده(۱۷۵)﴾ د (لولا) شرط جمله اسميه وي او په دې جمله اسميه کښي مسند يعني خبر حذف وي. او د (لولا) جزاء جمله فعليه خبريه ماضيه وي حقيقتا يا حکما مثال (لَوْلَا الْمُسْلِمُ لَهَلَكَ الْكَافِرُ) اَیْ لَوْلَا الْمُسْلِمُ مَوْجُوْدٌ لَهَلَكَ الْكَافِرُ).

﴿تنبيه﴾ ای مسلمانانو ورنړو ؛ شيعګان داسلام په پوښ کښ داسلام ډير غټ دښمنان دي او ديهوديانو اولاد دي، او دارنګه دصحابه کرامو (رضی الله عنهم اجمين واهلک الله اعدائهم) ډير غټ دښمنان دي، چونکي دعلم نحو پر کتابو ددوي غلبه راغلې ده نو دمضروبيت په ځاي کښ دعمر رضی الله عنه نوم ذکر کوي، او دارنګه دلته داسي مثال ذکر کوي (لَوْلَا عَلِيٌّ لَهَلَكَ عُمَرُ)، نو په دې مثال کښ دعلی رضی الله عنه فضيلت راغلي په عمر رضی الله عنه باندي، او دا ښکاره دشيعګانو اثر دي. لهذا دعلماؤ کرامو او دطلبه کرامو سره دا هيله لرم: چه داسي مثالونه په درسو او په کتابو کښ مه ذکر کوي بلکي نور مثالونه ذکر کوي.

﴿څورلسم قسم: لام مفتوحه﴾

لام مفتوحه په درې قسم دي: (۱) ابتدائيه (۲) جوابيه (۳) تاکيديه.

﴿لام مفتوحه ابتدائيه﴾ دا دجمله دمضمون دتاکيد دپاره راځي. که چيري لام ابتدائيه په فعل مضارع داخل سي نو فعل مضارع دحال سره خاص کوي. او لام ابتدائيه په دوو ځايو کښي راځي (۱) په مبتداء باندي لکه (لَاَنْتُمْ اَشَدُّ رَهْبَةً) الاية (سورة الحشر ۱۳). (۲) د (اِنَّ) په خبر باندي لکه (اِنَّ رَبِّيْ لَسَمِيْعُ الدُّعَاءِ) الاية (سورة ابراهيم ۳۹)

﴿لام مفتوحه جوابيه﴾ دا د (لو) يا د (لولا) په جواب کښ راځي ، يا دقسم مذکور يا مقدر په جواب کښي راځي لکه (لَقَدْ مَنَّ اللهُ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ) الاية (سورة ال عمران ۱٦۴).

﴿لام مفتوحه تاکیدیه﴾ دا صرف د تاکید د پاره راځي لکه (وَلَسَوْفَ يُعْطِيكَ) الاية.

﴿پنځلسم قسم: مابمعني مادام﴾

مَابمعني مَادَامَ ته مَا مصدریه حینیه واي، یا مصدریه ظرفیه واي. او دا مَا دمَا مصدریه سره جلا ده ځکه چه ما مصدریه صرف مصدریه وي، او دغه مَا مصدریه او حینیه یا ظرفیه هم وي لکه (اَقُوْمُ مَاجَلَسَ الْاَمِيْرُ. اَيْ اَقُوْمُ وَقْتَ دَوَامِ جُلُوْسِ الْاَمِيْرِ).

﴿شپاړسم قسم: حروف عطف﴾

حروف عطف لس دي (۱) واو (۲) فاء (۳) ثُمَّ (۴) حَتّٰى (۵) اِمَّا (۶) اَوْ (۷) اَمْ (۸) لَا (۹) بَلْ (۱۰) لٰكِنْ. حروف عطف خپل مابعد د ماقبل سره صرف لفظي حکم کښې یا لفظي او معنوي دواړو حکم کښې جمع کوي. او د حرف عطف ماقبل ته معطوف علیه واي. او د حرف عطف مابعد ته معطوف واي.

﴿اته فوائد د حروف عطف متعلق﴾

﴿اوله فائده (۱۷۶)﴾ (واو) راځي د مطلق جمع د پاره. (فاء) راځي د جمع او د ترتیب او د تعقیب د پاره. (ثُمَّ) راځي د جمع مع ترتیب وتراخي د پاره. (حَتّٰى) راځي د جمع او د انتهاء د پاره. (اَمْ) په دوه قسم دي (۱) ام متصله (۲) ام منقطعه. د ام متصله نه مخکي به همزه تسویه وي یعني د مساوات معني به ورکوي او یا ماقبل به بل (ام) وي چه د طلب د تعیین د پاره وي. او د دې نه علاوه ام منقطعه دي. اَمْ منقطعه د جمله سره خاص دي او په معني د (بَلْ) سره دي. اَمْ منقطعه غیر عاطفه دي. (اَوْ. اِمَّا) دواړه راځي د احد الامرین د پاره بنا بر تخییر یا اباحتًا یا شک یا تنویع یا تقسیم وغیره. (بَلْ) راځي د ماقبل د نقیض د اثبات د پاره په مابعد د بَل کښې. (لَا) د نفي د پاره راځي یعني د دې د پاره چه کوم حکم د معطوف علیه د پاره دي هغه د معطوف د پاره نه دي لکه (جَاءَنِيْ زَيْدٌ لَا عَمْرٌو). (لٰكِنْ) د استدراک او د عطف د پاره راځي.

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

﴿دويمه فائده(۱۷۷)﴾ ضروري ده چه د لکن ما بعد به د ماقبل سره مخالف وي. او دده عطف هميشه د ما قبل په نفي يا نهي باندي وي. (لکن) که چيري په جمله باندي داخل سوي وو نو په دې صورت کښي صرف د استدراک فائده ورکوي او د ابتداء د پاره به وي، او په دې صورت کښي د (لکن) سره د واو عاطفه استعمال هم جائز دي لکه (وَلٰكِنْ كَانُوْا هُمُ الظّٰلِمِيْنَ) الاية(سورة الزخرف ۷٦). او که چيري (لکن) په مفرد باندي داخل وو نو بيا عاطفه دي خو په دوو شرطو سره (۱) د لٰكِنْ سره مخکي به نفي يا نهي وي. لکه (مَاقَامَ زَيْدٌ لٰكِنْ عَمْرٌو). دنهي مثال (لَا يَقُمْ زَيْدٌ لٰكِنْ عَمْرٌو). (۲) د لٰكِنْ سره مخکي به واو عاطفه نه وي. که چيري واو عاطفه وو نو (لکن) به عاطفه نه شمارل کيږي.

﴿دريمه فائده(۱۷۸)﴾ حروف عاطفه په درې قسم دي: (اول قسم) هغه حروف دي چه لفظي او معنوي د دواړو مطابقت فائده کوي. دا څلور حروف دي (۱) واو (۲) فاء (۳) ثُمَّ (۴) حَتّٰى. (دويم قسم) هغه حروف دي چه صرف لفظي عطف د پاره دي، او د معنوي د پاره نه دي، دا ځکه چه ماقبل کلام کښي يي نفي وي او په مابعد کښي يي اثبات وي. دا حروف درې دي (۱) بَلْ (۲) لٰكِنْ (۳) لَا. (دريم قسم) هغه حروف دي چه کله د لفظي عطف د پاره وي او کله د لفظي او د معنوي دواړو د پاره وي. دا حروف درې دي: (۱) اَمْ (۲) اَوْ (۳) اِمَّا.

﴿څلورمه فائده(۱۷۹)﴾ د (بَلْ) وروسته که چيري مفرد وو نو (بل) د اضراب يعني د اعتراض د پاره دي لکه (جَاءَنِيْ زَيْدٌ بَلْ عَمْرٌو). او که چيري د (بل) وروسته جمله وه نو د انتقال د پاره دي يعني د دې د پاره چه مابعد جمله اهم ده او حکم مابعد ته نقل دي لکه (قَالَ بَعْضُهُمْ: اِنَّهٗ لَا يُفِيْدُهٗ بَلِ الْاِثْبَاتُ بَاقٍ عَلٰى حَالِهٖ).

﴿پنځمه فائده(۱۸۰)﴾ د جمله انشائيه عطف په جمله خبريه باندي يا د دې برعکس. په دې کښي د نحاتو اختلاف دي. جمهور نحاتو وائي: چه ناجائز دي. او بعض

Scanned with CamScanner

وائي: چه جائزدي. او دجمله اسميه عطف په جمله فعليه باندي ياددې برعكس. په دې كښې دنحاتو اختلاف دي. دبعضو په نيز مطلقًا جائزدي. او دبعضو په نيز مطلقًا ناجائز. او دبعضو په نيز صرف په واو عاطفه سره جائز دي.

﴿بنيېړمه فائده (١٨١)﴾ لفظ د (ثَمَّ) ظرفيه مكانيه دي، او داسم اشاره معني ته متضمن دي لكه (مُطَاعٍ ثَمَّ اَمِيْنٍ) (سورة التكوير ايت٢١).

﴿اوومه فائده (١٨٢)﴾ اَمْ كله زائده راځي لكه (اَمْ اَنَا خَيْرٌ مِّنْ هٰذَا) الاية (زخرف ايت٥٢).

﴿اتمه فائده (١٨٣)﴾ دظرف زمان عطف په ظرف مكان باندي جائز دي.

ختم سو بعون الله تعالي وبتو فيقه (يوم الاحد (٢١) ذي الحجه سنه ١٤٣١ هجري).

﴿بحث د مستثني﴾

تعريف دمستثني: هغه لفظ ته وائي: چه د (اِلَّا) يا د (اِلَّا) داخواتو وروسته واقع وي ددې خبري دښكاره كولو دپاره چه د (اِلَّا) مابعد دماقبل په نسبت كښي شريك او داخل نه دي. د (اِلَّا) ماقبل ته مستثني منه واي، او د (اِلَّا) مابعد ته مستثني واي لكه (جَاءَنِيْ الْقَوْمُ اِلَّا زَيْدًا) دلته (اَلْقَوْمُ) مستثني منه دي او (زَيْدًا) مستثني ده. اود مجيئت نسبت (قوم) ته سوي دي او (زيد) په دا نسبت كښي شريك نه دي.

﴿داستثناء الفاظ﴾

داستثناء الفاظ په درې قسم دي (١) اسماء دي لكه (غَيْرَ. سِوٰى. سُوٰى. سَوَاءٌ. سِوَاءٌ).
(٢) افعال دي لكه (لَا يَكُوْنُ. لَيْسَ. مَاخَلَا. مَاعَدَا). (٣) حروف او افعال دواړه دي. يعني په دې كښي اختلاف دي بعض علماء يي په افعالو كښي شماري او بعض يي په حروف كښي شماري لكه (حَاشَا. خَلَا. عَدَا).

او مستثني په دوه قسم ده (١) مستثني متصل (٢) مستثني منقطع.

﴿دمستثني متصل تعريف﴾ هغه مستثني ته وائي: چه د (اِلَّا) ياد (اِلَّا) داخوات

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

يعني داستثناء د الفاظو په ذريعه دمتعدد مستثني منه دحکم سه خارج سوي وي لکه (جَاءَنِي الْقَوْمُ اِلَّا زَيْدًا).

﴿دمستثني منقطع تعريف﴾ هغه مستثني ته وائي: چه د (اِلَّا) او دهغه داخوات وروسته واقع وي او دمستثني منه سه خارج سوي نه وي ځکه چه په مستثني منه کښي داخل نه وي لکه (جَاءَنِي الْقَوْمُ اِلَّا حِمَارًا).

دمستثني منه په اعتبار سره مستثني په دوه قسم ده: (۱) مستثني مفرغ: هغه مستثني ته وائي: چه مستثني منه يي په لفظو کښي ذکر نه وي. (۲) مستثني غير مفرغ: هغه مستثني منه ته وائي: چه مستثني منه يي په لفظو کښي ذکر وي.

په کوم کلام کښي چه مستثني موجود وي هغه کلام په دوه قسم دي:

(۱) کلام موجب: هغه کلام ته وائي: چه په هغه کښي نفي يا نهي يا استفهام نه وي لکه (جَاءَنِي الْقَوْمُ اِلَّا زَيْدًا).

(۲) کلام غير موجب: هغه کلام ته وائي: چه په هغه کښي نفي يا نهي يا استفهام وي لکه (مَاجَاءَنِي اِلَّا زَيْدٌ).

﴿دمستثني اعراب﴾

مستثني په اعتبار د اعراب سره په څلور قسم دي.

﴿اول قسم﴾ دادي چه مستثني منصوب ويل واجب دي. او ددي پنځه صورتونه دي (۱) مستثني د (اِلَّا) وروسته او په کلام موجب کښي واقع وي لکه (جَاءَنِي الْقَوْمُ اِلَّازَيْدًا). (۲) په کلام غير موجب کښي واقع وي خو مستثني به په مستثني منه باندي مخکي وي لکه (مَاجَاءَنِي اِلَّا زَيْدًا اَحَدٌ).

(۳) مستثني منقطع هميشه منصوب ويل واجب دي لکه (جَاءَنِي الْقَوْمُ اِلَّا حِمَارًا).

(۴) که چيري مستثني د (خَلَاء) يا د (عَدَا) وروسته واقع وي نو داکثرعلماؤ په نيز مستثني منصوب ويل واجب دي لکه (جَاءَنِي الْقَوْمُ خَلَا زَيْدًا، وعَدَا زَيْدًا). اودبعض

علماؤ په نيز د (خلا) او د (عدا) وروسته مجرور ويل واجب دي ځکه چه دا دوي په نيز دا حروف جاره دي لکه (جَاءَنِي الْقَوْمُ خَلَا زَيْدٍ، وعَدَا زَيْدٍ).

(۵) د (مَاخَلَا) او د (مَاعَدَا) او د (لَيْسَ) او د (لَايَكُوْنُ) وروسته مستثني هميشه منصوب ويل واجب دي لکه (جَاءَنِي الْقَوْمُ مَاخَلَا زَيْدًا، ومَاعَدَا زَيْدًا).

﴿فائده (۱۸۴)﴾ د مستثني منقطع په صورت کښي (اِلَّا) په معني د (لٰكِن) سره دي دامام سيبويه په نيز.

﴿فائده (۱۸۵)﴾ د (مَاخَلَا) او د (مَاعَدَا) وروسته مستثني منصوب وي بنا بر مفعوليت ځکه چه (مَاخَلَا. مَاعَدَا) فعل دي. او د (لَيْسَ. لَايَكُوْنُ) وروسته مستثني منصوب وي بنا بر خبريت ځکه چه دا افعال ناقصه دي.

﴿دويم قسم﴾ مستثني دوه قسمه ويل جائز دي (۱) منصوب بنابر استثناء (۲) د مستثني منه سه مستثني بدل وي لهذا د مستثني منه سه د بدل اعراب يي دي او ددې دپاره درې شرطونه دي (۱) مستثني متصل د (اِلَّا) وروسته واقع وي. (۲) مستثني غير مفرغ وي يعني مستثني منه مذكور وي (۳) په كلام غير موجب كښي واقع وي مثال (مَاجَاءَنِيْ اَحَدٌ اِلَّا زَيْدًا) يا (مَاجَاءَنِيْ اَحَدٌ اِلَّا زَيْدٌ).

﴿دريم قسم﴾ مستثني د عامل موافق اعراب به وي يعني كه عامل رافع وو نو مستثني به مرفوع وي او كه عامل ناصب وو نو مستثني به منصوب وي او كه عامل جار وو نو مستثني به مجرور وي. ددې دپاره درې شرطونه دي: (۱) مستثني د (اِلَّا) وروسته واقع وي (۲) مستثني مفرغ وي يعني مستثني منه مذكور نه وي (۳) مستثني په كلام غير موجب كښي واقع وي. مثالونه (مَاجَاءَنِيْ اِلَّا زَيْدٌ. مَارَأَيْتُ اِلَّازَيْدًا. مَامَرَرْتُ اِلَّا بِزَيْدٍ).

﴿فائده (۱۸۶)﴾ په مخكښي دريم قسم كښي چه د كلام غير موجب شرط لګيدلي دي دا په هغه صورت كښي ضروري دي چه مستثني منه عام رايستل صحيح نه وي لکه

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

په حديث شريف كښي راځي (لَا تُشَدُّ الرِّحَالُ اِلَّا اِلٰى ثَلٰثَةِ مَسَاجِدٍ) په دې حديث شريف كښي مستثني منه خاص رايستل كيږي ځكه چه مستثني منه عام را ويستلي سي نو بيا معنى غلطيږي. او خاص مستثني منه دادي په دې حديث كښي (اِلٰى مَسْجِدٍ مِنَ الْمَسَاجِدِ). او كه چيري عام مستثني منه را يستل كيږي نو د كلام غير موجب شرط ضروري نه دي لكه (وَمَنْ يُّوَلِّهِمْ يَوْمَئِذٍ دُبُرَهٗٓ اِلَّا مُتَحَرِّفًا لِّقِتَالٍ) الاية (سورة الانفال ايت١٦) دلته (اِلَّا) غير عامله دي، او (مُتَحَرِّفًا) حال دي د (يُوَلِّهِمْ) د فاعل د (هُوَ) ضمير سه، او مستثني دلته مفرغ ده. او مستثني دلته عام رايستل كيږي چه داده (فِيْ حَالٍ مِّنَ الْاَحْوَالِ).

﴿څلورم قسم﴾ مستثني مجرور ويل واجب دي په شرط د دې چه د (غَيْرِ) يا (سِوٰى) يا (سَوَاء) وروسته واقع وي لكه (جَاءَنِي الْقَوْمُ غَيْرَ زَيْدٍ. وسِوٰى زَيْدٍ. وسَوَاءَ زَيْدٍ).
او داكثر علماؤ په نيز د (حَاشَا) وروسته هم مستثني مجرور ويل واجب دي ځكه چه (حَاشَا) اكثر جار استعماليږي لكه (جَاءَنِي الْقَوْمُ حَاشَا زَيْدٍ). چونكي (حاشا) فعل متعدي هم مستعمل دي لهذا د بعضو علماؤ په نيز د (حاشا) وروسته مستثني منصوب ويل جائز دي بنابر مفعوليت لكه (جَاءَنِي الْقَوْمُ حَاشَا زَيْدًا). او په دې صورت كښي (حاشا) حال دي د (اَلْقَوْمُ) سه نو په دې وجه محلا منصوب دي.
﴿بدانكه﴾ لفظ د (غَيْر) كله چه د استثناء دپاره مستعمل وي نو په ټولو حالتو كښي د (غير) اعراب د مستثنى د (اِلَّا) والا اعراب دي، اګرچه د (غَيْر) مدخول مجرور وي. ګويا (غَيْر) د (اِلَّا) وروسته مستثني ده نو دهغه د مستثنى اعراب قبولوي.
حاصل دا كه چيري د (غير) په ځاي باندي (اِلَّا) راوړل سي نو چه كوم اعراب د (اِلَّا) مابعد په مستثني باندي وي هغه اعراب به د (غَيْر) وي لكه (جَاءَنِي الْقَوْمُ غَيْرَ زَيْدٍ

غَيْرَ حِمَارٍ. وَمَاجَاءَنِيْ غَيْرَ زَيْدٍ القَوْمُ. وَمَاجَاءَنِي اَحَدٌ غَيْرَ زَيْدٍ وَغَيْرُ زَيْدٍ. وَمَاجَاءَنِي غَيْرُ زَيْدٍ. وَمَارَأَيْتُ غَيْرَ زَيْدٍ. وَمَا مَرَرْتُ بِغَيْرِ).

﴿بدانكه﴾ د (غَيْر) وضع د صفت دپاره سوې ده ليكن كله كله د استثناء دپاره استعمال سي. او د (اِلَّا) وضع د استثناء دپاره سوې ده ليكن كله كله د صفت دپاره استعمال سي لكه (لَوْكَانَ فِيهِمَا آلِهَةٌ اِلَّا اللهُ لَفَسَدَتَا) الاية (سورة الانبياء، ايت ۲۲) يعني (غَيْرَ اللهِ). او دارنګه (لَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ) اى غَيْرُ اللهِ).

﴿فائده (۱۸۷)﴾ د (غَيْر) په اضافت سره تعريف حاصل سوي وي او كه نه وي په هر صورت كښي د (غير) په اضافت سره په (غَيْر) كښي تخصيص راځي.

الحمد لله تعالي دنحومير رساله ختم سوه په ليلة الاثنين كښي او په تاريخ (۲۱) ذي الحجه. سنه ۱۴۳۱ هجري. بمطابق /۲۸/ ۱۱/ ۲۰۱۰ عسوي.

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

﴿الفوائد الهاديه في القواعد النحويه﴾

دالفوائد الهاديه سره مخکي په المنهج اليسير کښي تقريبا (۱۸۷) فوائد ذکر سولي. اوس په الفوائد الهاديه کښي تقريبا (۸۲) فوائد ذکر کيږي ان شاء الله.

﴿د (كُلٌّ) متعلق فوئد﴾

﴿فائده (۱۸۸)﴾ لفظ د (كُلٌّ) په درو اعتبارو سره تقسيميږي: (۱) په اعتبار د ماقبل سره (۲) په اعتبار د مابعد سره (۳) په اعتبار د هغه ضمير سره چه (كُلٌّ) ته راجع کيږي.

﴿د ماقبل په اعتبار سره (كُلٌّ) په درې قسم دي﴾

﴿اول قسم﴾ لفظ د (كُلٌّ) د ماقبل د پاره صفت جوړيږي، که ماقبل معرفه وي او که نکره. خو په شرط د دې چه لفظ د (كُلٌّ) به داسي اسم ظاهر ته مضاف وي چه د ماقبل سره موافق وي لفظًا هم او معنًا هم. او په دې صورت کښي (كُلٌّ) د ماقبل په کمال باندي دلالت کوي لکه (أَطْعَمْنَا شَاةً كُلَّ شَاةٍ). (رَأَيْتُ الرَّجُلَ كُلَّ الرَّجُلِ).

﴿دويم قسم﴾ لفظ د (كُلٌّ) د ماقبل د پاره تاکيد جوړيږي خو په دوو شرطو سره: (۱) ماقبل به معرفه وي. (۲) لفظ د (كُلٌّ) به ضمير ته مضاف وي لکه (فَسَجَدَ الْمَلٰٓئِكَةُ كُلُّهُمْ) الاية (سورة الحجر ايت ۳۰).

﴿دريم قسم﴾ لفظ د (كُلٌّ) مبتداء جوړيږي، يا د عامل مطابق معمول به وي په شرط د دې چه ماقبل هيڅ شي نه وي يعني معرفه او نکره نه وي او مضاف وي اسم ظاهر ته لکه (كُلُّ نَفْسٍ ذَآئِقَةُ الْمَوْتِ) الاية (سورة ال عمران ايت ۱۸۵). (كُلُّ نَفْسٍ بِمَا كَسَبَتْ رَهِينَةٌ) (سورة المدثر ايت ۳۸). او يا غير مضاف وي لکه (وَوَهَبْنَا لَهٗٓ إِسْحٰقَ وَيَعْقُوبَ. كُلًّا هَدَيْنَا) الاية (سورة الانعام ايت ۸۴). دلته د ماقبل عامل موافق معمول منصوب دي.

﴿د مابعد په اعتبار سره (كُلّ) په درې قسم دي﴾

(۱) مضاف وي اسم ظاهر ته. نو په دې صورت کښې د ماقبل عامل مطابق اعراب به وي لکه (اَكْرَمْتُ كُلَّ مُسْلِمٍ). (۲) مضاف وي ضمير محذوف ته. نو په دې صورت د (كُلٌّ) حکم په اعراب کښې د ماقبل د اسم دي لکه (وَوَهَبْنَا لَهٗٓ اِسْحٰقَ وَ يَعْقُوْبَ ۔ كُلًّا هَدَيْنَا) الاية (سورة الانعام ايت۸۴) اى كُلَّهُمْ). بل مثال لکه (وَكُلًّا ضَرَبْنَا لَهُ الْاَمْثَالَ ۔ وَكُلًّا تَبَّرْنَا تَتْبِيْرًا) (سورة الفرقان ايت۳۹) اى كُلَّهُمْ). (۳) مضاف وي ضمير مذکور ته. نو په دې صورت کښې حکم يي دادي چه (كُلٌّ) کښې عامل ابتداء دي غالبًا او اکثر لکه (وَكُلُّهُمْ اٰتِيْهِ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ فَرْدًا) (سورة مريم ايت۹۵). او (قُلْ اِنَّ الْاَمْرَ كُلَّهٗ لِلّٰهِ) الاية (سورة ال عمران ايت۱۵۴). په هغه صورت کښې چه (كُلٌّ) کښې د رفع قرات وويل سي.

﴿د ضمير راجع کولو په اعتبار سره (كُلٌّ)﴾

لفظ د (كُلٌّ) بنفسه مفرد مذکر دي، او د (كُلٌّ) معني د مضاف اليه مطابق ده، که مضاف اليه مفرد وي نو معني هم مفرد ده، او که مضاف اليه جمع وي نو معني به د جمع وي، او د ضمير راجع کولو په اعتبار سره هم لفظ د (كُلٌّ) په درې قسم دي:

﴿اول قسم﴾ (كُلٌّ) مضاف وي نکره ته نو ضمير به د مضاف اليه موافق وي په تذکير او په تانيث کښې، او په افراد او تثنيه او جمع کښې. د مفرد مذکر مثال لکه (وَكُلُّ شَيْءٍ فَعَلُوْهُ فِي الزُّبُرِ) (سورة القمر ايت۵۲). د مفرده مؤنثه مثال لکه (كُلُّ نَفْسٍ بِمَا كَسَبَتْ رَهِيْنَةٌ) (سورة المدثر ايت۳۸). بل مثال لکه (كُلُّ نَفْسٍ ذَآئِقَةُ الْمَوْتِ) الاية (سورة ال عمران ايت۱۸۵). د جمع مذکر مثال لکه (كُلُّ حِزْبٍ بِمَا لَدَيْهِمْ فَرِحُوْنَ) الاية (سورة المؤمنون ايت۵۳)

﴿دويم قسم﴾ (كُلٌّ) مضاف وي معرفه ته نو په دې صورت کښې د لفظ رعايت او د معني رعايت دواړه جائز دي لکه (كُلُّهُمْ قَائِمٌ). دلته د لفظ رعايت سوي دي نو ځکه

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

خبر دمفرد صيغه ذكر سوې ده. او (كُلُّهُمْ قَائِمُوْنَ) دلته دمعنى رعايت سوي دي. او دارنګه په قران كريم كښې راځي لكه (اِنْ كُلُّ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ اِلَّآ اٰتِي الرَّحْمٰنِ عَبْدًا لَقَدْ اَحْصٰهُمْ وَعَدَّهُمْ عَدًّا) (سورة مريم ايت۹۳،۹۴) په دې ايت كريمه كښې د (كُلٌّ) دلفظ رعايت سوي دي نو (اٰتِي) دمفرد صيغه ذكر سوې ده، او دمعني رعايت هم سوي دي ځكه په (اَحْصٰهُمْ وَعَدَّهُمْ) كښې دجمع ضمير (هُمْ)، (كُلٌّ) ته راجع دي. البته كه چيري په دې صورت كښې دخبر سه ضمير (كُلٌّ) ته راجع كيږي نو بيا دلفظ رعايت كول يعني مفرد مذكر ضمير راجع كول راجح دي لكه (وَكُلُّهُمْ اٰتِيْهِ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ فَرْدًا) (سورة مريم ايت۹۵). او په حديث شريف كښې راځي (كُلُّكُمْ رَاعٍ وَكُلُّكُمْ مَسْئُوْلٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ) وغيره.

﴿دريم قسم﴾ (كُلٌّ) مضاف وي او مضاف اليه مذكور نه وي نو ابو حيان وائي: چه دلفظ رعايت كول هم جائز دي لكه (كُلٌّ يَّعْمَلُ عَلٰى شَاكِلَتِهٖ) الاية (سورة الاسراء ايت۸۴). او دمعني رعايت كول هم جائز دي لكه (وَكُلٌّ كَانُوْا ظٰلِمِيْنَ) الاية (سورة الانفال ايت۵۴). ليكن راجح خبره داده كه چيري مقدر نكره مفرده وي نو دمفرد مذكر ضمير راجع كول ضروري دي. او كه مقدر معرفه او جمع وي نو بيا دجمع ضمير راجع كول ضروري دي. دمفرد نكره مثال لكه (كُلٌّ يَّعْمَلُ عَلٰى شَاكِلَتِهٖ) الاية (سورة الاسراء ايت۸۴). او (كُلٌّ قَدْ عَلِمَ صَلَاتَهٗ وَتَسْبِيْحَهٗ) الاية (سورة النور ايت۴۱). په دواړو مثالو كښې مقدر (اَحَدٌ) دي. تقديري عبارت (كُلُّ اَحَدٍ) دي. او دمعرفه جمع مثال لكه (كُلٌّ لَّهٗ قَانِتُوْنَ) الاية (سورة البقرة ايت۱۱٦). او (كُلٌّ فِيْ فَلَكٍ يَّسْبَحُوْنَ) الاية (سورة الانبياء ايت۳۳). او (وَكُلٌّ اَتَوْهُ دَاخِرِيْنَ) الاية (سورة النمل ايت۸۷). په دې مثالو كښې (هُمْ) ضمير مقدر دي. تقدير (كُلُّهُمْ) دي.

﴿تنبيه﴾ په لفظ د (كُلٌّ) كښې دعلماؤ نور اقوال هم سته، ليكن ما دلته راجح قولونه ذكر كړه.

Scanned with CamScanner

﴿د (اَنْ) متعلق فوائد﴾

﴿فائده(۱۸۹)﴾ (اَنْ) په اته قسم دي: (۱) مصدريه (۲) اَنْ مُخَفَّفَهْ مِنَ الْمُثَقَّلَهْ (۳) اَنْ مُفَسِّرَهْ (۴) اَنْ زائده (۵) ان شرطيه (٦) اَنْ نافيه (۷) اَنْ په معني (اِذْ).
(۸) اَنْ په معني (لِئَلَّا).

﴿(اَنْ) مصدريه﴾

(اَنْ) مصدريه په دوو ځايو کښې راځي: (اول) په ابتداء کښې. او په دې صورت کښې په موضع رفع کښې وي او فعل مضارع ته نصب ورکوي لکه (وَاَنْ تَصُوْمُوْا خَيْرٌ لَّكُمْ) الاية (سورة البقرة ايت۱۸۴) اَىْ صِيَامُكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ).
(دويم) دداسي لفظ وروسته راځي چه ديقين په معني باندي دلالت نه کوي يعني دافعال قلوب په معني باندي دلالت نه کوي. او په دې صورت کښې په څلورو ځايو کښې واقع کيږي: (۱) په موضع رفع کښې لکه (اَلَمْ يَاْنِ لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اَنْ تَخْشَعَ قُلُوْبُهُمْ) الاية (سورة الحديد ايت۱۱) دلته (اَنْ) فاعل دي د (يَاْنِ) فعل دپاره (۲) په موضع نصب کښې لکه (وَمَا كَانَ هٰذَا الْقُرْاٰنُ اَنْ يُّفْتَرٰى) الاية (سورة يونس ايت۳۷) دلته (اَنْ) د (كَانَ) فعل ناقص دپاره خبر دي. (۳) په موضع جر کښې لکه (قَالُوْٓا اُوْذِيْنَا مِنْ قَبْلِ اَنْ تَاْتِيَنَا) الاية (سورة الاعراف ايت۱۲۹) دلته (اَنْ) مضاف اليه دي د (قَبْلُ) لپاره. (۴) دواړه احتماله لري يعني دنصب او دجر لکه (وَالَّذِيْٓ اَطْمَعُ اَنْ يَّغْفِرَ لِيْ) الاية (سورة الشعراء ايت۸۲) په اصل کښې (فِيْ اَنْ يَّغْفِرَ لِيْ) دي. او که (في) جاره مقدر نه کړې نو (اَنْ) منصوب دي د (اطمع) فعل دپاره.

﴿فائده(۱۹۰)﴾ (اَنْ) کله حرفي وي. او د (اَنْ) حرفي وروسته هميشه فعل متصرف وي، او فعل متصرف کله ماضي وي لکه (وَلَوْلَآ اَنْ ثَبَّتْنٰكَ) الاية (سورة الاسراء ايت۷۴).

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

او كله فعل متصرف مضارع وي لكه (وَالَّذِيْ أَطْمَعُ أَنْ يَّغْفِرَ لِيْ) الاية (سورة الشعراء ايت ۸۲)

او كله فعل متصرف امر وي لكه (كَتَبْتُ اِلَيْهِ بِأَنْ قُمْ).

﴿فائده (۱۹۱)﴾ د (أَنْ) مصدريه په عمل كښې اختلاف دي. (أَنْ) چه كله په فعل مضارع باندې داخل سي نو بالا تفاق (أَنْ) ناصبه دي. او كه چيرې په فعل ماضي او په امر باندې داخل سي نو دبعضو په نيز (أَنْ) ناصب نه دي نه لفظا او نه محلا، او دبعضو په نيز لفظا ناصب نه دي خو محلا ناصب دي.

﴿دويم قسم (أَنْ) مخففه من المثقله﴾

(أَنْ) مخففه من المثقله هميشه دهغه فعل وروسته واقع كيږي چه ديقين په معنى دلالت كوي لكه (أَفَلَا يَرَوْنَ أَلَّا يَرْجِعُ اِلَيْهِمْ قَوْلًا) الاية (سورة طه ايت ۸۹) اى أَنْ لَّا يَرْجِعُ). او (عَلِمَ أَنْ سَيَكُوْنُ) الاية (سورة المزمل ايت ۲۰). (أَنْ) مخففه من المثقله هم مصدريه دي او هم واجب العمل دي، او عمل يې ناصب الاسم ورافع الخبر دي خو دد دپاره دوه شرطونه دي: (۱) اسم به ضمير وي او محذوف به وي (۲) خبر به جمله وي. كه چيرې د (أَنْ) مخففه من المثقله اسم مذكور وي نو بيا خبر مفرد او جمله دواړه راتلې سي لكه په دې شعر كښې خبر مفرد او جمله دواړه دي.

شعر : بِأَنْكَ رَبِيْعٌ وَغَيْثٌ مَرِيْعٌ --- وَأَنْكَ هُنَاكَ تَكُوْنُ الثِّمَالَا .

﴿دريم قسم (أَنْ) مفسره﴾

أَنْ مُفَسِّرَهْ په منزله د (اَىْ) تفسيري دي. او د (أَنْ) مفسره جوړولو دپاره پنځه شرطونه دي: (۱) د (أَنْ) سه مخكې به جمله وي لهذا په دې ايت كريمه كښې أَنْ مُفَسِّرَهْ نه دي (وَاٰخِرُ دَعْوٰهُمْ اَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ) الاية (سورة يونس ايت ۱۰). (۲) وروسته به هم جمله وي لهذا په دې مثال كښ مفسره نه دي لكه (ذَكَرْتُ مَسْجِدًا أَنْ ذَهَبًا).

(۳) ماقبل جمله کښي به د قول معني وي (۴) ماقبل جمله د ماده د قول سره نه وي لهذا دلته أَنْ مُفَسِّرَهٔ نه دي (قُلْتُ لَهُ اَنْ اَفْعَلْ). او دا رنګه دلته هم نه دي (مَاقُلْتُ لَهُمْ اِلَّا مَآاَمَرْتَنِيْ بِهٖٓ اَنِ اعْبُدُوا اللهَ) الاية (سورة المائدة ايت۱۱۷). (۵) په (اَنْ) باندي حرف جار داخل نه وي لهذا (كَتَبْتُ اِلَيْهِ بِاَنْ اِفْعَلْ) کښي (اَنْ) مفسره نه دي. اتفاقي مثالونه لکه (فَاَوْحَيْنَآ اِلَيْهِ اَنِ اصْنَعِ الْفُلْكَ) الاية (سورة المؤمنون ايت۲۷). بل مثال لکه (وَنُوْدُوْٓا اَنْ تِلْكُمُ الْجَنَّةُ) الاية (سورة الاعراف ايت۴۳).

﴿فائده (۱۹۲)﴾ که چیري د (اَنْ) مفسره وروسته فعل مضارع سره د (لَا) راسي نو په فعل مضارع باندي درې طريقې جائز دي: (۱) رفع لکه (اَشَرْتُ اِلَيْهِ اَنْ لَا تَفْعَلُ). دلته (لا) نافيه شمارل سوي دي. (۲) جزم لکه (اَشَرْتُ اِلَيْهِ اَنْ لَاتَفْعَلْ) دلته (لا) ناهيه شمار سوي دي. په دغه دوو صورتو کښي (ان) مفسره دي. (۳) نصب لکه (اَشَرْتُ اِلَيْهِ اَنْ لَا تَفْعَلَ) دلته (لا) نافيه شمار سوي دي، او (ان) مصدريه شمار سوي دي، او (ان) مصدريه خو ناصب دي.

﴿څلورم قسم: (اَنْ) زائده﴾

(ان) زائده په څلورو ځايو کښي راځي: (۱) د (لَمَّا) توقيتيه وروسته. او دا ډير دي لکه (وَلَمَّآ اَنْ جَآءَتْ رُسُلُنَا لُوْطًا سِيْٓءَ بِهِمْ) الاية (سورة العنكبوت ايت۳۳).

(۲) د (لو) او د فعل قسم مذکور په درميان کښي، او دا رنګه د (لو) او د فعل قسم محذوف په درميان کښي لکه دا شعر کښي:

(فَاُقْسِمُ اَنْ لَوِ الْتَقَيْنَا وَاَنْتُمْ ----- لَكَانَ لَكُمْ يَوْمٌ مِّنَ الشَّرِ مُظْلِمُ).

او د قسم محذوف مثال (اَمَا وَاللهِ اَنْ لَّوْ كُنْتَ حُرًّا) الخ

(۳) د كاف او د هغه د مجرور په درميان کښي، دا نادر دي لکه په دې شعر کښي:

(وَيَوْمًا تُوَافِيْنَا بِوَجْهٍ مُقَسَّمٍ - كَاَنْ ظَبْيَةٍ تَعْطُوْ اِلٰى وَارِقِ السَّلَمِ).

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

په روايت د جر ويولو کښي په (ظَلْبِيَةٍ) باندي.

(۴) د (إِذَا) وروسته لکه (فَأَمْهِلْهُ حَتَّى إِذَا أَنْ كَأَنَّهُ . الخ.

﴿پنځم قسم: (أَن) شرطيه﴾

(أَن) شرطيه لکه (إِنْ) مکسوره. خو دا په هغه صورت کښي چه په يو محل کښي په (اِن) باندي فتحه او کسره دواړه قرات ويل جائز وي لکه په دې ايتونو کښي (مِمَّنْ تَرْضَوْنَ مِنَ الشُّهَدَآءِ أَنْ تَضِلَّ إِحْدٰهُمَا) الاية (سورة البقرة ايت ۲۸۲). او (وَلَا يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَاٰنُ قَوْمٍ أَنْ صَدُّوْكُمْ) الاية (سورة المائدة ايت ۲). وغيره.

﴿شپږم قسم: (أَن) نافيه﴾

(أَن) نافيه لکه (وَلَا تُؤْمِنُوْا إِلَّا لِمَنْ تَبِعَ دِيْنَكُمْ. قُلْ إِنَّ الْهُدٰى هُدَى اللهِ أَنْ يُّؤْتٰى أَحَدٌ مِّثْلَ مَا أُوْتِيْتُمْ) الاية (سورة آل عمران ايت ۷۳) دا په هغه صورت کښي چه (أَنْ) د (لَا تُؤْمِنُوْا) معمول جوړ کړې نو تقديري عبارت به داسي سي (وَلَا تُؤْمِنُوْا بِأَنْ يُّؤْتٰى أَحَدٌ مِّثْلَ مَا أُوْتِيْتُمْ مِنَ الْكِتَابِ). او (قُلْ إِنَّ الْهُدٰى) دا به جمله معترضه سي. په دې ايت کريمه کښي ډير زيات تفسيرونه او اقوال د علماء کرامو سه نقل دي.

﴿اووم قسم: (أَن) په معني د (إِذْ)﴾

(أَن) په معني د (إِذْ) لکه (بَلْ عَجِبُوْٓا أَنْ جَآءَهُمْ مُّنْذِرٌ مِّنْهُمْ) الاية (سورة ق ايت ۲). بل مثال (يُخْرِجُوْنَ الرَّسُوْلَ وَإِيَّاكُمْ أَنْ تُؤْمِنُوْا) الاية (سورة الممتحنة ايت ۱). بل مثال (أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِيْ حَآجَّ إِبْرٰهِيْمَ فِيْ رَبِّهٖٓ أَنْ اٰتٰىهُ اللهُ الْمُلْكَ) الاية (سورة البقرة ايت ۲۵۷).

﴿تنبيه﴾ د اصح قول مطابق په دې مخکښي ايتونو کښي (ان) مصدريه دي، او لام تعليليه مقدر دي، نو د دې سه معلومه سوه چه (أَنْ) په معني د (إِذْ) سره نسته، والله اعلم بالصواب. ليکن بعضو علماؤ په دې آيتونو کښي (أَن) په معنى د (إِذْ) سره اخستي دي.

﴿اتم قسم: (أَنْ) په معني د (لِئَلَّا)﴾

(أَنْ) په معني د (لِئَلَّا) لکه (يُبَيِّنُ اللهُ لَكُمْ أَنْ تَضِلُّوْا) الاية (سورة النساء، ايت ۱۷۶) أي لِئَلَّا تَضِلُّوْا).

دا دبعضو علماؤ قول دي. ليکن اصح دا ده چه دا (أَنْ) مصدريه دي او په اصل کښي داسي دي (يُبَيِّنُ اللهُ لَكُمْ كَرَاهِيَةَ أَنْ تَضِلُّوْا).

﴿د (إِنَّ) متعلق فوائد﴾

﴿فائده (۱۹۳)﴾ په (إِنَّ) باندي د (إِنَّ) خبر مقدم کول صحيح نه دي. او دارنګه د (إِنَّ) دخبر معمول په (إِنَّ) باندي مقدم کول هم صحيح نه دي لکه (أَمَّا فِي الدَّارِ فَإِنَّ زَيْدًا جَالِسٌ) په دې مثال کښي (فِي الدَّارِ) د (جَالِسٌ) سره متعلق کول صحيح نه دي ځکه چي بيا د (إِنَّ) دخبر معمول په (إِنَّ) باندي مقدم کيږي او دا صحيح نه دي. او دارنګه دخبر معمول په اسم د (إِنَّ) باندي مخکي کول ناجائز دي په شرط د دې چه خبر به ظرف او مجرور نه وي لکه (إِنَّ زَيْدًا اٰكِلٌ طَعَامَكَ) ويل جائز دي، ليکن دا ويل ناجائز دي (إِنَّ طَعَامَكَ زَيْدًا اٰكِلٌ). او دارنګه دخبر معمول چه ظرف يا مجرور وي نو د (إِنَّ) په اسم باندي مقدم کول ناجائز دي لکه (إِنَّ زَيْدًا وَاثِقٌ بِكَ). او (إِنَّ زَيْدًا جَالِسٌ عِنْدَكَ) ويل خو جائز دي. او (إِنَّ بِكَ زَيْدًا وَاثِقٌ). او (إِنَّ عِنْدَكَ زَيْدًا جَالِسٌ) ويل ناجائز دي.

﴿فائده (۱۹۴)﴾ د (إِنَّ) اسم او خبر دواړه حذف کول ناجائز دي. البته که چيري دواړه حذف سوي وي نو په دې صورت کښي (إِنَّ) حرف جواب به وي په معني د (نَعَمْ) سره لکه د عبدالله بن زبير رضي الله عنه قول د هغه چا په باره کښي چه دا يي ورته ويلي وو (لَعَنَ اللهُ نَاقَةً حَمَلَتْنِيْ إِلَيْكَ) نو ابن زبير رضي الله عنه په جواب کښي ورته وويل: (إِنَّ وَرَاكِبَهَا) أي نَعَمْ وَلَعَنَ رَاكِبَهَا). او د بعضو نحاتو په نيز (إِنَّ) حرف جواب په معني د (نَعَمْ) سره هيڅکله نه راځي. والله أعلم بالصواب.

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

﴿فائده (١٩٥)﴾ (اِنَّ) كه چيري مخففه من المثقله وي يعني غير مشدد وي نو دا په دوو جملو باندي داخليږي (١) اسميه (٢) فعليه. نو په كوم صورت كښ چه په جمله اسميه باندي داخل سوي وي نو اِعمال يي جائز دي لكه په دې ايت كريمه كښ يو قرئت د مخففه من المثقله دي (اِنْ كُلًّا لَّمَّا لَيُوَفِّيَنَّهم) الاية (سورة يهود ايت ١١١). ليكن اِهمال يعني غير عامله كيدل يي ډير دي لكه (وَاِنْ كُلٌّ لَّمَّا جَمِيْعٌ لَّدَيْنَا مُحْضَرُوْنَ) سورة يس ايت ٣٢). بل مثال (وَاِنْ كُلُّ ذٰلِكَ لَمَّا مَتَاعُ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا) الاية (سورة الزخرف ايت ٣٥).

او كه چيري (اِنْ) مخففه من المثقله په جمله فعليه باندي داخل سوي وي نو اهمال يي واجب دي لكه (وَاِنْ كَانَتْ لَكَبِيْرَةً) الاية (سورة البقرة ايت ١٤٣). بل مثال (وَاِنْ كَادُوْا لَيَفْتِنُوْنَكَ) الاية (سورة الاسراء ايت ٧٣). بل مثال (وَاِنْ نَّظُنُّكَ لَمِنَ الْكٰذِبِيْنَ) الاية (سورة الشعراء ايت ١٨٦).

د اِعْمَال مطلب دا دي: چه عامله دي. او د اهمال مطلب دا دي چه غير عامله دي. د كوفيانو په نيز (اِنْ) مخففه من المثقله نه راځي. كه چيري (اِنْ) راسي او وروسته په كلام كښي (لام) يا (لَمَّا) راسي نو دغه (اِنْ) نافيه دي او لام او (لَمَّا) په معني د (اِلَّا) سره دي لكه (اِنْ زَيْدٌ لَمُنْطَلِقٌ) اَىْ اِنْ زَيْدٌ اِلَّا مُنْطَلِقٌ). د (لَمَّا) مثال لكه (اِنْ كُلُّ نَفْسٍ لَّمَّا عَلَيْهَا حَافِظٌ) (سورة الطارق) اى اِنْ كُلُّ نَفْسٍ اِلَّا عَلَيْهَا حَافِظٌ) وغيره.

﴿فائده (١٩٦)﴾ د مَا نافيه وروسته اكثر (اِنْ) مخففه من المثقله زائده وي لكه (مَا اِنْ اَتَيْتُ بِشَيْءٍ اَنْتَ تَكْرَهُهُ).

﴿د (لَوْ) متعلق فوائد﴾

﴿فائده (١٩٧)﴾ د (لو) متعلق ډير تفصيل دي او د علماء كرامو ډير اقوال سته. زه مختصرًا يو څو فوائد ذكر كوم انشاء الله تعالي. او (لو) غير عامله دي يعني مابعد ته هيڅ كله رفع او نصب او جر نه وركوي. او (لو) په پنځه قسم دي: (١) شرطيه (٢) صدريه (٣) تمنيه (۴) عرضيه (٥) تقليليه.

Scanned with CamScanner

﴿اول قسم: (لَوْ) شرطيه﴾

(لو) شرطيه په دوه قسم دي(۱) شرط په ماضي کښې(۲) شرط په مستقبل کښې.
﴿اول قسم﴾ د درو خبرو فائده ورکوي (۱) دشرط يعني مابعد دواړې جملې دسبب او دمسبب په معنې ګرځوي. (۲) شرط په زمانه ماضي کښې يعني شرط مقيد کوي په زمانه ماضي کښې په دغه وجه (لو) شرطيه د(إِنْ) شرطيه نه جلا سو ځکه چه (ان) شرطيه خو شرط دي په مستقبل کښې. اومشهوره ده دا خبره چه (اَلشَّرْطُ بِإِنْ سَابِقٍ عَلَى الشَّرْطِ بِلَوْ: وَذَالِكَ لِاَنَّ الزَّمَنَ الْمُسْتَقْبِلَ سَابِقٌ عَلَى الزَّمَنِ الْمَاضِيْ) (يعني چه شرط د(ان) مخکښې دي تر شرط د(لو)، او دا په دې وجه چه زمانه مستقبل مخکښې ذکر کيږي تر زمانه ماضي). مثلاً ته يوسړي ته ووائې: چه (اِنْ جِئْتَنِيْ غَدًا اَكْرَمْتُكَ) او سبا تير سي او هغه رانه سي، نوته ورته ووايې: چه (لَوْجِئْتَنِيْ اَمْسِ اَكْرَمْتُكَ).
(۳)امتناع راولي. په دې دريم قسم کښې دنحاتو اختلاف دي چه څه فائده ورکوي او په دې کښې ډير قولونه دي. زه درې قولونه ذکر کوم د اختصار دوجې.
اول قول: بعض وائي: چه هيڅ فائده نه ورکوي، او وائي: چه (لو) دامتناع الشرط او دامتناع الجواب دپاره نه راځي بلکې (لو) دلالت کوي په تعليق باندې په ماضي کښې.
دويم قول: بعض نحات وائي: چه دامتناع الشرط او دامتناع الجواب ددواړو فائده ورکوي.
دريم قول: بعض نحات وائي: چه صرف دامتناع الشرط فائده ورکوي مثال لکه (لَوْجَاءَنِيْ زَيْدٌ لَاَكْرَمْتُهُ). بل مثال (وَلَوْشِئْنَا لَاٰتَيْنَا كُلَّ نَفْسٍ هُدٰهَا) الاية (سورة السجدة ايت ۱۳).
﴿دويم قسم﴾ (لو) شرطيه دي په زمانه مستقبل کښې، او دافعل مضارع ته جزم نه ورکوي لکه (وَلْيَخْشَ الَّذِيْنَ لَوْ تَرَكُوْا مِنْ خَلْفِهِمْ ذُرِّيَّةً ضِعٰفًا خَافُوْا عَلَيْهِمْ) الاية (سورة النساء ايت ۹) دلته (لو) شرطيه دي. او دفعل مضارع مثال چه جزم يې نه دي کړي لکه په دې شعر کښې:

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

لايُلفِكَ الراجيكَ الّامظهرًا ----- خُلقَ الكِرَامِ و لوتكونُ عديمًا

﴿دويم قسم: (لَوْ) حرفيه مصدريه په منزله د (اَنْ)﴾

(لو) حرفيه مصدريه په معني د (اَن) مصدريه دي. او دا (لو) مابعد جمله په تاويل دمصدر كرځوي څرنكه چه (اَن) يي كرځوي. ليكن فرق دونه دي چه (اَن) ناصبه دي او (لو) غير ناصبه دي يعني مابعد ته نصب نه وركوي، او (لو) مصدريه اكثر د (وَدَّ يَوَدُّ) ماده سره وروسته راځي لكه (وَدُّوا لَوْ تُدْهِنُ) الاية (سورة القلم ايت ۹). او (يَوَدُّ اَحَدُهُمْ لَوْ يُعَمَّرُ) الاية (سورة البقرة ايت ۹۶) وغيره. او كله كله د (وَدَّ) ماده نه وي بلكي بله ماده وي لكه په دې شعر كښ (مَاكَانَ ضَرَّكَ لَوْ مَنَنْتَ) الخ. او ډير نحات لكه فراء او ابوعلي او ابن مالك وغيره وائي: چه (لو) مصدريه هيڅكله نه راځي، او په دا مذكوره مثالونه كښي (لو) شرطيه دي لكه (يَوَدُّ اَحَدُهُمْ لَوْ يُعَمَّرُ) الاية (سورة البقرة ايت ۹۶) دلته دفعل مفعول به محذوف دي او د (لو) جواب هم محذوف دي چه تقديري عبارت داسي دي (يَوَدُّ اَحَدُهُمُ التَّعْمِيْرَ لَوْ يُعَمَّرُ اَلْفَ سَنَةٍ لَسَرَّهُ ذَالِكَ).

﴿دريم قسم: (لَوْ) تمنيه دي﴾

دريم قسم: (لو) تمني دي لكه (لَوْ تَأْتِيَنِيْ فَتُحَدِّثَنِيْ). او بعض علماء وائي: چه په دې ايت كريمه كښې هم (لو) تمني دي (لَوْ اَنَّ لَنَا كَرَّةً) الاية (سورة البقرة ايت ۱۶۷) اَيْ فَلَيْتَ لَنَا كَرَّةً). او بعض علماء وائي: چه دا (لو) شرطيه دي خو معني يي د تمني ده.

﴿څلورم قسم: (لَوْ) دعرض دپاره﴾

(لو) په معني دعرض دي لكه (لَوْ تَنْزِلُ عِنْدَنَا فَتُصِيْبَ خَيْرًا).

﴿پنځم قسم: (لَوْ) تقليليه دي﴾

پنځم قسم: (لو) دتقليل دپاره راځي لكه (تَصَدَّقُوْا وَلَوْ بِظِلْفٍ مُحَرَّقٍ).

Scanned with CamScanner

﴿فائده (۱۹۸)﴾ (لو) د فعل سره خاص دي يعني په فعل داخليږي ليکن کله د (لو) وروسته اسم راغلي وي. نو دديې اسم درې حالته دي: (۱) د (لو) وروسته اسم مرفوع دي او معمول وي دداسي فعلِ محذوف چه مابعد يې تفسير کوي لکه (لَوْ غَيْرُكَ قَالَهَا يَا اَبَاعُبَيْدَةَ) اَیْ لَوْ قَالَ غَيْرُكَ) دا د عمر ﷺ جواب دي دابو عبيدة بن الجراح ﷺ ددې قول (اَفِرَارًا مِنْ قَدَرِ اللهِ). (۲) د (لو) وروسته اسم به منصوب وي دداسي فعلِ محذوف چه مابعد يې تفسير کوي لکه (لَوْ زَيْدًا رَاَيْتَهُ اَكْرَمْتُهُ) اَیْ لَوْ رَاَيْتُ زَيْدًا). (۳) د (لو) وروسته خبر د کان محذوف وي لکه (اِلْتَمِسْ وَلَوْ كَانَ خَاتَمًا مِنْ حَدِيْدٍ) اَیْ وَلَوْكَانَ خَاتَمًا مِنْ حَدِيْدٍ). يا (وَاضْرِبْ وَلَوْ يَهُوْدِيًا) اَیْ وَلَوْكَانَ يَهُوْدِيًا).

﴿فائده (۱۹۹)﴾ د (لو) وروسته اکثر (اَنَّ) راځي، او (اَنَّ) په محل د رفع کښې وي بالاتفاق. ليکن په دې کښې اختلاف دي چه مبتداء دي او که خبر؟ او که فاعل. نو بعض علماء وائي: چه دا مبتداء دي او خبر ته ضرورت نشته. او بعض علماء وائي: چه دا مبتداء ده او خبر يې محذوف دي. او بعض علماء وائي: چه دا فاعل دي او فعل يې محذوف دي. مثالونه (وَلَوْ اَنَّهُمْ اٰمَنُوْا وَاتَّقَوْا) الاية (سورة البقرة ايت ۱۰۳) اَیْ وَلَوْ ثَابِتٌ اَنَّهُمْ اٰمَنُوْا وَاتَّقَوْا. يا وَلَوْ ثَبَتَ اَنَّهُمْ اٰمَنُوْا وَاتَّقَوْا). بل مثال (وَلَوْ اَنَّهُمْ صَبَرُوْا) الاية (سورة الحجرات ايت ۵) اَیْ وَلَوْ ثَابِتٌ اَنَّهُمْ صَبَرُوْا. يا وَلَوْ ثَبَتَ اَنَّهُمْ صَبَرُوْا). بل مثال (وَلَوْ اَنَّا كَتَبْنَا عَلَيْهِمْ) الاية (سورة النساء ايت ٦٦) اَیْ وَلَوْ ثَابِتٌ اَنَّا كَتَبْنَا عَلَيْهِمْ. يا وَلَوْ ثَبَتَ اَنَّا كَتَبْنَا عَلَيْهِمْ). بل مثال (وَلَوْ اَنَّهُمْ فَعَلُوْا مَا يُوْعَظُوْنَ بِهٖ) الاية (سورة النساء ايت ٦٦)) اَیْ وَلَوْ ثَابِتٌ اَنَّهُمْ فَعَلُوْا مَا يُوْعَظُوْنَ بِهٖ. يا وَلَوْ ثَبَتَ اَنَّهُمْ فَعَلُوْا مَا يُوْعَظُوْنَ بِهٖ).

﴿د مبتداء او د خبر متعلق فوائد﴾

﴿فائده (۲۰۰)﴾ مبتداء هميشه معرفه وي او خبر نکره وي لکه (زَيْدٌ قَائِمٌ). ليکن کله کله نکره هم مبتداء واقع کيږي. او هغه ځايونه چه نکره مبتداء راتلې سي هغه تر

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

(۳۰) ځایونو سره زیات ځایو نه دي. لیکن زه په هغه ځایونو کښې دولس ځایونه ذکر کوم ان شاء الله تعالی:

(۱) مبتداء مؤخر وي او خبر مقدم وي. دا په هغه صورت کښې راځي چه خبر ظرف یا مجرور وي لکه (فِي الدَّارِ رَجُلٌ . عِنْدَ زَيْدٍ سَيْفٌ).

(۲) مبتداء سره مخکې استفهام وي لکه (ءَاِلٰهٌ مَّعَ اللهِ).

(۳) د مبتداء سره مخکې نفي وي لکه (مَا خِلٌّ لَنَا) بل مثال (مَا اَحَدٌ غَائِبٌ).

(۴) مبتداء موصوف وي لکه (وَلَعَبْدٌ مُّؤْمِنٌ خَيْرٌ مِّنْ مُّشْرِكٍ) الاية (سورة البقرة ايت ۲۲۱).

(۵) مبتداء عمل کړي وي په مابعد کښې لکه (اَمْرٌ بِمَعْرُوْفٍ صَدَقَةٌ).

(۶) مبتداء مضاف وي نکره ته لکه (عَشَرَةُ اَشْيَاءٍ لَا تَنْقُضُ الْوَضُوْءَ).

(۷) مبتداء د شرط معنی ته متضمن وي لکه (مَنْ يَّقُمْ اَقُمْ مَعَهُ). او دارنګه په دغه آیت کریمه لکه (فَمَنْ يَّعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَّرَهُ) (سورة الزلزال).

(۸) مبتداء دعاء وي لکه (سَلٰمٌ عَلٰٓى اِبْرٰهِيْمَ) سورة الصافات ايت ۱۰۹). (وَيْلٌ لِّلْمُطَفِّفِيْنَ) سورة المطففين) چه (وَيْلٌ) سره ښرا مراد سي. او که چیري د (وَيْلٌ) سره د جهنم شله مراد سي نو بیا معرفه ده.

(تنبیه) په عربي کښې د دعاء اطلاق په ښرا هم کیږي او د خیر په دعاء هم کیږي.

(۹) مبتداء په نوع باندي دلالت کوي لکه (يَوْمٌ لَّكَ . وَيَوْمٌ عَلَيْكَ).

(۱۰) مبتداء جواب وي لکه یو څوک ووائي: (مَنْ عِنْدَكَ) نو ته په جواب کښې ورته ووائي: (رَجُلٌ) اَیْ رَجُلٌ عِنْدِیْ).

(۱۱) مبتداء کښې د عموم معني وي لکه (كُلٌّ يَّمُوْتُ).

(۱۲) مبتداء کښې معني د تعجب وي لکه (مَا اَحْسَنَ زَيْدًا).

﴿فائده (۲۰۱)﴾ د خبر عطف په مبتداء باندي جائز نه دي لکه (فَاَمَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

فَيَعْلَمُوْنَ اَنَّهُ الْحَقُّ مِنْ رَّبِّهِمْ) الاية (سورة البقرة ايت ٢٦) دلته په (فَيَعْلَمُوْنَ) كښې (فاء) عاطفه جوړول صحيح نه دي ځكه د (فاء) ماقبل مبتداء ده، او د (فاء) مابعد خبر دي. نو د خبر عطف راځي په مبتداء باندي او دا ناجائز دي بلكې دلته (فاء) جزائيه ده.

﴿فائده (٢٠٢)﴾ كله چه مبتداء او خبر دواړه معرفه وي نو په دواړو كښې هريو مبتداء جوړول جائز دي ليكن دا قول ضعيف دي. بلكې صحيح خبره داده چه اوله معرفه مبتداء جوړول واجب دي، البته كه چيري په دواړو معرفو كښې دكومې معرفه تعريف زيات قوي وي نو هغه مبتداء جوړول غوره دي لكه (زَيْدُنِ الْفَاضِلُ) كښې د (زيد) تعريف قوي دي تر هغه تعريف چه په (الفاضل) كښې دي.

﴿فائده (٢٠٣)﴾ اسم اشاره هميشه اسم او مبتداء جوړيږي اګرچه مبتداء او خبر دواړه معرفه وي لكه (كَانَ هٰذَا الرَّجُلُ)، (هٰذَا زَيْدٌ) ليكن كه چيري د اسم اشاره سره ضمير منفصل راسي نو بيا مبتداء ضمير منفصل جوړيږي او (هاء) تنبيه به په ضمير باندي داخل سي لكه (هَا اَنَاذَا) دا سي ويل افصح دي، او (هٰذَا اَنَا) ويل غير فصيح او قليل الاستعمال دي په عربي ژبه كښې.

﴿فائده (٢٠٤)﴾ نكره مخصصه كه چيري مقدم وي نو معرفه يې خبر راتلې سي لكه (اِنَّ اَوَّلَ بَيْتٍ وُّضِعَ لِلنَّاسِ لَلَّذِىْ بِبَكَّةَ) الاية (سورة ال عمران ايت ٩٦) دلته (اَوَّلَ بَيْتٍ) نكره مخصصه ده او مقدم ذكر ده په معرفه (لَلَّذِىْ) باندي، نو نكره مخصصه اسم د (اِنَّ) يعني مبتداء ده، او (لَلَّذِىْ) معرفه يې خبر دي.

﴿فائده (٢٠٥)﴾ په څلورو ځايو كښې اكثر مبتداء محذوف كيږي:

(١) د استفهام په جواب كښې لكه (وَمَآ اَدْرٰكَ مَا الْحُطَمَةُ ۝ نَارُ اللّٰهِ الْمُوْقَدَةُ) سورة الهمزة اَىْ هِىَ نَارُ اللّٰهِ الْمُوْقَدَةُ).

(٢) د (فاء) جوابيه وروسته لكه (مَنْ عَمِلَ صَالِحًا فَلِنَفْسِهٖ . وَمَنْ اَسَآءَ فَعَلَيْهَا) الاية (سورة حم سجدة ايت ٤٦) اَىْ فَعَمَلُهٗ لِنَفْسِهٖ . وَاِسَائَتُهٗ عَلَيْهَا).

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

(۳) د قول ورو سته لکه (وَقَالُوْٓا اَسَاطِيْرُ الْاَوَّلِيْنَ) الاية (سورة النحل ايت ۲۴) اَیْ هِیَ اَسَاطِيْرُ الْاَوَّلِيْنَ). بل مثال (قَالُوْا سَاحِرٌ اَوْ مَجْنُوْنٌ) الاية (سورة الذاريات ايت ۵۲) اَیْ هٰذَا سَاحِرٌ اَوْ مَجْنُوْنٌ).

(۴) کله چه خبر معنًا صفت وي لکه (اَلتَّآئِبُوْنَ الْعٰبِدُوْنَ الْحٰمِدُوْنَ السَّآئِحُوْنَ الرّٰكِعُوْنَ السّٰجِدُوْنَ) الاية (سورة التوبة ايت ۱۱۲) اَیْ هُمُ التَّآئِبُوْنَ الْعٰبِدُوْنَ الْحٰمِدُوْنَ السَّآئِحُوْنَ الرّٰكِعُوْنَ السّٰجِدُوْنَ). او (صُمٌّ بُكْمٌ عُمْیٌ) الاية (سورة البقرة ايت ۱۸) اَیْ هُمْ صُمٌّ بُكْمٌ عُمْیٌ). نور ځايونه هم شته خو زه هغه د اختصار د وجي نه ذکر کوم.

﴿فائده (۲۰۶)﴾ جمله چه کله د مبتداء د پاره خبر واقع سوي وي نو په جمله کښي عائد يعني ضمير او رابط ضروري دي، او اسم اشاره هم کله د دې رابط کار کوي لکه (وَلِبَاسُ التَّقْوٰی ذٰلِكَ خَيْرٌ) الاية (سورة الاعراف ايت ۲۶).

﴿فائده (۲۰۷)﴾ په مبتداء باندي کله حرف جاره زائده داخل سوي وي لکه (بِحَسْبِكَ دِرْهَمٌ). او دارنګه (هَلْ مِنْ مَّزِيْدٍ) الاية (سورة ق ايت ۳۰). نو دې صورت کښي حرف جار زائده وي، او مبتداء لفظًا مجرور وي ليکن محلاً مرفوع وي.

﴿فائده (۲۰۸)﴾ دلته دوې خبري ذکر کيږي: (۱) مبتداء په خبر باندي په کومو صورتونو کښي مقدم کول واجب ده. (۲) خبر په مبتداء باندي په کومو صورتونو کښي مقدم کول واجب دي.

﴿اوله خبره﴾ مبتداء په خبر باندي په څلورو ځايو کښي مقدم کول واجب دي:

(۱) مبتداء د داسي الفاظو سره وي چه هغه صدارت په کلام کښي غواړي لکه لام ابتدائيه، او اسماء شروط، او استفهام. د دې تولو مثالونه علي الترتيب (لَاَنْتُمْ اَشَدُّ رَهْبَةً فِیْ صُدُوْرِهِمْ مِّنَ اللّٰهِ) الاية (سورة الحشر ايت ۱۳). (مَنْ يَّعْمَلْ سُوْٓءًا يُّجْزَ بِهٖ) الاية (سورة النساء ايت ۱۲۳). (وَمَآ اَدْرٰىكَ مَا الْحَآقَّةُ). سورة الحاقة).

(۲) مبتداء او خبر دواړه معرفه وي او په تعريف کښي برابر وي. يا مبتداء او خبر دواړه نکره وي او په تنکير کښي برابر وي. د معرفه مثال (زَيْدٌ اَخُوكَ). د نکره مثال (اَكْبَرُ مِنْكَ سِنًّا اَكْثَرُ مِنْكَ تَجْرِبَةً).

(۳) د خبر حصر راغلي وي په مبتداء باندي په (اِلَّا) يا په (اِنَّمَا) سره لکه (وَمَا مُحَمَّدٌ اِلَّا رَسُوْلٌ) الاية (سورة ال عمران ايت ۱۴۴). (قُلْ اِنَّمَا هُوَ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ) الاية (سورة الانعام ايت ۱۹).

(۴) کله چه خبر جمله فعليه وي او په خبر کښي ضمير وي چه مبتداء ته راجع وي لکه (سَعِيْدٌ ذَهَبَ اِلَى الْجِهَادَ). (صَالِحٌ سَافَرَ).

﴿دويمه خبره﴾ خبر په مبتداء باندي په څلورو ځايو کښي مقدم کول واجب دي:

(۱) خبر دداسي الفاظو سره وي چه صدارت د کلام غواړي لکه اسماء استفهام وغيره مثال (اَيْنَ الْكِتَابُ. مَتَى الْاِمْتِحَانُ. كَيْفَ حَالُكَ). (اَيْنَ شُرَكَآؤُكُمْ) الاية (سورة الانعام ايت ۲۲)

(۲) کله چه خبر ظرف يا مجرور وي او مبتداء نکره وي لکه (وَلِكُلِّ قَوْمٍ هَادٍ) الاية (سورة الرعد ايت ۷). او (وَفَوْقَ كُلِّ ذِيْ عِلْمٍ عَلِيْمٌ) الاية (سورة يوسف ايت ۷۶).

(۳) د مبتداء حصر راغلي وي په خبر باندي په (اِلَّا) يا په (اِنَّمَا) سره لکه (اِنَّمَا فِي الدَّارِ زَيْدٌ). (مَا فِي الدَّارِ اِلَّا زَيْدٌ).

(۴) چه مبتداء کښي داسي ضمير وي چه د خبر جزء ته راجع وي لکه (فِي الْمَدْرَسَةِ طَلَبَتُهَا) دلته (ها) ضمير (المدرسة) ته راجع دي چه د خبر جزء دي ځکه مکمل خبر خو (ثَابِتُوْنَ فِي الْمَدْرَسَةِ) دي.

﴿فائده (۲۰۹)﴾ د جمهورو علماؤ په نيز جمله انشائيه خبر نه سي واقع کيدلاي بغير د تاويل سره. او د سيبويه په نيز بغير د تاويل سره هم خبر واقع کيدلاي سي.

﴿فائده (۲۱۰)﴾ مبتداء کله چه د شرط معني ته متضمن وي نو په خبر باندي (فاء) جزائيه راځي. او مبتداء په څلورو ځايو کښي د شرط معني ته متضمن وي:

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

(اَلَّذِیْ یَاْتِیْنِیْ فَلَهٗ قَلَمٌ).
(۱) اسم موصول مبتداء وي لکه (اَلرَّجُلُ الَّذِیْ فِی الدَّارِ فَلَهٗ سَیْفٌ).
(۲) دمبتداء صفت اسم موصول وي لکه (رَجُلٌ یَاْتِیْنِیْ فَلَهٗ کِتَابٌ).
(۳) مبتداء نکره موصوفه وي (کُلُّ اِسْمٍ اُضِیْفَ اِلَی اسْمٍ اٰخَرَ فَیُجَرُّ
(۴) مبتداء مضاف وي نکره موصوفه ته لکه (کُلُّ) مبتداء ده او مضاف ده لفظ د (اِسْمٍ) ته. او مابعد جمله
الْاَوَّلُ الثَّانِیَ) دلته
(اُضِیْفَ اِلَی اسْمٍ اٰخَرَ) صفت دي د (اِسْمٍ) دپاره.

﴿دجواب قسم دافتتاح متعلق فائده﴾

﴿فائده (۲۱۱)﴾ په دې فائده کښې داخبره ذکر کیږي چه دجواب قسم افتتاح دکومو حروفو سره کیږي. نو په دې کښې پنځه صورتونه دي: (۱) که چیري جواب قسم جمله اسمیه مثبته وي نو دجواب قسم په ابتداء کښې (اِنَّ) یا (لام) ابتدائیه ضروري دي لکه (وَاللّٰهِ اِنَّ زَیْدًا قَائِمٌ). او (وَاللّٰهِ لَزَیْدٌ قَائِمٌ).
(۲) که چیري جواب قسم جمله اسمیه منفیه وي نو دجواب قسم په شروع کښې به (ما) مشبه بلیس وي، یا (لا) نفي جنس به وي، یا (اِنْ) نافیه به وي لکه (وَاللّٰهِ مَازَیْدٌ قَائِمًا). (وَاللّٰهِ لَا زَیْدٌ فِی الدَّارِ وَلَا عَمْرٌو). (وَاللّٰهِ اِنْ زَیْدٌ قَائِمٌ).
(۳) که چیري جواب قسم جمله فعلیه مثبته وي نو دجواب قسم په شروع کښې به (لَقَدْ) یا (لام) تاکیدیه به وي لکه (وَاللّٰهِ لَقَدْ قَامَ زَیْدٌ). (وَاللّٰهِ لَاَفْعَلَنَّ کَذَا).
(۴) که چیري جواب قسم جمله فعلیه ماضیه منفیه وي نو دجواب قسم په شروع کښې به (مَا) وي لکه (وَاللّٰهِ مَاقَامَ زَیْدٌ).
(۵) که چیري جواب قسم جمله فعلیه مضارعیه منفیه وي نو دجواب قسم په شروع کښې به (مَا) یا (لَا) یا (لَنْ) راځي لکه (وَاللّٰهِ مَا اَفْعَلَنَّ کَذَا). (وَاللّٰهِ لَا اَفْعَلَنَّ کَذَا). (وَاللّٰهِ لَنْ اَفْعَلَ کَذَا).

Scanned with CamScanner

﴿د (اِذَنْ) متعلق فوائد﴾

﴿فائده(۲۱۲)﴾ (اِذَنْ) فعل مضارع ته نصب ورکوي ليکن د (اِذَنْ) عمل کولو د پاره دري شرطونه دي: (۱)(اِذَنْ) به په صدارت د کلام کښي وي. (۲) فعل مضارع به د مستقبل په معني وي. (۳) (اِذَنْ) او فعل مضارع به متصل وي. يا د (اِذَنْ) او د فعل مضارع په درميان کښي به قسم وي. يا (لا) نافيه به وي مثال: يو څوک تا ته ووائي: (اٰتِيْكَ) نو ته په جواب کښي ورته ووائي: (اِذَنْ اُكْرِمَكَ) په دې صورت کښ فعل مضارع منصوب ده. او که تا په جواب کښي دا ورته ووېل: (اَنَا اِذَنْ اُكْرِمُكَ) په دې صورت کښ فعل مضارع مرفوع ده، او (اِذَنْ) غير عامله دي ځکه چه په صدارت د کلام کښي واقع نه دي.

﴿فائده(۲۱۳)﴾ (اِذَنْ) اکثر د (لَوْ) يا د (اِنْ) په جواب کښي راځي، که (لَوْ) او (اِنْ) ظاهر وي او که مقدر وي. د ظاهر مثال لکه په دې شعر کښي

(لَئِنْ عَادَ لِيْ عَبْدُ الْعَزِيْزِ بِمِثْلِهَا ------ وَاَمْكَنَنِيْ مِنْهَا اِذَنْ لَا اُقِيْلُهَا)

(لَا اُقِيْلُهَا) په معني د (لَا اَتْرُكُهَا) دي. او د مقدر مثال لکه: يو څوک تا ته ووائي: (اٰتِيْكَ) نو ته په جواب کښي ورته ووائي: (اِذَنْ اُكْرِمَكَ) چه په اصل کښي داسي دي (اِنْ اٰتَيْتَنِيْ اِذَنْ اُكْرِمَكَ). البته که چيري د (اِذَنْ) وروسته (لام) مفتوحه راسي، او (لَوْ) او (اِنْ) ذکر نه وي نو په دې صورت کښي به صرف (لَو) مقدر وي، او (اِنْ) به مقدر نه وي لکه (مَا اتَّخَذَ اللهُ مِنْ وَّلَدٍ وَّمَا كَانَ مَعَهٗ مِنْ اِلٰهٍ اِذًا لَّذَهَبَ كُلُّ اِلٰهٍ) الاية (سورة المؤمنون ايت ۹۱) اَیْ لَوْ كَانَ كَذَالِكَ اِذَنْ لَّذَهَبَ كُلُّ اِلٰهٍ).

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

﴿د توابع متعلق فوائد﴾

﴿فائده(۲۱۴)﴾ ضمیر متصل که مرفوع وي او که منصوب وي او که مجرور وي خو تاکید یي په ضمیر مرفوع منفصل سره راځي لکه (قُمْتَ اَنْتَ). (اَكْرَمْتَنِیْ اَنَا) دلته (اَنَا) د منصوب متصل ضمیر دپاره تاکید دي چه (یْ) ده. (مَرَرْتُ بِهٖ هُوَ) دلته (هُوَ) تاکید دي د ضمیر مجرور متصل.

﴿فائده(۲۱۵)﴾ جمله د جمله سه بدل واقع کیدې سي په شرط ددې چه د مبدل منه جمله مکمل مقصد او مضمون ته جمله د بدل محیط وي لکه (اَمَدَّكُمْ بِمَا تَعْلَمُوْنَ۝ اَمَدَّكُمْ بِاَنْعَامٍ وَّبَنِیْنَ) الاية (سورة الشعراء ایت ۱۳۲، ۱۳۳) دویمه جمله د ماقبل سه بدل ده. او جمله اسمیه د جمله فعلیه سه بدل راتلې سي د بعضو علماؤ په نیز. او د بعضو علماؤ په نیز نه سي راتلې.

﴿فائده(۲۱۶)﴾ د حرف تفسیر وروسته که چیري جمله نه وي بلکي مفرد وي نو دا مفرد به بدل یا عطف بیان وي لکه (عِنْدِیْ غَضَنْفَرٌ اَیْ اَسَدٌ).

﴿فائده(۲۱۷)﴾ د تابع او د متبوع په درمیان کښي کله (ما) زائده محض د تاکید دپاره راځي لکه (مَثَلًا مَّا بَعُوْضَةً) الاية (سورة البقرة ایت ۲۶) دلته (مثلاً) مبدل منه دي، او (بَعُوْضَةً) یي بدل دي، او (ما) زائده دي محض د تاکید دپاره. دلته نور اقوال هم سته.

﴿فائده(۲۱۸)﴾ حرف مصدر د خپل مدخول سره په حکم د مفرد معرفه وي لهذا د نکره صفت نه جوړیږي لکه (قُلْ یٰۤاَهْلَ الْكِتٰبِ تَعَالَوْا اِلٰى كَلِمَةٍ سَوَآءٍۭ بَیْنَنَا وَبَیْنَكُمْ اَلَّا نَعْبُدَ اِلَّا اللّٰهَ) الاية (سورة ال عمران ایت ۶۴) دلته (اَنْ) مصدریه د خپل مابعد سره معرفه ده لهذا د (كَلِمَةٌ) نکره دپاره صفت نه دي، بلکي د (كَلِمَةٌ) سه بدل دي، البته که چیري د (اَنْ) مصدریه سه مخکي مبتداء محذوف وګڼل سي لکه (هِیَ اَنْ لَّا نَعْبُدَ) نو بیا صفت واقع کیدل صحیح دي ځکه په دې صورت کښ جمله سوه، او جمله په حکم د نکره کښ ده.

﴿فائده (۲۱۹)﴾ علم موصوف راتلې سي لکه (زَيْدٌ الْمُجَاهِدُ). ليکن صفت نه سي راتلې لکه (ذٰلِكُمُ اللهُ رَبُّكُمْ) الاية (سورة الانعام ايت ۱۰۲) دلته اسم جلاله د (ذٰلِكُمْ) اسم اشاره دپاره صفت نه دي بلکي اسم جلاله دلته عطف بيان دي.

﴿فائده (۲۲۰)﴾ که چيري بدل د داسي اسم سره وي چه په هغه کښي د استفهام معنی وي نو په بدل کښي همزه استفهاميه راوړل ضروري ده لکه (مَاصَنَعْتَ اَخَيْرًا اَمْ شَرًّا) دلته (ما) استفهاميه اسميه ده او مبدل منه واقع دي، او (خيرًا، شرًّا) يي بدل دي. لهذا (فَبِمَا رَحْمَةٍ مِّنَ اللهِ لِنْتَ لَهُمْ) الاية (سورة ال عمران ايت ۱۵۹) کښي (رَحْمَةٍ) د (ما) سره بدل نه دي.

﴿د افعال قلوب متعلق﴾

﴿فائده (۲۲۱)﴾ د افعال قلوب عمل لس شيان يي باطل او ختموي لفظًا نه تقديرًا:

(۱) (لام) ابتدائيه لکه (عَلِمْتُ لَزَيْدٌ فَاضِلٌ). بل مثال لکه (وَلَقَدْ عَلِمُوْا لَمَنِ اشْتَرٰهُ مَالَهٗ فِي الْاٰخِرَةِ مِنْ خَلَاقٍ) الاية (سورة البقرة ايت ۱۰۲).

(۲) د جواب قسم (لام) مفتوحه لکه (عَلِمْتُ لَيَقُوْمَنَّ زَيْدٌ اَیْ عَلِمْتُ وَاللهِ لَيَقُوْمَنَّ زَيْدٌ).

(۳) استفهام لکه (وَاِنْ اَدْرِیْۤ اَقَرِيْبٌ اَمْ بَعِيْدٌ مَّا تُوْعَدُوْنَ) الاية (سورة الانبياء ايت ۱۰۹). اودارنګه په دې ايت کريمه کښې (لِنَعْلَمَ اَیُّ الْحِزْبَيْنِ اَحْصٰى) الاية (سورة الكهف ايت ۱۲).

(۴) (ما) نافيه لکه (عَلِمْتُ مَازَيْدٌ قَائِمٌ). بل مثال لکه (لَقَدْ عَلِمْتَ مَا هٰۤؤُلَاۤءِ يَنْطِقُوْنَ) الاية (سورة الانبياء ايت ۶۵).

(۵) (اِنْ) نافيه چه په جواب قسم کښي راغلي وي لکه (عَلِمْتُ وَاللهِ اِنْ زَيْدٌ قَائِمٌ) په معني د (مَا زَيْدٌ قَائِمٌ) دي.

(۶) (لَا) نافيه چه په جواب قسم کښي وي لکه (عَلِمْتُ وَاللهِ لَا زَيْدٌ فِي الدَّارِ وَلَا عَمْرٌو)

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

(۷) (لَعَلَّ) لكه (وَإِنْ أَدْرِيْ لَعَلَّهُ فِتْنَةٌ لَّكُمْ وَمَتَاعٌ إِلٰى حِيْنٍ) (سورة الانبياء ايت ۱۱۱).

(۸) (لَوْ) شرطيه لكه په دې شعر كښې (وَقَدْ عَلِمَ الْاَقْوَامُ لَوْ اَنَّ حَاتِمًا). الخ.

(۹) (إِنَّ) چه په خبر يې (لام) مفتوحه داخل سوي وي لكه (وَاللّٰهُ يَعْلَمُ إِنَّكَ لَرَسُوْلُهُ وَاللّٰهُ يَشْهَدُ إِنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ لَكٰذِبُوْنَ) الاية (سورة المنافقون ايت ۱).

(۱۰) (كَمْ) خبريه لكه (اَلَمْ يَرَوْا كَمْ اَهْلَكْنَا مِنْ قَبْلِهِمْ مِّنْ قَرْنٍ) الاية (سورة الانعام ايت ٦) په دې ټولو صورتونو كښې لفظًا عمل نه كوي منكر معناً يا تقديرًا عمل كوي.

﴿د الف لام اقسام﴾

﴿فائده (۲۲۲)﴾ الف لام يعني (اَلْ) په دوه قسم دي: (۱) اسمي (۲) حرفي.

﴿د الف لام اسمي تعريف﴾ هغه الف لام ته وائي: چه په اسم فاعل او په اسم مفعول باندي داخليږي چه په معني د (اَلَّذِيْ) اسم موصول دي بالاتفاق، او هغه الف لام چه په صفت مشبه او په اسم تفضيل باندي داخليږي هغه په معني د (اَلَّذِيْ) دي او كنه؟ نو په دې كښې اختلاف دي ليكن راجح قول دا دي چه په معنى د (الذى) نه دي.

﴿د الف لام حرفي تعريف﴾ هغه الف لام ته وائي: چه په معني د (اَلَّذِيْ) نه وي.

او الف لام حرفي بيا په دوه قسم دي: (۱) زائده (۲) غير زائده يعني مُعَرِّفَه.

بيا الف لام زائده په څلور قسم دي: (۱) لازمي عوضي (۲) لازمي غير عوضي (۳) غير لازمي غير عوضي (۴) غير لازمي عوضي.

﴿د الف لام لازمي عوضي تعريف﴾ هغه الف لام ته وائي: چه لازمي وي او د يو حرف په عوض كښې راغلي وي لكه (الله) دلته الف لام د همزه په عوض كښې راغلي دي ځكه چه دا په اصل كښې (اِلٰهٌ) وو، بيا همزه حذف سوه او په عوض كښې يې الف لام راغلي. نو دلته الف لام لازمي هم دي او عوضي هم دي.

﴿د الف لام لازمي غير عوضي تعريف﴾ هغه الف لام ته وائي: چه لازمي وي او د يو حرف په عوض راغلي نه وي لكه (اَلَّتِيْ) وغيره.

﴿د الف لام غيرلازمي غيرعوضي تعريف﴾ هغه الف لام ته وائي: چه نه لازمي وي او نه ديو حرف په عوض کښې راغلي وي. دا الف لام اکثر په اعلام باندي راځي دپاره دتحسين دكلام لكه (اَلْحَسَنُ).

﴿د الف لام عوضي غيرلازمي تعريف﴾ هغه الف لام ته وائي: چه لازمي نه وي خو ديو حرف په عوض کښې راغلي وي لكه (اَلنَّاسُ) الف لام عوض دي دهمزه.

او الف لام غيرزائده يعني مُعَرِّفَه هم په څلور قسم دي: (۱) جنسي (۲) استغراقي (۳) عهد خارجي (۴) عهد ذهني.

﴿د الف لام جنسي تعريف﴾ هغه الف لام ته وائي: چه دخپل مدخول په ماهيت باندي دلالت کوي قطع نظر د افرادو سه لكه (اَلرَّجُلُ خَيْرٌ مِّنَ الْمَرْاَةِ).


﴿د الف لام استغراقي تعريف﴾ هغه الف لام ته وائي: چه دخپل مدخول په ماهيت باندي داسي دلالت وکړي چه ټولو افرادو ته شامل سي لكه (اِنَّ الْاِنْسَانَ لَفِيْ خُسْرٍ).

﴿د الف لام عهد خارجي تعريف﴾ هغه الف لام ته وائي: چه دخپل مدخول په ماهيت باندي داسي دلالت وکړي چه په دغه ماهيت کښې بعض متعين افراد يا متعين فرد شامل او داخل دي لكه (فَعَصٰى فِرْعَوْنُ الرَّسُوْلَ فَاَخَذْنٰهُ) الاية (سورة المزمل ايت ۱٦) په دغه سورت المزمل کښې ددغه فرد متعين ذكر مخکي سوي دي چه هغه موسى عليه السلام دي.

﴿دالف لام عهد ذهني تعريف﴾ هغه الف لام ته وائي: چه دخپل مدخول په ماهيت باندي داسي دلالت وکړي چه په دغه ماهيت کښې بعض غيرمتعين فرد شامل کړي. او دلته دغه فرد غير متعين مخکي ذكر نه وي بلكي دمتكلم او دمخاطب په ذهن کښې فرض کړې سوي وي لكه په دې ايت كريمه کښ (وَاَخَافُ اَنْ يَّاْكُلَهُ الذِّئْبُ) الاية (سورة يوسف ايت ۱۳).

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

﴿د الف لام يعني د (اَلْ) داقسامو نقشه﴾



﴿دصفت مشبه متعلق فوائد﴾

﴿فائده (۲۲۳)﴾ دصفت مشبه نور تفصيل مخکې په باب سوم درعمل اسماء کښې تير سوي دي. دلته ووس دصفت مشبه صورتونه ذکر کيږي.

د صفت مشبه ټوله صورتونه اتلس دي. هغه دارنګه چه صفت مشبه اولاً په دوه قسم دي: (۱) صفت مشبه معرف بالام وي لکه (اَلْحَسَنُ). (۲) معرف بالام نه وي لکه (حَسَنٌ). بيا ددې دواړو قسمو معمول په درې قسم دي: (۱) معمول يي معرف بالام وي. (۲) معمول يي مضاف وي (۳) معمول يي نکره وي يعني نه مضاف وي او نه معرف بالام وي. نو دوو صورتونو ته چه په درو کښې ضرب ورکړې نو شپږ صورتونه سول چه هغه دادي: (۱) صفت مشبه او دهغه معمول دواړه معرف بالام وي (۲) صفت مشبه معرف بالام وي او معمول يي مضاف وي (۳) صفت مشبه معرف بالام وي او معمول يي نکره وي (۴) صفت مشبه معرف بالام نه وي او معمول

معرف بالام وي (۵) صفت مشبه معرف بالام نه وي او معمول يي مضاف وي يي معرف بالام نه وي يعني معمول يي نكره وي.
(٦) صفت مشبه او معمول دواړه معرف بالام نه وي يعني معمول يي نكره وي.
دغه شپږ صورتو په معمول باندي درې قسم اعراب ويل جائز دي: (۱) رفع بنا بر فاعليت (۲) نصب بنا بر مشابهت د مفعول سره. (۳) جر بنا بر مضاف. نو شپږو ته په درو كښي ضرب وكړې نو اتلس صورتونه ځني جوړيږي.
چه په دې اتلس صورتونو كښي نهه صورتونه احسن دي، او دوه صورتونه حسن دي، او څلور صورتونه قبيح دي، او يو صورت مختلف فيه دي، او دوه صورتونه ممتنع دي.
د ټولو صورتونو مثالونه (اَلْحَسَنُ الْوَجْهُ. اَلْحَسَنُ الْوَجْهَ. اَلْحَسَنُ الْوَجْهِ. اَلْحَسَنُ وَجْهٌ. اَلْحَسَنُ وَجهًا. اَلْحَسَنُ وَجْهٍ. اَلْحَسَنُ وَجْهُهُ. اَلْحَسَنُ وَجْهَهُ. اَلْحَسَنُ وَجْهِهِ. حَسَنُ نِ الْوَجْهُ. حَسَنُ نِ الْوَجْهَ. حَسَنُ نِ الْوَجْهِ. حَسَنٌ وَّجْهُهُ. حَسَنٌ وَّجْهَهُ. حَسَنٌ وَّجْهِهِ. حَسَنٌ وَّجْهٌ. حَسَنٌ وَّجْهًا. حَسَنٌ وَّجْهٍ).
په دې اتلس صورتونو كښي چه موصوف ته يو ضمير راجع وي نو هغه احسن دي.
لكه (زَيْدُ نِ الْحَسَنُ الْوَجْهَ. وَالْحَسَنُ الْوَجْهِ. وَالْحَسَنُ وَجْهًا. وَالْحَسَنُ وَجْهُهُ. وَرَجُلٌ حَسَنُ نِ الْوَجْهَ. وَحَسَنُ نِ الْوَجْهِ. وَحَسَنٌ وَّجْهُهُ. وَحَسَنٌ وَّجْهًا. وَحَسَنٌ وَّجْهٍ).
او په كومو صورتونو كښي چه موصوف ته دوه ضميرونه راجع وي هغه حسن دي لكه (زَيْدُ نِ الْحَسَنُ وَجْهَهُ. وَرَجُلٌ حَسَنٌ وَّجْهَهُ).
او په كومو صورتونو كښي چه موصوف ته ضمير راجع نه وي هغه قبيح دي لكه (زَيْدُ نِ الْحَسَنُ الْوَجْهُ. وَالْحَسَنُ وَجْهٌ. وَرَجُلٌ حَسَنُ نِ الْوَجْهُ. وَحَسَنٌ وَّجْهٌ).
او په هغه صورت كښ چه صفت مشبه معرف بالام نه وي بلكي مضاف وي هغه اسم ته چه هغه ضمير ته مضاف وي نو دغه صورت مختلف فيه دي لكه (حَسَنُ وَجْهِهِ).
او په كومو صورتونو كښي چه صفت مشبه معرف بالام وي او مضاف وي هغه اسم ته چه هغه مضاف وي ضمير ته، يا صفت مشبه معرف بالام وي او مضاف وي نكره ته نو په دغه صورت كښي ممتنع او ناجائز دي لكه (اَلْحَسَنُ وَجْهِهِ. اَلْحَسَنُ وَجْهٍ).

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

﴿فائده(۲۲۴)﴾ په صفت مشبه باندي منصوب مقدم كول ناجائز دي، او په اسم فاعل باندي مقدم كول جائز دي لكه (زَيْدٌ وَجْهَهُ حَسَنٌ) ويل ناجائز دي، او (زَيْدٌ عَمْرًا ضَارِبٌ) ويل جائز دي.

﴿فائده(۲۲۵)﴾ صفت مشبه د خپل فعل سره مخالف عمل كولي سي يعني فعل به دغه عمل نه كوي او صفت مشبه به يي كوي لكه (زَيْدٌ حَسَنٌ وَجْهَهُ) ويل جائز دي. او (زَيْدٌ حَسَنَ وَجْهَهُ) ويل ناجائز دي ځكه فعل لازم مفعول به نه غواړي.

په راروانه صحفه كښ د صفت مشبه د اقسامو نقشه ده، سره د احكامو:

﴿د صفت مشبه د اقسامو نقشه﴾

صفت مشبه

- معرف بالام
  - معمول معرف بالام
    - معمول مرفوع (قبیح)
    - معمول منصوب (احسن)
    - معمول مجرور (احسن)
  - معمول مضاف
    - معمول مرفوع (احسن)
    - معمول منصوب (حسن)
    - معمول مجرور (ممتنع)
  - معمول نکره
    - معمول مرفوع (قبیح)
    - معمول منصوب (احسن)
    - معمول مجرور (ممتنع)
- غیر معرف بالام
  - معمول معرف بالام
    - معمول مرفوع (قبیح)
    - معمول منصوب (احسن)
    - معمول مجرور (احسن)
  - معمول مضاف
    - معمول مرفوع (احسن)
    - معمول منصوب (حسن)
    - معمول مجرور (مختلف فیه)
  - معمول نکره
    - معمول مرفوع (قبیح)
    - معمول منصوب (احسن)
    - معمول مجرور (احسن)

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

﴿الف لام داخليدل په مضاف باندي﴾

﴿فائده (۲۲۶)﴾ په مضاف باندي الف لام يعني (ال) په دوو صورتونو کښې راځي:
(۱) صيغه صفت دخپل معمول طرفته مضاف وي او ددهغه صيغه صفت اعراب بالحرف وي لکه (اَلضَّارِبَا زَيْدٍ . اَلضَّارِبُوْ زَيْدٍ).
(۲) صيغه صفت دخپل معمول طرفته مضاف وي او معمول يې معرف بالام وي لکه (اَلضَّارِبُ الرَّجُلِ). بل مثال لکه دفقهې په کتابو کښې راځي (مَاءُ الْوَرَدِ الْمُنْقَطِعُ الرَّائِحَةِ).

﴿دشرط و جزاء، اودفاء جزائيه متعلق فوائد﴾

﴿فائده (۲۲۷)﴾ شرط چه کله دماضي صيغه وي او جزاء جمله اسميه وي نو په جزاء باندي (فاء) نه راوړل غوره دي لکه (وَاِنْ اَطَعْتُمُوْهُمْ اِنَّكُمْ لَمُشْرِكُوْنَ) الاية (سورة الانعام ايت ۱۲۱).
﴿فائده (۲۲۸)﴾ کله چه په کلام کښې دوه شرط راسي او جزاء يوه وي نو دا مذکور جزاء داول شرط دپاره به وي او ددويم شرط جزاء به محذوف وي ځکه چه ددويم شرط دوجې په کلام کښې ثقل راغلي دي نو هغه ددې مستحق دي چه جزاء يې محذوف سي دا اصح قول مطابق. او دلته نور قولونه هم سته.
﴿فائده (۲۲۹)﴾ د (اَمَّا) په جزاء باندي فاء جزائيه راوړل په هر صورت کښې لازمي ده په خلاف د (اِنْ) شرطيه. ليکن په قرآن کريم کښې چه په کومو ځايو کښې د (اَمَّا) په جزاء باندي فاء جزائيه نه ده راغلې نو هلته اکثره (فَيُقَالُ) فعل محذوف دي، او دغه فعل محذوف د (اَمَّا) دپاره جزاء ده لکه (فَاَمَّا الَّذِيْنَ اسْوَدَّتْ وُجُوْهُهُمْ . اَكَفَرْتُمْ بَعْدَ اِيْمَانِكُمْ) الاية (سورة ال عمران ايت ۱۰۴) اَيْ فَيُقَالُ لَهُمْ : اَكَفَرْتُمْ بَعْدَ اِيْمَانِكُمْ).

﴿دحال اوذوالحال متعلق فوائد﴾

﴿فائده (۲۳۰)﴾ (تَعَالٰى) هميشه په ترکيب کښې حال واقع کيږي. او دا داسم جلاله

سره خاص دي دبل چا دپاره حال نه واقع کيږي.

﴿فائده (۲۳۱)﴾ (وَلَا تَسْـَٔمُوْٓا اَنْ تَكْتُبُوْهُ صَغِيْرًا اَوْ كَبِيْرًا اِلٰٓى اَجَلِهٖ) الاية (سورة البقرة ايت ۲۸۲) دلته (اِلٰٓى اَجَلِهٖ) ظرف لغو نه دي چه متعلق سي د (اَنْ تَكْتُبُوْهُ) فعل سره، بلکي دا ظرف مستقر دي او حال واقع دي د (تَكْتُبُوْهُ) د (ہٗ) منصوب ضمير سه. او که چيري دفعل سره متعلق سي نو په په کتابت يعني په ليکلو کښي استمرار راځي دنيتهې مقررې پورې، حالانکي داسي نه دي.

﴿فائده (۲۳۲)﴾ (وَاِنِّيْ خِفْتُ الْمَوَالِيَ مِنْ وَّرَآءِيْ) الاية (سورة مريم ايت ۵) دلته متبادر په ذهن کښي دا راځي چه (مِنْ وَّرَآءِيْ) متعلق دي د (خِفْتُ) فعل سره، حالانکي داسي نه ده بلکي دا د (اَلْمَوَالِيَ) سره متعلق دي چه په هغه کښي معني د ولايت سته، او يا دا ظرف مسقر حال دي د (اَلْمَوَالِيَ) سه.

﴿فائده (۲۳۳)﴾ د حال او ذو الحال په درميان کښي خبر نه واقع کيږي لکه (كَمَنْ مَّثَلُهٗ فِى الظُّلُمٰتِ لَيْسَ بِخَارِجٍ مِّنْهَا) الاية (سورة الانعام ايت ۱۲۲) دلته (مَثَلُهٗ) مبتداء ده، او (فِى الظُّلُمٰتِ) ظرف مستقر خبر دي، او (لَيْسَ بِخَارِجٍ مِّنْهَا) حال دي د هغه ضمير سه چه د (فِى الظُّلُمٰتِ) په متعلق مقدر کښي دي، او (لَيْسَ بِخَارِجٍ مِّنْهَا) د (مَثَلُهٗ) د (ہٗ) ضمير سه حال جوړول صحيح نه دي ځکه بيا د ذو الحال او د حال په درميان کښي خبر راځي چه (فِى الظُّلُمٰتِ) دي.

﴿د جمع اقسام﴾

﴿فائده (۲۳۴)﴾ جمع په درې قسم ده: (۱) جمع (۲) اسم جمع (۳) شبهي جمع.

﴿اول قسم: جمع﴾ هغه لفظ ته وائي: چه د جمعيت په معني باندي دلالت کوي او د جمع د ماده سه يې مفرد هم راځي لکه (اَقْوَالٌ) جمع ده د (قَوْلٌ). او (رِجَالٌ) جمع ده د (رَجُلٌ). وغيره.

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

﴿دويم قسم: اسمِ جمع﴾ هغه لفظ ته وائي: چه د جمعيت په معني باندي دلالت کوي، او د جمع د ماده سه يي مفرد نه راخي لکه (خَيْلٌ . قَوْمٌ . رَهْطٌ . جَيْشٌ). داسي جمع ته د جمع ضمير راجع کيږي لکه (بِأَنَّهُمْ قَوْمٌ لَّا يَفْقَهُوْنَ) الاية (سورة الانفال ايت ٦٥).

﴿دريم قسم: شبهي جمع﴾ هغه لفظ ته وائي: چه په قليل او په کثير په دواړو باندي دلالت کوي، او فرد حقيقي يي يو وي، او فرد حکمي يي لامحدود وي، او ديته جنس هم واي. او د جنس او د واحد په درميان کښي د فرق د پاره د ذوي العقول په واحد باندي په اخر کښي (ياء) نسبتي راوړل کيږي لکه د (يَهُوْدٌ) سه (يَهُوْدِيٌّ). او د (مَجُوْسٌ) سه (مَجُوْسِيٌّ)، او د (اِنْسٌ) سه (اِنْسِيٌّ) وغيره.

او په غير ذوي العقول کښي په واحد باندي (تاء) مدوره يعني ګردي تاء راخي لکه (وَرَقٌ) سه (وَرَقَةٌ). او (شَجَرٌ) سه (شَجَرَةٌ) وغيره.

﴿د مصدر اقسام﴾

﴿فائده (٢٣٤)﴾ مصدر په څلور قسم دي: (١) مصدر (٢) اسمِ مصدر (٣) حاصل مصدر (٤) علم مصدر.

﴿اول قسم: مصدر﴾ هغه کلمه ته وائي: چه په هغه کښي حدوثي معني وي او په اوزان مشهوره متعينه کښي په يو وزن باندي وي لکه (اَلضَّرْبُ) وهل. (اَلْاِكْرَامُ) عزت ورکول.

﴿دويم قسم: اسم مصدر﴾ هغه کلمه ته وائي: چه په هغه کښي حدوثي معني وي او د مصادر په اوزان کښي په يو وزن باندي نه وي لکه (سَلَامٌ) په معني د (تَسْلِيْمٌ) دي، او (كَلَامٌ) په معني د (تَكْلِيْمٌ) دي. او (اَذَانٌ) په معني د (تَاْذِيْنٌ) دي.

دلته (سَلَامٌ. كَلَامٌ . اَذَانٌ) اسم مصدر دي. او (تَسْلِيْمٌ . تَكْلِيْمٌ . تَاْذِيْنٌ) مصدر دي.

﴿دريم قسم: حاصل مصدر﴾ هغه کلمه ته وائي: چه د مصادر په اوزان مخصوصه په يو وزن باندي وي ليکن حدوثي معني په هغه کښي نه وي بلکي د هغه

سره دمصدر نتيجه او حاصل مراد وي.

﴿ځلورم قسم: علم مصدر﴾ هغه کلمه ته وائي: چه مصدر يا اسم مصدر دمصدري معني سره خاص سي او يا دمصدر دنتيجه سره خاص سي لکه (سُبْحَانَ).

﴿فائده (٢٣٥)﴾ دغه فائده دمصدر ميمي متعلق ده. دثلاثي مجرد مصدر ميمي د (مَفْعَلٌ) پر وزن راځي لکه (مَنْظَرٌ. مَرْمًى) وغيره، ليکن اووه مصادر دثلاثي مجرد ددې قاعدې سره مستثنى دي او هغه پر وزن د (مَفْعِلٌ) راځي لکه (اَلْمَجِيْءُ. اَلْمَرْجِعُ. اَلْمَيْسِرُ. اَلْمَصِيْرُ. اَلْمَشِيْبُ. اَلْمَرْفِقُ. اَلْمَقِيْلُ).

او دمثال سه که واوي او که يايي مصدر ميمي يې مطلقًا د (مَفْعِلٌ) پر وزن راځي لکه (اَلْمَوْعِدُ. اَلْمَوْجِلُ. اَلْمَوْرِدُ) وغيره.

او دثلاثي مجرد سه علاوه دنورو بابو مصدر ميمي يې دباب داسم مفعول پر وزن راځي لکه (مُكْرَمٌ. مُكْتَسَبٌ. مَضْطَبَرٌ) وغيره.

﴿دجمله اقسام په اعتبار داعراب سره﴾

﴿فائده (٢٣٦)﴾ جمله په دوه قسم ده: (١) چه محل داعراب نه لري (٢) چه محل داعراب لري.

﴿اول قسم: چه محل داعراب نه لري﴾ داسي جملې ووه دي:

(١) جمله ابتدائيه يا جمله مستانفه لکه (زَيْدٌ قَائِمٌ).

(٢) جمله صله واقع وي په شرط ددې چه دا جمله خبريه وي او دموصول مطابق به په هغه کښې ضمير وي لکه (سُبْحٰنَ الَّذِيْٓ اَسْرٰى بِعَبْدِهٖ) الاية (سورة الاسراء ايت ١).

(٣) جمله معترضه يا اعتراضيه لکه (وَاِذَا بَدَّلْنَآ اٰيَةً مَّكَانَ اٰيَةٍ وَّاللّٰهُ اَعْلَمُ بِمَا يُنَزِّلُ قَالُوْٓا اِنَّمَآ اَنْتَ مُفْتَرٍ) الاية (سورة النحل ايت ١٠١) دلته (وَّاللّٰهُ اَعْلَمُ بِمَا يُنَزِّلُ) جمله معترضه ده

(٤) جمله تفسيريه يا مفسره يا مبينه لکه (اِنَّ مَثَلَ عِيْسٰى عِنْدَ اللّٰهِ كَمَثَلِ اٰدَمَ. خَلَقَهٗ

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

مِنْ تُرَابٍ) الاية (سورة ال عمران ايت ۵۹) په دې ايت كريمه كښ (خَلَقَهُ مِنْ تُرَابٍ) جمله تفسيريه ده د (مَثَلِ اٰدَمَ) دپاره.

(۵) هغه جمله چه د قسم دپاره جواب واقع وي لكه (وَتَاللّٰهِ لَاَكِيْدَنَّ اَصْنَامَكُمْ) الاية (سورة الانبياء ايت ۵۷).

(٦) هغه جمله چه جواب واقع وي دداسي شرط دپاره چه غير جازم وي لكه (لَوْ. لَوْلَا. لَمَّا. كَيْفَ) مثال (لَوْ تَرَكُوْا مِنْ خَلْفِهِمْ ذُرِّيَّةً ضِعٰفًا خَافُوْا عَلَيْهِمْ فَلْيَتَّقُوا اللّٰهَ) الاية (سورة النساء ايت ۹) بل مثال (وَلَمَّا جَآءَهُمْ رَسُوْلٌ مِّنْ عِنْدِ اللّٰهِ) الاية (سورة البقرة ايت ۱۰۱) وغيره. او دارنګه هغه جمله چه جواب واقع وي دداسي شرط چه هغه جازم وي خو په شرط دې چه په جمله جوابيه باندي به (فاء) او (اِذَا) مفاجاتيه نه وي لكه (اِنْ تَقُمْ اَقُمْ).

(۷) جمله معطوفه چه په مخكني مذكوره جملو باندي عطف وي لكه (زَيْدٌ قَامَ وَلَمْ يَقُمْ بَكْرٌ).

﴿دويم قسم: چه محل دا عراب لري﴾ داسي جملې نهه دي:

(۱) هغه جمله چه خبر واقع وي نو په محل د رفع كښي وي لكه (زَيْدٌ قَامَ).

(۲) هغه جمله چه حال واقع وي نو په محل د نصب كښي وي لكه (وَلَا تَمْنُنْ تَسْتَكْثِرُ) (سورة المدثر ايت ٦). بل مثال لكه (يٰاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَقْرَبُوا الصَّلٰوةَ وَاَنْتُمْ سُكٰرٰى) الاية (سورة النساء ايت ۴۳).

(۳) هغه جمله چه مفعول به واقع وي نو په محل د نصب كښ وي لكه (عَلِمْتُ لَزَيْدٌ مُنْطَلِقٌ). بل مثال (فَلْيَنْظُرْ اَيُّهَا اَزْكٰى طَعَامًا) الاية (سورة الكهف ايت ۱۹).

(۴) هغه جمله چه مضاف اليه واقع وي نو په محل د جر كښ وي. او جمله ظروف دپاره مضاف اليه واقع كيږي لكه (هٰذَا يَوْمُ لَا يَنْطِقُوْنَ) (سورة المرسلات ايت ۳۵).

(۵) هغه جمله چه د مفرد دپاره تابع وي يعني صفت يا بدل وغيره واقع وي نو دخپل

متبوع موافق وي په اعراب کښې خو محلاً لکه (وَاتَّقُوا يَوْمًا تُرْجَعُوْنَ فِيهِ إِلَى اللهِ) الاية (سورة البقرة ايت ٢٨١) دلته (تُرْجَعُوْنَ فِيهِ إِلَى اللهِ) صفت دي د (يَوْمًا) دپاره نو په محل دنصب کښې ده. بل مثال (مِنْ قَبْلِ اَنْ يَّاْتِيَ يَوْمٌ لَّا بَيْعٌ فِيْهِ) الاية (سورة البقرة ايت ٢٥٤) دلته (لَّا بَيْعٌ فِيْهِ) جمله صفت ده د (يَوْمٌ) دپاره نو په محل درفع کښې ده. بل مثال (رَبَّنَآ اِنَّكَ جَامِعُ النَّاسِ لِيَوْمٍ لَّا رَيْبَ فِيْهِ) الاية (سورة ال عمران ايت ٩) دلته په محل دجر کښې ده.

(٦) هغه جمله چه دشرط جازم دپاره په جواب کښې واقع وي او د (فاء) يا د (اذا) وروسته واقع وي لکه (مَنْ يُّضْلِلِ اللهُ فَلَا هَادِيَ لَهٗ . وَيَذَرُهُمْ) الاية (سورة الاعراف ايت ١٨٦) دلته (فَلَا هَادِيَ لَهٗ) جمله په محل دجزم کښې.ده ځکه خو په بعضي قرات کښې (وَيَذَرْهُمْ) جمله مجزوم ويل سوي ده. بل مثال (وَ اِنْ تُصِبْهُمْ سَيِّئَةٌۢ بِمَا قَدَّمَتْ اَيْدِيْهِمْ اِذَا هُمْ يَقْنَطُوْنَ) الاية (سورة الروم ايت ٣٦) دلته اخري جمله په محل دجزم کښې ده.

(٧) هغه جمله چه تابع وي دداسي جمله چه دهغه دپاره محل داعراب وي لکه دا قول دشاعر (اَقُوْلُ لَهٗ اِرْحَلْ لَاتُقِيْمَنَّ عِنْدَنَا) دلته (لَاتُقِيْمَنَّ) بدل دي د (اِرْحَلْ) سره، چونکي (اِرْحَلْ) مجزوم دي نو (لَاتُقِيْمَنَّ) هم محلاً مجزوم دي.

﴿هغه شيان چه عائد راتلې سي﴾

﴿فائده (٢٣٧)﴾ د جملې ربط چه د جملې سره راولي، يا د جملې ربط چه د مفرد سره راولي نو هغه ته عائد واي. او اصل په عائد کښې خو ضمير دي ليکن کله کله د ضمير سه علاوه نور شيان هم د عائد کار کوي او ربط راولي، او هغه تقريبًا نهه شيان دي چه په هغو کښې زه پنځه ذکر کوم ان شاء الله تعالى.

(١) (ال) دي په شرط ددې چه د ضمير عوض وي لکه (وَاَمَّا مَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهٖ وَنَهَى النَّفْسَ عَنِ الْهَوٰى ○ فَاِنَّ الْجَنَّةَ هِيَ الْمَاْوٰى) (سورة النازعات ايت ٤٠، ٤١) په اصل کښې (مَاْوَاهُ) وو، او (هُ) حذف سو او ددې په عوض کښې الف لام راغلي نو ووس په

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

(اَلْمَأْوٰى) كښې (ال) دضمير كار كوي يعني دبل عائد او دضمير ضرورت نسته.
(۲) بعينه دمبتداء الفاظ رامعاد او دوباره رانقل سي، په بل تعبير: اسم ظاهر دضمير پر ځاي واقع سي نو دغه اسم ظاهر قائم مقام دعائد دي لكه (اَلْحَآقَّةُ ○ مَاالْحَآقَّةُ) (سورة الحاقة) چه په اصل كښې (مَا هِيَ) وو . بل مثال (وَاَصْحٰبُ الْيَمِيْنِ مَآ اَصْحٰبُ الْيَمِيْنِ) (سورة الواقعة ايت۲۷) چه په اصل كښ (مَا هُمْ) وو .
(۳) مبتداء دوباره رانقل سي په اعتبار دمعنى سره لكه (زَيْدٌ جَاءَنِيْ اَبُوْ عَبْدِاللّٰهِ) دغه په صورت كښ جوړيږي چه (اَبُوْعَبْدِاللّٰهِ) كنيت وي د (زَيْدٌ) دپاره.
(۴) جمله دمبتداء تفسير وي لكه (قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ) دلته (هُوَ) مبتداء ده او مابعد جمله (اللّٰهُ اَحَدٌ) خبر دي او دمبتداء تفسير كوي ځكه خو دلته ضمير نسته
(۵) اسم اشاره لكه (وَالَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا وَاسْتَكْبَرُوْا عَنْهَا اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ النَّارِ) الاية (سورة الاعراف ايت ۳٦) دلته (وَالَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا وَاسْتَكْبَرُوْا عَنْهَا) مبتداء ده او (اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ النَّارِ) جمله خبر دي، او (اُولٰئِكَ) اسم اشاره قائم مقام دعائد ده چه هغه (هُمْ) ضمير دي. بل مثال (اِنَّ السَّمْعَ وَالْبَصَرَ وَالْفُؤَادَ كُلُّ اُولٰٓئِكَ كَانَ عَنْهُ مَسْئُوْلًا) الاية (سورة الاسراء ايت۳٦) دلته هم (اُولٰئِكَ) قائم مقام دعائد دي.

﴿هغه جملې چه دماقبل سره رابط ته محتاجه دي﴾

﴿فائده (۲۳۸)﴾ ښپږ جملې داسي دي چه هغه محتاجه ده دماقبل سره ربط ته:
(۱) هغه جمله چه خبر واقع وي لكه (زَيْدٌ قَامَ). بل مثال (اُولٰٓئِكَ لَهُمْ جَنّٰتُ عَدْنٍ) الاية (سورة الكهف ايت۳۱) (اُولٰئِكَ) مبتداء او مابعد جمله يي خبر دي او (هُمْ) رابط دي.
(۲) هغه جمله چه صفت واقع وي لكه (حَتّٰى تُنَزِّلَ عَلَيْنَا كِتٰبًا نَّقْرَؤُهٗ) الاية (سورة الاسراء ايت ۹۳)، (نَّقْرَؤُهٗ) جمله صفت ده د (كِتٰبًا) دپاره او (هٗ) ضمير رابط او عائد دي.

(۳) هغه جمله چه صله واقع وي لکه (اَلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ) الاية (سورة العصر).
(۴) هغه جمله چه حال واقع وي، اوپه جمله حاليه کښ رابط کله ضمير وي او کله واو وي لکه (وَرَاَيْتَ النَّاسَ يَدْخُلُوْنَ فِيْ دِيْنِ اللّٰهِ اَفْوَاجًا) (سورة النصر) (يَدْخُلُوْنَ) حال دي د (النَّاسَ) سه، او په (يَدْخُلُوْنَ) کښ د فاعل ضمير بارز رابط او عائد دي.
بل مثال (لَا تَقْرَبُوا الصَّلٰوةَ وَاَنْتُمْ سُكٰرٰى) الاية (سورة النساء ايت ۴۳) دلته (وَاَنْتُمْ سُكٰرٰى) جمله حاليه ده د (لَا تَقْرَبُوا) د فاعل ضمير سه، او رابط واو دي په جمله حاليه کښ.
(۵) هغه جمله چه تفسير واقع وي لکه (زَيْدًا اَكْرَمْتُهٗ) دلته (اَكْرَمْتُهٗ) جمله تفسيريه ده د جمله محذوفه دپاره چه هغه عامله ده په (زَيْدًا) کښ چه په اصل کښ عبارت داسي دي (اَكْرَمْتُ زَيْدًا اَكْرَمْتُهٗ).
(۶) هغه جمله چه بدل واقع وي لکه (ثُمَّ عَمُوْا وَصَمُّوْا كَثِيْرٌ مِّنْهُمْ) الاية (سورة المائدة ايت ۷۱) دلته (كَثِيْرٌ مِّنْهُمْ) جمله بدل ده د (عَمُوْا وَصَمُّوْا) جملو سه او رابط (هُمْ) دي.

﴿د عَلَم قسمونه﴾

﴿فائده (۲۳۹)﴾ علم په درې قسم دي: (۱) کنيت (۲) اسم (۳) لقب.
(کنيت) هغه علم ته وائي: چه د هغه په اول کښې (اَبْ) يا (اُمْ) (ابن) وي لکه ابوبکر رضي الله عنه. ابو حنيفه رحمة الله عليه. ام سلمه رضي الله عنها. ابن عبد البر رحمة الله عليه. وغيره.
(لقب) چه په مدح يا په ذم باندي دلالت کوي. د مدح مثال لکه عثمان غني رضي الله عنه کښې لفظ د (غني) او دارنګه (زين العابدين رحمة الله عليه).
(اسم) هغه ته وائي چه کنيت او لقب نه وي او په معين ذات باندي دلالت وکړي لکه (زيد. بکر. خالد. اسامة. حمزة. معاوية، سلمة، وغيره.

﴿د (اَيٌّ) قسمونه﴾

﴿فائده (۲۴۰)﴾ (اَيٌّ) په ښپږ قسم دي:

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

(۱) شرطيه لكه (اَيًّا مَّا تَدْعُوْا فَلَهُ الْاَسْمَآءُ الْحُسْنٰى) الاية (سورة الاسراء ايت ١١٠).

(۲) استفهاميه لكه (اَيُّكُمْ زَادَتْهُ هٰذِهٖۤ اِيْمَانًا) الاية (سورة التوبة ايت ١٢٤). بل مثال (فَبِاَيِّ حَدِيْثٍۭ بَعْدَهٗ يُؤْمِنُوْنَ) (سورة المرسلات ايت ٥٠).

(۳) موصوله لكه (اَيُّهُمْ اَشَدُّ عَلَى الرَّحْمٰنِ) الاية (سورة مريم ايت ٦٩) اَىْ اَلَّذِىْ هُوَ اَشَدُّ. (۴) صفت وي دنكره دپاره. په دې صورت كښې دكمال په معني باندي دلالت كوي مثال لكه (زَيْدٌ رَجُلٌ اَىُّ رَجُلٍ) اَىْ كَامِلٌ فِىْ صِفَاتِ الرِّجَالِ).

(۵) موصوفه وي. او دده صفت يا به معرف بالام وي او يا به اسم موصول وي لكه (يَآاَيُّهَا الرَّجُلُ . يَآاَيُّهَا الَّذِىْ فَعَلَ كَذَا). دلته نور قولونه هم سته.

(٦) حال راځي دمعرفه دپاره. په دې صورت كښې دكمال په معني باندي دلالت كوي لكه (مَرَرْتُ بِعَبْدِ اللهِ اَىَّ رَجُلٍ) اَىْ كَامِلًا فِىْ صِفَاتِ الرِّجَالِ).

﴿دفعل په ذكر كولو سره كومي معنى ګاني اخستل كيږي﴾

﴿فائده (٢٤١)﴾ دلته دغه خبر ذكر كيږي چه فعل ذكر سي نو دهغه سره كومي كومي معني اخستل كيږي. او په دې فائده سره دقران كريم دبعضو اياتونو چه په ظاهري تعارض دي هغه ختميږي، مثلاً دقران كريم په يو ايت كريمه كښي دتزكية النفس سه منع راغلې ده، او په بل ايت كريمه كښې دتزكية النفس ترغيب وركړي دي لكه (فَلَا تُزَكُّوْٓا اَنْفُسَكُمْ) الاية (سورة النجم ايت ٣٢) دلته منع راغلې ده. او په دغه دوو ايتونو كښ ترغيب وركړي دي لكه (قَدْ اَفْلَحَ مَنْ تَزَكّٰى) (سورة الاعلى)، (قَدْ اَفْلَحَ مَنْ زَكّٰهَا) (سورة الليل). دفعل په ذكر كولو سره مختلف معني ګاني اخستل كيږي، چه په هغو معنى ګانو كښ پنځه معنى ګاني دادي:

(۱) كله دفعل سه اراده دفعل مراد وي لكه (يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِذَا قُمْتُمْ اِلَى الصَّلٰوةِ فَاغْسِلُوْا وُجُوْهَكُمْ) الاية (سورة المائدة ايت ٦) نو دلته د (اِذَا قُمْتُمْ) سه اراده دفعل مراد ده يعني چه تاسو كله اراده وكړي دولاړيدو دلمانځه لپاره. او كه نفس فعل يعني نفس

ولاړپدل مراد واخلې نو بيا يي مطلب صحيح نه جوړيږي ځکه بيا خو يي مطلب دا سو : چه تاسو کله ولاړ سي ولمانځه ته.

(۲) کله دفعل سه دعوه دفعل مرادوي لکه (فَلَا تُزَكُّوا أَنْفُسَكُمْ) الاية (سورة النجم ايت ۳۲) يعني دخپل نفس دپاکي دعوه مه کوي چه موږ پاک اوتقوي داره يو، وغيره.

(۳) کله دفعل سه نفس فعل مراد وي لکه (قَدْ أَفْلَحَ مَنْ زَكّٰهَا) (سورة الليل) يعني دخپل نفس تزکيه کول او دګناهو سه پاکول کاميابي ده.

(۴) کله دفعل سه مراد قدرت دفعل وي لکه (لَايَجُوزُ كَشْفُ الْعَوْرَةِ لِلْاِسْتِنْجَاءِ) يعني عورت پټول ضروري دي په وخت داستنجاء کښي خو په شرط ددې چه دانسان قدرت وي په پټولو دعورت باندي. اوکه قادر نه وي په پټولو دعورت باندي نو بيا ضروري نه دي.

(۵) کله دفعل سه مراد مستحق او مناسب دفعل وي لکه (اَلزَّانِيْ لَايَنْكِحُ اِلَّا زَانِيَةً اَوْ مُشْرِكَةً) الاية (سورة النور ايت ۳) دلته دا مطلب نه دي چه دزناکاره سړي نکاح صرف دزناکاري ښځي او دمشرکي ښځي سره جائز ده او دنورو سره جائز نه ده بلکي مطلب دا دي چه زناکاره سړې ددې فعل قبيح په وجه لائق او مستحق دي چه نکاح وکړي دزناکاري ښځي او دمشرکې ښځي سره، او زناکاره سړې ددې لائق نه دي چه پاکه ښځه دهغه سره نکاح وکړي. اودفعل په ذکر کولو سره نوري معاني هم سته.

﴿مختلف فوائد﴾

﴿فائده (۲۴۲)﴾ که چيري مفرد دجمع پر ځاي باندي راځي نو بيا مفرد نکره راوړل ضروري دي لکه (زَيْدٌ اَفْضَلُ رَجُلٍ) چه په اصل کښي (زَيْدٌ اَفْضَلُ مِنْ كُلِّ رَجُلٍ) دي.

﴿فائده (۲۴۳)﴾ کله چه نون تنوين دمرکب کلمه په اخر کښي راسي نو دا نون تنوين داصلي نون سره مشابه کيږي نو په حالت دوقف کښي داصلي نون پشان ويل کيږي لکه (كَاَيِّنْ) دا ددوو کلمو سه مرکب دي يو کاف دي اوبل (اَيٍّ) دي، او په اخر کښي نون تنوين راغلي دي لهذا په حالت دوقف کښي دا نون تنوين په نون اصلي سره ويل

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

کيږي، او په دې وجه خو په قران کريم کښې دا نون تنوين د نون په شکل راغلي دي لکه (وَكَأَيِّنْ مِّنْ اٰيَةٍ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ) الاية (سورة يوسف ايت ۱۰۵).

﴿فائده (۲۴۴)﴾ (اَمْ) متصله که چيرې د همزه استفهاميه وروسته راسي نو په جواب کښې په دوو شيانو کښې ديو شي تعين غواړي، او جواب يې په (لا) او په (نعم) سره نه راځي، مثلاً يو څوک تاته ووائي (اَزَيْدٌ عِنْدَكَ اَمْ خَالِدٌ) نو ته به په جواب کښې (زَيْدٌ) يا (خَالِدٌ) ورته وايي، يعني ديوي تعيين به کوې، او په (لا) او په (نعم) سره به جواب نه ورکوې.

﴿فائده (۲۴۵)﴾ په اسم تفضيل او په فعل تعجب چه په وزن د (مَا اَفْعَلَهُ) وي او په (خَلَا. عَدَا) او په اسم فعل چه په معني د امر حاضر وي په دې ټولو کښې فاعل ضمير مستتر وي په واجب الاستتار سره.

﴿فائده (۲۴۶)﴾ عَلَم نه مضاف کيږي ليکن که چيرې د علم سره د علميت معنى ختم سي نو بيايې اضافت صحيح دي لکه (مَرَرْتُ بِاَحْمَدِكُمْ).

﴿فائده (۲۴۷)﴾ کله چه جار او مجرور يا ظرف متعلق وي د فعل سره، او د فعل او د جار مجرور او د ظرف په درميان کښې (اِلَّا) واقع سي نو دغه (اِلَّا) د فعل او د جار مجرور او د ظرف د تعلق د پاره مانع نه ګرځي يعني که چيرې جار مجرور او ظرف د (اِلَّا) وروسته واقع وي او متعلق وي د فعل سره او دغه فعل د (اِلَّا) سره مخکې واقع وي نو دا صحيح دي لکه (مَا قَامَ اِلَّا زَيْدٌ يَوْمَ الْجُمُعَةِ) دلته د (يَوْمَ الْجُمُعَةِ) تعلق د (مَا قَامَ) فعل سره دي. بل مثال (وَمَا اخْتَلَفَ فِيْهِ اِلَّا الَّذِيْنَ اُوْتُوْهُ مِنْ بَعْدِ مَا جَآءَتْهُمُ الْبَيِّنٰتُ) الاية (سورة البقرة ايت ۲۱۳) دلته (مِنْ بَعْدِ مَا جَآءَتْهُمُ الْبَيِّنٰتُ) متعلق دي د (مَا اخْتَلَفَ) فعل سره چه د (اِلَّا) مخکې واقع دي.

﴿فائده (۲۴۸)﴾ حروف جاره کله چه زائد وي نو بيا متعلق نه غواړي لکه (بِحَسْبِكَ

سَيْفٌ) دلته (باء) زائده ده لهذا متعلق نه غواړي، نو (حَسْبُكَ) مبتداء ده او (سَيْفٌ) يې خبر دي.

﴿فائده (۲۴۹)﴾ (قَالَ يَاوَيْلَتَىٰ أَعَجَزْتُ أَنْ أَكُونَ مِثْلَ هَٰذَا الْغُرَابِ فَأُوَارِيَ سَوْءَةَ أَخِي) الاية (سورة المائدة ايت ۳۱) بعض خلک وائي: چه دلته (فَأُوَارِيَ) منصوب دي په دې وجه چه داستفهام په جواب کښې واقع دي چه (أَعَجَزْتُ) دي لهذا (أَنْ) ناصبه دلته مقدر دي. دا خبره صحيح نه ده ځکه چه کله يو شې دبل شي په جواب کښې واقع وي نو جواب دهغه دپاره مسبب او سبب وي او دلته خو (أَعَجَزْتُ) مسبب او سبب نه دي دپاره د (مُوَارَاة)، او د (مُوَارَاة) معنى ده: پټول. بلکي (فَأُوَارِيَ) منصوب دي په دې وجه چه په (أَكُونَ) باندي عطف دي نو د (أَنْ) مذکور دوجي منصوب دي.

﴿فائده (۲۵۰)﴾ جمله معترضه دفعل او دفاعل او دارنګه دمبتداء او دخبر په درميان کښې راتلې سي ليکن فعل او مبتداء و غيره دخپل عمل سه نه منع کوي يعني فعل وغيره خپل عمل کوي داصح قول مطابق.

﴿فائده (۲۵۱)﴾ کله چه ماضي مثبت وي او دقسم په جواب کښې واقع وي نو په ماضي باندي (لَقَدْ) راځي لکه (قَالُوا تَاللَّهِ لَقَدْ آثَرَكَ اللَّهُ) الاية (سورة يوسف ايت ۹۱). او کله دا (لَقَدْ) مقدر وي لکه (قُتِلَ أَصْحَابُ الْأُخْدُودِ) (سورة البروج ايت ۴) اى لَقَدْ قُتِلَ أَصْحَابُ الْأُخْدُودِ) دا د ماقبل د قسم جواب دي چه دسورت په اول کښې دي.

﴿فائده (۲۵۲)﴾ هغه عائد يعني ضمير چه مجرور وي په حرف جار سره دهغه دحذف کولو دپاره شرط دادي چه اسم موصول به هم مجرور وي دهغه پشان معنًا او متعلقًا لکه (فَاصْدَعْ بِمَا تُؤْمَرُ) الاية (سورة الحجر ايت ۹۴) اَىْ بِمَا تُؤْمَرُ بِهِ). او دارنګه دغه ايت کريمه (وَيَشْرَبُ مِمَّا تَشْرَبُونَ) الاية (سورة المؤمنون ايت ۳۳) اَىْ مِمَّا تَشْرَبُونَ مِنْهُ).

﴿فائده (۲۵۳)﴾ د صله معمول په اسم موصول باندي مخکي کول جائز نه دي لکه (وَكَانُوا فِيهِ مِنَ الزَّاهِدِينَ) الاية (سورة يوسف ايت ۲۰) دلته که چيري په (الزَّاهِدِينَ) کښې (ال) اسم

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

موصول و كمبل سي نو بيا لفظ د (فِيْهِ) د (اَلزَّاهِدِيْنَ) سره متعلق كول نا جائز دي ځكه چه دصله معمول په اسم موصول باندي مقدم كيږي او دا خو ناجائز دي. او كه چيري (ال) دتعريف دپاره وي نو بيا (فِيْهِ) د (اَلزَّاهِدِيْنَ) سره متعلق دي او دا واضح دي.

﴿فائده (٢٥٤)﴾ د (لَولاَ) وروسته په ضمائرو كښي مرفوع منفصل ضمير راځي لكه (لَوْلَآ اَنْتُمْ لَكُنَّا مُؤْمِنِيْنَ) الاية (سورة سبا ايت ٣١). ليكن كله كله د (لَولاَ) وروسته منصوب متصل ضمير هم راځي او دا قليل الاستعمال دي لكه (لَوْلَایَ. لَوْلَاكَ. لَوْلَاهُ) لكه په يو موضوعي حديث كښ راځي (لَوْلَاكَ لَمَا خَلَقْتُ الْاَفْلَاكَ).

﴿تنبيه﴾ دغه مذكوره حديث موضوعي دي لكه ملاعلي القاري الحنفي رحمه الله په خپل كتاب (الموضوعات الكبرى) ذكر كړي دي.

﴿فائده (٢٥٥)﴾ سين او سوف حروف تنفيس دي او دتنفيس معني ده توسيع يعني دغه حروف دخپل مدخول په زمانه كښي فراخي راولي يعني دحال زمانه سه بياي دمستقبل زمانه ته، او دحال زمانه خو تنګه ده په نسبت دمستقبل زماني.

﴿فائده (٢٥٦)﴾ (مَثَلُهُمْ كَمَثَلِ الَّذِى اسْتَوْقَدَ نَارًا. فَلَمَّآ اَضَآءَتْ مَا حَوْلَهٗ ذَهَبَ اللّٰهُ بِنُوْرِهِمْ وَتَرَكَهُمْ فِىْ ظُلُمٰتٍ لَّا يُبْصِرُوْنَ) (سورة البقرة ايت ١٧) دلته دا اشكال راځي چه (اَلَّذِىْ) اسم موصول دي دمفرد مذكر دپاره، او دلته يو دواحد مذكر ضمير ورته راجع دي چه د (اِسْتَوْقَدَ) فعل دپاره فاعل دي چه (هُوَ) ضمير دي، او بل دجمع مذكر ضمير ورته راجع دي چه په (بِنُوْرِهِمْ) كښي (هُم) ضمير دي نو دجمع ضمير دمفرد مذكر اسم موصول ته څرنګه راجع كيږي؟ نو ددې دوه جوابونه دي:

﴿اول جواب﴾ چه (اَلَّذِىْ) اسم موصول لفظًا مفرد دي ليكن معنًا جمع دي يعني جنس دي پشان د (مَنْ) او د (مَا) نو په دې وجه دمفرد او دجمع ضميرونه ورته راجع سوي دي.

﴿دويم جواب﴾ دلته (اَلَّذِىْ) په اصل كښي (اَلَّذِيْنَ) وو، او نون يي حذف سو دوجه دكلام دوږدېدو.

او درانګه دغه اشکال او جوابونه په دغه ایت کریمه کښې هم دي (وَالَّذِیۡ جَآءَ بِالصِّدۡقِ وَصَدَّقَ بِهٖۤ اُولٰٓئِكَ هُمُ الۡمُتَّقُوۡنَ) (سورة الزمر ایت ۳۳).

﴿فائده (۲۵۷)﴾ مخکښې دا خبره ذکر سوې وه چه کله فاعل اسم ظاهر وي نو فعل به په هر صورت کښې د مفرد صیغه راوړل کیږي که فاعل مفرد وي او که تثنیه او که جمع وي، حلانکي په حدیث شریف کښې دد قاعدې مخالف راغلي دي لکه (مَا اِغۡبَرَّتَا قَدَمَا عَبۡدٍ فِيۡ سَبِيۡلِ اللهِ فَتَمَسَّهُ النَّارُ) دلته فاعل اسم ظاهر او تثنیه دي چه (قَدَمَا عَبۡدٍ) دي، او فعل هم تثنیه راغلي دي چه (اِغۡبَرَّتَا) دي، نو ددې دوه جوابونه دي:

(۱) په (اِغۡبَرَّتَا) کښې الف ضمیر د تثنیه نه دي بلکي محض علامت د تانیث دي، او فاعل په اصل کښې (قَدَمَا عَبۡدٍ) دي. او (قَدَمَا عَبۡدٍ) کښ (قَدَمَا) تثنیه ده او نون د تثنیه په اضافت سره غورځیدلي دي چه په اصل کښ (قَدَمَانِ) وو.

(۲) په فعل کښې الف ضمیر د تثنیه فاعل دي خو راجع دي معهود فی الذهن ته یعني مرجع معنوي دي، او (قَدَمَا عَبۡدٍ) د فاعل د ضمیر سه بدل دي.

او دغه اشکال او جوابونه د عربي په یوه مشهوره مقوله کښ هم دي چه داده (اَكَلُوۡنِيۡ الۡبَرَاغِيۡثُ) دلته فعل جمع دي او وروسته فاعل هم جمع دي چه (اَلۡبَرَاغِيۡثُ) دي.

﴿فائده (۲۵۸)﴾ لام امر د (قُلۡ) د امر صیغه سه وروسته مقدر وي لکه (قُلۡ لِّعِبَادِيَ الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا يُقِيۡمُوا الصَّلٰوةَ) الایة (سورة ابراهیم ایت ۳۱) اَیۡ لِيُقِيۡمُوا الصَّلٰوةَ). او دارنګه دلته (قُلۡ لِّلۡمُؤۡمِنِيۡنَ يَغُضُّوۡا مِنۡ اَبۡصَارِهِمۡ) الایة (سورة النور ایت ۳۰) اَیۡ لِيَغُضُّوۡا).

﴿فائده (۲۵۹)﴾ قاعده ده چه د کومي کلمه په مفرد کښې (تاء) وي نو دغه په تثنیه کښې هم دغه (تاء) وي یعني په لفظو کښې ذکروي لکه (ضَارِبَةٌ) سه (ضَارِبَتَانِ) وغیره. مګر ددې قاعده سه دوې کلمې مستثني دي: (۱) خُصۡيَةٌ (۲) اِلۡيَةٌ. ځکه چه ددې په تثنیه کښې (تاء) نه راځي لکه (خُصۡيَيۡنِ . اِلۡيَيۡنِ).

Scanned with CamScanner

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿فائده (۲۶۰)﴾ دا فائده دلفظ د (ابن) متعلق ده. په (ابن) کښې همزه وصلي ده، او همزه وصلي په وسط د کلام کښې قرائتًا ساقطيږي، او کتابتًا نه ساقطيږي، ليکن په بعضو ځايو کښې همزه وصلي قرائتًا هم او کتابتًا هم ساقطيږي، دا په هغه صورت کښې وي چه لفظ د (ابن) دوو علمين متناسلين په درميان کښې واقع وي لکه (جَاءَنِيْ زَيْدُ ۨ بْنُ خَالِدٍ). البته که چيرې لفظ د (ابن) د دوو علمين متناسلين په درميان کښې واقع وي او لفظ د (ابن) د ليکې په شروع کښې وي نو بيا د (ابن) همزه وصلي کتابتًا نه ساقطيږي يعني ليکل کيږي او قرائتًا ساقطيږي لکه =======(جَاءَنِيْ زَيْدُ ابْنُ خَالِدٍ). داخو د (ابن) متعلق کتابتًا او قرائتًا قاعده وه. وو س په ترکيب کښې لفظ د (ابن) څه واقع کيږي نو د هغه متعلق قاعده داده: چه لفظ د (ابن) دماقبل دپاره صفت وي او دمابعد دپاره مضاف وي لکه (جَاءَنِيْ زَيْدُ ۨ بْنُ خَالِدٍ) دلته (بن) د (زيد) دپاره صفت دي او مابعد ته مضاف دي ځکه خو د (ابن) تنوين نسته.

﴿فائده (۲۶۱)﴾ دلفظ (يَابُنَيَّ) تعليل: د (يَابُنَيَّ) اعراب په شانزده اقسام کښې چلورلسم قسم دي يعني غير جمع مذکر سالم مضاف بياء متکلم. تعليل يې دادي: چه دا د (اِبْن) تصغير دي، او (اِبْـن) په اصل کښې (بِنْوٌ) وو، نو په تصغير سره (بُنَيْوٌ) سو، بيا د (قُوَيْلٌ) په قانون سره (واو) په (ياء) بدل سو، او (ياء) په (ياء) کښې مدغمه سوه د متجانسين په قانون سره، نو (بُنَيٌّ) سو، بيا دا مضاف سو (ياء) د متکلم ته نو (بُنَيِّيْ) سو. بيا د دريم (ياء) سره مخکې کسره په فتحه بدله سوه او (ياء) په (الف) بدله سوه د قَالَ په قانون سره نو (بُنَيَّا) سو، بيا (الف) حذف سو او د هغه قائم مقام يې فتحه پرېښول سوه څرنګه چه په کلام عرب کښې (ياء) حذف سي او کسره د هغه قائم مقام پرېږدي نو (بُنَيَّا) سه (بُنَيَّ) سو. په دغه تعليل باندې يو اشکال راځي هغه دا: چه کله د دريمې (ياء ساکنه) ماقبل کسره په فتحه بدله سوه نو دغه (ياء ساکنه) د قَالَ په قانون سره څرنګه په (الف) بدله سوه ځکه (ياء) خو په هغه وخت کښې په (الف) سره بدليږي

چه (یاء) متحرکه وي او دلته خو (یاء) ساکنه ده. نو ددې دوه جوابونه دي: (۱) بعض علماء وائي: چه (یاء ساکنه) د قال په قانون سره په (الف) بدلول جائز دي لکه (اِنْ هٰذَانِ لَسَاحِرَانِ) الاية (سورة طه ايت ٦٣) دا په اصل کښې (اِنْ هٰذَيْنِ لَسَاحِرَيْنِ) وو، او (یاء ساکنه) په (الف) بدله سوه نو (هٰذَانِ لَسَاحِرَانِ) سو. (۲) چه کله کله (یاء) متکلم متحرکه یعني مفتوحه هم استعمالیږي لکه (وَمَالِيَ لَآ اَعْبُدُ الَّذِيْ فَطَرَنِيْ) الاية (سورة يس ايت ۲۲). نو دلته په (بُنَيَّ) کښې هم (یاء) د متکلم مفتوحه ده نو بیا هیڅ اشکال نه راځي.

﴿د (فَعِيْلٌ) او د (فَعُوْلٌ) د وزن متعلق فوائد﴾

﴿فائده (۲٦۲)﴾ (فَعِيْلٌ) او (فَعُوْلٌ) دا دواړه د مبالغه اوزان دي، لیکن کله د فاعل په معني وي او کله د مفعول په معني وي او کله مذکر مستعمل وي او کله مؤنث وغیره.

﴿فَعُوْلٌ﴾ دا وزن چه کله د فاعل په معني وي نو مذکر او مؤنث دواړو د پاره برابر به وي یعني د مذکر او د مؤنث د پاره په ده کښې فرق نه راځي خو په شرط د دې چه موصوف یې ذکر وي لکه (زَيْدٌ ن الْبَتُوْلُ . مَرْيَمُ الْبَتُوْلُ). او که موصوف ذکر نه وي نو بیا د مذکر او د مؤنث د پاره په (تاء) سره فرق راځي لکه (جَاءَ بَتُوْلٌ . جَاءَتْ بَتُوْلَةٌ). البته د دغه وزن (عَدُوَّةٌ) شاذ دي یعني که موصوف ذکر وي او که نه وي ذکر په ده کښې د مذکر او د مؤنث د پاره فرق راځي لکه (جَاءَ رَجُلٌ عَدُوٌّ . جَاءَتْ اِمْرَاَةٌ عَدُوَّةٌ).

او (فَعُوْلٌ) وزن چه کله د مفعول په معني وي نو په هر صورت کښې به د مذکر او د مؤنث فرق به وي که موصوف ذکر وي او که نه وي لکه (هٰذَا رَسُوْلٌ. تِلْكَ رَسُوْلَةٌ).

﴿فَعِيْلٌ﴾ وزن چه کله د فاعل په معني وي نو د مذکر او د مؤنث په درمیان کښې به فرق راځي په (تاء) سره که موصوف ذکر وي او که نه وي لکه (رَجُلٌ نَصِيْرٌ . اِمْرَاَةٌ نَصِيْرَةٌ). (جَاءَ نَصِيْرٌ . جَاءَتْ نَصِيْرَةٌ).

او که (فَعِيْلٌ) په معني د مفعول وي نو د مذکر او د مؤنث دواړو د پاره یو شان

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

استعمالیږي خو په شرط ددې چه موصوف به ذکر وي لکه (زَيْدٌ الْقَتِيلُ. اِمْرَأَةٌ جَرِيحٌ).
او که موصوف مذکور نه وي نو بیا دمذکر او دمؤنث فرق راځي په (تاء) سره لکه (جَاءَ حَبِيبٌ. وَجَاءَتْ حَبِيبَةٌ). لیکن کله کله (فَعِيلٌ) په معني دمفعول وي او موصوف مذکور وي دهغه باوجود دمذکر او دمؤنث فرق سوي وي یعني په مؤنث کښي (تاء) راغلي وي لکه (خَاتِمَةٌ. سَعِيدَةٌ. عَاقِبَةٌ. حَمِيدَةٌ). او کله کله (فَعِيلٌ) په معني دفاعل وي او مؤنث يي بغیر (تاء) وي لکه (اِمْرَأَةٌ عَقِيمٌ). (مَنْ يُّحْيِ الْعِظَامَ وَهِيَ رَمِيمٌ) الاية (سورة يس ايت ۷۸).
﴿فائده (۲٦۳)﴾ د (فَعِيلٌ) وزن دجمع او دمفرد لپاره يو شان استعمالیږي یعني دمفرد او دجمع دپاره نه بدلیږي لکه (اِلَى اللّٰهِ مَرْجِعُكُمْ جَمِيْعًا) الاية (سورة المائدة ايت ۴۸). اودارنګه په دغه ايت كريمه كښ (كُلُوْا وَاشْرَبُوْا هَنِيْٓئًا) الاية (سورة الحاقة ايت ۲۴).
﴿فائده (۲٦۴)﴾ هره هغه کلمه چه په هغه کښي ددرد او دتکلیف معني وي او د (فَعِيلٌ) پر وزن باندي راځي نو دهغه جمع د (فَعْلٰى) پر وزن راځي لکه (جَرِيحٌ) جمع يي (جَرْحٰى) راځي. او (شَتِيتٌ) جمع يي (شَتّٰى) راځي. او (صَرِيعٌ) جمع يي (صَرْعٰى). او (مَرِيضٌ) جمع يي (مَرْضٰى). او (قَتِيلٌ) جمع يي (قَتْلٰى) راځي وغيره.
﴿فائده (۲٦۵)﴾ مبالغه في الفاعل وي، يا في المفعول، که چیري مبالغه د (فُعَلَةٌ) پر وزن باندي وي نو دا مبالغه في الفاعل ده لکه (هُمَزَةٌ. لُمَزَةٌ. ضُحَكَةٌ) وغيره. او د (ضُحَكَةٌ) معنی ده: دخندا والا.
او که چیري مبالغه پر وزن د (فُعْلَةٌ) وي نو دا مبالغه في المفعول ده لکه (ضُحْكَةٌ) معنی ده: هغه څوک چه په هغه باندي خندا سوې ده.
﴿فائده (۲٦٦)﴾ (مُنَادٰى مُرَخَّم). ترخیم دیته وائي: چه د کلمه په اخر کښي يو حرف حذف سي نو (مُنَادٰى مُرَخَّم) هغه منادی ته وائي: چه په اخر کښي حرف حذف سوي وي. ووس د (مُنَادٰى مُرَخَّم) اعراب څرنګه دي؟ نو بعض علماء وائي: چه دمنادی

Scanned with CamScanner

اعراب يي دي. او بعض علماء وائي: چه په خپل حالت باندي به وي لکه دا شعر

أَقِلِّي اللَّوْمَ عَاذِلَ وَالْعِتَابَنْ ------ وَقُوْلِي إِنْ أَصَبْتُ لَقَدْ أَصَابَنْ

دلته (عَاذِلَ) منادیٰ مرخم ده چه په اصل کښي (يَاعَاذِلَةٌ) وو.

﴿فائده (۲٦۷)﴾ معمولات ټول (۲۲) دي:

مرفوعات اته دي: (۱) فاعل (۲) نائب فاعل (۳) مبتداء (۴) خبر (۵) دحروف مشبه بالفعل خبر (٦) دافعال ناقصه اسم (۷) دلاَ نفي جنس خبر (۸) مَا ولاَ المشبهتان بليس اسم.

او منصوبات ټول دوولس دي: (۱) مفعول به (۲) مفعول مطلق (۳) مفعول فيه. (۴) مفعول معه (۵) مفعول له (٦) حال (۷) تمييز (۸) مستثني (۹) دحروف مشبه بالفعل اسم (۱۰) دافعال ناقصه خبر (۱۱) دلاَ نفي جنس اسم (۱۲) دمَا ولاَ المشبهتان بليس خبر.

او مجرورات ټول دوه دي: (۱) مضاف اليه (۲) دحرف جار مدخول.

﴿فائده (۲٦۸)﴾ لفظ د (أَوَّلًا) مفعول فيه واقع کيږي په ترکيب کښي. او که چيري په دغه لفظ باندي (ال) داخل سي نو بيا هميشه صفت واقع کيږي لکه (رَبِيْعُ الْأَوَّلُ)، (اَلصَّفُّ الْأَوَّلُ) وغيره. ليکن بعض علماء وائي: چه بغير (ال) هم کله کله صفت واقع کيږي خو مبني بر ضم به وي لکه (صَفٌّ أَوَّلُ).

﴿فائده (۲٦۹)﴾ د سَمِعَ دباب دمعلومولو طريقه داده: که چيري دسمع دباب مصدر دفاء او دعين او دلام يعني ددرو حرفو سه زائد بل حرف نه وو نو بيا مونږ گورو چه دا مصدر لازمي دي او که متعدي، که لازمي وو نو بفتح العين به وي لکه (تَلِفَ يَتْلَفُ تَلَفًا). او که متعدي وو نو بسکون العين راځي لکه (فَقِدَ يَفْقَدُ فَقْدًا)، او (سَمِعَ يَسْمَعُ سَمْعًا).

﴿فائده (۲۷۰)﴾ د (رَمَلَ) دباب دمصدر دعين کلمه حالت معلومول داسي دي: که چيري د (رَمَلَ) سه مراد: ريګ وي نو دمصدر عين کلمه به ساکنه وي څرنګه چه

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com


ريک ساکن پر یو ځاي باندي پروت وي مثال لکه (رَمَلَ يَرْمَلُ رَمْلًا).

او که چیري د (رمل) مصدر سه مراد د حاجیانو رمل وي يعني ورېږ ښورول نو بيا به د مصدر عین کلمه مفتوحه وي. او فتحه خو حرکت دي څرنګه چه معني کښې د حرکت معني پرته ده نو عين کلمه هم په حرکت ده يعني فتحه. مثال لکه (رَمَلَ يَرْمَلُ رَمَلًا).

کتاب ختم سو د الله تعالى په توفيق او په مدد سره. الحمد لله حمدًا کثيرًا په ورځ د دوشنبه او په تاريخ (۲۹) ذي الحجة او (۱۴۳۱) کال هجري کښې په مطابق (۲۰۱۰/۱۲/۶/) عيسوي.

الله عز وجل دي دغه رساله د طالبانو د عبارت د صحيح کيدلو لپاره ذريعه وګرځوي، او د مصنف لپاره او دهغه مور وپلار او د قريبانو او د استاذانو لپاره صدقه جاريه وګرځوي امين، امين، امين يارب العالمين.





﴿ترکیبونه﴾

بسم الله الرحمن الرحيم

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ، وَالْعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِيْنَ، وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَيْرِ خَلْقِهٖ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَاءِ وَالْمُرْسَلِيْنَ وَ اِمَامِ الْمُجَاهِدِيْنَ مُحَمَّدٍ وَّ عَلٰى اٰلِهٖ وَ اَصْحَابِهٖ اَجْمَعِيْنَ وَعَلٰى مَنْ تَبِعَهُمْ بِاِحْسَانٍ اِلٰى يَوْمِ الدِّيْنِ اَمَّا بَعْدُ.

په ترکيب کښ طرز او طريقه داده: چه هره کلمه که اسم وي او که فعل، موږ دهغه پوره تفصيل ذکر کوو. مثلاً (زيد)دي. دا اسم دي او معرفه ده او په شانزده اقسام کښ دادي او اعراب يي فلانې دي وغيره.

﴿ترکيب(۱)﴾(جَاءَنِيْ زَيْدٌ، وَدَلْوٌ، وَرِجَالٌ): دا جمله فعليه خبريه ده. جاء فعل، صيغه دواحد مذکر غائب. نون وقايه، ياء ضمير دواحد متکلم منصوب متصل مفعول به، زيد مفرد منصرف صحيح فاعل معطوف عليه،واو حرف عاطف، دلو مفرد منصرف جاري مجري صحيح معطوف دماقبل لپاره، او معطوف عليه دمابعدلپاره، واو حرف عاطف، رجال جمع مکسر منصرف معطوف. معطوف سره دخپل معطوف عليه فاعل لپاره دفعل. او فعل سره دخپل فاعل او دمفعول به جمله فعايه خبريه سوه.

﴿ترکيب(۲)﴾ (مَرَرْتُ بِمُسْلِمِيْنَ وَاُوْلِيْ مَالٍ، وَعِشْرِيْنَ رَجُلًا) دا جمله فعليه خبريه ده. مررت، صيغه دواحد متکلم فعل ماضي معلوم. تُ ضمير دواحد متکلم مرفوع

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

متصل فاعل مرفوع محلا. باء حرف جار. مسلمين جمع مذكر سالم مجرور معطوف عليه. واو حرف عاطف. أولي مضاف. مالٍ مفرد منصرف صحيح مضاف اليه، مضاف سره دځپل دمضاف اليه دماقبل لپاره معطوف او دمابعدلپاره معطوف عليه. واو حرف عاطف. عشرين عدد مبهم مميز، رجالاً مفرد منصرف صحيح تمييز، مميز سره دځپل دتمييز معطوف. معطوف سره دځپل معطوف عليه مجرور د باء حرف جار. جار سره دځپل مجروره ظرف مجازي ظرف لغو مفعول به غيرصريح. فعل سره دځپل فاعل او سره دځپل مفعول به جمله فعليه خبريه.

﴿تركيب(۳)﴾ (هُمَا يَضْرِبَانِ) جمله اسميه خبريه ده. هُمَا ضمير دتثنيه مذكر غائبين مرفوع منفصل مبتداء. يضربان صيغه دتثنيه مذكر غائبين فعل مضارع معلوم. الف ضمير بارز دتثنيه مذكر غائبين مرفوع متصل فاعل، راجع مبتداء ته. فعل سره دځپل فاعل جمله فعليه خبريه خبر لپاره دمبتداء، او مبتداء سره دځپل خبره جمله اسميه خبريه سوه.

﴿تركيب(۴)﴾ (اِنَّ زَيْدًا قَائِمٌ). جمله اسميه خبريه. انّ حرف دحروفو مشبه بالفعل ناصب الاسم ورافع الخبر. زيدًا مفرد منصرف صحيح اسم د انّ. قائمٌ مفرد منصرف صحيح خبر د انّ. انّ سره دځپل اسم او خبره جمله اسميه خبريه سوه.

﴿تركيب(۵)﴾ (مَازَيْدٌ قَائِمًا). جمله اسميه خبريه ده. مَا مشابه بليس رافع الاسم وناصب الخبر. زيدٌ مفرد منصرف صحيح اسم دمَا مرفوع لفظا. قائمًا مفرد منصرف صحيح خبر دمَا منصوب لفظا. مَا دځپل اسم او خبر سره جمله اسميه خبريه سوه.

﴿تركيب(٦)﴾ (لَارَجُلٌ ظَرِيفًا). جمله اسميه خبريه ده. لَا مشابه بليس رافع الاسم وناصب الخبر، رجلٌ نكره مفرد منصرف صحيح اسم د لَا مرفوع بالرفع لفظا، ظريفًا نكره مفرده منصرف صحيح خبر د لَا منصوب بالفتحه لفظا، ظريفٌ صيغه دصفت مشبه چه اعتماد كړي دي پر خپلي مبتداء او عمل كوي په شان دځپل فعل، هُوَ مستتر دواحد مذكر غائب مرفوع متصل فاعل مرفوع محلا راجع ومبتداء ته، لا دځپل اسم او خبر سره جمله اسميه خبريه سوه.

Scanned with CamScanner

﴿تركيب(٧)﴾ (لَا غُلَامَ رَجُلٍ ظَرِيفٌ فِي الدَّارِ). جمله اسميه خبريه ده. لا نفي جنس ناصب الاسم و رافع الخبر، غلام مفرد منصرف صحيح منصوب بالفتحه لفظا مضاف، رجلٍ مفرد منصرف صحيح مضاف اليه مجرور بالكسره لفظا، مضاف سره دخپل مضاف اليه اسم دلا، ظريفٌ مفرد منصرف صحيح خبر دلا مرفوع بالرفع لفظا، ظريفٌ صيغه دصفت مشبه چه اعتماد كړي دي پر خپلي مبتداء او عمل كوي په شان دخپل فعل، هُوَ مستتر دواحد مذكر غائب مرفوع متصل فاعل مرفوع محلا راجع ومبتداء ته، في حرف جار، الدار مفرد منصرف صحيح مجرور بالكسره لفظا، في حرف جار سره دخپل مجروره ظرف مجازي ظرف لغو مفعول به غير صريح متعلق ظريفٌ سره، لانفي جنس دخپل اسم او خبر سره جمله اسميه خبريه سوه.

(تنبيه) ظرف حقيقي او مجازي، او دارنګه ظرف لغو او دظرف مستقر تفصيل او تعريفونه وغيره دظرف په بحث كښي وګوره د المنهج اليسير په رساله كښي.

﴿تركيب(٨)﴾ (لَا رَجُلَ فِي الدَّارِ). جمله اسميه خبريه ده. لَا نفي جنس ناصب الاسم و رافع الخبر، رجلَ نكره مفرده اسم دلَا مبني بر فتح منصوب محلا، في الدار ظرف مستقر خبر دلَا مرفوع محلا، في حرف جار، الدار مفرد منصرف صحيح مجرور بالكسره لفظا و منصوب معنًا مفعول به غير صريح، في حرف جار دخپل مجرور سره ظرف مجازي ظرف مستقر متعلق دي ثَبَتَ فعل يا دثابتٌ شبه فعل مقدر سره بنا بر اختلاف. ثبتَ صيغه دواحد مذكر غائب فعل ماضي معلوم، هُو ضمير مستتر په جائز الاستتار سره مرفوع متصل فاعل مرفوع محلا راجع اسم دلَا ته چه رَجُلَ دي.

﴿تركيب(٩)﴾ (لَا زَيْدٌ عِنْدِيْ وَلَا عَمْرٌو). جمله اسميه خبريه ده. لَا نفي جنس ملغي از عمل يعني غير عامله، زيدٌ معرفه مفرد منصرف صحيح مبتداء مرفوع بالرفع لفظا معطوف عليه، عندِي ظرف مجازي ظرف مستقر خبر مرفوع محلا، عندِي غير جمع مذكر سالم مضاف بياء متكلم مفعول فيه منصوب بالفتحه تقديرا، ظرف متعلق دي دثبت يا دثابت مقدر سره بنا بر اختلاف، ثبتَ صيغه دواحد مذكر غائب فعل ماضي

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

معلوم، هُو ضمیر مستتر په جائز الاستتار سره مرفوع متصل فاعل مرفوع محلا راجع مبتداء ته چه زیدٌ دي، عند مضاف، یْ ضمیر دواحد متکلم مجرور متصل مضاف الیه مجرور محلا، واو حرفَ عاطف، لاَ ملغی از عمل، عَمرٌو مفرد منصرف صحیح معطوف مرفوع بالضمه لفظا زیدٌ معطوف علیه، معطوف علیه سره دخپل معطوف مبتداء، مبتداء سره دخپل خبره جمله اسمیه خبریه سوه.

﴿ترکیب(۱۰)﴾ (لَاحَوْلَ وَلَاقُوَّةَ اِلَّابِاللهِ). په دې کښې یو ترکیب جوړیږي. جمله اسمیه خبریه ده. لاَ نفی جنس ناصب الاسم و رافع الخبر، حَولَ نکره مفرده اسم د لاَ مبني بر فتحه منصوب محلا، خبر محذوف دي چه اِلَّابِالله دي، اِلَّا حرف استثناء ملغي از عمل، بالله ظرف مستقر خبر د لاَ مرفوع محلا، باء حرف جار، اسم جلاله مفرد منصرف صحیح مجرور بالکسر لفظا و منصوب معنًا مفعول به غیرصریح، جار مجرور متعلق دي د ثَبتَ یا د ثَابتٌ مقدر سره بنا بر اختلاف، ثبتَ صیغه دواحد مذکر غائب فعل ماضي معلوم، هُو ضمیر مستتر په جائز الاستتار سره مرفوع متصل فاعل مرفوع محلا راجع خبر د لاَ ته چه حَول دي، واو حرف عاطف، لا قوة الا بالله معطوف، لاحول سره د خبر محذوفه معطوف علیه، لاَ نفي جنس ناصب الاسم و رافع الخبر، قوّةَ نکره مفرده اسم د لاَ مبني بر فتحه منصوب محلا، اِلَّا حرف استثناء ملغي از عمل، بالله ظرف مستقر خبر د لاَ مرفوع محلا، باء حرف جار، اسم جلاله مفرد منصرف صحیح مجرور بالکسر لفظا و منصوب معنًا مفعول به غیرصریح، جار مجرور متعلق دي د ثَبتَ یا د ثَابتٌ مقدر سره بنا بر اختلاف، ثبتَ صیغه دواحد مذکر غائب فعل ماضي معلوم، هُو ضمیر مستتر په جائز الاستتار سره مرفوع متصل فاعل مرفوع محلا راجع خبر د لاَ ته چه قوّةَ دي. په دې ترکیب کښې عطف د جمله راغلي په جمله باندي. د دې ترکیب اصل عبارت داسي دي (لَاحَوْلَ اِلَّابِاللهِ وَلَاقُوَّةَ اِلَّا بِاللهِ).

﴿ترکیب(۱۱)﴾ (لَاحَوْلٌ وَلَاقُوَّةٌ اِلَّابِاللهِ). دلته د درو ترکیبو احتمال سته.

(اول احتمال): جمله اسميه خبريه ده. لاَ مشابه بليس رافع الاسم و ناصب الخبر، حَولُ مفرد منصرف صحيح اسم د لاَ مرفوع بالضمه لفظا، خبر محذوف دي چه الابالله دي، اِلّا حرف استثناء ملغي از عمل، بالله ظرف مستقر خبر د لاَ منصوب محلا، باء حرف جار، اسم جلاله مفرد منصرف صحيح مجرور بالكسر لفظا و منصوب معنًا مفعول به غيرصريح، جار مجرور متعلق دي د ثبتَ يا د ثابتٌ مقدر سره بنا بر اختلاف، ثبتَ صيغه د واحد مذكر غائب فعل ماضي معلوم، هُو ضمير مستتر په جائز الاستتار سره مرفوع متصل فاعل مرفوع محلا راجع اسم د لاَ ته چه حَولُ دي، واو حرف عاطف، لا قوة الا بالله معطوف، لاحول سره د خبر محذوفه معطوف عليه، لاَ مشابه بليس رافع الاسم و ناصب الخبر، قوّةٌ مفرد منصرف صحيح اسم د لاَ مرفوع بالضمه لفظا، اِلّا حرف استثناء ملغي از عمل، بالله ظرف مستقر خبر د لاَ منصوب محلا، باء حرف جار، اسم جلاله مفرد منصرف صحيح مجرور بالكسر لفظا و منصوب معنًا مفعول به غيرصريح، جار مجرور متعلق دي د ثبتَ يا د ثابتٌ مقدر سره بنا بر اختلاف، ثبتَ صيغه د واحد مذكر غائب فعل ماضي معلوم، هُو ضمير مستتر په جائز الاستتار سره مرفوع متصل فاعل مرفوع محلا راجع اسم د لاَ ته چه قوّةٌ دي. دلته هم عطف الجمله علي الجمله راغلي.

